# د دیوان لرونکي حسین لنډه پېژندنه

لیکونکی: پوهندوی دکتور سبحان الله شهاب
شیخ زاید پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانګه
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی میاولي شاه میاخېل، د پښتو څانګې استاد

**لنډیز**

په دغه څېړنه کې ښودل کېږي، چې دیوان لرونکی حسین شاعر څوک دی. ډېرو لیکوالو او شاعرانو د حسین په پېژندنه کې تېروتنه کړې ده او یو یې د بل پر ځای راوړی دی. په حسین نامو شاعرانو کې چې کوم د دیوان لرونکی دی، په دې څېړنه کې له نورو جلا کېږي. په دې څېړنه کې د حسین د دیوان هغه تېروتنې چې د ترتیب کوونکی له لوري رامنځته شوي، هم په ګوته کېږي او د تېروتنو په لاملونو تر بحث وروسته یې حل هم وړاندې شوی دی. همدا رنګه د دې څېړنې پر مټ کره کولی شو، چې تر اوسه ولې دیوان لرونکی حسین په دقیقه توګه نه دی پېژندل شوی؟ دغه څېړنه کتابتوني څېړنه ده، چې له تشریحي میتود څخه پکې ګټه اخیستل شوې ده.

**کلیدي ټکي**

حسین، د حسین دیوان، د لیکوالو نظریات، کلاسیکه شاعري، خطي نسخه

**موخې**

۱. د حسین په نامه له نورو شاعرانو څخه د دیوان لرونکي حسین جلا کول.

۲. د دیوان لرونکي حسین د دیوان نېمګړتیاوې په ګوته کول.

**سریزه**

د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې د شاعرانو پېژندنه او د هغوی اشعار تر څېړنې لاندې نیول یو اهم او ضروري کار دی، بالخصوص د لرغوني او منځنۍ دورې د هغو شاعرانو دیوانونه، چې نا چاپ دي او یا ډېر مخکې چاپ شوي دي اوس یې موندل ستونزمن کار دی، د دوی د دیوانونو چاپول اړین دي. حسین هم یو د هغو شاعرانو څخه دی، چې د دیوان یوه نیمګړې نسخه یې د همېش خلیل له خوا چاپ شوې؛ خو د معیار په تول برابره نه ده، ځکه چې له دیوان سره یو ځای لنډۍ چاپ شوي، چې دا کار باید نه وی شوی او د اشعارو ځینې غزلې یې وروسته موندل

شوي چې هغه د چاپ څخه پاتې شوي. که مونږ د داسې شاعرانو په اشعارو څېړنه ونه کړو، د دوی دیوانونه به ورک شي او د لوستونکو د لاسه به ووځي؛ البته دا یوه خبره د یادونې وړ ده، چې ځینو تذکره لیکونکو د حسین په نوم د څو تنو شاعرانو یادونه کړې، چې په دې مقاله کې د هغوی په رابطه هم په لنډه توګه یادوونه شوې او دا حسین چې د پکلي کلي اوسېدونکی دی، جلا او کره شوی. د حسین د زېږېدنې او مړینې په رابطه دقیق معلومات نشته؛ خو د ځینو اشعارو څخه یې دا جوتېږي چې د مغولي اورنګزیب همعصر دی.

**د څېړنې د اختیار لاملونه**

۱: څېړونکو د حسین په نوم څو تنه شاعران یو د بل پر ځای یاد کړي دي؛ نو په دغه څېړنه کې دیوان لرونکی حسین له هغو نورو څخه جلا کېږي.

۲: د حسین دیوان چې د همېش خلیل له لوري چاپ شو، یو شمېر تېروتنې لري، چې دغه څېړنه یې تېروتنې په ګوته کوي او سموي یې.

**د ستونزې وړاندې کول**

د څېړونکو تر منځ د حسین په نامه دېوان لرونکی شاعر مشکوک او له نورو هغو نه دی جلا شوی؛ نو اړتیا ده، چې دیوان لرونکی حسین باید له نورو حسین نامو شاعرانو جلا شي. همدا رنګه د حسین دیوان چې ترتیب شوی، یو شمېر تېروتنې لري باید چې یادې تېروتنې یې سمې شي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

د حسېن دیوان د پښتونخوا سپین ږیري څېړونکي همېش خلیل موندلی او په پېښور کې یې په ۱۹۵۸ میلادي کال د « دیوان حسېن » په نوم چاپ اوخپور کړی دی. د خپرندوی په توګه ورسره د «دارالتصنیف بابو حیدر روډ – پېښور» نوم ثبت دی. (۳: ف)

د حسین دیوان ۵۲۰ مخونه لري، په سر کې یې د همېش خلیل ۱۳ مخیزه سریزه او په پای کې شپږ مخه اضافات او غلطنامه لري، چې په دې توګه د خپاره شوي دیوان ټول مخونه ۵۳۹ کېږي؛ د حجم کچه یې وړه ده.

حسېن د پښتونخوا د هزاره سیمې د پکلي کلي وسېدونکی و. د حسین د زېږېدنې او مړینې دقیقه نېټه نه ده معلومه، خو د اشعارو یې داسې څرګندېږي، چې حسېن به د اورنګزېب باچا د وخت سړی وي. لکه، چې وایي:

لکه زه ستا د کوڅې په خاورو فخر کوم
هومره لوی د هندوستان په تخت اورنګ نه کاندې

(۳ : ف)

زلمی هېوادمل زیاتوي چې حسین د دوولسمې پېړۍ شاعر دی، د پښتو په ډېرو ښو شاعرانو کې ولاړ دی. د هندي سبک او عبدالحمید مومند له پیروانو څخه ګڼل شوی او د حمید مومند د فکر لاندې یې خپله شاعري کړې ده. (۱۰: ۲۱۷)

د حسېن دیوان تدوین کوونکي همېش خلیل په خپلې لیکلې مقدمه کې د حسېن د ځای ځایګي او د ژوند زماني په اړه لنډه څېړنه کړې، چې بیا یې د حسېن له دیوانه د هغې د اشعارو هغه بیتونه په نښه کړي او را ویستلي، چې دی یې د اورنګزېب دوخت شاعر یاد کړی دی؛ هغه بیتونه دادي.

دا په کنج ډکه نوې پېغله مې له څنګه لاړه
که پادشاهي د هندوستان وه له اورنګه لاړه

(۷: ۴۱)

چې اورنګ یې د ډیلي له تخته مومي
فقیر بیاموند هغه خوند په استغنا کې

(۷: ۴۶)

همېش خلیل لیکي: «... هغه (حسېن) لا د تې ماشوم و، چې مور یې وفات شوه، خپلې ترور د هغه ساتنه او روزنه وکړه. خدای ته به همداسې منظوره وه، حسېن زلمی شو، اتفاق داسې وشو چې د همدغه ترور د لور سره یې سترګې ولګېدې. ولې حسین ته سمدستې د ترور احساسات، خواری او زحمتونه سترګو ته ودرېده د هغه پښتون فطرت دا ونه شو زغملی؛ ځکه چې دی د خپل ضمیر خلاف روان و هغه د یوې پاکې پېغلې سپینه لمن په هر قیمت له داغه بچ کړه، غالباً حسین په دې فکر کې شو، چې د هغه ترور د ده په مینه پوه شوه یا به پرې پوه شي؛ نو حسېن مجبور شو، بلـه دا چې د حسین د خپلې ترور لور سره واده شرعاً جایز نه و، ځکه چې دواړو دیوې مور تی رودلی و؛ نو مجبور شو، چې یوه شپه هغه پټ په پټه د کور څخه سوات ته وتښتېدو. (۳: ق مخ)

پــه دې توګــه کــه څــه هــم د حســېن د ژوندانــه د وخــت پــه اړه کــره اســناد پــه لاس کــې نــه شــته، خــو د ده د دیــوان د داخلــي اســنادو او شــهادتونو پــه بنیــاد، نومــوړی د اورنګزېب په زمانه کې ژوندی و، لکه چې وایي.

چې پرون دهندوستان د تخت بادشاه و

نن یــې لـــــــور زمانې وتومبو په ملا کې

(۵: ۱۵۹)

دا چــې نومــوړی څــه وخــت وفــات شــوی، د داســې شــواهدو راوړل ســتونزمن کــار دی، ځکــه د ده دیــوان چــې کلــه همــېش تــدوین کــړی؛ نــو پــه دیــوان یــې د عبــدالقادرخان خټــک د کتــابتون مهــر وهــل شــوی، نــو زیــات امکــان دې ولــري، چــې حســېن د عبــدالقادر خــان خټــک پــر وخــت هــم ژونــدی و. کــه د ژونــد زمانــه یــې دا وخــت وي، نــو بیــا هــم حســېن د اورنګزېــب زمــانې تــه رســېږي، ځکــه چــې عبــدالقادر خــان هــم د اورنګزېــب پــه وخت کې زېږېدلی دی.

حســېن د پښــتو د کلاســیک ادب یــو دیــوان لرونکــی شــاعر دی، چــې شــعرونه یــې د، شپاړســې، اوولســې او اتلســې پېــړۍ د ځینــو نــورو نــامتو شــاعرانو پــه شــان د ټولــو پــه خولــه نــه وو، خــو بیــا یــې هــم د منځنــی دورې شــاعر ګڼلــی شــو، پــه شپاړســمه او اوولســمه مــیلادي پېــړۍ کــې رحمــان بابــا، خوشــحال خــان خټــک او د دوی پیــروان د شــعر ویلــو پــه برخــه کــې خــورا نــامتو وو، خــو حســېن، چــې د دیــوان قلمــي نســخه یــې د عبــدالقادرخان خټــک پــه کتابخانــه کــې خونــدي وه، حــد اقــل پــه خپلــه د عبــدالقادر خان خټک په شعرونو کې هم نه دی یاد شوی.

لــه دې ســره ســره حســېن د خپــل وخــت یــو مهــم او پــوره شــاعر ګڼلــی شــو، دده پــه دیــوان کــې پــه موضــوعي لحــاظ اجتمــاعي، عشــقي، دینــي او یــو نــیم ځــای سیاســي شــعرونه شــته، چــې د دیــوان د غزلــو پــه توګــه پــه بــېلا بېلــو برخــو کــې ســره اوډل شــوي دي.

دلتــه هڅــه کېــږي، د حســېن لــه دیوانــه د ده د اشــعارو د ځینــو برخــو پــه ښــودلو ســره یــې شــعري کیفیــت، لهجــه، شــعري ژبــه ، تفکــر، خیالونــه او شــعري موضــوعات پــه نښه شي.

هڅه شوې چې د حسين د ديوان د ځينو برخو په ښودلو سره يې د اشعارو شعري کيفيت، شعري ژبه، لهجه، طرز تفکر خيالونه، احساس، عواطف، پيغام او نور شعري موضوعات په نښه شي. لکه د ده په اشعارو کې يوه ځانګړتيا دا ده، چې له دنيا سره رغبتت نه لري او په دې عقيده دی، چې د دنيا مينه فاني ده، د حسين شعري ديوان دا ځانګړتيا نوموړی د يو شمېر نورو ديواني شاعرانو سره په يوه قطار کې دروي، په دې رابطه د ده د ديوان يو څو بيتونه د بېلګې په توګه راوړو.

څوک خوړ مه شه په ضرر د دې دنيا
دولت نه دی سيم و زر د دې دنيا
دوزخي غوندې په خپلو خولو ډوب وي
چې ولاړ وي په محشر د دې دنيا
د زړه سر يې دحرص په زهرو وچوي
هپ ([۱]) دې نه کا څوک اکدر ددې دنيا
تر قيامته به يې زخم د زړه سوی کا
هر چې غوڅ وي ،په خنجر ددې دنيا
دانايان وربانديې هيڅ اعتماد نه کا
تول جرقېږي کوږ کمر د دې دنيا
حسېن ځکه هنرمند عاقلان بولي
چې يې نه زده هيڅ هنر د دې دنيا
(۳: ۱۰)

**عشق**

عشق او عاشقي د پښتني شاعرانو د شعر مهم مضمون دی، روحاني او تصوفي شاعرانو هم د عشق او مينې څخه يادونه کړې ده، چې د څېړونکو له خوا دا عشق د خدای سره د مينې او محبت په مانا تعبيير شوی دی، خو د ځينو شاعرانو په شعرونو کې بيا د مجازي عشق څخه هم يادونه شوې ده او ډېری شاعرانو دا دود پاللی دی، لکه چې عبدالرحمن بابا وايي.

[۱]. خواهش، غوښتنه.

داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
د جملـــه وو مخلـوقاتـــو پلار دی دا

(۶: ۵۶)

حســـېن هـــم عشـــق پـــاللی او د مینـې محبـــت پـــه لارتللـی او دا لاریـــې پرېښـــی نـــه ده او پـــه ډېر ښه اندازکې یې په ځینو شعرونو کې ترې یادونه کړې ده؛ لکه چې وایي.

هر چې پېښ شو واړه سود دی پسې درومه
بې له عشقه دې هرګز نه شته پېشوا
په رموز – رموز ټپې د هجران وایي
نن مې ناسته ده په خولې دعشق روا
هیڅ پوښتنه د مذهب راځخه مه کـــړه
عشق راغلـی لـــــه مذهبه دی ســـوا
چې له صِدقه ستا دعشق په ندا ویښ شي
وړي ناســازې د رقیب غـــونـدې بـړوا

(۳: ۱۵)

همدا رنګه بل ځای وایي.

نــه شته ما غوندې څوک ژوی مبتلا
عشق را وښودې په عشق کې سل بلا
پـــه دراز منزل دعشق یم سیده شوی
همېشه لکه جـرس کـــــړم جل جلا

(۳: ۱۶)

د حســـېن پـــه دیـــوان کـې د ((عشـــق)) کلیمـــه ډېرځلـــه یـــاده شـــوې او پـــه هـــر ځـــای کـې ورتـــه د ده لـــه خـــوا یـــو نـــوی مناســـبت راوړل شـــوی دی، چـــې دلتـــه پـــه همـــدې څـــو بېلګـــو بســـنه کېږي.

**استعارې، کنایې او تشبیهات**

حســـین د خپلـــو اشـــعارو پـــه زیـــاتره ځـــایونو کـې بـــدیعي صـــنایع پـــه ډېـــر ښـــه مهـــارت ســـره کـــارولي، د ده پـــه اشـــعارو کـې ښـــکلي تشـــبیهات، اســـتعارې، کنـــایې او انځورونـــه پـــه ښـــه انـــدازســـره ښـــکاري، چـې د څـــو شـــعرونو بېلګـې د نمـــونې پـــه شـــکل راوړل کېـــږي، چـې د لوستونکو تنده پرې ماته شي.

څو په مینه کې چوک – چوک نه شې بند بند
وبـه نــــه ویــنې د ښکـــلو چشمان بــرند
چې مې شونډې یار په شونډو باندې کېښوي
بـــې زبېښلو مــــې تالو تـــه لاړو خـــوند
محفوظ شـوی پـه بوسـه لـــه سپینه مخه
پـــه محشر بـه چیچي ژبـه پـــه دا خـــوند
پـــه ترخــو پسې خـــواږه وي دا دستــور دی
د نـا اهلـــو پـــه جفـا اوســـه خـــورسند

(۳: ۱۰۰)

یار راګډ پـــه ښه ګفتن دی نـــه پـوهېږم
دا مې ژواک کـه ځنکدن دی نـه پـوهېږم
رقیب تېر تر حده وخوت دایې خوی دی
کــه زما پــه باب تورزن دی نــه پـوهېږم

(۳: ۳۸۳)

د حسبن د دیوان څخه د لاندې غزل په راوړلو سره یاده موضوع را خلاصه کېږي.

چــې مشغول په ننداره یم نــه یـم روغ
وخـــوبانو تـــه ښکاره یـــم نـــه یـم روغ
ستاله غمه مې خوناب ([۲]) له سترګو ځاځي
درست د وینو فـــواره یـــم نـــه یـم روغ
پـه سینه دغماز سیخ خـوړلی خوښ یم
غـولېدلـــی دوبـاره یم نــــه یـــم روغ
کــــه څـوک شونډې دخوبانو کـوثربولي
زه پرې ســوی سم سکاره یم نـه یـم روغ
روغ عالم وایـي حسبن په صورت روغ دی
عشق ځپلی بېچاره یـــم نـــه یـــم روغ

(۳: ۲۴۳)

**د حسبن په نامه نور شاعران**

[۲]. خوناب: زوه، هغه نو چې چې وینه ورسره یو ځای وي.

سرمحقق زلمي هېوادمل په دري ژبه د ((فرهنگ زبان و ادبیات پښتو)) په نوم یوه ډیکشنري لیکلې ده، چې په دري جلدونو کې خپره شوې، د دغه ډکشنرۍ دوینا له مخې د حسېن په نامه مور دا لاندې کسان په دې نامه پېژنو.

په ((فرهنگ زبان و ادبیات پښتو)) کې د یادې څېړنې تر بحث لاندې حسېن هم معرفي شوی او ویل شوي، چې د اورنګزېب په وخت (۱۰۶۸-۱۱۱۸هـ ق) کې ژوندی و. خو درې تنه نور هم په همدغه نومونو راپېژني.

۱.حسېن: د ده د غزلونو یو منتخب په چمن بې نظیر او کلید افغاني کې چې مستر هیوز لیکلی راغلی، ویل کېږي چې حسېن د پېښور د صوابۍ په شاه منصور سیمه کې اوسېده، د ده ژوند په دولسمه هجري پېړۍ کې اټکل شوی.

۲.حسېن: د دغه حسېن د استوګنې اصلي سیمه معلومه نه ده، خو د یوولسمې پېړۍ د پای او د دولسمې پېړۍ د پیل شاعر ګڼل شوی، د خلاصة الاسلام په نامه یو کتاب یې په مسجع نثر په پښتو ژبه ژباړلی، چې داخوندروېزه ننګرهاري (۹۴۰-۱۰۴۸ه ق) د سبک په پیروانو کې راځي. (۹: ۱۳۱)

۳.حسېن شاه: دا حسېن چې شاه یې هم د نامه جز ګڼل شوی، په (۱۳۰۰هـ ق) کال شاوخوا د پښتونخوا په سیمو کې ژوندی و، د هندي مقامونو په پیروی یې ځینې شعرونه ویلي، په بهار نوروزي کتاب کې یې شعرونه خپاره شوي دي، د ده د یوه شعر یو بیت داسې ښودل شوی

حسېن شاه ستا بیلتون کړ دیوانه بېهوش ومجنون
د عشق له جوشه، کا واوېلا زړه مې یوړ بېلتون

(۹: ۱۳۲)

د حسېن، شاه حسېن، محمد حسېن، حسېن جان او حسېن خان په نومونو ځینې نور شاعران هم په پښتو تذکرو کې ښودل شوي، چې اکثره یې معاصر دي، د سید حسېن په نامه یو مولوي د ننګرهار په کوټ کې د شلمې پېړۍ په لومړۍ نیمايي کې اوسېده. د مړینې کال یې (۱۳۴۳هـ ش) ښودل شوی دی؛ خو دلته د دغو ټولو نومونو تفصیل ځکه نه وړاندې کېږي، چې تربحث لاندې حسېن د اورنګزېب زماني ته نژدې شخص تېر شوی دی او دا نور ترې دوه درې پېړۍ وروسته دي.

قاضي عبدالحلیم اثر افغاني په خپله تذکره ((تېر هېر شاعران)) کې هم یو ځای د حسېن په نامه په یو شاعربحث کړی او د همېش تدوین کړی دیوان یې تر کتنې

لانـدې راوسـتی دی، داسـې لیکـي: سـیدعلي ترمیـذي چـې پـه پیـر بابـا مشـهور دی پـه (۱۰۴۰هـ ق) کـې وفـات شـوی، د ده ډېـر اولادونـه وو، لـیکن دیـوه زوی میـا مصـطفی نسـل یـې پـاتې دی، د مصـطفی دوه بیبیـانې وې، دمشـرې نـه یـې یـو زوی و، میـا عبـدالله نومېـده، چـې پـه میـا عبـدل مشـهور دی، د دویمـې بـي بـي نـه یـې دوه زامـن وو: یـو میـا قاسـم نومېـده او بـل میـا حسـن د میـا حسـن صـاحب د یـوه زوی نـوم حسـېن و، چـې د خپـل سـیادت پـه وجـه خپـل نـوم سـید حسـېن لیکـي، د ده یـو قلمـي کتـاب، چـې دیـوه مشـر او تقریبـا د اتیـا کـالو عمـر خاونـد سـید عبـدالخالق سـره دی هغـه وایـي، چـې دا کتـاب زمـونږ پـه خانـدان کـې زمـا د والـدې صـاحبې د تـره پـه قلمـي ذخیـره کـې و، چـې مـونږ تـه پـه وراثـت پـاتې شـوی دی.... سـید حسـېن بـن میـا حسـن بـن میـا مصـطفی بن سید علي ترمذي رح.» (۱: ۳۴)

عبـدالحلیم اثـر لـږ وروسـته د حسـېن د اصـلي ځـای ځـایګي پـه اړه زیـاتوي: «سـید حسـېن د ریاسـت سـوات د مرکـزي مقـام سـیدو شـریف سـره متصـل، جنـوب مغـرب طـرف تـه کـوکړۍ نـومې کلـي کـې اوسـېده او ددغـه ځـای نـه پـه هغـه زمانـه کـې د امـازي قبیلـې مشـرانو پـه جرګـه راوسـتو او د مـردان مشـرق طـرف تـه پـه مشـهور کلـي ګـړۍ دولـت زای کـې ابـاد شـو، همدلتـه وفـات شـو او زیـارت یـې هـم پـه دې کلـي کـې دی، بیـا یـې اولاده پـه خـواو شـا علاقـو کـې خپـره شـوه، چـې پـه ګـړۍ دولـت زای تحصـیل مـردان اسـماعیلا، زیـده، او هنـډ تحصـیل صـوابۍ کـې ابـاد دي او نـور اولاد یـې پـه ریاسـت سـوات کـې خصوصـا پـه قمبـر کـې اباد دي. دریاسـت سـوات دوالـي صـاحب ماماګـان چـې په لالا ګانو مشهور دي، هغه د دې حسېن اولاد دی.» (۱: ۳۵)

عبـداالحلیم اثـر د همـېش خلیـل پـه تـدوین د حسـېن چـاپ شـوی دیـوان د همدغـه شـاعر دیـوان ګڼـي، خـو یوځـای لیکـي: «بحـث پـه دې پـه کـار دی، چـې پـه چـاپ شـوې نسـخه کـې چرتـه تحریـف خـو نـه دی شـوی، چرتـه د کـوکړۍ پـه ځـای پکلـی او د سـمې پـه ځـای سـوات خـو نـه دی لیکـل شـوی؛ ځکـه چـې داخـو یقینـي ده، چـې دغـه چـاپ شوی دیوان هم د دې حسېن دی....» (۱: ۳۹)

خـو همـېش خلیـل بیـا د دغـو نیوکـو پـه غبرګـون کـې یـو ځـای لیکـي: «د قاضـي اثرصـاحب مقصـد دا دی، چـې پـه کـال ۱۹۵۸م کـې د حسـېن کـوم دیـوان چـاپ شـوی دی، هغـه د دغـه حسـېن دی، کـوم چـې سـتایلي پـه خپـل تـالیف تېـر هېـر شـاعران کـې د پیربابـا د کړوسـي ثـابتولو کوشـش کـړی دی، خـو خبـره دا ده، چـې اخـر چـاپ دیـوان کـې

د تحریف کولو ضرورت څه و؟ او د تحریف د دغه شک لري کولو لپاره د تخت بهای نه امازو ګړی ته د قلمي نسخې کتلو په لارکې اثر صاحب ته اخر څه مشکلات وړپېښ وو، بیا په شعر کې د پکلی په ځای که کوکړی وکارولی شي، نو دشعر د بحر نه به څه جوړ شي؟...)). (۴: ۶۵)

عبدالحلیم اثر افغاني چې د پښتو د کلاسیکو شاعرانو په باب یې څېړنې کړي، ډېر ځله په عندي نظریاتو غږېږي او څېړونکو یې تولې خبرې سمې نه دي بللی، دده په اړه دا هم ویل شوي، چې ځینې وخت یې له خپله انده په څېړنو کې اضافات راوستي دي، چې دڅېړنې له اصولو سره سم کار نه دی ګڼل شوی.

په هر حال د عبدالحلیم اثر یاد کړی حسېن که همدا وي که بل، که اثر صاحب په کې له ځانه خبرې کړي وي یا یې نه وي کړي، خو دلته د حسېن له نامه سره په تړاو لنډ بحث پرې وشو، چې اوږدو څېړنو ته لار پرانیزي، دلته د څېړنې پام په هغه حسین دی، چې دیوان یې خپور شوی دی.

دپښتو د منځنۍ ادب څېړونکي ادب څېړندوی حبیب الله رفیع په خپله لیکلې تذکره « ادبي ستوري» لومړي توک کې هم د حسېن په نامه دشاعر ورک پاڼکي خپاره کړي او په یوه لنډه مقدمه کې یې د حسېن په نومونو په شاعرانو بحث کړی او دایې ښوولې، چې د عبدالحلیم اثر له خوا یاد شوی حسېن هغه نه دی، چې ښاغلي همېش یې دیوان تدوین کړی، بلکې هغه او دا سره بېل شخصیتونه دي. رفیع دا ورک راټول کړي پاڼکي د هغه حسېن ګڼلي، چې اثر په تېر هېر شاعران کې ښوولی دی. (۸: ۲۳۶)

د حسېن په نامه شاعر یادوونه په پښتانه شعرا لومړی توک کې هم شوي؛ خو دا معلومات له نورو نیمګړي ښکاري، ځکه چې د پښتانه شعراء څېړنې له یادو څېړنو مخکې شوي دي.

**د حسېن د موجوده دیوان د موندنې وخت او تدوین**

همېش خلیل د حسېن دیوان د مقدمې په یو ځای کې لیکلي دي: ((د شلمې پېړۍ په اوایلو کې چې پښتونخوا د انګلیسانو تر مخامخ حاکمیت لاندې وه، د مردان سیمې په کپوره ګړی سیمه کې، د دوست محمد خان په نامه یو خان، چې په عین حال کې یې د مجسټرېټ دنده هم درلوده، د ځمکو په باب یوه شخړه اورېده، د ځمکې اصلي کاغذونه د حسېن په نامه و او د دعوې یو لوري ځان د حسېن

کـــورنۍ تـــه منســـوبولو او د دلیـــل پـــه توګـــه یـــې د حســـېن دیـــوان راوړ، چـــې د ده د نیکـــه دی. دا دیـــوان تردوســـت محمـــد خـــان وروســـته د هغـــه زوی ضـــابط خـــان وکـــوت او لـــه شـــعر و ادب ســـره د مینـې لـــه املـــه یـې لـــه اصـلي خاونـد نـــه پـــه پیســـو راونیـــو، وایـي چـې دا وخت د ضابط خان نظر په دغه شعر ورغی.

په معنی کې ستا خاکروب حلقه بګوش یم

کنه ملک مې دی پکلۍ اســتوګنه سوات

(۵: ۱۶۰)

حســـین دا بیـــت هغـــه ویلـی چـې دی، چـې د خپلـې تـــرور کـــور پـــه دې موخـــه پرېـــږدي، چـې د تـــرور د لـــور ســـره یـې د مینـې تـــار څغلـــولی و؛ خـــو وی نـــه غوښـــتل، چـې د دې پـــه پاکـــه لمـــن تـــور داغ ولګـــوي، بلـــه دا چـې د دې ســـره یـې یـــو ځـــای تـــی رودلـی و او تـــرور یـې پـــه ډېـــر نـــاز او مینه رالوی کړی و.

د ضـــابط خـــان د وفـــات څخـــه وروســـته د هغـــه زوی ولـــي محمـــد خـــان د پښـــتونخوا لیکـــوال او څېړونکـي نصـــرالله خـــان نصـــر تـــه ځینـې قلمـي نســـخې ورکـــړې، چـې یـــو پـــه کـې دا د حســـین دیـــوان و، او هغـــه بیـــا د دې دیـــوان دا نســـخه همـــېش خلیـــل تـــه ورکـــړه، چې ده، بیا په (۱۳۵۸م) کال په پېښور کې چاپ او خپره کړه.

د حســـېن د دیـــوان تـــدوین او چـــاپ یـــو لـــوی او پـــر ځـــای کـــار شـــوی، چـې دا لـــوی کـــار او لاســـته راوړنـــه د همـــېش خلیـــل پـــه لاس تـــر مونـــدنې وروســـته د پښـــتو ژبـــې د ادب مینـــه والـــو تـــه خپـــور شـــوی، د دیـــوان تـــدوین لـــه خپـــل وخـــت ســـره ســـم ترســـره شـــوی، یـــوه مقدمـــه پـــرې لیکـــل شـــوی، بیـــا د دیـــوان مـــردف شـــعرونه او ورپســـې پـــه پـــای کـې د دغـــه دیـــوان د قلمـي نســـخې پـــه حاشـــیو کـې راغلـې لنـــډۍ، یـــو شـــعر او غلطنامـــه هـــم خپـــره شوې ده.

د حســـېن دیـــوان لـــه معمـــول ســـره ســـم خطـــاطي شـــوی خـــط یـې ډېـــر بـــد نـــه دی، لوســـتل کېـــږي؛ خـــو د خطـــاط لـــه خـــوا ځینـې شـــعرونه لـــه لیکلـــو پـــاتې شـــوي، چـې د دې یادونـــه همېش د دیوان په وروستۍ برخه کې کړې ده.

دا دیـــوان دیـــوې خطـي نســـخې لـــه مخـې ترتیـــب شـــوی؛ نـــو ځکـــه پـــه مـــتن کـې لـــه نـــورو نســـخو ســـره د مقـــابلې کومـــه اړتیـــا نـــه ده پېښـــه شـــوې خـــو کـــاش، چـې هڅـــه شـــوې وایـــي او د دغـــه دیـــوان نـــورې نســـخې هـــم لټـــول شـــوې وایـــي د دې څېړنـــې او معلومـــاتو لـــه مخـې د

حسـېن د دیـوان کومـه بلـه نسـخه لا تراوسـه نـه ده مونـدل شـوې، نـو همـدا یـوازینۍ موندل شوې نسخه باید غنیمت وګڼو.

**د څېړنې کړنلار**

دغـه څېړنـه کتـابتوني ده، چـې د څېړنـې موخـو تـه پـه کتـو د دویـم لاس معلومـاتو تـر لاسـه کولـو پـه پـار پـه سیسـتماتیک ډول تېـرو اثـارو تـه کتنـه شـوې ده. د څېړنـې مېتـود تشـریحي دی، چې د څېړنـو موخـو مطـابق معتبـر ماخذونـه کتـل شـوي، نقـد شـوي او لـه تحلیل او تشریح وروسته په څېړنه کې ځای پر ځای شوي دي.

**د څېړنې پایله**

دیـوان لرونکـی حسـین لـه نـورو حسـین نـامو شـاعرانو جـلا دی. دا حسـین د هنـدي سـبک پیـرو شـاعر دی، چـې د حمیـد د سـبک پـه پیروانـو کـې ولاړ سـړی دی. دی د پښـتو د کلاسـیک دور صـاحب دیـوان شـاعر دی، چـې شـعرونه یـې د، شپاړسـمې، اوولسـمې او اتلسـمې پېـړۍ د ځینـو نـورو نـامتو شـاعرانو پـه شـان د ټولـو پـه خولـه نـه وو، خـو بیـا یـې هـم د منځنـۍ درجـې شـاعر ګڼلـی شـو، پـه شپاړسـمه او اوولسـمه مـیلادي پېـړۍ کـې رحمـان بابـا، خوشـحال خـان خټـک او د دوی پیـروان د شـعر ویلـو پـه برخـه کـې خـورا نـامتو وو، خـو حسـېن، چـې د دیـوان قلمـي نسـخه یـې د عبـدالقادرخان خټـک پـه کتابخانـه کـې خونـدي وه، حـد اقـل پـه خپلـه د عبـدالقادر خـان خټـک پـه شـعرونو کـې هم نه دی یاد شوی.

لـه دې سـره سـره حسـېن د خپـل وخـت یـو مهـم او پـوره شـاعر ګڼلـی شـو، دده پـه دیـوان کـې پـه موضـوعي لحـاظ اجتمـاعي، عشـقي، دینـي او یـو نـیم ځـای سیاسـي شـعرونه شـته، چـې د دیـوان د غزلـو پـه توګـه پـه بـېلا بېلـو برخـو کـې سـره اوډل شـوي دي.

د حسـین دیـوان څـه لـږ ډېـر بـې ترتیبـه جـوړ شـوی دی. یـو خـو دا چـې د حسـېن د پېژنـدنې خبـرې پـه بېلابېلـو برخـو کې راغلـي، چې فکـر کېـږي دا بایـد ټـول پـه یـوه سـرلیک کـې راغلـي وی، دغـه راز د حسـېن د ژونـد پـه زمانـه کـې چـې کـوم نـور شـاعران تېـر شـوي، د هغـوی پـوره پېژندنـه پـه کـې نـه ده شـوې، بلـه دا چـې د ده اشـعار د موضـوع لـه پلـوه پـوره نـه دې څېـړل شـوي، نـو فلهـدا نـورې شـرحې او سـپړنې تـه یـې هـم اړتیـا لیـدل کېـږي، د مقـدمې مخکښـه یـې د الفبـا پـه عـام ترتیـب لیکـل شـوې ده، چـې معمـولاً باید د ابجدو په ترتیب لیکل شوې وی.

د حسېن دیوان په وروستۍ برخه کې یو شمېر پښتو ټپې (لنډۍ) هم راغلي، چې دلته د مدون فکر داسې ښکاري، چې شاید دا ټپې به هم په خپله حسېن لیکلي وي، خو ټپې دولسي ادب یو ژانر او ډول ګڼل کېږي او که د دیواني شاعرۍ خاوندان یې هم ولیکي، ولسي خوند او رنګ به نه لري، نو ځکه دا مناسب کار نه و، بله خبره دا ده چې معمولاً پښتني دیوانونه، په کورونو، جوماتونو او حجرو کې ساتل شوي او هلته چې ځینې نور دغه ډول پښتو شعري دیوانونه د چا لاس ته ورغلي، هغوی پرې په حاشیو کې ټپې لیکلي دي، دا دود دپښتو ژبې په ځینو نورو دیوانونو او کتابونو کې هم کتل شوی. دا چې ټپې جوړول د ولسي خلکو کار دی او د باسوادو خلکو ټپې باید د ولسي ادب برخه ونه ګڼل شي.

د حسېن دیوان تدوین د متن څېړنې له معاصرو اصولو سره برابر نه دی او ځای ځای په کې پروفي تېروتنې لیدل کېږي. خو که بیا ځیر شو، د پښتو زیاتره څېړونکي د عصري زده کړو څخه بې برخې دي؛ خو بیا یې هم یو تعداد پښتو دیوانونه د خپل شخصي ذوق له مخې برابر کړي، که مونږ دا دیوان په همدې تول وتلو، نو بیا ویلی شو، چې دا یو لوی کار شوی دی.

څېړونکي همېش خلیل، څو کاله وروسته د حسېن د یوې بلې شعري ټولګې درک هم لګولی، د پښتونخوا په هزاره سیمه کې د سعدالله خان په نامه له یوه تن سره د ده یوه شعري خطي نسخه وه، چې په (۱۹۹۰م) کال کې تړې همېش خلیل د ده (۱۷) عدده غزلې، چې په دیوان کې نه شته، رانقل کړي او په «ساهو ادب» نومي کتاب کې یې خپرې کړي دي.

**وړاندیزونه**

دا چې د حسین دیوان څو کاله پخوا د همېش خلیل له خوا خپور شوی، وروسته یې (۱۷) قطعې نور اشعار مونډل شوي دي، دا وروستي اشعار دې هم ورسره یو ځای شي او بیا دې د چاپ په ګاڼه سمبال شي. تر څو د حسین د اشعارو مینوال بشپړ دیوان تر لاسه کړي.

د حسېن د دیوان ترتیب او تدوین له معاصرو اصولو سره ډېر برابر نه دی، دا دیوان باید یو ځل بیا د اوسنیو څېړونکو له خوا وکتل شي، په نورو نسخو پسې یې لټه وشي او بیا په نوي صحافت له سره خپور کړای شي.

کـه بیـا خپرېـږي؛ نـو بایـد لیکنـه او پـروف لوسـتنه یـې دقیقـه وشـي، پـه دیـوان کـې راغلـې لنـډې بایـد تـرې ویسـتل شـي، کومـه غلطنامـه چـې دیـوان تـه پـه پـای کـې ورکـړل شـوې، بایـد چـې پـه مـتن کـې سـمه شـي همـدا شـان لیکـدود یـې هـم بایـد لـه اوسـني وخـت سـره سم جوړ شي.

**مناقشه**

هـــره څېړنیـــزه او تحقیقـــي لیکنـــه، ځانتـــه ارزښـــت لـــري، کلـــه چـــې لیکـــوال او څېرونکـی پـه کومـه موضـوع څېړنـه کـوي هغـه بـه نـوې وي، نـو مـا هـم د دیـوان لرونکـي حســین لنـــډې پېژنـــدنې تـــر عنـــوان لانـــدې یـــوه څېړنیـــزه مقالـــه ولیکلـــه، چـــې د مقـــالې د لیکلـو پـه وخـت کـې د یـو لـړ سـتونزو سـره مخـامخ شـوم، چـې پـه یـاده موضـوع کـې را تـه ځینې پوښتنې را ولاړې شوې لکه.

- پـه دې دوره کـې د حسـین پـه نـوم څـو تنـه شـاعران تېـر شـوي، چـې څنګـه یـې له نور سره توپیر وکړم؟
- د حسېن د ژوندانه د وخت په اړه څنګه کره اسناد پیدا کړم؟
- په کومو ژانرونو کې یې شاعري کړې او د کوم سبک پیرو دی؟
- ځینې نورې داسې پوښتنې هم وې چې ځوابول یې اړین و.

د لـومړۍ پوښـتنې د ځـواب لـه پـاره مـو یـو لـړ کتابونـه مطالعـه کـړل، چـې پـه پـای کـې دې نتیجـې تـه ورسـیدم: چـې حسـېن د پښـتونخوا د هـزاره سـیمې د پکلـې کلـي وسـېدونکی و. د زېږېـدنې او مړینـې دقیقـه نېټـه نـه ده معلومـه؛ د یـادې څېړنـې پـه جریـان کـې مـې د حسـین د دیـوان د داخلـي شـهادتونو پـه اسـاس، چـې ځینـې اشـعارو کـې داسـې څـرک لږېـده، چـې د دوولسـمې پېـړۍ شـاعر دی او د مغـولي اورنګزیـب پـه زمانـه کـې تېـر شـوی دی، چې په لاندې بیت کې وایي.

لکه زه ستا د کـــوڅـــې پـــه خاورو فخر کـــوم
هومره لویي د هندوستان په تخت اورنګ نه کاندې

(۳ : ف)

د ځینـــو اســـتادانو ســـره پـــه دې اړه مباحثـــه شـــوې او د بحـــث ســـربېره د ځینـــو اثـــارو پـــه کتلـو دویمـې پوښـتنې تـه هـم ځـواب مونـدل شـوی، چـې د پښـتو پـه دېـرو ښـو شـاعرانو کـې ولاړ دی او د عبدالحمیـد مومنـد لـه پلیونـو څخـه دی او د حمیـد مومنـد د فکـر لاندې یې خپله شاعري کړې ده.

د حسین د پېژندلو په رابطه د علومو اکاډمۍ او پښتو ټولنې استادانو څخه د معلوماتو په اخستلو سره دا څېړنه تکمیل شوې ده.

**ماخذونه**

۱ . اثر، قاضي عبدالحلیم افغاني. (۱۹۶۳م). (تېرهېر شاعران). پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون.
۲ . حبیبي، عبدالحی. ( ۱۳۲۰هـ ش). پښتانه شعرا. (لومړی ټوک). کابل: پښتوټولنه.
۳ . حسېن. ( ۱۹۵۸م). د حسېن دیوان. (دهمېش خلیل په تدوین او سریزه). پېښور: په کتاب د خپرندویه ټولنې ادرس نشته.
۴ . خلیل، همېش. (۲۰۰۳م). ساهو ادب. پېښور: اداره علم و فن.
۵ . خلیل، همېش. ( ۲۰۰۸م). د پښتو شعري ادب. پېښور: پېښور پوهنتون، پښتو اکاډمي.
۶. رحمان بابا. (۱۳۸۴هـ ش). د رحمان بابا دیوان. حنیف خلیل: سریزه، یادښتونه او ویپانګه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
۷. رښتین، صدیق الله. (۱۳۷۲هـ ش). پیاوړي شاعران. پېښور: یونیورسټي بُک ایجنسي، کاسنټرپنټرز محله جنګي.
۸ . رفیع، حبیب الله. (۱۳۵۳هـ ش). ادبي ستوري (لومړی ټوک). کابل: پښتو ټولنه.
۹ ـــ هېوادمل، زلمی. (۱۳۵۶هـ ش). فرهنګ زبان وادبیات پښتو(لومړی ټوک). کابل: د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت.
۱۰. هېوادمل، زلمی. (۱۳۹۳هـ ش). د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دوره). چاپ ځای نه لري: دانش خپرندویه ټولنه.

# سیاسي جرمونه د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو له نظره

لیکونکی: پوهندوی عبدالرحمن رحیمي

شيخ زايد پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د قضا او څارنوالي څانګې استاد

تقریظ ورکوونکی: پوهنوال محمدالله مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

**لنډیز**

سیاسي جرمونه د عادي جرمونو برعکس د ځانګړیو کسانو له خوا ترسره کیږي، چې د سیاسي رژیمونو د راپورزولو او یا د هغو د کمزوري کولو لامل ګرځي او یا د جرمي عمل د فاعل موخه دا وي چې سیاسي رژیم نسکور یا کمزوری کړي. د ۱۷۸۹ میلادي کال پورې سیاسي جرمونه شدید جرمونه ګڼل کېدل او ترسره کوونکي یې د جدي څارنې او شدیدو جزاګانو وړ ګڼل کېدل. همدا لامل و چې د هغوی پروړاندې د تېښتې د هر راز لارو د بندېدو په موخه، د هېوادونو ترمنځ د مجرمینو د استرداد تر ټولو لرغوني تړونونه لاسلیک شوي دي. د جزا حقوقو په اوسني پېر کې؛ په ځانګړې توګه د نولسمې میلادي پېړۍ را په دیخوا سیاسي جرمونه دېلابېلو لاملونو پر بنسټ، په ټولنیز ذهنیت کې د پخوا په څېر شدید جرمونه نه ګڼل کیږي همدا لامل دی، چې د جزا حقوقو د اوسني پېر په بېلابېلو ډګرونو کې د عادي مجرمینو پر خلاف د سیاسي جرمونو مرتکبین یو لړ امتیازات او سهولتونه لري.

**کلیدي ټکي:** سیاسي جرمونو تاریخي مخینه، سیاسي جرمونو تعریف، سیاسي مجرمینو امتیازات، سیاسي مجرمینو د امتیازاتو منطق، سیاسي جرمونو په هکله د اسلامي شریعت دریځ.

**موخې:** له دې علمي مقالې څخه لاندې موخې په پام کې نیول شوي دي.

۱- د سیاسي جرمونو او عادي جرمونو ترمنځ توپیر وشي.

۲- د سیاسي مجرمینو حقوق او امتیازات وپېژندل شي.

۳- سیاسي جرمونه محدود شي او هرجرم بې قیده او بې شرطه سیاسي ونه ګڼل شي.

۴- د سیاسي جرمونو د ارتکاب لاملونه له منځه لاړ شي.

۵- سیاسي مجرمین خپل حقوق او امتیازات وپېژني.

۶- په عدلي او قضايي ارګانونو کې د سیاسي مجرمینو حقوق او امتیازات رعایت شي.

۷- سیاسي مجرمین د خپلو سیاسي فعالیتونو ساحه وپېژني او له هغې څخه بهر نه شي.

**سریزه**

د حقوق جزا د اوسني پېرد مفهوم له مخې سیاسي جرمونه، د عمومي جرمونو لکه: قتل، وهل ټکول. سرقت په امانت کې خیانت ... پرخلاف اختصاصي یا ځانګړي جرمونه دي، چې په ټولنه کې د ځانګړیو کسانو له خوا د ځانګړیو موخو لپاره ترسره کېږي. په عمومي توګه جرم د ټولنیز ژوند سره جوخت د یوې منفورې پدیدې په حیث رامنځته شوی او د سماوي قواعدو را وروسته انسانانو د له هماغه مهاله د هغې پر ضد غبرګون ښودلی دی او د دې منفورې پدیدې د له منځه وړلو په هکله یې یو لړ بشري او عرفي قواعد رامنځته کړي دي. که څه هم په لرغونو پېړیو کې د جرمي عملونو د تعریف او ویشنې او پر مجرمینو د جزاګانو د پلي کېدو په هکله ډېر پرمختګ نه وو شوي، خو بیا هم هغه جرمي عملونه چې د حکومت یا حکومتي لوړ پوړو چارواکو پر ضد ترسره کېدل شدید جرمونه ګڼل کېدل او ترسره کوونکي یې د شدیدو جزاګانو مستحق ګڼل کېدل. همدا لامل وه چې تر ډېره مهاله د دا ډول جرمي عملونو ترسره کوونکي خطرناک مجرمین بلل کېدل او د عادي مجرمینو په پرتله پرې شدیدې جزاګانې پلي کېدې. د وخت په تېرېدو سره د جرمونو په پېژندنه کې پرمختګ رامنځته شو او د عادي او اختصاصي جرمونو ترمنځ تفکیک پیدا شو او هغه جرمونه چې د هېواد یا حکومتي تاسیساتو یا حکومتي لوړ پوړو چارواکو پر ضد ترسره کېدل سیاسي جرمونه وګڼل شول، خو بیا هم د پخوا په څېر د دا ډول جرمونو ترسره کوونکي د سیاسي جرمونو په عنوان شدیداً محاکمه او مجازات کېدل. د وخت په تېرېدو سره د سیاسي جرمونو په هکله په ټولنیز ذهنیت کې مثبت بدلون رامنځته شو او ترسره کوونکي یې نه یوازې د شدیدو جزاګانو مستحق وګڼل شو، بلکې د هغوی لپاره په قوانینو کې ځینې سهولتونه او امتیازات هم ومنل شول، چې ان شا الله د مقالې په بهیر کې به د یوه خپلواک عنوان په توګه ورباندې بحث وشي.

**د کــار مــواد او مېتــود:** د مقــالې پــه ترتیــب کــې لــه معتبــرو علمــي کتــابونو څخــه ګټــه اخیســتل شــوې. د مقــالې مــواد د کتــابتوني څېړنــې پــه بڼــه د نصــي او لفظــي اقتبــاس د قواعــدو پــه مراعــاتولو ســره راټــول شــوي دي. لیکنــه تــر ډېــره حــده د موضــوع لــه اړونــده مــوادو څخــه د عمــومي برداشــت پــه اخیســتنې ســره پــه روانــه ژبــه او د صــفحې د منځني ماخذونو د ذکر کولو په بڼه زما په شخصي برداشت ترتیب شوې ده

**د مقــالې مونــدنې:** هغــه څــه چــې د دې څېړنیــزې مقــالې پــه تــرڅ کــې تــر لاســه شــول دادي، چــې پــه دغــه څېړنــه کــې د اســلامي شــریعت او وضــعي قوانینــو تــرمنځ د سیاســي جــرم د تعریــف پــه هکلــه پرتلیــزه څېړنــه تــر ســره شــوه او بــالاخره دې نتجــې تــه ورســیدو، چــې د سیاســي جــرم پــه هکلــه د اســلامي شــریعت تعریــف ډېــر لرغــونی او جــامع دی او د سیاســي جــرم د تعریــف لپــاره یــې اړیــن شــرطونه ذکــر کــړي دي. همدارنګــه د سیاســي جرمونــو پــه هکلــه د اســلامي شــریعت تعریــف، د وضــعي قوانینــو د دوه ګونــو تعریفونــو څخــه، چــې پــه آفــاقي او ذهنــي نظریــو بانــدې ولاړ دي لــه مشــتق شــوي معاصــر تعریــف ســره ډېــر ورتــه والـی لــري، چــې پــه حقــوقي لحــاظ بانــدې د ډېــرو اړینــو موضــوعګانو ســره تــړاو لــري لکــه: د سیاســي جرمونــو محــدوویت او د هغــې د ارتکــاب د لاملونــو لــه منځــه وړل، د سیاســي مجرینــو امتیــازات او د سیاســي جرمونــو اړونــده قضــایاو تــه د رســیده ګــی پــه ډګــر کــې د محــاکمو د ســتونزو هــواری. بنــاً د سیاســي جرمونــو پــه هکلــه داســې یــو تعریــف چــې هــم د اســلامي شــریعت او هــم د وضــعي قواینــو ســره ســمون ولــري زمــوږ سره په لاندې ډګرونو کې مرسته کولی شي.

۱- ددې تعریــف لــه مخــې بــه د سیاســي جرمونــو ســاحه محــدوده شــي او د هــر جــرم د سیاسي ګڼلو مخه به ونیول شي.

۲- سیاســي مجــرمین جــرم تــه د رســیده ګــی پــه ډګــر کــې ځینــې امتیــازات او اســانتیاوې لــري، چــې د سیاســي مجرمینــو دغــه اســانتیاوې هــم د سیاســي جرمونــو د دقیــق تعریــف ســره تړلــي دي او یــواځې هغــه کســان بــه لــه دغــو امتیــازاتو څخــه ګټــه اخیســتلی شــي چــې جرم یې سیاسي بڼه ولي.

۳- د جزایــي مؤیــداتو پلــي کــوونکي ارګانونــه (محکمــې) د سیاســي جــرم پــه هکلــه د یــو دقیــق او هــر اړخیــز تعریــف پــه نــه موجودیــت کــې لــه ســتونزو ســره مخــامخ کیــږي لــه دې املــه د سیاســي جــرم هــر اړخیــز او جــامع تعریــف بــه د یــادو ارګــانونو ســره د پرېکــړو پــه صادرولو کې مرسته وکړي.

**د سیاسي جرمونو تعریف:** سیاسي جرمونه یوه پیچلې موضوع ده همدا لامل دی چې حقوقپوهان یې د تعریف په هکله بېلابېل فکرونه او نظریات لري او حتی ځینې حقوقپوهان او حقوقدانان د سیاسي جرمونو د تعریف پرته د هغې په اړونده موضوعګانو بحث کوي(۷: ۲۲۱).

د افغانستان د (۱۳۸۲) لمریز کال اساسي قانون له سیاسي جرمونو څخه یادونه نه ده کړې، همدارنګه د افغانستان د ۱۳۵۵ لمریز کال د جزا قانون او د ۱۳۹۶ جزا په کود کې د سیاسي جرمونو د اصطلاح په عوض د داخلي او خارجي امنیت پر ضد جرمونو اصطلاح کارول شوې ده او د عادي جرمونو په پرتله پکې د شدیدو جزاګانو وړاندوینه هم شوې ده، خو برعکس د افغانستان او ایران همدارنګه د افغانستان او عربي متحده ایالاتو ترمنځ د مجرمینو د استرداد په تړونونو کې د سیاسي جرمونو اصطلاحات یاد شوي او مرتکبین یې د استرداد وړ نه دي ګڼل شوي.

په هر صورت د عادي مجرمینو پرخلاف په بېلابېلو دګرونو کې د سیاسي مجرمینو امتیازات د محکمو لپاره دا اړینه کوي چې سیاسي جرمونه تعریف شي. له دې امله حقوقپوهان هڅه کوي چې سیاسي جرمونه تعریف کړي.

لکه چې وړاندې مو اشاره وکړه د سیاسي جرمونو د تعریف په هکله حقوقپوهان بېلابېل فکرونه لري چې ځینې یې د سیاسي جرم د تعریف لپاره انګېزه اړینه ګڼي او د ذهني نظرې پلوي کوي، ځینې یې د سیاسي جرم لپاره د جرم پر ماهیت باندې ټینګار کوي او د عیني نظریې ملاتړي دي او ځینې نور یې بیا د سیاسي جرم د تعریف لپاره، انګېزه او ماهیت دواړه اړین ګڼي، چې دا په حقیقت کې د پورتنیو دواړو نظریو یوه ګډه او مختلطه نظریه ده. دادی دا هره یوه نظریه په لاندې توګه جدا جدا د بحث لاندې نیسو.

**الف- ذهني نظریه:** د دې نظریې پر بنسټ تول هغه غیر قانوني کړنې او هلې ځلې چې د حاکم نظام د نسکورولو یا کمزوري کولو یا د سیاسي ګټو د ترلاسه کولو په موخه او انګېزه ترسره کیږي د سیاسي جرمونو څخه عبارت دي (۲ :۱۲۲).

لکه چې لیدل کېږي په دغه نظریه کې جرم ته د سیاسي وصف په ورکولو کې د مجرم موخه او انګېزه اړینه ده. له دې کبله د دې نظریې د پلویانو په باور، که چېرې یو عادي جرم د سیاسي موخې او انګېزې لپاره ترسره شي جرم سیاسي دی.

لکه چې ښکاري په دغه نظریه کې جرمي عمل ته د سیاسي والي صفت له مجرم څخه لیږدول کیږي، نه د جرمي عمل د ماهیت څخه. یا په بل عبارت په دغه نظریه کې لومړی سیاسي مجرم مطرح کیږي نه سیاسي جرم او کله چې د جرمي عمل فاعل د سیاسي انګیزې په درلودلو سره یو جرمي عمل( خواه دا جرمي عمل سیاسي وي یا عادي) ترسره کړي، نو موړی عمل خپل په خپله سیاسي وصف پیداکوي. (۲:۱۲۲).

بلانش (BLANCHE) فرانسوي حقوقپوه وایي ((یواځې هغه جرمونه چې موخه او انګېزه یې سیاسي وي باید د سیاسي جرمونو له ډلې څخه وګڼو، ځکه یواځې همدا لامل دی چې د جرم د تشخیص او پېژندلو باعث ګرځي او سیاسي جرم له عادي جرم څخه بیلوي)) د دې نظریې پر بنسټ که څوک د وسلو له پلورنځي څخه وسلې غلا کړي ترڅو د هغې په ذریعه د هېواد واکمن رژیم را وپرځوي د سیاسي جرم مرتکب دی. همدا رنګه که یو څوک د اجورې پر وړاندې په یوه سیاسي لاریون کې ګډون وکړي نوموړی کس سیاسي نه دی، ځکه د ده موخه د مال ترلاسه کول دي نه سیاسي موخه (۷: ۳۱۸).

پورتنۍ نظریه د څو اړخونو له مخې د نیوکو لاندې ده.

لومړی: موخه او انګېزه یو باطني او پټ شی دی او موږ نشوکولی په اسانی سره په یوه جرمي عمل کې د ترسره کوونکي موخه او انګېزه معلومه کړو. که چېرې موږ دغه نظریه ومنو دا به د دې لامل شي چې هرعادي مجرم د دې دعوی وکړي چې جرم یې دسیاسي انګېزې پربنسټ ترسره کړی دی، ترڅو له هغو امتیازاتو څخه برخمن شي چې سیاسي مجرمین یې لري.

دویم: موخه او انګېزه د جرم د متشکله عناصرو له جملې څخه نه ګڼل کیږي او د جرمي وصف د بدلون لامل هم نه ګرځي، بلکې د مشخصې موخې او انګېزې له مخې کیدای شي چې د مجرم جزایي مسؤولیت دروند یا سپک وټاکل شي او د محکمې لپاره د لوړو او ټیټو پولو ترمنځ د حکم د صادرولو لارښوونه وکړي.

درېیم: دا څنګه منلی شو چې په بشپړه توګه یو عادي جرم لکه سرقت، قتل چورچپاوول ... یواځې په دې ګمان چې د سیاسي موخې او انګېزې په نیت ترسره شوي دي دعادي جرمو له لیکو څخه وباسو. سربېره پر دې کله چې یو مجرم یو جرم د څو بېلابېلو انګیزو او موخو له مخې ترسره کړي، د بېلګې په توګه یو کس

خپـل تــاکنیز ســیال چـې پــه عــین وخــت کـې دده عشــقي ســیال هــم دی ووژنــي، آیــا دا وژنه به عادي جرم وي او که سیاسي جرم (۳۱۸:۷).

**ځلــورم:** د ذهنـي نظریـې پــه اړه بلــه نیوکــه داده چـې د سیاســي جرمونــو لمــن پراخــوي او د سیاســي جرمونــو ســره تړلـي(مــرتبط) او مرکــب جرمونــو تــه هــم سیاســي رنــګ ورکــوي . مرکـب جــرم هغــه جــرم تــه ویــل کیــږي چــې د ماهیــت لــه پلــوه عمــومي وي، ولـې موخــه او انګېــزه یکــې سیاســي وي. د بېلګــې پــه توګــه د یــوه هېــواد د رئــیس د وژلــو نیــت یعنــې (قتــل) عمــومي جــرم دی، خــو کــه د حکومــت د نړولــو یــا د هېــواد داخلــي امنیــت تــه د خطــر اړولــو پــه موخــه صــورت ونیســي مرکــب جــرم پېژنــدل کیــږي او د ذهنـي نظریــې پــر بنســټ نومــوړی جــرم سیاســي جــرم دی. مــرتبط یــا د سیاســي جــرم ســره تړلـی جــرم پــه خپـل ذات کـې د جرمــي عمــل د مــوخې لــه پلــوه کــاملاً عمــومي دی، خــو کــه ځــانګړیو شــرایطو کـې لــه یــوه سیاســي جــرم ســره د مرســتې او اســانتیاوو د برابرولــو پــه منظــور صــورت ونیســي جــرم سیاســي ګڼــل کیــږي. د مثــال پــه توګــه زه د شورشــونو او لاریونونــو پــر مهــال د وســلو یــا غــذایي توکــو ډکــه مغــازه لوټــوم، خــو زمــا موخــه داده چـې د لاریــون کوونکــو ســره د سیاســي موخــو پــه تحقــق کـې مرســته وکــړم، زمــا جــرم مــرتبط جــرم دی او د ذهني نظریې پر بنسټ نوموړی جرم سیاسي دی (۴۶۵:۵)

**ب- عینـي نظریــه:** د دې نظریـې پــر بنســټ هغــه څــه چـې د عــادي جــرم او سیاســي جــرم تــرمنځ د بېلــوالي لامــل ګرځـي د مجــرم موخــه او انګېــزه نــه ده بلکـې د جــرم ماهیــت او د حکــومتي رژیــم پــه راپورځولــو کـې د هغـې اغېزمنتــوب دی. بنــاً د دې نظریـې لــه مخې ټــول هغــه عملونــه او حرکتونــه چـې د حکــومتي نظــام د راپورځولــو یــا لــږ تــر لــږه د هغـې پــه کمزوریکولـــو کـــې رول لوبـــوي، کـــه څـــه هـــم د دا ډول عملونـــو او حرکتونـــو ځخـــه د مرتکـــب موخـــه او انګېـــزه د حکـــومتي نظـــام راپورځـــول یـــا کمـــزوري کـــول وي یـــا نـــوي، سیاســي جــرم ګڼــل کیــږي. لکــه: غیــر قــانوني او د تــاو تریخــوالي څخــه ډک لاریونونــه، چـې د حکــومتي تاسیســاتواو سیاســي اســتازوالیو تــه د اور اچــوونې یــا لوټولــو لامــل ګرځـي (۲ :۱۲۳).

المــاني حقوقپــوه **(فــن لیســت)** سیاســي جــرم داســې تعریفــوي: ( سیاســي جــرم د جــزا وړ هغــه عمــل دی چـې قصــداً د یــوه هېــواد د موجودیــت او امنیــت پــر ضــد یــا د یــوه بهرنــي هېــواد پــر ضــد یــا د حکومــت د رئــیس پــر ضــد او یــا د ټــولنې د خلکــو د سیاســي حقوقــو پــر ضــد ترســره شــوی وي). لــه نومــوړې تعریــف څخــه پــه الهــام اخیســتنې ســره د المــان د هېــواد د (سیاســي مجرمینــو د اســترداد) پــه قــانون کـې سیاســي جــرم داســې تعریــف

شوی دی (سیاسي جرم د جزا وړ هغه عمل دی چې د هېواد د اساس پرضد، یا د هېواد د رئیس پرضد، او یا د دولت پر یوه غړي له دې امله چې د دولت غړی دی او یا د مقننه قوې پرضد او یا د نوماند کوونکو یا نوماند د سیاسي حقوقو پرضد او یا د خارجیانو د نېکو اړیکو پر خلاف ترسره شي)).

فرانسوي حقوقپوه ارتولان **(ORTOLAN)** د المانی حقوقپوهانو له نظریاتو څخه په الهام او د دې لپاره چې د سیاسي جرم له مفهوم څخه بده استفاده ونه شي، لاندې درې ګوني شرطونه وړاندې کړي دي.

لومړی- موخه باید یواځې د هېواد او دولت سیاسي تشکیلالت وي.

دویم- د جرم په پایله کې د دولت سیاسي او اساسي حقوق نقض شوي وي.

داچې جزاګانې باید یواځې د دولت د له لاسه وتلو خسارو او ګټو د تامین لپاره وي (۷: ۳۱۸).

په هر صورت هغه څه چې په نوموړې نظریه کې اړین دي او د عادي جرم او سیاسي جرم ترمنځ د بیلوالي لامل ګرځي، هغه د جرم ماهیت دی نه د جرم موخه او انګېزه، نوله دې امله کله چې یو جرمي عمل عملاً او ماهیتاً د دې وړتیا ولري چې حکومتي رژیم نسکور کړي یا کمزوری کړي نوموړی جرم سیاسي دی. د ذهني نظریې پر خلاف په دغه نظریه کې لومړی د سیاسي والي صفت په جرمي عمل کې پیدا کیږي، چې بیا نوموړی جرمي صفت له جرم څخه د جرمي عمل ترسره کوونکي ته لیږدول کیږي، په دې معنا چې که چېرې جرم د ماهیت له مخې سیاسي وي، نو د هغې مرتکب هم سیاسي مجرم ګڼل کیږي که څه هم جرم یې د سیاسي موخو او انګیزو له مخې نه وي ترسره کړی (۲: ۱۲۱، ۱۲۲).

که څه هم پورتنۍ نظریه له ډېرو اړخونو څخه د ذهني نظریې په پرتله غوره ده، خو له دې سره سره ځینې نیمګړتیاوې هم لري. یوه مهمه نیمګړتیا چې په دغه نظریه کې تر سترګو کیږي داده چې په نوموړې نظریه کې په هېڅ صورت د مجرم قصد په پام کې نه نیول کیږي. د بېلګې په توګه: که یوکس د سیاسي موخې پرته یواځې د اجورې د ترلاسه کولو په موخه دهېواد تشکیلات د تیري او یرغل لاندې ونیسي د یادې نظریې له مخې سیاسي مجرم نه دی، که څه هم نوموړی کس د ذهني نظرې پر بنسټ سیاسي مجرم دی اوجرم یې سیاسي دی(۷: ۲۲۱).

دا په داسې حال کې ده چې د جزا حقوقو په اوسني پېر کې د عادي مجرمینو پرخلاف د سیاسي مجرمینو لپاره، چې کوم امتیازات او استثناوې د مجرمیت پر

ورانـدې د مبـارزې پـه بېلابېلـو ډګرونـو کې پـه ملـي او نړيوالـو تقنيني سـندونو کې پـه پـام کې نيـول شـوي دي، بنسـټيز لامـل يـې پـه جـرم کې د مجـرم موخـه او انګېـزه بلـل شـوې ده. همـدا لامـل دی چې ځينـي حقـوق پوهـان د يـادو دواړو نظريـو څخـه د مختلطـې او ګډې نظريې ملاتړ کوي.

ج- **مختلطـه يـا ګـډه نظريـه:** د سياسـي جـرم پـه پېژنـدلو کې يـو لـه اړينـو مسـايلو څخـه هماغـه د سياسـي مجرمينـو موخـه او انګېـزه ده چې پـه تېـره پېـړۍ کې د سياسـي مجرمينـو لپـاره د يـو لـړ امتيـازاتو او اسـتثناو لامـل شـوه. همدغـه موخـه او انګېـزه د دې لامـل شـوه چې د هېـواد سـره د خيانـت او جاسوسـۍ پـه څېـر جرمونـه چې د دنـي او ټيټې انګېـزې لـه مخې (د مـال کسـب) ترسـره کيـږي، د سياسـي جرمونـو لـه چوکـاټ څخـه بهـر شـول. سـر بېـره پـر دې نـن ورځ حقوقپوهـان او جـرم پېژنـدونکي پـه دې بـاور دي چې نشـوکولی د عامـل او عمـل تـرمنځ بېلـوالی او تفکيـک پيـدا کـړو. هغـه عوامـل چې پـر بنسـت يـې د جـزا وړ کـس ټاکـل کيـږي موخـه او انګېـزه ده. بنـاً پورتنيـو ټکـو تـه پـه پـام سـره بايـد د سياسـي جـرم پـه تعريـف کې هـرو مـرو د مجـرم موخـه او انګېـزه پـه پـام کې ونيـول شـي. لـه بلـه پلـوه د ارتکـابي عمـل ماهيـت هـم بايـد لـه پامـه ونـه غورځـول شـي. هـر ټـولنيز ضـد عمـل بايـد سياسـي جـرم ونـه ګڼـل شـي د ټـولنيزو ګټـو منـافي عمـل او د هغـه عمـل تـرمنځ چې دولتـي تشـکيلات د هـدف لانـدې راولـي خـورا تـوپير شـته تروريسـتي او انارشيسـتي عملونـه کـه څـه هـم د سياسـي مـوخې لـه مخې ترسـره شـي ټـولنيزې ګټې پـه خطـر کې اچـوي نـه د حکومـت اسـاس. لـه دې املـه هغـه بايـد سياسـي ونـه ګڼـل شـي. بنـاً د سياسـي جـرم پـه تعريـف کې بايـد ترسـره شـوی عمـل هـم پـه پـام کې ونيول شي (۷: ۱۲۱، ۱۲۲).

**د سياسـي جرمونـو پـه هکلـه د اسـلامي شـريعت دريـځ:** پـه فقهـي اصـطلاح کې سياسـي جـرم تـه (بغـي) او د دې جـرم مرتکـب يعنې سياسـي مجـرم تـه بـاغي ويـل کيـږي. د فقهـاوو پـه انـد څـوک چې د يـوه جـايز تاويـل لـه مخې د دولـت درئـيس پـر ورانـدې پورتـه شـي او د خپلـو موخـو لپـاره يـو مـنظم تحريـک او قـد رت ولـري، سياسـي مجـرمين يـا باغيـان بلـل کيـږي لکـه: د مسـلمانانو هغـه ډلـه چې د امـام (پاچـا) يـا د هغې د ځـای ناسـتي سـره پـه دې موخـه مخالفـت کـوي چې د واجـب حـق لـه ادا کولـو څخـه غـاړه غـړوي لکـه: د واجـب زکـات نـه ورکـول يـا د هغـو حکمونـو نـه پلـي کـول چې د حـق الله او حق العبد په په اړه پرې حکم شوی وي(۶: ۹۵).

**پــه اســلامي شــریعت کــې د سیاســي جرمونوشــرطونه:** پــه اســلامي شــریعت کــې سیاســي جرمونــه ځینــې ځانګړتیــاوې لــري چــې لــه املــه یــې یــاد جرمونــه لــه عــادي جرمونــو څخــه تــوپیر کېــدای شــي او د سیاســي جرمونــو د پراخــوالي مخــه نیســي. پــه اســلامي شــریعت کــې دغــه ځانګړتیــاوې د سیاســي جرمونــو لپــاره اساســي شــرطونه ګڼــل شــوي دي او د هغــې پرتــه هــر جــرم سیاســي نــه، بلکــې عــادي جــرم ګڼــل کیــږي. دا شــرطونه پــه لانــدې ډول دي.

**۱- د جـــرم موخـــه:** د جــرم د سیاســي وصــف لپــاره دا اړینــه ده چــې مجــرم بــه جــرم د سیاســي موخــو د ترلاســه کولــو لپــاره ترســره کــړی وي لکــه: د دولــت د رېــئس نــه اطاعــت یــا د دولتــي نظــام نســکورول پــه دې شــرط چــې موخــه روا او جــایزه وي، خــو کــه د نومورېــو اقــداماتو موخــه د اســلامي شــریعت د نصوصــو ســره مخالفــه وي لکــه د اســلامي نظــام پــر ځــای د بــل نظــام راوســتل یــا خارجیــانو تــه پــه خپــل هېــواد کــې د تســلط او فعالیــت زمینــه برابــرول او داســې نــور، نــو دا ډول فعالیتونــه د الله جــل جلالــه او د هغــې د رســول صــلی الله علیــه وســلم ســره د جنــګ د اعــلان پــه معنــا دي او د الله جل جلا له په ځمکه کې د شر او فساد خپرول دي.

**۲- تاویــل:** د سیاســي جــرم لپــاره دویــم شــرط دادی چــې د سیاســي فعــالیتونو لپــاره بــه دلیــل شــتون لــري کــه څــه هــم دا دلیــل پــه خپــل ذات کــې کمــزوری هــم وي لکــه د حضــرت علــي کــرم الله پــر وړانــدې د خوارجــو دا دلیــل چــې حضــرت علــي کــرم الله تــه د حضــرت عثمــان رضــی الله عنــه قاتــل معلــوم دی، خــو دا چــې حضــرت علــي کــرم الله د حضــرت عثمــان پــه قتــل کــې شــریک دی، ځکــه دا کــار نــه کــوي او د حضــرت عثمــان قصــاص نــه اخلــي او لــه املــه یــې خوارجــو د حضــرت علــي کــرم الله منښــته پــه ځــان لازمــه نــه ګڼلــه، خــو کــه د سیاســي فعــالیتونو لپــاره هــیڅ دلیــل شــتون نــه درلــود یــا دا دلیــل پــه بشــپړه توګــه لــه اســلام ســره پــه ټکــر کــې وه لکــه: پــه دې موخــه د دولــت د رېــئس نــه منــل چــې د دوی د قــوم نــه، نــه دی یــا د دوی د نــژاد نــه نــه دی، نــو دا ډول فعالیتونه هم د ځمکې پر مخ د شر او فساد د خپرولو په معنا دي.

**۳- شـــان او شـــوکت:** د سیاســي جــرم درېــیم شــرط دادی چــې سیاســي جرمونــه بــه د داســې ډلــې لــه لــوري ترســره کیــږي چــې د سیاســي فعــالیتونو قــدرت ولــري او د ملګــرو د ملاتړ څخه برخمن وي.

**۴- جنګ او انقلاب:** د سیاسي جرم لپاره دا هم شرط دی چې جرم به د داخلي جګړو پر مهال د انقلابي موخو لپاره ترسره شوي وي او که د جګړې په وخت کې نه وترسره شوی، نو دا جرم عادي جرم دی او د عادي جرم جزا پرې پلې کیږي لکه: د عبدالرحمن ابن ملجم له خوا د حضرت علي کرم الله وژنه که څه هم ابن ملجم یوې سیاسي ډلې (خوارجو) پورې اړه درلوده او دا په خپله د حضرت علي کرم الله رایه ده (۶: ۹۵- ۹۷).

باید یادونه وکړو چې د سیاسي جرمونو په هکله د اسلامي شریعت نظریه په عمومي توګه د سیاسي جرمونو په هکله د وضعي قوانینو له دریمې نظریې سره، کومه چې د سیاسي جرمونو په هکله د افاقي او ذهني نظریو څخه جوړه ده او په اوسني وضعي قوانینو کې تر ټولو نوې او غوره نظریه بلل کیږي، ډېر ورته والی لري او په دواړو ( اسلامي شریعت او د وضعي قوانینو په نوي نظریه) کې د سیاسي جرم د صفت د کسب لپاره د جرم د ارتکاب انګېزه او د جرم ماهیت اړین دی. دا په داسې حال کې ده چې اسلامي شریعت د عادي جرمونو او سیاسي جرمونو د تعریف او تحدید په هکله ۱۴۰۰ کاله وړاندې جامع او کامل نظریات وړاندې کړي دي په داسې حال کې چې وضعي قوانین له دا ډول مسایلو سره اوس، اوس اشنا شوي دي.

پورتنیو توضیحاتو ته په کتو سره کولی شو سیاسي جرم داسې تعریف کړو: ((سیاسي جرم د جزا وړ هغه عمل دی چې د سیاسي موخې او انګیزې له مخې نیغ په نیغه د دولت سیاسي تشکیلات او د حکومت اساس او د خلکو سیاسي حقوق د تیري او هدف لاندې نیسي)) (۷: ۳۲۱، ۱۲۲).

د دې تعریف ښکېنه داده چې د سیاسي جرم محتوی په صریحه توګه روښانه کوي او د دې لامل ګرځي چې د سیاسي جرمونو د بې پولې پراخوالي مخه ونیول شي او دا مفهوم د یو لړ ځانګړیو جرمونو لپاره پلی شي او دا هغه جرمونه دي چې نېغ په نېغه د هېواد سیاسي تشکیلات او د حکومت اساس او د خلکو اساسي حقوق د حملې لاندې راولي (۷: ۱۲۱، ۱۲۲).

همدا لامل دی چې له سیاسي جرایمونو سره تړلي جرمونه لکه: بانکي غلا او د وسلو د پلورنځي لوټول، ترڅو د سیاسي جرم د ارتکاب لپاره پرې مقدمات تهیه کړي، خپل په خپله د سیاسي جرمونو له ډلې څخه بهر کیږي، ځکه په دا ډول

جرمونو کې د دولت تشکیلات نېغ په نېغه د یرغل لاندې نه راځي. همدا رنګه تروریستي جرمونه او د الوتکو تښتونې جرمونه نېغ په نېغه د هېواد پر تشکیلاتو برید نه ګڼل کیږي. باید یادونه وکړو چې د سیاسي جرمونو د مفهوم د محدودیت او د هغې لپاره له دقیق تعریف څخه د حقوقپوهانو موخه داده چې د سیاسي جرمونو له امتیازاتو څخه یواځې هغه کسان ګټه واخلي چې مستحق یې ګڼل کیږي (۷: ۱۲۲).

**د سیاسي جروموںو تاریخي سیر:** لکه چې وړاندې هم یادونه وشوه سیاسي جرمونه د ټولنیزو ذهنیتونو له مخې ډیر پیچلي جرمونه دي له دې امله له لرغونو پېړیو څخه تر دې وخته د سیاسي جرمونو په هکله ثابت دریځ نه دی نیول شوی، بلکې له هماغه پخواني وخت څخه تر اوسه د سیاسي جرمونو پر وړاندې بېلابېل دریځونه او غبرګونونه په پام کې نیول شوي دي. د دې لپاره چې د تاریخ په اوږدو کې د سیاسي جرمونو د تحول او موقعیت او د هغوی پر وړاندې د ټولنیزو ذهنیتونو په غبرګون وپوهیږو د تاریخ په بېلا بېلو پړاوونو کې یې د بحث لاندې نیسو.

**سیاسي جرمونه په لومړنیو پېړیو کې:** د جزا حقوقو د اوسني پېر پرخلاف په لرغونو پېړیو کې جرمونه په عمومي او خصوصي جرمونو ویشل شوي ول. په عمومي جرمونو کې هغه جرمونه شامل ول چې زیان یې دولت یا ټولنې ته رسیدو، د هغې پر خلاف خصوصي جرمونه بیا هغو جرمونو ته ویل کېدل چې له امله یې ټولنې ته زیان نه رسیدو او یواځې خصوصي کسان ترې زیانمنیدل. که څه هم په اوسني پېر کې خصوصي جرمونه نشته او ټول جرمونه عمومي جرمونه دي(۳: ۴۷).

خو په لرغونو پېړیو کې له عمومي جرمونو څخه ځینې جرمونه لکه د پاچا پر وړاندې توطئیه، د حکومت پر وړاند پاڅون او داسې نور شدید جرمونه ګڼل کېدل. د بېلګې په توګه د وضعي قوانینو په تر ټولو لرغوني قانون (مجمع القوانین حمورابي) کې ځینې جرمونه لکه: د پاچا پر ضد جرمونه د هېواد پر وړاندې خیانت، له دښمن څخه تېښته او داسې نور شدید جرمونه ګڼل کېدل او ترسره کوونکي یې په جدي توګه څارل کېدل او مجازات کېدل (۷: ۳۰۲).

په لرغوني روم کې هم جرمونه په عمومي او خصوصي جرمونو ویشل شوي ول او له عمومي جرمونو څخه ځینې یې لکه: د هېواد پر ضد جرمونه، اجنبیانو ته د هېواد د خاورې سپارل، د دښمن ځواکونو

ته تسلیمېدل، له پردیو سره مرسته د مذهب پر ضد جرمونه او داسې نور د دولت پرضد ( CRIME MAJESTATAE) جرمونه بلل کېدل او ترسره کوونکي يې د بهرنیو دښمنانو په ردیف کې شماریدل او هغوی په ځانګړیو محکمو کې محاکمه او د شدیدو جزاګانو مستحق ګڼل کېدل. لکه: په اور کې سوځېدل، د مالونو ضبط، د خوشحالیو په ورځو کې اعدامول او داسې نور(۳۰۲:۷).

همدارنګه په دغه پېړیو کې د سیاسي مجرمینو تعقیب او پر هغوی د جزاګانو پلي کېدل هم په جدي توګه په پام کې نیول کېدل.

د مثال په توګه په دغه پېړیو کې داسې ذهنیت موجود و چې که سیاسي مجرمین له یوې ټولنې څخه بلې ټولنې ته وتښتي د هغوی د خلاصون ټولې لارې باید د دوی پروړاندې بندې شي او هغوی بیا خپلې ټولنې ته د محاکمې او جزا په موخه راوستلی شي. همدا لامل و چې د مجرمینو د استرداد لومړنی تړون په (۱۲۷۸) ق م کې د مصر دویم پاچا رامسس او د هیټي دولت پاچا هاتو سیلي ترمنځ لاسلیک شو. دا یواځینی لرغونی تړون دی چې د سیاسي مجرمینو د استردا یا سپارلو په هکله لاسلیک شوی دی او موخه یې دا وه چې که د دوی دښمن (سیاسي مجرم) دغو هېوادونو ته وتښتي باید لومړني هېواد ته وسپارل شي ترڅو محاکمه او مجازات شي(۳:۹۲).

**سیاسي جرمونه په منځنیو پېړیو کې:** په منځنیو پېړیو کې هم د لومړنیو پېړیو په څېر د سیاسي جرمونو او مجرمینو پر وړاندې ټولنیز ذهنیت هماغسې قهریدلی پاتې شو او هېڅ بدلون یې ونه مونده. په دغه پېړۍ کې هم د لومړنیو پېړیو په څېر هڅه کیده چې پر سیاسي مجرمینو شدیدې جزاګانې پلي شي او حتی د جزا حقوقو مهم اصل چې د جزاګانو د شخصي والي له اصل څخه عبارت دی په دغه پېړۍ کې د سیاسي مجرمینو په هکله په پام کې نه نیول کیده او د دوی خپلوان او اقارب هم له جزایي مسؤولیت څخه خوندي نه ول. د مثال په توګه له سیاسي مجرم سره به د هغه کورنی یو ځای په تبعیدي جزا محکومیده او یا به یې مالونه ضبطیدل(۳:۹۳).

همدارنګه په منځنیو پېړیو کې نه یواځې بشپړشوي سیاسي جرمونه د جزا وړ ګڼل کېدل، بلکې په جرم پیل او حتی جرمي قصد په جدي توګه تعقیب او د جزا وړ ګڼل کیده. ریشلیو د لوی دیارلسم ځواکمن او نامتو وزیر په دې باور و چې د پاچا او دولت پر ضد مهم جرمونه (LESE MEJESTE) نه یواځې په خپله جرم دی، بلکې د هغې د ترسره کولو نیت او لومړنی فکر هم د جزا وړ دی. د دامین۱ شکنجه او

رېږونه چې د لوی پنځلسم پر ضد په بد نیت تورن وه، له هغو زرګونو بېلګو څخه یوه ده چې په دې هکله تر سترګو کيږي. نوموړی له هغه وروسته چې د بدن غوښې به يې پريکېدلې او په هغه کې به ګرم شوي غوړي او ويلي شوي سرب اچول کېدل، د ده بدن په څلورو ځواکمنو اسونو پورې وتړل شو ترڅو څلور ټوټې شي او په دې ترتیب اعدام شي، خو دا چې بدن يې مقاومت وکړ او سره جدا نه شو، نو دغې موضوع دوه ساعته وخت ونیوه. په پای کې يې بدن د ساطور په ذريعه ټوټه ټوټه شو (۷:۳۰۴).

هغــه تړونونــه چــې پــه منځنيــو پېړيــو کــې د هېوادونــو تــرمنځ د مجرمينــو د اســترداد لپــاره لاســليک شــوي دي د لومړنيــو پېړيــو پــه څېــر د سياســي مجرمينــو پــه هکلــه دي . د بېلګــې پــه توګــه د انګلســتان پاچــا دويــم هــانري او ســکاټليډ پاچــا ګيــوم تــرمنځ د (۱۱۷۶ م) کــال تــړون. د انګلســتان پاچــا دريــيم اډوارډ او د فرانســې پاچــا فلېــب لوبــل تــرمنځ د (۱۳۰۳ م ) کــال تــړون. پــورتني دواړه تړونونــه د سياســي مجرمينــو د اســترداد پــه هکلــه لاسليک شوي دي(۲: ۱۲۴).

**سیاســي جرمونــه پــه نــوي پېړيــو کــې:** پــه نــوي پېړيــو کــې هــم د سياســي جرمونــو پــه هکلــه کــوم مثبــت بــدلون رامنځتــه نــه شــو او هماغــه شــان د لومړنيــو او منځنيــو پېړيــو پــه څېــر شــديد جرمونــه ګڼــل کېــدل او مجــرمين يــې نــه يــوازې د اســترداد وړ ګڼــل کېــدل بلکــې پر دو نورې شديدې جزاګانې هم پلې کېدلې(۲: ۱۲۴).

**سياسي جرمونه په حاضر وختونوکې ( ۱۷۸۹ – تراوسه):** د فرانسې د انقلاب وروسته په نسبي توګه د سياسي جرمونو پر وړاندې عامه ذهنيت بدلون پيدا کړ او داسې وانګېرل شوه چې سياسي جرمونه او مجرمين هماغسې چې په لومړنيو او منځنيو پېړيو کې چې فکر کيدو، شديد جرمونه نه دي، خو ډېر زر دغه وضعيت په منفي لوري وخوزيده او يو ځل بيا سياسي جرمونه شديد جرمونه وبلل شول او مرتکبين يې د شديدو جزاګانو وړ وبلل شول. د همدې فکر پر بنسټ و چې حتی د فرانسې د لوی انقلاب سرکښو ملګرو لکه: (MIRABO ROBESPIER) يو بل د اعدام په شديده جزا محکوم کړل (۹۳:۳)

د فرانســې د ۱۸۱۰ جــزا کــوډ، چــې د نــاپليون د جــزا پــه قــانون شــهرت لــري د لــومړي ځــل لپــاره عــادي جرمونــه لــه سياســي جرمونــو څخــه جــلا کــړل، خــو لــه دې ســره ســره د سياســي جرمونــو د مرتکبينــو لپــاره د اعــدام جــزا پــه پــام کــې ونيــول شــوه. د ۲۰ مــيلادي پېــړۍ پــه بهيــر کــې يــو ځــل بيــا د سياســي جرمونــو پــه هکلــه ټــولنيز ذهنيــت مثبــت بــدلون ومونــده او داســې وانګيــرل شــوه چــې سياســي جرمونــه شــديد جرمونــه نــه دي او نــه بايــد د شديدو جزاګانو مستوجب وګڼل شي(۹۳:۳).

**د سياســي جرمونــو پــه هکلــه د مثبــت بــدلون دلايــل:** د ۲۰ مــيلادي پېــړۍ پــه بهيــر کــې

ځینې دلایل د دې لامل وګرځېدل، چې د سیاسي جرمونو په هکله د ټولنې هغه پخواني کرکه او نفرت له منځه یوسي او د سیاسي جرمونو مرتکبین د ټولنې ویاړمن خلک وګڼل شي. دا دلایل په لاندې توګه دي.

۱- جرمي انګېزه[1]: انګېزه یوه باطني محرکه قوه ده چې انسان د یوه عمل ترسره کولو ته هڅوي. حقوقپوهان انګېزه په دوو برخو ویشي شریفانه[2] یا لوړه انګېزه، دني[3] یا ټیټه انګېزه. په جرمي عملونو کې لوړه انګېزه د جزایي مسؤولیت د تخفیف لامل ګرځي( جزا کود۲۱۳ماده ۲ بند۱ شماره).

برعکس په جرم کې د ټیټې یاپستي انګیزې شتون د جزاګانو د شدت یا لوړوالي لامل ګرځي(د جزا کود ۲۱۸ ماده۱ شماره).

حقوقپوهان پدې اند دي، چې سیاسي جرمونه د لوړې انګیزې له مخې ترسره کیږي په دې معنا چې سیاسي مجرمین خپلې طرحې او عملونه د خپلو شخصي ګټو د ترلاسه کولو په خاطر نه ترسره کوي، بلکې د ټولنې د خیر او مصلحت او لوړو ارمانانو ته د رسیدا په موخه ترسره کوي (۳ :۹۴).

۲- خدمتونه او د استقلال پرستی افکار: آزادي د انسانانو فطري ِغوښتنه او ارمان دی بناً کله چې د (۲۰) میلادي پیړۍ په بهیر کې د سیاسي مجرمینو سرښندونو او سیاسي هلو ځلو په پایله کې ځینې هېوادونه آزاد شول، نو عامه ذهنیت او ټولنیز افکار د دوی له دغو خدمتونو او سرښندنو څخه اغیز من شول(۳ :۹۴).

۳- عملي تجربې: سیاسي مجرمین د خپلو جرمي عملونو او سیاسي خوځښتونو له امله خطرناک خلک ګڼل کېدل، خو کله چې دوی د قدرت واګې په لاس کې واخیستې او عملاً یې د خلکو په خدمت لاس پورې کړ، نو دوی بیا د ټولنې د اتلانو په څېر را څرګند شول(۳: ۹۵).

۴- انساني او بشري عاطفه: د انساني او بشري عاطفې له مخې حقوقپوهان متوجه شول چې سیاسي مجرمین د ماهیت له پلوه خطرناک خلک نه دي، بلکې دوی د خپلې ټولنې د دین او مذهب، دود او کلتور د هویت د ساتلو او ازادی، او د ټولنې د خوښې نظام د راوستلو د فکرونو قرباني دي(۳: ۹۵).

د پورته دلایلو پر بنسټ و، چې د سیاسي مجرمینو په هکله په عامه ذهنیت کې نرمښت رامنځته شو او د ځینو هېوادونو په جزایي قوانینو کې نه یواځې د سیاسي مجرمینو پر وړاندې د اعدام جزا لغوه شوه ، بلکې د هغوی د محاکمې په ترڅ کې

د ژورې هیئت شتون هم اړین وبلل شو، خو یو ځل بیا د دې شلمې پېړۍ په ترڅ کې په ځینو هېوادونو کې د لنډ مهالې مودې لپاره د سیاسي جرمو په هکله ټولنیز ذهنیت بدل شو او سیاسي جرمونه شدید جرمونه وګڼل شوي. دا چې ولې یو ځل بیا د (۲۰) میلادي پېړۍ په ترڅ کې سیاسي جرمونه شدید جرمونه وګڼل شول هغه وخت ځینو لاملونو شتون درلود، چې په لاندې توګه ترې یادونه کوو.

۱- جرمي اګېزه: د جرمي عمل د ترسره کولو یا له قانوني مکلفیت څخه د ډډې کولو لپاره له د ننه (دروني) محرک څخه عبارت ده (د جزاکود:۴ماده ۴ جز) ۲- شریفانه انګېزه: بشر دوستانه سبب او حالت او لوری ورکوونکی ځواک دی چې په حسن نیت سره مشخصې انساني موخې ته د رسیدو لپاره د جرم ارتکاب ته د شخص اراده سوق کړي او په فعلې یې اړولي وي(د جزاکود:۴ماده ۵ جز)

۳- دني انګېزه: هغه سبب او حالت دی چې د لوري ورکوونکي ځواک په ډول یې تبارز کړی وي او د شخص اراده یې پست (ټيټې) موخې ته د رسیدو لپاره د جرم ارتکاب ته سوق کړي او فعل ته یې اړولي وي(د جزاکود:۴ماده ۶ جز)

۱- د دیکتاتوري نظامونو رامنځته کېدل: په ۲۰ میلادي پېړۍ کې ځینې دیکتاتوري نظامونه رامنځته شول لکه: په هسپانیه کې نظامي نظام، په المان کې هټلري نظام، په ایتالیا کې فاشستي نظام، په چین او روسیه کې سوسیالستي نظامونه. په پورتنیو نظامونو کې سیاسي جرمونه، شدید جرمونه ګڼل کېدل او پر مجرمیونو یې د عادي مجرمینو په پرتله شدیدې جزګانې پلې کیدې(۳: ۹۶).

۲- تروریستي اوانارشیستي جرمونه: د شلمې میلادي پېړۍ له مهمو او هریانوونکو پېښو څخه یوه هم په نړۍ کې د تروریستي او انارشیستي بریدونو پراخوالی وه، چې د هېوادونو د رئیسانو او سیاسي شخصیتونو پر وړاندې ترسره کېدل. د بېلګې په توګه په فرانسه کې د یوګوسلاویا د اول پاچا الکساندر ترور، د فرانسې د جمهور رئیس پریدان دومر وژنه، په امریکا کې د پریدان کندي ترور او داسې نور قتلونه او ترورونه چې په پایله کې د دغو شخصیتونو وژنه او ترور د سیاسي جرمونو د ډلې بهر شوي(۷: ۳۱۰).

په هر صورت لکه چې وړاندې مو یادونه وکړه د ۲۰ میلادي پېړۍ په بهیر کې د سیاسي مجرمینو پر وړاندې سخت او جدي چلند د مکاني او زماني پلوه محدود و یعنې له یوه پلوه د ګوتو په شمار هېوادونو او له بله پلوه د لنډې مودې لپاره و، نو له دې امله یې په حاضر وخت کې ډېره پراختیا پیدا نکړه او په زیاترو هېوادونو کې

د سیاسي مجرمینو لپاره زیات امتیازات په پام کې ونیول شول.

**د سیاسي مجرمینو امتیازات او سهولتونه:** په عمومي توګه شلمه میلادي پېړۍ د سیاسي مجرمینو لپاره د مثبت بدلون او د دې حقیقت د درکولو په اړه چې هغوی په هغه کچه خطرناک نه دي چې وړاندې یې فکر کیده یوه بنسټیزه پېړۍ ده. په دغه پېړۍ کې نه یواځې داچې سیاسي مجرمین خطرناک خلک ونه ګڼل شول بلکې د مجرمیت پر وړاندې د مبارزې په بېلابېلو ډګرونو( تقنیني، محاکماتي او د جزایي مؤیداتو تطبیق) کې د هغوی لپاره ځیني امتیازات او سهولتونه هم په پام کې ونیول شول چې دا دی په لاندې توګه ترې یادونه کوو.

**لومړی- په تقنیني(قانون جوړونې) ډګر کې.** دا چې سیاسي مجرمین د محاکمې او مجازاتو د پلي کېدو وړاندې د تقنیني سندونو د برابرولو پر مهال څه ډول حقوق او امتیازات لري؟ په ځواب کې باید ووایو چې په دې هکله دوه ډوله تقنیني سندونه شته، یو د دولتونو ملي جزایي قوانین او بل د هېوادونو ترمنځ د مجرمینو د استرداد تړونونه، چې دادی په لاندې توګه یې د جدا، جدا عنوانونو په ترڅ کې د بحث او مطالعې لاندې نیسو.

**الف- د سیاسي مجرمینو حقوق او امتیازات په ملي جزایي قوانینو کې:** په اوسني عصر کې د زیاترو هېوادونو په جزایي قوانینو کې د اعدام جزا، او یا د حبس جزا د پلي کیدو پر مهال پر سیاسي مجرمینو شاقه( درانه) کارونه منع شوي دي. همدارنګه په عمومي توګه د بېلابېلو هېوادونو په قوانینو کې د سیاسي مجرمینو په جزاګانو کې لاندې موارد په پام کې نیول شوي دي.

۱- د سیاسي مجرمینو لپاره د جرم تکرار او د جرم د تکرار پر بنسټ د جزاګانو شدت په پام کې نه نیول کیږي.

۲- د عادي مجرمینو په پرتله د سیاسي مجرمینو لپاره عمومي عفوه زیاته په پام کې نیول کیږي.

۳- د مالي مسایلو په هکله دې سیاسي مجرمین نه توقیف کیږي.

۴- د سیاسي مجرمینو په هکله تبعي او تکمیلي جزاګانې نه پلي کیږي.

۵- د سیاسي جرم ترسره کول، په جرمي سابقه کې نه شمارل کیږي.

۶- د نورو مجرمینو په پرتله د سیاسي مجرمینو عفوه په اسانۍ ترسره کیږي.

۷- د حیثیت اعادې موده یې لنډه ده.

۸- د مشروطه آزادۍ په هکله بې اسانتیاوې په پام کې نیول کیږي (۱: ۳۹، ۴۰).

**ب- د سیاسي مجرمینو حقوق او امتیازات د استرداد په نړیوالو تړونونوکې:** په اوسني عصر کې د استرداد په نړیوالو تړونونو کې هم سیاسي مجرمین د عادي مجرمینو پر خلاف د اسرداد وړ نه دي او دا یو نړیوال اصل دی. د بېلګې په توګه د افغانستان او متحده اماراتو ترمنځ (۱۳۸۷) میلادي کال د استرداد تړون په څلورمه ماده کې په دې هکله داسې راغلي دي: استرداد د دغه تړون له مخې په هیڅ یوه لاندېنیو حالتونو کې جایز نه دی.

**څلورمه ماده الف بند:**[1] ((که چېرې هغه جرم چې پر بنسټ یې د هغه د استرداد غوښتنه شوې یو سیاسي جرم یا سیاسي ماهیت ولري، یا جوته شي چې د استرداد غوښتنه،د نظر وړ شخص تورن، یا محاکمه یا د هغه مجازات د یوه سیاسي جرم له امله ترسره شي)).[1] د دې مادې څخه په خرګنده توګه پوهېږو چې که چېرې د استرداد غوښتنه د سیاسي جرم پربنسټ شوې وي یا د مطلوب شخص استرداد د دې له امله ترسره کیږي چې هغه پر یوه سیاسي جرم تورن دی یاېې د یوه سیاسي جرم د ارتکاب له امله د محاکمې او مجازات کولو لپاره د استرداد غوښتنه کوي، نو دا ډول غوښتنې د منلو وړ نه دي.

همدارنګه د افغانستان او ایران ترمنځ د(۱۳۸۶) استرداد تړون درېیمه ماده په دې هکله داسې لیکي: په لاندې مواردو کې به د استرداد غوښتنه ونه منل شي.

**درېیمه ماده دویم بند**[2]: ((هغه شخص چې د استرداد دغوښتنې موجب شوی، سیاسي یا نظامي جرم وي، د جرم د ډول تشخیصول د غوښتل شوي اړخ کار دی)).

**دویم- په محاکماتي ډګر کې:** نن ورځ د محاکمې او تحقیق په ډګر کې هم د سیاسي جرمونو مرتکبین د عادي مجرمینو په پرتله ځینې امتیازات لري. د بېلګې په توګه سیاسي مجرمین باید د تړلو دروازو تر شا محاکمه نه شي، بلکې د دوی محاکمه باید علني وي او د ژوري هیئت په شتون کې ترسره شي. د دې امتیازاتو موخه داده چې د دوی پر وړاندې د ناوړه چلند او بې عدالتیو مخه ونیول شي(۲:۱۲۸).

---

۱- د افغانستان اسلامي جمهوریت او د عربي متحده اماراتو دولت ترمنځ د مجرمینو د استرداد په اړه موافقتنامه، رسمي جریده، کابل:عدلیې وزارت.پرلپسې ګڼه(۹۳۹ ګڼه ۹۴۱).

۲- د افغانستان اسلامي جمهوریت او د ایران اسلامي جمهوریت ترمنځ د مجرمینو د استرداد په اړه موافقتنامه، رسمي جریده، کابل:عدلیې وزارت. پرلپسې ګڼه (۱۰۲۳).

**د جزايـــي مؤيـــداتو د پلـــي کېـــدو پـــه ډګـــر کـــې:** نـــن ورځ سياســـي مجـــرمين د جزايـــي مؤيـــداتو د پلـــي کيـــدو پـــه ډګرکـــې هـــم ځينـــي امتيـــازات لـــري د بېلګـــې پـــه توګـــه د عـــادي مجرمينـــو پـــر خـــلاف سياســـي مجـــرمين لـــه جبـــري کـــارونو څخـــه معـــاف دي همدارنګـــه دوی تـــه د ملاقـــات او تفـــريح لپـــاره زيـــات وختونـــه ورکـــول کيـــږي همدارنګـــه دوی حـــق لـــري چـــې لـــه ټـــولنيزو رســـنيو څخـــه ګټـــه واخلـــي او امتيـــازي غـــذايي رژيـــم ورتـــه برابـــر شي(۴: ۱۵۰، ۱۵۱).

**مناقشه**

ددې څېړنيـــزې مقـــالې پـــه تـــرڅ کـــې پـــه دې بحـــث وشـــو چـــې سياســـي مجـــرمين د عـــادي مجرمينـــو پـــه پرتلـــه يـــو لـــړ امتيـــازات لـــري، نـــو د سياســـي مجرمينـــو د دغـــو امتيـــازاتو پـــه هکله لاندې پوښتنې مطرح کيږي.

**لـــومړی**- سياســـي مجـــرمين د اســـترداد وړ نـــه دي: دلتـــه پوښـــتنه پيـــداکيږي چـــې د سياســـي مجرمينـــو د عـــدم اســـتردا د منطـــق څـــه دی؟ ددې پوښـــتنې پـــه ځـــواب کـــې بايـــد ووايـــو چـــې دا څـــو دلايـــل لـــري. لـــومړی: سياســـي مجـــرمين ځکـــه د اســـترداد وړ نـــه چـــې دوی پـــه مقـــيم فيهـــا هيـــواد کـــې جرمـــي عملونـــه نـــه ترســـره کـــوي؛ لـــه دې املـــه دوی پـــه دغـــه هيـــواد کـــې د عـــادي مجرمينـــو پـــر خـــلاف د زغـــم وړ دي او نـــه يـــې اســـترداد کـــوي. دويـــم: مقـــيم فيهـــا هيـــواد داســـې انګيـــري، چـــې کـــه سياســـي مجـــرمين اســـتردا کـــړي، نـــو کـــه دغـــه کســـان پـــه راتلـــونکې کـــې د قـــدرت واګـــې ترلاســـه کـــړي، نـــو د دوی اړيکـــې بـــه ورســـره خرابـــې شي.

**دويـــم**- پـــه زيـــاترو هيوادونـــوکې پـــر سياســـي مجرمينـــو د اعـــدام جـــزا نـــه پلـــي کيـــږي: دلتـــه پوښـــتنه پيـــدا کيـــږي، چـــې کـــه پـــر هغـــوی د اعـــدام جـــزا پـــر ځـــای د حـــبس جـــزا پلـــي کيـــږي، نـــو آيـــا دوی بـــه د عـــادي مجرمينـــو ســـره يـــو ځـــا ی ســـاتل کيـــږي او کـــه جـــدا ســـاتل کيـــږي؟ ددې پـــه پوښـــتنې پـــه ځـــواب کـــې بايـــد ووايـــو چـــې سياســـي مجـــرمين د عـــادي مجرمينـــو څخه جلا يعنې په منزوي حبس کې ساتل کيږي.

**دريـــم**- منـــزوي حـــبس د حـــبس جـــزا ترټولـــو شـــديده د حـــبس جـــزا دی: دلتـــه پوښـــتنه پيـــدا کيـــږي چـــې آيـــا پـــه منـــزوي حـــبس کـــې د سياســـي مجرمينـــو ســـاتل د هغـــوی لپـــاره يـــو امتيـــاز دی؟ ددې پوښـــتنې پـــه ځـــواب کـــې بايـــد ووايـــو، چـــې دا واقعيـــت دی، چـــې منـــزوي حـــبس د حـــبس د ټولـــو جزاګـــانو پـــه پرتلـــه شـــديده جـــزا ده، خـــو ځينـــي حقوقپوهـــان پـــه دې عقيـــده دي، چـــې منـــزوي حـــبس د سياســـي مجرمينـــو لپـــاره يـــو امتيـــاز دی؛ ځکـــه کـــه

چېرې دوی په ډلییز حبس کې د نورو عادي مجرینو سره یو ځای وساتل شي، نو ښایي ځینې عادي مجرمین به د دوی لپاره د زعم وړ نه وي او بل دا چې سیاسي مجرمین کولی شي په منزوي حبس کې د نورو امتیازاتو لکه: رادیو، تلویزیون او مطالعې څخه ګټه پورته کړي او همدارنګه کولی شي د نورو محبوسینو د ازیت څخه لیرې په ارامه فضا کې لیکنې وکړي، مقالې او رسالې ولیکي.

**پایله**

په پای کې ویلو شو چې سیاسي جرمونه ځینې ځانګړتیاوې لري چې د دغو ځانګړتیاوو له مخې مور کولی چې سیاسي جرمونه له عادي جرمونوڅخه بېل کړو لکه د ځانګړیو کسانو له خوا د سیاسي جرمونو ارتکاب: عادي جرمونه هرڅوک ترسره کولی شي، خو سیاسي جرمونه ځانګړی تعریف او ځانګړي شرطونه لري، چې د دغه تعریف او شرطونو له مخې هرڅوک د سیاسي جرم مرتکب نه شي ګڼل کېدای او نه شي کولی د سیاسي مجرمینو له حقوقو او سهولتونو څخه برخه من شي. موخه او انګېزه: د انګېزې له مخې مور د عادي جرمونو او سیاسي جرمونو ترمنځ دوه مهم توپیرونه لیدلی شو یو دا چې په عادي جرمونو کې د انګیزې شتون اړین نه دی په دې معنا چې کېدلی شي په عادي جرم کې انګېزه شتون ولري او یا د انګېزې پرته ترسره شي، په داسې حال کې چې په سیاسي جرمونو کې موخه او انګېزه اړینه ده او د سیاسي موخې او انګیزې پرته جرم سیاسي نه، بلکې یو عادي جرم دی. دویم داچې عادي جرمونه زیاتره د پستي او ټیټې انګزي له مخې لکه تکبر، غرور، شخصي ګټې، د مال او شتمنیو ترلاس کول او داسې نورو له مخې ترسره کیږي، خو سیاسي جرمونه د ټیټې انګیزې له مخې نه، بلکې د لوړې او عالي انګیزې له مخې لکه: تولنیز او هېوادني مصلحتونه او په یوه ټاکلې جغرافیه او قلمرو کې د دوی د دود، کلتور، مذهب او ټولنیزو ارزښتونو سره سم د یوه خپلواک نظام د راوستلو له مخې ترسره کیږي.

**وړاندیزونه**

په اوسني پېر کې د هېوادونو خارجي سیاستونه په ځانګړي توګه ځواکمن هېوادونه خپلو ملي او سیمه ییزو ګټو او موخو ته د رسیدلو او پر نورو هېوادونو د خپل سیاسي، اقتصادي او کلتوري نفوذ د ټینګولو لپاره پر متقابل احترام نه ولاړ

غیرمشـــروع او حتـی غیـر انســاني سیاســت څخــه کــار اخلــي . همــدا لامــل دی چــې د نــړۍ ځــواکمن هېوادونــه وخـــت پــر وخـــت یـــادو موخـــو تـــه د رســـیدا لپـــاره، د کمـــزورو او ضــعیفو هېوادونـــو د تصـحیر او تضـعیف لپـاره بهـانې لټـوي او د دغـو بـې اساسـه بهـانو لــه مخــې هلتــه د خپلــې خوښــې لاس پــوڅي نظامونــه جــوړوي چــې مــوږ یــې بېلګــې پــه بېلابېلــو هېوادونــو لکــه: افغانســتان، پاکســتان، عــراق، فلســطین، مصــر ســوریه، یمــن، اکــراین اوداســې نــورو هېوادونــو کــې، د مســتقیمو نظــامي یرغلونــو، اســتخباراتي فعــالیتونو او یــا سیاســي او اقتصــادي فشــارونو پــه پایلــه کــې لیــدلی شــو. د نــړۍ د هېوادونــو تــرمنځ د متقابــل احتــرام تــاریخي او نړیــوال اصــل پرضــد د ځواکمنــو هېوادونــو دا غیــر مشــروع او بــې بنســته سیاســتونه او د دوی د خوښــې لاس پــوڅي حکومتونــه، د دې لامــل ګرځیــدلي دي چــې بــالاخره د نــړۍ پــه زیــاترو هېوادونــو کــې پــه کلونــو کلونــو داخلــي جګــړې روانــې دي او پــر وړانــدې یــې د دغــو هېوادونــو عــام وګــړي او خپلــواکۍ غوښــتونکي غورځنګونــه د خپلــې خپلــواکۍ د لاســته راوړلــو پــه موخــه هــره ورځ بــې دریغه قرباني ورکوي. بناً په دې هکله د لاندې وړاندیزونو یادونه کوم.

۱- د نــړۍ ټــول هېوادونــه پــه ځــانګړي توګــه ځــواکمن هېوادونــه بایــد د هېوادونــو تــرمنځ د متقابــل احتــرام اصــل، چــې یــو ډېــر لرغــونی، شــرعي، کلتــوري او مهــم اصــل دی درنــاوی وکــړي ترڅــو پــه نړیوالــه کچــه ســوله او امنیــت رامنځتــه شــي او د نــړۍ هېوادونــه او ولســونه پــه ارامــه فضــا کــې ژونــد وکــړي او پــه دې ترتیــب د سیاســي جرمونــو د ارتکاب مخه ونیول شي.

۲- ملګــري ملتونــه هــم بایــد خپــل تــاریخي رســالت او مســؤولیت پــه بــې پــرې توګــه ترســره کــړي او پــرې نــږدي چــې د نړیوالــو اصــولو خــلاف یــو هیــواد پــه بــل هیــواد تیــری وکــړي او یا د هغوی په کورنیو چارو کې بې ځایه مداخلې وکړي.

۳- د هېوادونــو قضــایي او عــدلي ارګانونــه بایــد سیاســي جرمونــو تــه د رســیده ګــی پــر مهــال، پــه تقنینــي، محاکمــاتي او د جزایــي مویــداتو د پلــي کېــدو پــه ډګرونــو کــې د سیاســي مجرمینــو حقــوق او امتیــازات پــه پــام کــې ونیســي او مراعــات یــې کــړي او د دوی پر وړاندې له غچ اخیستنې له روحیې څخه ډډه وکړي.

۴- همدارنګــه سیاســي غورځنګونــه او حرکتونــه بایــد خپلــو موخــو تــه د رســیدا لپــاره د سیاســي فعــالیتونو لــه پولــو څخــه بهــر نــه شــي او عــامو وګړوتــه د سیاســي فعــالیتونو پــه بهانه زیان ونه رسوي.

**منابع**

۱- اصغري، سید محمد. (۱۳۷۸). جرم سیاسي. چاپ اول. تهران: موسسه اطلاعات.

۲- دانش، حفیظ الله.(۱۳۹۳). نړیوال جزا حقوق. لومړی ټوک مستقبل خپرندویه ټولنه.

۳- دانش، حفیظ الله. (۱۳۹۹). جزا پېژندنه. مسلم خپرندویه ټولنه، جلال آباد.

۴- دانش، حفیظ الله.(۱۳۹۹). د جزا عمومي حقوق. دویم ټوک. مستقبل خپرندویه ټولنه.

۵- دانش، حفیظ الله.(۱۳۹۴). جزا پیژندنه.. مستقبل خپرندویه ټولنه.

۶- صانعي، عباس. (۱۳۸۲) حقوق جزای عمومي. تهران: طرح نو.

۷- عوده، عبدالقادر.(۱۳۸۴). د اسلام جنایی تشریع او وضعي قوانین.ړلو مړی ټوک، ژباړن، عبد الهادی، هدایت. پیغام نشراتي. مرکز.

۸- محسني. مرتضی(۱۳۸۲) دوره حقوق جزای، جلد دوم. چاپ سوم. کتابخانه ګنج دانش.

**تړونونه**

۹- عدلیې وزارت.(۱۳۸۷).د افغانستان اسلامي جمهوریت او د عربي متحده اماراتو دولت ترمنځ د مجرمینو د استرداد په اړه موافقتنامه، رسمي جریده، کابل:عدلیې وزارت.پرلپسې ګڼه(۹۳۹ څخه ۹۴۱).

۱۰ عدلیې وزارت.(۱۳۸۶)د افغانستان اسلامي جمهوریت او د ایران اسلامي جمهوریت ترمنځ د مجرمینو د استرداد په اړه موافقتنامه، رسمي جریده، کابل:عدلیې وزارت. پرلپسې ګڼه (۱۰۲۳).

# د وینې لوړ فشار سره د عمر، جنس، زړه ټکان او چاغوالي اړیکه

ليکونکي: پوهندوی ډاکټر سیدرحیم شاه شمل وال او پوهنمل ډاکټر عزت الله سجاد
شیخ زاید پوهنتون، د طب پوهنځی فزیولوژي څانګې استادان
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال ډاکټر مغفرت الله عمل د فارمکولوژي څانګې استاد

**لنډيز:**
اوس مهال په کورنیو کې د وینې د لوړ فشار ستونزه خورا زیاته شویده، کوم چې خطرناک او حتا مرګوني عواقب لري. په دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر په ټوله نړۍ کې نږدې یو بیلیون ته رسیږي او دا شمېر به په ۲۰۲۵ کال کې ۵۸،۱ بیلیونو ته لوړ شي. د وینې لوړ فشار د یو لړ ناروغیو لکه د زړه اکلیلي ناروغۍ، د زړه عدم کفایه، دماغي وعایي ناروغۍ او د پښتورګو د مزمنې عدم کفایې لپاره تر ټولو لوی ریسک فکتور ګڼل کیږي.
**موخې:** دا څېړنه د خوست ولایت په سطحه په ۱۶۰ کسانو (په دوو ډلو روغو او ناروغو کسانو) کې د وینې لوړ فشار سره د عمر، جنس، د زړه ټکان او Body Mass Index (BMI) اړیکې څېړلو ته ځانګړې شویده.
**د کار توکي او کړنلاره :** د دې څېړنې د ترسره کولو د کار توکې د ناروغ تاریخچه، ستاتیسکوپ، د فشار آله او حساسه تلې (چې هم وزن او هم قد معلوموي) څخه عبارت دي. دا cross-sectional observational analytic څېړنه ده چې د خوست ولایت د بېلابېلو سیمو په ۱۶۰ ناروغانو چې د ۱۳۹۹ کال د جدې، دلو او حوت میاشتو کې د سجاد خصوصي کلینیک ته مراجعه کړي وه پرته له هر ډول bias څخه په پراګنده ډول ډاټا راټوله شویده. د ډاټا د تحلیل لپاره د Pearson correlation SPSS 25 څخه استفاده شویده.
**پایله:** په دې څېړنه کې ۱۶۰ کسانو چې ۸۰ روغ او ۸۰ ناروغ دي ګډون کړی دی، د ۸۰ روغو کسانو له ډلې څخه ۴۲ کسه (۵۲,۵٪) یې ښځې او ۳۸ کسه (۴۷,۵٪) یې نارینه دي. د روغو کسانو د پنځه پارامیټرونو توصیفي احصایه په لومړي جدول کې ښودل شودیده. د ۸۰ ناروغو کسانو له ډلې څخه ۵۲ کسه (٪ ۶۵,۰) یې ښځې او ۲۸ کسه (٪ ۳۵,۰) یې نارینه دي. د ناروغو کسانو د پنځه پارامیټرونو توصیفي احصایه په دریم جدول کې ښودل شویده.
**وروستۍ پایله:** په ټولو کسانو کې د وینې فشار د زیاتوالي سره د زړه ټکان کمیږي او د وینې فشار د کموالي سره د زړه ټکان زیاتیږي. په روغو کسانو کې د وینې فشار د عمر او BMI د لوړیدو سره زیاتیږي او د عمر او BMI د کمیدو سره د وینې فشار کمیږي. د وینې د لوړ فشار په کسانو کې د وینې سیستولیک فشار د عمر د زیاتیدو سره زیاتیږي او ډیاستولیک فشار د عمر د زیاتیدو سره رالویږي، اما په ۱۶۰ کسانو کې د عمر لوړیدل د سیستولیک او ډیاستولیک فشارونو دواړو سره غښتلي مثبته اړیکه لري یعني د عمر د لوړیدو سره دواړه فشارونه لوړیږي. د وینې د لوړ فشار په کسانو کې د BMI د

لوړیدو سره د وینې سیستولیک فشار ټیټ اما ډیاستولیک فشار لوړیږي، لیکن په ۱۶۰ کسانو کې د سیستولیک او ډیاستولیک فشارونو دواړو سره BMI مثبته اړیکه لري، چې د احصایې له نظره دواړه سیګنیفیکینټ دي، یعني د BMI د لوړیدو سره دواړه فشارونه لوړیږي. په دې څیړنه کې د جنس او د وینې لوړ فشار ترمنځ اړیکه ثابته نه شوه. د یادو موندنو د تائید لپاره نورو زیاتو څیړنو ته اړتیا شته.

**کلیدي ټکي**: BMI، Hypertension، Blood Pressure، Systolic Blood pressure، Diastolic Blood Pressure، نه د زړه ټکان.

**سریزه**

د وینې فشار او د وینې د لوړ فشار سره د فزیولوژیکو لاملونو اود ریسک فکتورونو د اړیکې په درلودلو باندې د پخوا راهیسې انسانانو خپل تمرکز ساتلی دی، اما په نولسمه، په ځانګړې ډول په شلمه میلادي پیړۍ او په دې وروستیو کې څیړونکو خپل پام د وینې فشار او د وینې د لوړ فشار سره د فزیولوژیکو لاملونو او ریسک فکتورونو اړیکې درلودلو ته اړولی دی، چې خورا زیاتې څیړنېورباندې ترسره شویدي، چې د هغې څخه د ګوتو په شمار مو په مناقشه کې تري یادونه کړیده.

هغه قوه چې د وینې په واسطه د رګونو په جدار باندې واردیږي د وینې فشار په نوم یادیږي، چې د فزیولوژۍ له نظره په عمومي ډول په دوه ډوله دی. یو یې سیستولیک فشار دی چې د زړه د تقلص په مرحله کې تولیدیږي، نارمله کچه یې د استراحت په حالت کې په یو کاهل کس کې د ۱۳۹-۱۰۰ ملي متر سیماب ده، چې منځنۍ کچه یې ۱۲۰ ملي متر سیمابو ته رسیږي او بل یې ډیاستولیک فشار دی، چې د زړه د استراحت د مرحلې سره تصادف کوي، نارمله کچه یې د استراحت په حالت کې په یو کاهل کس کې د ۸۹-۶۰ ملي متر سیماب ده، چې منځنۍ کچه یې ۸۰ ملي متر سیمابو ته رسیږي .

کله چې د وینې د نورمال فشار اندازې د هغې د اعظمي حدودو څخه پورته شي د وینې د لوړ فشار یا hypertension (HTN) په نوم یادیږي.د نړۍ په سطحه د وینې د لوړ فشار فریکونسي د ۱۶ څخه تر ۳۷ سلنې پورې ښودل شویده، کوم چې د مړینې کچه یې ۱۸ سلنې (۹,۴ بیلیون) ته رسیږي [۱].

اوس مهال په کورنیو کې د وینې د لوړ فشار ستونزه خورا زیاته شویده، چې خطرناک او حتا مرګوني عواقب لري. په دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر په ټوله نړۍ کې نږدې یو بیلیون ته رسیږي. دا شمېر به په ۲۰۲۵ کال کې ۱,۵۸بیلیونوته لوړ شي. د وینې لوړ فشار د یو لړ ناروغیو لکه د زړه اکلیلي ناروغۍ، د زړه عدم کفایه، دماغي وعایي ناروغۍ او د پښتورګو د مزمنې عدم کفایې لپاره تر ټولو لوی ریسک فکتور ګڼل کیږي.د وینې لوړ فشار د ریسک فکتورونو په ډله کې د خوب کموالی، د زیاتې مالګې کارول، د وزن خورا زیاتوالی، سګرټ، شراب، د هوا ککړتیا، د فزیکي فعالیت کموالی او څینې نور ښودل شوي دي؛ که چېرې دا لاملونه کنټرول شي د وینې فشار کنټرولیږي او په دې سره به د هغې د خطرناکو او مرګوني اختلاطاتو مخه هم ونیول شي [۲]. په دې څیړنه کې د وینې فشار او د وینې لوړ فشار سره د فزیولوژیکو پارامیترونو (د زړه ټکان) او د ریسک فکتورونو (BMI) په اړیکه باندې بحث شوی دی.پورته ټکو ته په پام سره مو لازمه وګڼله چې د خوست ولایت په سطحه په ۱۶۰ کسانو (په دوو ګروپونو کې د روغو کسانو او د وینې د لوړ فشار درلودونکو کسانو باندې ویشل شوي دي) کې د وینېلوړ فشار سره د عمر، جنس، د زړهټکان او Body Mass Index (BMI) اړیکې وڅیړو. د څیړنې د ډاټا د

راټولولو دنده محترم پوهنیار ډاکټر عزت الله سجاد په غاړه درلوده، چې وروسته SSPS 25 پروګرام ته د ډاټا د داخلولو، sorting او تحلیل برخه د پوهندوی ډاکټر سیدرحیم شاه شمل وال په واسطه ترسره شویده.

**د کارتوکي او کړنلاره**

د دې څیړنې د ترسره کولو د کارتوکي د ناروغ تاریخچه، ستاتیسکوپ، د فشار آله او حساسه تلې (چې هم وزن او هم قد معلوموي) څخه عبارت دي. دا cross-sectional observational analytic څیړنه ده چې د خوست ولایت د بېلابېلو سیمو د ۱۶۰ ناروغانو څخه چې د ۱۳۹۹ کال د جدي، دلو او حوت میاشتو کې د سجاد خصوصي کلینیک ته مراجعه کړي وه پرته له هر ډول bias څخه په پراګنده ډول ډاټا راټوله شویده. د یادو ۱۶۰ ناروغانو د ډاټا د تحلیل لپاره د SPSS 25 Pearson correlation څخه استفاده شویده.

**پایلې**

د څیړنې پایلې په لاندې جدولونو او ګرافونو کې په ترتیب سره لومړی د روغو کسانو او بیا ورپسې د ناروغو کسانو ښودل شویدي.

۱. جدول: د روغو کسانو د بیلابیلو پارامیترونو احصایه

| جنس | M (%) 38 (47.5) | F (%) 42 (52.5) | Age (per year) | SBP (mmHg) | DBP (mmHg) | HR (per minute) | BMI |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| روغو کسانو شمیر | 80 | | 80 | 80 | 80 | 80 | 80 |
| منځنی کچه | | | 37.18 | 110.39 | 76.49 | 91.40 | 22.8589 |
| میانه | | | 32.00 | 110.00 | 80.00 | 92.00 | 21.5500 |
| تکرر | | | 21[a] | 110 | 80 | 95 | 16.51[a] |
| معیاري انحراف | | | 15.786 | 10.228 | 8.729 | 13.545 | 5.22032 |
| رینج | | | 67 | 50 | 30 | 68 | 21.26 |
| اصغري | | | 18 | 85 | 60 | 60 | 13.90 |
| اعظمي | | | 85 | 135 | 90 | 128 | 35.16 |

د پورته جدول څخه جوتیږي، چې په روغو کسانو کې په ترتیب سره د عمر، د وینې سیستولیک فشار (SBP)، د وینې ډیاستولیک فشار (DBP) د زړه ټکان (HR) او BMI منځنی کچې 37.18، 110.39،91.40 76.49,او 22.8589 ښودل شویدي.

۲- جدول: په روغو کسانو کې د وینې نارمل فشار سره د عمر، جنس، زړه ټکان ،BMI او خپلمنځي اړیکې

الف- د عمر او سیستولیک فشار ترمنځ اړیکه

| | | Age (per year) | Systolic pressure (mmHg) |
|---|---|---|---|
| Age (per year) | Pearson Correlation | 1 | .248* |
| | Sig. (2-tailed) | | .027 |
| | د کسانو شمېر | 80 | 80 |
| *. Correlation is significant at the 0.05 level (2-tailed). | | | |

ب- د عمر او دیاستولیک فشار ترمنځ اړیکه

| | | Age (per year) | Diastolic pressure (mmHg) |
|---|---|---|---|
| Age (per year) | Pearson Correlation | 1 | .182 |
| | Sig. (2-tailed) | | .106 |
| | د کسانو شمېر | 80 | 80 |

پ- د سیستولیک فشار او بي ایم آی ترمنځ اړیکه

| | | Systolic pressure (mmHg) | BMI |
|---|---|---|---|
| Systolic pressure (mmHg) | Pearson Correlation | 1 | .439** |
| | Sig. (2-tailed) | | .000 |
| | د کسانو شمېر | 80 | 80 |
| **. Correlation is significant at the 0.01 level (2-tailed).<br>BMI: Body Mass Index | | | |

ث- د دیاستولیک فشار او زړه ټکان ترمنځ اړیکه

| | | Diastolic pressure (mmHg) | Heart Rate (per minute) |
|---|---|---|---|
| Diastolic pressure (mmHg) | Pearson Correlation | 1 | -.010 |
| | Sig. (2-tailed) | | .933 |
| | د کسانو شمېر | 80 | 80 |

ج- د عمر او بي ایم آی ترمنځ اړیکه

| | | Age (per year) | BMI |
|---|---|---|---|
| Age (per year) | Pearson Correlation | 1 | .344** |
| | Sig. (2-tailed) | | .002 |
| | د کسانو شمېر | 80 | 80 |
| **. Correlation is significant at the 0.01 level (2-tailed).<br>BMI: Body Mass Index | | | |

ز- د عمر او زړه ټکان ترمنځ اړیکه

| | | Age (per year) | Heart Rate (per minute) |
|---|---|---|---|
| Age (per year) | Pearson Correlation | 1 | -.085 |
| | Sig. (2-tailed) | | .453 |
| | د کسانو شمېر | 80 | 80 |

په روغو کسانو کې د عمر او سیستولیک فشار ترمنځ مثبته (۰,۲۴۸) اړیکه په الف فرعي جدول کې ښودل شویده، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه p = 0.027 ده. په روغو کسانو کې د عمر او ډیاستولیک فشار ترمنځ مثبته (۰,۱۸۲) اړیکه په ب فرعي جدول کې ښودل شویده، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه p = 0.106 ده. نورې اړیکې په پاته پورته فرعي جدولونو کې ځای شویدي هلته دې وکتل شي.

۳. جدول: د ناروغو کسانو د بیلابیلو پارامیټرونو احصایه

| جنس | M (%)<br>28 (35.0) | F (%)<br>52 (65.0) | عمر (کال) | سیستولیک فشار (mmHg) | ډیاستولیک فشار (mmHg) | د زړه ټکان (په دقیقه کې) | BMI |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ناروغو کسانو شمیر | 80 | | 80 | 80 | 80 | 80 | 80 |
| منځنی کچه | | | 52.11 | 150.61 | 96.19 | 90.68 | 24.7476 |
| میانه | | | 56.50 | 145.50 | 94.50 | 91.50 | 24.7000 |
| تکرر | | | 60 | 145 | 95 | 93 | 24.70 |
| معیاري انحراف | | | 13.739 | 19.301 | 10.497 | 14.168 | 4.94877 |
| رینج | | | 54 | 101 | 60 | 69 | 21.31 |
| اصغري | | | 21 | 104 | 80 | 61 | 16.50 |
| اعظمي | | | 75 | 205 | 140 | 130 | 37.81 |

د پورته جدول څخه ښکاري چې د ۸۰ ناروغو کسانو له ډلې څخه ۵۲ کسه (۶۵,۰٪) یې ښځې او ۲۸ کسه (۳۵,۰٪) یې نارینه دي. د ۸۰ ناروغو کسانو د عمر، سیستولیک فشار، ډیاستولیک فشار، زړه ټکان او BMI منځنی کچې په ترتیب سره 52.11، 150.61، 96.19، 90.68 او 24.7476 دي.

۴. په ناروغو کسانو کې د وینې د لوړ فشار سره د عمر، جنس، زړه ټکان، BMI او خپلمنځي اړیک

الف- د عمر او سیستولیک فشار ترمنځ اړیکه

| | | عمر په کال | سیستولیک فشار (mmHg) |
|---|---|---|---|
| عمر په کال | Pearson Correlation | 1 | .353** |
| | Sig. (2-tailed) | | .001 |
| | د ناروغانو شمېر | 80 | 80 |

**. Correlation is significant at the 0.01 level (2-tailed).

ب- د عمر او ډیاستولیک فشار ترمنځ اړیکه

| | | Age (years) | Diastolic Pressure (mmHg) |
|---|---|---|---|
| Age (years) | Pearson Correlation | 1 | -.070 |
| | Sig. (2-tailed) | | .538 |
| | د ناروغانو شمېر | 80 | 80 |

په ناروغو کسانو کې د عمر او سیستولیک فشار ترمنځ مثبته (.353**) اړیکه په الف فرعي جدول کې ښودل شویده، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه p = .001 ده. په ناروغو کسانو کې د عمر او ډیاستولیک فشار ترمنځ منفي (-.070) اړیکه په ب فرعي جدول کې ښودل شویده، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه p = .538 ده. نورې اړیکې په فرعي جدولونو (د پ څخه تر ز پورې) کې ځای شویدي هلته دې وکتل شي.

لاندې جدول د څلورم جدول ادامه ده....

پ- د سیستولیک فشار او بي ایم آی ترمنځ اړیکه

| | | Systolic Pressure (mmHg) | BMI |
|---|---|---|---|
| Systolic Pressure (mmHg) | Pearson Correlation | 1 | -.139 |
| | Sig. (2-tailed) | | .220 |
| | د ناروغانو شمېر | 80 | 80 |
| BMI: Body Mass Index | | | |

ټ- د سیستولیک فشار او زړه ټکان ترمنځ اړیکه

| | | Systolic Pressure (mmHg) | Heart Rate (per minute) |
|---|---|---|---|
| Systolic Pressure (mmHg) | Pearson Correlation | 1 | -.115 |
| | Sig. (2-tailed) | | .309 |
| | د ناروغانو شمېر | 80 | 80 |

ث- د ډیاستولیک فشار او زړه ټکان ترمنځ اړیکه

| | | Diastolic Pressure (mmHg) | Heart Rate (per minute) |
|---|---|---|---|
| Diastolic Pressure (mmHg) | Pearson Correlation | 1 | -.096 |
| | Sig. (2-tailed) | | .399 |
| | د ناروغانو شمېر | 80 | 80 |

ج- د عمر او بي ایم آی ترمنځ اړیکه

| | | Age (years) | BMI |
|---|---|---|---|
| Age (years) | Pearson Correlation | 1 | -.245* |
| | Sig. (2-tailed) | | .029 |
| | د ناروغانو شمېر | 80 | 80 |
| *. Correlation is significant at the 0.05 level (2-tailed). | | | |

ز- د عمر او زړه ټکان ترمنځ اړیکه

| | | Age (years) | Heart Rate (per minute) |
|---|---|---|---|
| Age (years) | Pearson Correlation | 1 | .097 |
| | Sig. (2-tailed) | | .392 |
| | د ناروغانو شمېر | 80 | 80 |




۱. ګراف: د خوست ولایت د بیلابیلو سیو له مخې د ناروغو کسانو سلنې

د لومړي ګراف څخه ښکاري چې په څیړنه کې په لومړی درجه کې د تڼیو، په دوهمه درجه کې د مرکز (د متون، شمل او نور ) او په دریمه درجه کې د لکڼو، مزغور او مندوزیو خلکو زیات ګډون کړی دی.

**مناقشه**

زموږ په څیړنه کې ۱۶۰ کسانو چې۸۰ روغ او ۸۰ ناروغ دي ګډون کړی دی، چې د ۸۰ روغو کسانو له ډلې څخه ۴۲ کسه (۵۲,۵٪) یې ښځې او ۳۸ کسه (۴۷,۵٪) یې نارینه دي. د روغو کسانو د پنځه پارامیترونو توصیفي احصایه په لومړي جدول کې ښودل شوديده.

زموږ په څیړنه کې د روغو کسانو په ډله کې چې ۴۲ کسه (۵۲,۵٪) یې ښځې  دي د عمر منځنی کچه ۴۱,۸۸ کاله او ۳۸ کسه (۴۷,۵٪) یې نارینه دي، چې د عمر منځنی کچه  یې ۳۱,۹۷ کاله ښودل شویدي (CI = 95%). د روغو کسانو په ډله کې د ښځو د سیستولیک فشار منځنی کچه ۱۱۲,۶۴ملیمترسیماب (معیاري انحراف = ۱۱,۲۹۸) او د نارینه وو د سیستولیک فشار منځنی کچه ۱۰۷,۸۹ ملیمترسیماب (معیاري انحراف = ۸,۳۵۳) ښودل شویدي (CI = 95%). د روغو کسانو په ډله کې د ښځو د ډیاستولیک فشار منځنی کچه ۷۷,۲۱ ملیمترسیماب (معیاري انحراف = ۷,۶۷۲) او د نارینه وو د ډیاستولیک فشار منځنی کچه ۷۵,۶۸ ملیمترسیماب (معیاري انحراف = ۹,۸۰۹) ښودل شویدي (CI = 95%). د روغو کسانو په ډله کې د ښځو د زړه ټکان منځنی کچه په یوه دقیقه کې ۹۳,۳۱(معیاري انحراف = ۱۱,۵۰۱) او د نارینه وو د د زړه ټکان منځنی کچه په یوه دقیقه کې ۸۹,۲۹ (معیاري انحراف = ۱۵,۳۷۶) ښودل شویدي (CI = 95%). د روغو کسانو په ډله کې د ښځو د BMI منځنی کچه ۲۳,۸۵(معیاري انحراف = ۵,۴۳۶) او د نارینه وو د BMI منځنی کچه ۲۱,۷۵۸۷(معیاري انحراف = ۴,۸۰۳۰۴) ښودل شویدي (CI =95%).

زموږ په څیړنه کې په روغو کسانو کې د عمر او سیستولیک فشار ترمنځ کمزوري مثبته (۰,۲۴۸) اړیکه

په دویم جدول (الف) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د عمر په لوړیدو سره په زیاترو کسانو کې سیستولیک فشار لوړیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.027$ نو $p < 0.05$ده) ده. په روغو کسانو کې د عمر او ډیاستولیک فشار ترمنځ کمزوري مثبته (۰,۱۸۲) اړیکه په دویم جدول (ب) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د عمر په لوړیدو سره په زیاترو کسانو کې ډیاستولیک فشار لوړیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.106$ نو $p > 0.05$ ده) نه ده. په روغو کسانو کې د سیستولیک فشار او BMI ترمنځ تقریباً غښتلي مثبته (۰,۴۳۹) اړیکه په دویم جدول (پ) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د BMI په لوړیدو سره په ټولو کسانو کې سیستولیک فشار لوړیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.000$ نو $p < 0.01$ ده) ده. په روغو کسانو کې د ډیاستولیک فشار او BMI ترمنځ تقریباً غښتلي مثبته (۰,۳۶۹) اړیکه په دویم جدول (ت) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د BMI په لوړیدو سره په زیاترو کسانو کې ډیاستولیک فشار لوړیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.001$ نو $p < 0.01$ ده) ده. په روغو کسانو کې د سیستولیک فشار او د زړه ټکان ترمنځ منفي اړیکه (-۰,۰۶۳) په دویم جدول (ټ) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د سیستولیک فشار د لوړیدو سره د زړه ټکان کمیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.578$ نو $p > 0.05$ده) نه ده. په روغو کسانو کې د ډیاستولیک فشار او د زړه ټکان ترمنځ منفي اړیکه (-۰,۰۱۰) په دویم جدول (ث) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د ډیاستولیک فشار د لوړیدو سره د زړه ټکان کمیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.933$ نو $p > 0.05$ ده) نه ده. په روغو کسانو کې د عمر او BMI ترمنځ تقریباً غښتلي مثبته (۰,۳۴۴) اړیکه په دویم جدول (ج) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د عمر د زیاتیدو سره په زیاترو کسانو کې BMI لوړیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.002$ نو $p < 0.01$ ده) ده. په روغو کسانو کې د عمر او د زړه ټکان ترمنځ منفياړیکه (-۰,۰۸۵) په دویم جدول (ژ) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د عمر د لوړیدو سره د زړه ټکان کمیږي. چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.453$ نو $p > 0.05$ ده) نه ده. زموږ په څیړنه کې ۸۰ ناروغو کسانو هم ګډون کړی دی، چې د ۸۰ ناروغو کسانو له ډلې څخه ۵۲ کسه (۶۵,۰٪) یې ښځې او ۲۸ کسه (۳۵,۰٪)یې نارینه دي. د ناروغو کسانو د پنځه پارامیترونو توصیفي احصایه په دریم جدول کې ښودل شودیده.

زموږ په څیړنه کې د ناروغو کسانو په ډله کې د ښځو د عمر منځنی کچه ۵۳,۲۷ کاله او د نارینه وو د عمر منځنی کچه ۴۹,۹۶ کاله ښودل شویدي (CI = 95%). د ناروغو کسانو په ډله کې د ښځو د سیستولیک فشار منځنی کچه ۱۴۹,۶۲ملیمترسیماب (معیاري انحراف = ۱۸,۰۲۲) او د نارینه وو د سیستولیک فشار منځنی کچه ۱۵۲,۴۶ملیمترسیماب (معیاري انحراف = ۲۱,۷۰۴) ښودل شویدي (CI = 95%). د ناروغو کسانو په ډله کې د ښځو د ډیاستولیک فشار منځنی کچه ۹۳,۹۶ملیمترسیماب (معیاري انحراف = ۶,۱۰۴) او د نارینه وو د ډیاستولیک فشار منځنی کچه ۱۰۰,۳۲ملیمترسیماب (معیاري انحراف = ۱۴,۹۹۱) ښودل شویدي (CI = 95%). د ناروغو کسانو په ډله کې د ښځو د زړه ټکان منځنی کچه په یوه دقیقه کې ۹۳,۴۴او د نارینه وو د زړه ټکان منځنی کچه په یوه دقیقه کې ۸۵,۵۴

ښودل شویدي (CI = 95%). د ناروغو کسانو په ډله کې د ښځو د BMI منځنی کچه ۲۴,۸۲۵۶ او د نارینه وو د BMI منځنی کچه ۲۴,۶۰۲۹ ښودل شویدي (CI = 95%).

زموږ په څېړنه کې په ناروغو کسانو کې د عمر او سیستولیک فشار ترمنځ کمزوري مثبته (۰,۳۵۳) اړیکه په څلورم جدول (الف) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د عمر په لوړیدو سره په زیاترو کسانو کې سیستولیک فشار لوړیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ (p = 0.001 نو p < 0.01 ده) ده. په ناروغو کسانو کې د عمر او ډیاستولیک فشار ترمنځ منفي(-۰,۰۷۰) اړیکه په څلورم جدول (ب) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د ناروغو کسانو د عمر د لوړیدو سره ډیاستولیک فشار معکوسه اړیکه لري یعني ډیاستولیک فشار رالویږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ (p = 0.538 نو p > 0.05 ده) نه ده.دا ارقام د هغې څېړنې سره چې الیسابیټ پینټو په لندن کې د وینې فشار او عمر ترمنځ د اړیکې په درلودلو ترسره کړیده، اړخ لګوي او څرګندوي چې په هغو کسانو کې چې ددوی عمرونه ۵۰ یا د پنځوسو کالونو څخه پورته دي، یوازې سیستولیک فشار لوړیږي اما ډیاستولیک فشار نه لوړیږي. په زړو خلکو کې تر ټولو غښتلی ریسک د نبضاني فشار زیاتوالی دی، چې د ډیاستولیک فشار د کموالي او د سیستولیک فشار د زیاتوالي په نتیجه کې رامنځته کیږي [۱].

زموږ په څېړنه کې په ناروغو کسانو کې د سیستولیک فشار او BMI ترمنځ منفي (-۰,۱۳۹) اړیکه په څلورم جدول (پ) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د BMI په لوړیدو سره سیستولیک فشار نه لوړیږي بلکه رالویږي یعني معکوسه اړیکه لري، اما له یوې خوا د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ (p = 0.220 نو p > 0.05 ده) نه ده او له بلې خوا زموږ د څېړنې ارقام کم دي، له دې کبله دا نتیجه د نړیوالو څېړنو خلاف ده.

د هندوستان په کلیوالي سیمو کې په سلوکي ریسک فاکتورونو، د لوړ فشار په پوهه او په لوړ فشار باندې د ایسلیویټ راجکمار او جان رومیټ له خوا په ۲۶۳ کسانو باندې یوه څېړنه کې ښيي چې د ریسک فاکتورونو او د لوړ فشار په اړوند د پوهې تر منځ اړیکه شتون نه لري [۲].

د افغانستان په پلازمینه کابل ښار کې د لوړ فشار په شیوع او د هغې پیش بیني کوونکو فاکتورونو باندې د خواجه میراسلام سعید او نورو له خوا په ۱۱۸۳ کاهلو کسانو چې عمرونه یې ۴۰ کاله یا د څلویښتو کالونو څخه پورته وو یوه څېړنه ترسره کړیده، چې ۷۸۷ یې ښځې او ۳۹۶ یې نارینه وو. په دې څېړنه کې د لوړ فشار شیوع ۴۶,۲ سلنه ښودل شویده.ي. یادې څېړنې د وینې لوړ فشار په انډیپینډینټ ریسک فکتورونو کې د پنځوسو کالونو څخه د عمر زیاتوالی، بې سوادي، په اونۍ کې د درې ځلو څخه زیات د وریجو استعمال، د شکرې ناروغۍ کورنۍ تاریخچه، مرکزي چاغوالی (BMI≥30) تائید کړی دی. یادې څېړنې په اونۍ کې د درې ځلو څخه زیات د چرګانو او میوه جاتو استعمال د لوړ فشار څخه ساتونکي فاکتورونه ګڼلي دي [۳].

د افغانستان په جلال آباد ښار کې د لوړ فشار په شیوع او د هغې اړوند فاکتورونو باندې د خواجه میراسلام سعید له خوا په ۱۱۸۰ کاهلو کسانو چې عمرونه یې د ۲۵ او ۶۵ کالونو تر منځ وویوه څېړنه ترسره کړیده، چې ۶۰ سلنه یې ښځې او ۴۰ سلنه یې نارینه وو. منځنی عمر یې۱۱,۵ ±۳۹,۱۶ کالونه دی.

منځنی سیستولیک فشار او معیاري انحراف۲۰ ± ۱۲۲ ملي متر سیماب، چې رینج یې د ۷۰ څخه تر ۲۲۰ ملي متر سیمابو پورې دی او منځنی ډیاستولیک فشار او معیاري انحراف۱۳ ± ۷۹ ملي متر سیماب، چې رینج یې د ۴۰ څخه تر ۱۳۰ ملي متر سیمابو پورې وو. په دې څیړنه کې ښکاره شویده چې ښځې د نارینه وو په پرتله دوه برابره زیاتې په لوړ فشار اخته کیږي. منځنی او معیاري انحراف یې ۶,۸ ± ۲۶,۸ ښودل شویدي. یادې څیړنې د وینې لوړ فشار په مستقل ریسک فکتورونو کې د عمر زیاتوالی، چاغوالی او د شکرې ناروغي تائید کړی دی [۴].

د افغانستان په کندهار ښار کې د لوړ فشار په شیوع او د هغې اړوند فاکتورونو باندې د خواجه میراسلام سعید له خوا په ۱۱۶۵ کاهلو کسانو چې عمرونه یې د ۲۵ او ۷۰ کالونو تر منځ وو یوه څیړنه ترسره کړیده، چې ۵۱,۲ سلنه یې ښځې او ۴۸,۸ سلنه یې نارینه وو. منځنی عمر یې۱۱,۲ ±۳۸,۳ کالونه دی. یادې څیړنې د وینې لوړ فشار په مستقل ریسک فکتورونو کې د عمر زیاتوالی، جنس، تعلیمي سطحه، لوړ BMI، مرکزي چاغوالی او د فزیکي فعالیتونو نه شتون تائید کړی دی [۵].

زموږ په څیړنه کې په ناروغو کسانو کې د ډیاستولیک فشار او BMI ترمنځ مثبته (۰,۰۳۶) اړیکه په څلورم جدول (ت) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د BMI په لوړیدو سره ډیاستولیک فشار لوړیږي اما د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ (p = 0.751 نو p > 0.05 ده) نه ده. په ناروغو کسانو کې د سیستولیک فشار او د زړه ټکان ترمنځ منفي اړیکه (-۰,۱۱۵) په څلورم جدول (ټ) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د سیستولیک فشار د لوړیدو سره د زړه ټکان کمیږي، اما د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ (p = 0.309 نو p > 0.05 ده) نه ده.

د ایران په یازد کې په لوړ فشار او د هغې اړوند فاکتورونو باندې د مرضیې کاتبي او نورو له خوا په ۲۳۲۰ کاهلو کسانو چې عمرونه یې د ۴۰ او ۸۰ کالونو تر منځ وو یوه څیړنه کې ښیي چې عمر د وینې لوړ فشار اجتناب ناپذیر ریسک فکتور دی اما دا یې هم څرګند کړیدي، چې د چاغوالي، په وینه کې د غوړو مقدار او د ډیابیت فکتورونو په کنټرول سره کولی شو د لوړ فشار مخه ونیسو [۶].

د پاکستان په ناروال کې د عمر په بیلابیلو ګروپونو کې د لوړ فشار په شیوع باندې د محمدنعیم اقبال او نورو له خوا په سلو کاهلو کسانو چې عمرونه یې د ۱۸ او ۷۷ کالونو تر منځ وو یوه څیړنه کې ښیي، چې د لوړ فشار شیوع د نارینه وو په نسبت په ښځو کې (۶۴:۳۴) زیاته ده. همداراز یاده څیړنه ښیي چې د لوړ فشار شیوع په ۴۷-۳۸ ګروپ کې زیاته او په ۷۷-۶۸ ګروپ کې کمه ده [۷].

په پاکستان کې یوې بلې څیړنې چې د محمد ریاض او نورو لخوا د لوړ فشار سره د اړوندو لاملونو د تړاو په اړوند ترسره کړیده، څرګندوي چې موږ زیات شمیر لکه سوسیو-ډیموکرافیک، د ژوند طرز، د روغتیا اړوند او روحي لاملونه وموندل چې د وینې لوړ فشار سره یې په څرګند ډول (په مثبت او منفي ډول) اړیکه درلوده [۸].

د هندوستان په شمال ختیځ کې د BMI، لوړ فشار او عمر ترمنځ اړیکې باندې د ن.ک. منګریفي او نورو له خوا په ۲۵۷ کاهلو نارینه کسانو چې عمرونه یې د ۲۰ او ۷۰ کالونو ترمنځ وویوه څیړنه کې ښیي چې BMI د سیستولیک او ډیاستولیک فشارونو دواړو سره خورا نږدې اړیکه لري، همدا راز د وینې لوړ فشار د عمر سره هم په مستقل ډول اړیکه لري [۹].

د پاکستان په کراچۍ ښار کې د طبي او فارمسي بیلابیلو پوهنتونونو په ښځینه زده کوونکو باندې چې ۲۸۳یې د طب او ۳۲۱ یې د فارمسی څخه وو او عمرونه یې د ۱۶ او ۳۲ کالونو تر منځ وو د نصرت بانو او نورو لخوا یوه څیړنه چې د عمر او د وینې فشار سره د BMI د اړیکې تر سرلیک لاندې ده ښيي، چې د څیړنې په شاملو نجونو کې د وینې د لوړ فشار په پرتله د وینې د ټیټ فشار شیوع زیاته وه. په ۹۴,۱سلنه نجونو کې BMI د ۲۵ څخه کم وو. په یادو ښځینه زده کوونکو کې چاغوالي کوم ارزښت نه درلود [۱۰].

زموږ په څیړنه کې په ناروغو کسانو کې د ډیاستولیک فشار او د زړه ټکان ترمنځ منفي اړیکه (۰,۰۹۶-) په څلورم جدول (ث) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د ډیاستولیک فشار د لوړیدو سره د زړه ټکان کمیږي یعني معکوسه رابطه لري، اما د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.399$ نو $p > 0.05$ ده) نه ده.په ناروغو کسانو کې د عمر او BMI ترمنځ منفي (۰,۲۴۵-) اړیکه په څلورم جدول (ج) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د عمر د زیاتیدو سره په زیاترو کسانو کې BMI نه لوړیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.029$ نو $p < 0.05$ ده) ده. په ناروغو کسانو کې د عمر او د زړه ټکان ترمنځ مثبته اړیکه (۰,۰۹۷) په څلورم جدول (ژ) کې ښودل شویده، په دې معنا چې د عمر د لوړیدو سره د زړه ټکان زیاتیږي، چې د احصایې له نظره په دوو لکیو کې دا اړیکه سیګنیفیکینټ ($p = 0.392$ نو $p > 0.05$ ده) نه ده. که څه هم پورته پایلې په ۸۰ روغو او ۸۰ ناروغو کسانو کې په علیحده ډول تحلیل شویدي، چې د احصایې له نظره ارقام یې کم دي اما په ټولو یعني ۱۶۰ کسانو کې د ډاټا تحلیل په لاندې ډول دی: د عمر لوړیدل د سیستولیک او ډیاستولیک فشارونو دواړو سره غښتلي مثبته اړیکه لري، چې د احصایې له نظره سیګنیفیکینټ ($p = 0.000$) ده، مانا دا چې د عمر د لوړیدو سره دواړه فشارونه لوړیږي. د زړه ټکان د عمر سره خورا کمزوري منفي اړیکه لري چې د احصایې له نظره هم سیګنیفیکینټ ($p = 0.896$) نه ده.BMI د عمر سره مثبته اړیکه لري اما د احصایې له نظره سیګنیفیکینټ ($p = 0.056$) نه ده. مانا دا چې د عمر د لوړیدو سره BMI هم لوړیږي خو په ټولو کسانو کې نه. د زړه ټکان د سیستولیک او ډیاستولیک دواړو فشارونو سره منفي اړیکه لري. اما د احصایې له نظره سیګنیفیکینټ نه دي. د سیستولیک او ډیاستولیک فشارونو دواړو سره BMI مثبته اړیکه لري، چې د احصایې له نظره دواړه سیګنیفیکینټ دي، مانا دا چې د BMI د لوړیدو سره دواړه فشارونه لوړیږي. د زړه ټکان د BMI منفي اړیکه لري، مانا دا چې د BMI د لوړیدو سره دزړه ټکان کمیږي اما د احصایې له نظره سیګنیفیکینټ نه دی.

**وروستی پایلې**

په ټولو کسانو کې د وینې فشار د زیاتوالي سره د زړه ټکان کمیږي او د وینې فشار د کموالي سره د زړه ټکان زیاتیږي. په روغو کسانو کې د وینې فشار د عمر او BMI د لوړیدو سره زیاتیږي او د عمر او BMI د کمیدو سره د وینې فشار کمیږي. د وینې د لوړ فشار په کسانو کې د وینې سیستولیک فشار د عمر د زیاتیدو سره زیاتیږي او ډیاستولیک فشار د عمر د زیاتیدو سره رالویږي، اما په ۱۶۰ کسانو کې د عمر لوړیدل د سیستولیک او ډیاستولیک فشارونو دواړو سره غښتلي مثبته اړیکه لري یعني د عمر د لوړیدو سره دواړه فشارونه لوړیږي. د وینې د لوړ فشار په کسانو کې د BMI د لوړیدو سره د وینې سیستولیک فشار ټیټ اما ډیاستولیک فشار لوړیږي، لیکن په ۱۶۰ کسانو کې د سیستولیک او ډیاستولیک

فشارونو دواړو سره BMI مثبته اړیکه لري، چې د احصایې له نظره دواړه سیګنیفیکینټ دي، یعني د BMI د لوړېدو سره دواړه فشارونه لوړېږي. په دې څېړنه کې د جنس او د وینې لوړ فشار ترمنځ اړیکه ثابته نه شوه. د یادو موندنو د تائید لپاره نورو زیاتو څېړنو ته اړتیا شته.

**وړاندیزونه**

د لوړ فشار د مخنیوي لپاره لاندې وړاندیزونه کېږي:

۱. خپل وزن په نورمال حد کې وساتئ (BMI = 18.5-24.9).

۲. په ورځ کې د سوډیم کلوراید مقدار د ۶ ګرامو یا د سوډیم مقدار د ۲,۴ ګراموڅخه باید کم وي.

۳. د اونۍ په زیاترو ورځو کې هره ورځ د نیم ساعت څخه زیات چابک پلی تګ اجرا کړئ.

۴. د شرابو څښل په بشپړ ډول بند کړئ.

۵. په ورځ کې د میوو او سابو د غني رژیم څخه ځو ځله ګټه پورته کړئ.

**References**


1. Elisabete Pinto. (2007) Blood pressure and ageing. Postgrad Med J; 83:109–114. Doi: 10.1136. PP-109,112.
2. Eslavath Rajkumar and John Romate. (2020) Behavioural Risk Factors, Hypertension Knowledge, and Hypertension in Rural India. International Journal of Hypertension. Volume 2020, doi.org/10.1155/2020/8108202. Pp-1-7.
3. Khwaja Mir Islam Saeed, Mohammad Hafez Rasooly and Nick JW Brown. (2014) Prevalence and predictors of adult hypertension in Kabul, Afghanistan.BMC Public Health, 14:386. Pp-1-7.
4. Khwaja Mir Islam Saeed. (2015) Prevalence of hypertension and associated factors in Jalalabad City, Nangarhar Province, Afghanistan.Central Asian Journal of Global Health: Volume 4, No. 1. DOI 10.5195. Pp-1-16.
5. Khwaja Mir Islam Saeed. (2017)Prevalence and Associated Factors of High Blood Pressure in Urban Setting of Kandahar City in Afghanistan in 2015.Jundishapur Journal of Health Sciences.Doi: 10.5812/jjhs.59990.Pp-1,6.
6. Marzieh Katibeh, Ali Moghaddam, Mehdi Yaseri, et al. (2020) Hypertension and associated factors in the Islamic Republic of Iran: a population-based study.EMHJ – Vol. 26 No. 3. Pp-304, 312.
7. Muhammad Naeem Iqbal, Asfa Ashraf, Iqra Iqbal, et al. (2018) Incidence of Hypertension among Various Age Groups in Narowal, Pakistan. International Journal of Nanotechnology and Allied Sciences. Volume 2, Issue 2. Pp- 12-15.
8. Muhammad Riaz, Ghazala Shah, Muhammad Asif, et al. (2021) Factors associated with hypertension in Pakistan: A systematic review and metaanalysis. PLoS ONE 16(1): doi.org/10.1371. Pp-1, 2, 17.

9. N. K.Mungreiphy, Satwanti Kapoor, and Rashmi Sinha. (2011) Association between BMI, Blood Pressure, and Age: Study among Tangkhul Naga TribalMales of Northeast India. Hindawi Publishing Corporation Journal of Anthropology. Volume 2011, doi:10.1155/2011/748147. Pp-1-7.

10. Nusrat Bano, Rahila Najam, Rabia Bushra, et al. (2011) Correlation of BMI with age and blood pressure in Medical and Pharmacy female students of Karachi, Pakistan. J. Baqai Med. Univ.Vol. 14, No.2. Pp-9, 14.

# د خوست ولایت د کلیوالي او ښاري سیمو ښوونځیو په ماشومانوکې د کولمو د چینجیو پواسطه د منتن کیدو د پیښو موندنه

پوهنمل ډاکټرنعیم خان ځدراڼ ، پوهندوی ډاکټرولي ګل مخلص
شیخ زاید پوهنتون ،طب پوهنځی، د ماشومانو داخله څانګه
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی سیدرحیم شاه شمل وال ،دطب پوهنځي استاد

لنډیز

**موخــــه**: غــــواړو چــې د خوســـت ولایـــت پـــه کلیــوالي او ښـــاري ســـيمو کـــې د ښـــوونځيو پـــه ماشومانو کې د چینجیو د انتاناتو پیښې معلومې کړو.

**مواد او کړنلاره:** دغه څېړنه د خوست ولایت د بیلابیلو ښوونځیو په ښاري او کلیوالي ماشومانو کې چې لمر تشخیصیه کلینیک ته راغلي وو، د۲۰۲۰ د جنوري میاشتې څخه د ۲۰۲۲م کال د جنوري میاشتې پورې ترسره شوې. د ماشومانو دغایطه موادو نمونې، د Formal ether concentration تخنیک په کارولو سره په غایطه موادو کې د ova او سیست د موندلو په موخه، معاینه شوي دي.

**پايلې**: په دې څېړنه کې ټول ۲۵۰ تنه ماشومان شامل وو، چې د نارینه ماشومانو سلنه (٪۶۸)او د ښځینه ماشومانو سلنه (٪۳۲) وه. اوسط عمر یې 9.2±2.6 کاله و . دوی اکثریت ماشومانو(٪۷۵) د شخصي حفظ الصحې لکه د رفع حاجت څخه وروسته د لاسونو صفایي په هکله کافي معلومات نه لرل. د ۲۵۰ ماشومانو له جملې څخه ۲۱۰ ماشومانو غایطه مواد د معاینې لپاره تیار کړل،چې د هغو له جملې څخه ۱۶۶ (٪۷۹) د کولمو د پرازیتونو هګۍ یا سیست درلود. په ۱۳۱کسانو(٪۷۸,۹)کې Ascaris ترټولوعام پرازیټ ، وموندل شو.

وروســـتۍ پـــايلې:پـــه دې څېړنـــه کـــې د Ascaris لـــوړه شـــيوع، زمـــونږ پـــه ټولنـــه کـــې د کمـــزوري حفـــظ الصـــحې، د عـــامې روغتیـــا پـــر کمـــزوري فعالیـــت او پـــه مناســـب ډول د عامه پوهاوي په نه شتون دلالت کوي.

کلیدي ټکي: اسکاریس، تشتاب ، حفظ الصحه ، د کولموپرازیټونه ، کانالیزسیون .

**سریزه**

د کولمو پرازیټونو پواسطه ترټولو زیاتې هغه ټولنې چې کمزورې حفظ الصحه لري، منتڼې کیږي، په ځانګړي توګه ماشومان زیات اغیزمنوي، ځکه چې ماشومان خپلې حفظ الصحې ته پاملرنه نه کوي او پدې توګه د وروسته پاتې هیوادونو د وګړو د منتن کیدو تر ټولو عام لامل ګڼل ګیږي. د کولمو پرازیټونه ، په ټوله نړۍ کې تر زر میلیونو څخه زیات انسانان منتن کوي او همدا راز د فزیکي ذهني او ټولنیزو ستونزو په شمول، د ماشومانو پر صحت ناوړه اغیزې لري[۵]. په ځینو ښاري سیمو او په ځانګړي توګه په کلیوالي سیمو کې، چیرته چې د حفظ الصحې حالات ناسم او عامه پوهاوی په کافي اندازه شتون نه لري، د خاورو پواسطه لیږدیدونکي مدور چینجیان لکه Ascaris lumbricoides ، Trichuris trichiura او چنګکي چینجنیان، یوه لویه ستونزه بلل کیږي[۱۵-۵]. پلن چینجیان لکه Taenia saginata او Hymenolepis nana، هم په وروسته پاتې او په ځینو مخ پر وده هیوادونو کې د عامې روغتیا د سکتور پر وړاندې د اندیښنې وړ موضوع په توګه تر بحث لاندې وي . افغانسان چې د وروسته پاتې او غریبو هیوادونو له ډلې څخه دی ، د کولمو د پرازیټونو په تیره بیا د کولمو د چنجیانو څخه بې خلک کړیږي[۱۱،۱۲]. ددې څیړنې یو هدف دا دی تر څو د خوست ولایت په ښاري او کلیوالي سیمو د ښوونځیو په ماشومانو کې د کولمو د چینجیو شیوع او ورسره مله ځینې د خطر فکتورونه وڅیړل شي، او د لاسته راتلونکو پایلو پر وړاندې ، د میندو او پلرونو، د رسنیو ، د ښوونځیو او د عامې روغتیا د ځایې مسؤلینو په مرسته، مناسب وقایوي تدابیر، لکه د ښوونځیو ماشومانو ته د چینجیو ضد دواګانو ورکول، د ټولنې د عامه پوهاوي پروګرامونه، شخصي حفظ الصحې ته پاملرنه او نور ، ونیول شي .

**مواد اوکړنلاره**

دا څیړنــه د ښــاري او کلیــوالي ســیمو د مختلفــو ښــوونځیو پــه ماشــومانو کــې چــې د دوو کــالو پــه جریــان کــې (د۲۰۲۰ د جنــوري میاشــتې څخــه د ۲۰۲۲م د جنــوري تــر میاشــتې پــورې )، چــې د لمــر تشخیصــیه کلینیــک تــه یــې مراجعــه کــړې وه تــر ســره شــویده. څــومره ناروغــانو چــې مراجعــه کــړې وه د هغــوی نومونــه، عمــر، د پــلار نــوم ، ادرس او د مراجعــې او تعقیــب نیټــه پــه کتــاب کــې ثبــت شــوي. ټــول ټــال ۲۵۰ ماشــومان چــې لمــر تشخیصــیه کلینیــک تــه یــې مراجعــه کــړې وه پــه دې څیړنــه کــې شــامل وو، ولــې هغــه ماشــومان چــې د چینجیوضــد دوا یــې پــه نــږدې وخــت کــې اخیســتې وه، یــا د ښــوونځي زده کــوونکی نــه وو، پــه دې څیړنــه کــې شــامل نــه وو. دا څیړنــه د شــیخ زایــد پوهنتــون د طب پوهنځي د ماشومانو د داخله ډیپارټمنت کې ثبت او رجسټر شوې ده

د ښوونځيو د ماشومانو د مور او یا پلار سره مرکې شوي او مفصله تاریخچه ترې اخیستله شوې . د دوی د اجتماعي اقتصادي حالاتو، د حفظ الصحې په هکله د دوی د پوهې، د شخصي حفظ الصحې، د دوی د کور او شاوخوا د صفایي د حالاتو او د څښاک د اوبو او خوراک د سرچینو په هکله ترې پوښتنې شوې وې. ماشومانو ته د غایطه موادو د سمپل راغونډولو لپاره پاک پلاستیکي بوتل ورکړل شوی و، او سمپل برابرولو په هکله ، مفصل معلومات ورکړل شوي وو. د غایطه موادو د سمپلونو د را ټولولو څخه وروسته د لمر تشخیصیه کلینیک په لابراتوار کې د formal-ether concentration تخنیک څخه په ګټې اخیستنې د ova او سیست لپاره، معاینه شول. ډاټا د SPSS version25 په کارولوسره تحلیل او تجزیه شوه.

**پایلې**

په ټولیز ډول ۲۵۰ د ښوونځي ماشومان په دې څېړنه کې شامل وو. د هغوی له جملې څخه ۱۷۰ (۶۸٪) یې هلکان او ۸۰ (۳۲٪) یې نجونې وې. اوسط عمر یې 9.2±2.6 کاله و (۱۵-۶ کلنی پورې). د دوی ډېری د کم اقتصاد لرونکي اجتماعي اقتصادي ګروپ سره تړاو درلود . ۹۰٪ پلرونه یې بې سواده، ۱٪ یې تر لیسانس ۴٪ یې تر دوولسم او یوازې ۵٪ یې ابتدایي زده کړې کړي وې. ۹۹٪ میندې یې بې سواده او یوازې ۱٪ یې ابتدایي زده کړې تر سره کړي وې. د هغوی د پلرونو اکثریت یې دهقانان او یا نوره غیرمسلکي کسان وو او ۹۷ ٪ میندو یې د کور کارونه کول. د کورنیو تقریباً (۶۵٪) تشناب (بیت الخلا) نه لرله ، ولې ۲۵٪ برخې یې د سوري لرونکي بیت الخلا درلوده او پاتې ۱۰٪ یې د فلش سیستم څخه ګټه اخیسته. ۹۰٪ کورنیو د چینو یا نلونو اوبه چې د دوی د کورونو سره په ټنکیو کې ذخیره کیدې، ګټه اخیستله، ولې پاتې نورو یې د کوهي او ویالو اوبه څښلې. اوبه به د مصرف څخه وړاندې نه ایشول کیدې. اکثریت میندې او ماشومان د خوراک څخه وړاندې او وروسته د لاس د مینځلو په هکله پوهیدل خو ډېری یې د رفع حاجت څخه وروسته لاسونه نه مینځل او په اهمیت یې نه پوهیدل. د ۲۵۰ ماشومانو له جملې څخه ، ۲۱۰ هلکانو غایطه مواد د معاینې لپاره تیار کړل. د غایطه موادو د نمونو د معاینې څخه وروسته، په ۱۶۶ (۷۹٪) نمونو کې د کولمو د پرازیټونو تخمه (ova) او سیست موندل شو.

۱- جدول: د منتنو او غیرمنتنو پېښو شمېر او سلنه

| | دمعاینه شوونمونو تعداد | سلنه |
|---|---|---|
| غیر منتن | ۴۴ | ۲۰,۹۵٪ |
| منتن | ۱۶۶ | ۷۹٪ |
| مجموعه | ۲۱۰ | ۱۰۰٪ |




لومړی ګراف : د منتنو او غیرمنتنو پېښو سلنه راښيي .

د هغوی له جملې څخه Ascaris تر ټولو عام پرازیت و چې په ۱۳۱ تنو(۷۸,۹٪) ، وروسته Hymenolepis nana په ۲۲ تنو (۱۳,۲۵٪) کې و موندل شو. مختلط انتان په ۱۲ تنو ( ۷,۲٪ ) کې تثبیت شو. لاندې ګراف او جدول کې د مختلفوپرازیتونو تعداد او سلنه لیدلای شئ.




۲- ګراف- د مختلفوپرازیتونو فریکونسي او سلنه

۲-جدول: د مختلفوپرازیتونو فریکونسي او سلنه

| ګڼه | پرازیتونه | فریکونسي | سلنه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Ascaris Lomricoides | ۱۲۰ | «۷۲,۲۹ |
| ۲ | Hymenolepis nana | ۱۷ | ۱۰,۲۴٪ |
| ۳ | Tenia saginata | ۶ | ۳,۶۱٪ |
| ۴ | Giardia Lamblia | ۶ | ۳,۶۱٪ |
| ۵ | Entameoba histilytica | ۵ | ۳,۱٪ |
| ۶ | Ascaris Lubricoid/ Hymenolepis nana | ۵ | ۳,۱٪ |
| ۷ | Taenia saginata/Ascaris lumbricoides | ۳ | ۱,۸٪ |
| ۸ | Ascaris Lumbricoid/Girdia Lumblia | ۳ | ۱,۸٪ |
| ۹ | Tenia saginata/Giardia Lumblia | ۱ | ۰,۸٪ |
| ۱۰ | مجموعه | ۱۶۶ | ۱۰۰٪ |

د ناروغانو د چاپېریال په هکله یوه سروې هم واخیستله شوه . ددې سیمې په ډیری برخو کې شخصي حفظ الصحې ته پاملرنه نه کیږي. ۷۷ (۴۶,۳۸٪ ) کسانو وویل چې ددوی په سیموکې به غایطه مواد نږدې ساحو او خوړونو کې چې همدې سیمو ته نږدې پراته وو، دفع کیدل. په کلیوالي سیمو کې د هر کور شاوخوا د حیواناتو د فضوله موادو او د کور د خځلو یو ډیران پروت وي ، ۹۴ (۵۶,۶۲٪ ) یې تایید کړه چې د کور کوچني ماشومان یې هم غایطه مواد دې ډیرانونو ته نږدې دفع کوي .همدارنګه په ټولو کلیوالي سیموکې هغه غایطه مواد چې د حیواناتو او انسانانو ګډ مخلوط و، هغه به ځمکو ته د غنمو، جوارو او سبزیجاتو د ښه حاصل د لاس ته راوړلو په پار ورکول کیدل. د دغو ماشومانو د مور یا پلار څخه د تاریخچې اخیستلو پر مهال معلومه شوه چې د هغوی له جملې څخه ۲۸ ( ۱۶,۹٪ ) کم ترکمه په میاشت کې یو یا دوه ځله د غواړې د غوښې څخه د غذا په توګه ګټه اخیسته. غوښه به د ځایې قصاب له دوکان اویا له بازار څخه راوړل کیده او همیشه به په ښه توګه پخیدله. کومه د غوا غوښه چې مصرفیده، د صحي تیم لخوا د هغې د معاینې او کنترول په هکله د ماشومانو مور او پلار ته معلومات نه ول .

مناقشه

زمونږ څیړنې د توقع سره سم پایلې درلودې . پدې څیړنه کې د کولمو د پرازیتونو کچه ډیره لوړه (۷۹٪) وه. پدې پراژیتونو کې د Ascaris Lomricoides کچه تر نورو لوړه (۷۸,۹٪) ، وریسې د Hymenolepis nana (۱۳,۲۵٪) وه . په دریمه درجه د Tenia saginata او Giardia Lamblia شیوع تر نورو زیاته وه .دا د شاوخوا منطقې د وروسته پاتې او مخ پروډې هیوادونو د کولمو د پرازیتونو د

شیوع سره نږدیوالي لري، څکه پدې هیوادونو کې د کولمو د پرازیتونو لوړه کچه د ٪۸۸-۳۳ پورې توپیرکوي[۳,۲]. دا لوړه کچه، د غربت، پاکوالي او شخصي حفظ الصحې ته نه پاملرنه، د عامه پوهاوي نه شتون او د کمزوري صحي خدماتو د وړاندې کولوسره، تړاو لري. که څه هم چې په پورته ذکر شوو تولنو کې د کولمو پرازیتونه په لوړه کچه عام دي، خو د پرازیتونو نوعې په مختلفو جغرافیوي موقعیتونوکې، د هغوی د محیطي او اجتماعي توپیرونو له امله، په ساحه پورې تړلي دي[۱].

د خاورو پواسطه لیږدیدونکي چینجیان، لکه مدور چینجیان او پروتوزوا،د کولمو تر ټولو عام پرازیتونه دي، چې د افغانستان په شمول له ټولې نړۍ څخه یې راپور ورکړل شویدی[۱۱,۵]. په هر صورت زمونږ په څیړنه کې د پرازیتونو شیوع ډیره متفاوته نه وه، د Ascaris لوړه شیوع (٪۷۸,۹) او Hymenolepis nana په ۲۲ تنو (٪۱۳,۲۵) او نورو چینجیو شتون درلود.څرنګه چې زمونږ په دې څیړنه کې د خاورو پواسطه د لیږدیدونکو پرازیتونو شیوع زیاته وه ، دا په دې معنی چې زمونږ خلک د خاورو پواسطه ککړو لاسونو صفایې ته پاملرنه نه کوي او په دوی کې د صابون پواسطه لاس مینځل زیات عمومیت نه لري. اومه سبزیجات او میوه جات او حتی ډیری وخت د رفع حاجت څخه وروسته لاسونه نه مینځي. Ascariasis یا د مدورو چینجیانو انتانات د Ascaris lumricoides پواسطه منځته راځي. دا یو ډیر عام انتان دی په ځانګړي توګه د ښوونځي څخه د مخه ماشومانو او تنکیو یا ځوانو ماشومانو کې زیات موندل کیږي. په مصر کې په لومړۍ درجه جاردیا او په دوهمه درجه Ascaris lumricoides شیوع زیاته ده [۵]. د Ascaris lumricoides هګۍ په خاوروکې موندل کیږي او کله چې انسان د خاورو سره په تماس کې شي، نو پرې اخته کیږي. له بلې خوا Taenia saginata د غواې د هغې غوښې پواسطه، چې د پرازیت د لاروا پواسطه منتنه شوي وي، انتقالیږي. انسانان د کاهل پرازیت لپاره اصلي میزبان دی، چې تر کالونو پورې په انسانانو کې ژوند کوي او خپله اخرنۍ برخه (segment ) په غایطه موادوکې اطراح کوي. هر سګمنټ (برخه) یې د ۱۰۰۰۰۰ په شاوخواکې هګۍ لري چې تر ۲۰۰ ورځو پورې په خاوروکې د هغوی د ژوندي پاتې کیدو راپور ورکړل شویدی[۱۷,۱]. هغه حیوانات ( غواګانې، میږې او بزې) چې د انسانانو د فاضله موادو پواسطه د ککړو وښو څخه ګټه اخلي، Taenia saginata بلع کوي او هغه بیا پر لاروا بدلیږي او وروسته په عضلاتو کې د سیست شکل غوره کوي. د ژوند سیکل یې، د انسان پواسطه د دغو منتنو غوښو په خواړلو سره، چې ښه پخه شوي نه وي، تکمیلیږي[۱۷]. د حیواناتو پواسطه د هغو اوبو د مصرف له امله، چې د Taenia saginata هګۍ ولري، په حیواناتوکې د منتن کیدو لامل کیږي[۱۱].

Taeniasis په ټوله نړۍ کې شتون لري. که څه هم کره اپیډیمیولوژیکه ډیټا شتون نه لري، خو د Taeniasis شیوع دومره لوړه نه ده[۱۷,۱۴]. د کوزې پښتونخوا په ډیره اسماعیل خان کې په ۲۰۱۲ م

کال کې چې کومه څېړنه ترسره شوي وه، په هغې کې د ۱۶٪ شیوع راپور ورکړل شوی و، خو زموږ په څېړنه کې دا فیصدي ۶٪ ده چې یو علت یې زموږ د څېړنې په ساحه کې د غوښې کم مصرف دی . له بلې خوا د Ascariasis لوړه کچه پدې ساحه کې د ګرد او غبار ډیرښت او شخصي حفظ الصحې ته نه پاملرنه په ګوته کوي . د Taeniasis انتقال، ممکن د انساني فاضله موادو په سم ډول د خوندي کولو، د یو قوي صحي ټیم پواسطه د غوښې د معاینه کولو او په سمه توګه د هغې د پخولو پواسطه یې،مخه نیول کیدای شي(۱۷،۱۴). دا چې زمونږ په دغه څېړنه کې د Ascariasis پیښې زیاتې دي او له بلې خوا د ۲۱۰کسانو له جملې څخه ۱۶۶(۷۹٪)تنه یې منتن وو، نو دا زمونږ په ټولنه کې د عامه پوهاوي پر نه شتون، د تعلیم پر ټیټې کچې فقر او غربت، کمزوري حفظ الصحې او د عامې روغتیا پر کمزوري پاملرنې دلالت کوي. بد بختانه زمونږپه ټولنه کې د کانالیزسیون سم سیستم شتون نه لري، د انسانانو فاضله مواد یا د ویالو او خوړونو سره ګډیږي او یا کروندو اوسبزیجاتو ته د سرې په ډول ورکول کیږي.حیوانات ( غواګانې، میږې، بزې او نور مالونه) مو د کلي په شاوخوا او کورونو کې ازاد ګرځي او د منتنو ویالو او ښوځخه ګټه پورته کوي ، بل دا چې حیواناتو ته د چینجیو ضد دواګانې هم په اکثرو سیموکې نه ورکول کیږي. هغه غوښې چې قصابان یې خرڅوي د صحي ټیمونو لخوا نه معاینه کیږي. دا ټول فکتورونه چې مونږ ترې یادونه وکړه، زمونږ په دې څېړنه کې د چینجیو پواسطه د منتن کیدو دومره لوړې شیوع لامل کیدلای شي. د کولمو د پرازیټونو لوړه کچه د ماشومانو پر فزیکي او دماغي تکامل د پام وړ اغیزې لري(۱۶،۱۵،۱۰). د Taeniasis، Ascariasis او نورو چینجیو کنټرول هر اړخیز اقدام ته، چې حیوانات او انسانان دواړه هدف وګرځوي، اړتیا لري(۱۴،۲۲). سربیره پر پورتنیو تدابیرو( د انساني فاضله موادو په سم ډول خوندي کول، د یو قوي صحي ټیم پواسطه د غوښې معاینه کول، په سمه توګه د هغې پخول، عامه پوهاوی)، د دواړو اهلي حیواناتو او انسانانو درملنه باید تر سره شي(۱۶،۱۴،۱۰). د ښوونځیو ماشومان چې د خطر سره مخامخ وي، په کتلوي شکل د چینجیو دوا ورکول، په ۲۰۰۱ م کال کې په نړیواله صحي اسمبلي کې تصویب شول(۱۶، ۱۹). په یو څو افریقایې هیوادونو کې ددې پروګرام عملي کولو د پام وړ پایلې لرلې(۱۶،۱۴،۱۰). وقایوي کیموتراپي، په یو منظم انټروال کې ټول نفوس یا هغه چې د لوړ خطر سره مخامخ وي، ترهدف لاندې راوستلی شي(۱۴). بدیله لاره لکه زمونږ په څېړنه کې، د خوراک او څښاک پاکوالي ته پاملرنه ، د حاجت د رفع کولو څخه وروسته د صابون پواسطه د لاسونو مینځلو او سکرینیګ (لابراتواري معایناتو) او د پرازیټ د تثبیت څخه وروسته، د درملنې څخه عبارت دی. باید وویل شي چې په یوازې توګه د کنټرول هیڅ ستراتیژي شتون نه لري. د صحي تعلیماتو، حفظ الصحې او کیموتراپي لپاره، چې د حکومت، صحي کارکوونکو او د ټولنې د غړو په نږدې هم غږی سره تطبیق شي، یوې بشپړې هر اړخیزې ستراتیژۍ ته اړتیا لیدل

کیږي.

وروستی پایلې: د ښوونځیو په ماشومانو کې دAscariasis لوړه خپروي (شیوع)، زمونږ په تولنه کې د کمزوري روغتیا ساتنې (خفظ الصحې)،دعامې روغتیا پر کمزوري تکلارو او د هغو پر پلي کیدو ، گرد او غبار زیاتوالی او په کمزوری عامه پوهاوی را په گوته کوي.

## References


1. **1-** Alemnew B, Gedefaw G, Diress G, Bizuneh AD.( 2020) Prevalence and factors associated with intestinal parasitic infections among food handlers working at higher public Univesity student's cafeterias and public food establishments in Ethiopia: a systemic review and meta-analysis . BMC infect Dis. Feb19;20(1):156. Doi: 10.1186/s12879-020-4884-4.PMID:32075585;PMCID:PMC 7031974.

2- Aklilu A, Kahase D, Dessalegn M, Tarekegn N,Gebremichael S, Zeneb S, Desta K, Mulugeta G,Mamuye Y, Mama M.( 2015).Prevalence of intestinal parasites,salmonella and shigella among apparently health food handlers of Addis Ababa University student's cafeteria, Addis Ababa, Ethiopia. BMC Res Notes Jan 24;8:17.

3- Awasthi S, Verma T, Kotecha PV, Venkatesh V, Joshi V, Roy S.( 2008) Pr -evalence and risk factors associated with worm infestation in pre-school children (6-23 months) in selected blocks of Uttar Pradesh and Jharkha- and, India. Indian J Med Sci;62:484-91.

4-Ahmed AK, Malik B, Shaheen B, Yasmeen G, Dar JB, Mona AK, et al. (2003)Frequency of intestinal parasitic infestation in children of 5-12 years of age in Abbottabad. Ayub Med Coll Abbottabad;15:28-30.

5-Belete YA, Kassa TY, Baye MF(2021)Prevalence of intestinal parasite infections and associated risk factors among patients of Jimma health center requested for stool examination, Jimma, Ethiopia. PLoS ONE 16(2):e0247063.doi:10.1371/journal.pone.024763

6-Centers for Disease Control. DPDx(2006): Laboratory identification of par-asites of public health concern. Atlanta: CDC.

7- Daryani A et al. (2017 ) Intestinal parasitic infections in Iranian preschool and school children.A systemic review and meta – analysis . Acta Trop.2017.01.019.Epub 2017 Jan24. PMID: 28130101.

8- Gelaw A et al. Prevalence of intestinal parasitic infections and risk factors among schoolchildren at the University of Gondar Co - mmunity School, Northwest Ethiopia: a crosssectionalstudy. BMC

Publ - ic Health 2013; 13: 304. doi: 10.1186/1471-2458-13-304.
9-Ibrahium FA. (2011)Prevalence and predisposing factors regarding intestinal parasitic infections among rural primary school pupils at Minia Governorate ,Egypt. J Public Health Afr. 2011 Sep 5;2(2):e29.doi: 10.4081/jphia.2011 .e29.PMID:28299070;PMCID:PMC5345502.
10- Korzeniewski K et al.( 2015) Epiddemiology of Intestinal parasitic infections in school children in Ghazni Province,eastern Afghanistan , Pak J Med Sci 2015;31(6):1421- 1425.
11- Korzeniewski K et al. (2017).Current status of Intestinal parasitic infections among inhabitants of the Ghazni and Parwan Provinces, Afghanistan , Fam Med Prim Care Rev 2017 ;19(1):23- 28.doi: 10.5114/fmpcr.2017.65087.
12- Korzeniewski K.( 2016).Prevalence of Intestinal parasitic infections in the population of Central Asia on the example of Eastern Afghanistan,PrzeglEpidemiol.2016;70(4):563-573.English,Polish.PMID:28221011.
13 – Koksal F, Baslanti M.( 2010). Aretrospective evaluation of prevalence of intestinal parasites in Istanbul,Turkey. Turkiye Parazitol Derg.2010;34(3):166-71.Turkish.PMID:20954117.
14- Mirza IA, Kazmi SY, Yasir M. (2012)An analysis of intestinal parasitic in- fection in Dera Ismail Khan, Pakistan. J Ayub Med Coll Abbottabad 20- 12;24:123-4.
15-Okello AL, Thomas LF. (2017).Human taeniasis: current insights into pre - vention and management strategies in endemic countries. Risk Manag - Healthc Policy 2017;10:107-16.
16-Olds GR.(2013) Deworming the world. Trans Am Clin Climatol Assoc 20- 13;124:265-74.
17-Odu NN, Akujobi CO, Maxwell SN, Nte AR.(2014). Impact of mass dew -orming of school children in rural communities in Rivers State, Nigeria: options for programme sustainability. Acta Parasitologica Globalis 201-4 2011;2:20-4.
18- Ryan P, Vergese S, McDonnell PA.( 2010) Geographical location and age affects the incidence of parasitic infestations in school children . Indian J Pathol Microbiol. 2010 Jul-Sep; 53(3):498-502. Doi:10.4103/0377-4929.68292.PMID:20699511.
19-Sharifi et al. (2021).Prevalence of intestinal parasitic infections in food handlers of Iran: A systemic review and meta- analysis . Vet Med Sci 2021Nov;2450-2462.
20- Thompson RC.( 2015). Neglected zoonotic helminths:

Hymenolepis nana, - Echinococcus canadensis and Ancylostoma ceylanicum. Clin Microbiol Infect 2015;21:426-32.
21-Verle P et al. (2003).Prevalence of intestinal parasitic infections in northern Vietnam. Trop Med Int Health 2003;8:961-4.
22-World Health Organization.( 2004). Training manual on diagnosis of intesti - nal parasites. Geneva: WHO 2004.

# ژورنالېست او ژورنالېستیک مسؤلیت

لیکونکی : پوهنمل اسدالله تڼی

د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځي د عامه اړیکو څانګې استاد

تقریظ ورکوونکی: پوهندوی محمد خان نیازی دژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځي، عامه اړیکو څانګې استاد

**لنډیز**

د ژورنــالېزم پــه برخــه کــې ژورنالېســتک او رســنییز مســئولیت پیژندنــه خــورا مهــم بحثونــه دي. د یــوه ژورنالســت مســئولیت پــه یــوه ټولنــه کــې د یــوه ډاکټــر، انجینــر، معلــم او بــل هــر کــس پــه پرتلــه ډېــر ســتر دی البتــه معیــاري ــې رښــتینوالي ده. کــه یــو ژورنالســت واقعــاً خپلــې وظیفــه درک کــړي، نــو د ټــولنې د نــورو مســئولو وګــړو پــه نســبت بــه دي د ټــولنې د پایښت او لا ودې لپاره ډېر ګټور تمامیږي.

د ژورنـــالېزم اصـــلي او بنســـټیزه موخـــه،خلکو تـــه د حقیقـــت وړانـــدې کـــول او د هغـــه ســـپړل دي، تـــر څـــو خلـــک هغـــه معلومـــات او اطلاعـــات، چـــې دوی ورتـــه د قـــدرت، مشارکت او حاکمیت لپاره اړتیا لري، په خپل واک او اختیار کې ولري .

ژرنــالیزم د یــوې ټــولنې هنــداره ده، هــر هغــه څــه چې پــه ټولنــه کې تېرېــږي کــه هغــه ښــه وي یــا بــد هغــه بــه هرومــرو د یــوه ژورنالېســت پــه وســیله د ډلــه ییــزو رســنیو پــه یــوه خپرونــه کــې خپرېــږي او ولــس بــه تــرې خبــروي، نــو ځکــه ژورنــالېزم د ټــولنې هنــداره ده . لکــه څرنګــه چــې ژورنــالېزم د یــوه دولــت څلــورمې قــوې پــه توګــه هــم پیژنــدل کیــږي همدارنګــه د دولــت او خلکــو تــرمنځ د اړیکــو پــل هــم ورتــه ویلــی شــو، نــو پــه همــدې اســاس ژورنــالیزم چــې پــه ټولنــه مهــم رول لــري د خلکــو تــرمنځ د زیــات اهمیــت او ارزښــت څخــه هــم بــرخمن دی، داځکــه چــې اوســنی پیــر د اړیکــو او معلومــاتو پیــر دی او دا هــر څــه لــه ژورنــالېزم څخــه پرتــه ناشــوني برېښــي او همدارنګــه ژورنــالېزم پــه ټولنــه کــې د بــدلون او د مثبتــو ذهنیتونــو جوړولــو یــوه مــوثره پدیــده ده ، چــې د ټــولنې د اصلاح او سمون په موخه رامنځ ته شوي دی.

**کلیدي ټکي:** ژورنالېست ، مسئولیت، مسلک ، اخلاقي اصول، اهمیت او رول

**سریزه**

ژورنالېزم د خپل کاري مسئولیت، ورتیا او اغېز له کبله په ټوله نړۍ کې د څلورم ځواک حیثیت غوره کړی دی، چې هر ملت او ټولنه یې د بارو په غبرګه کې راخپله کړې ده، چې د همدې باور، اغیز او ځواک له امله یې رسالت او مسئولیت هم د نورو کسانو او مسئولینو په نسبت ځواکمن، ځیرک او مهم دی .

د هغه اهمیت له مخې چې ژورنالېزم په بشري ټولنه کې لاسته راوړي دټولنیزو اړیکو په چوکاټ کې ژوند ته د رنګ ورکولو په برخه کې د یوې مهمې رسنیزې قوې په توګه مطرح او په ټولنه کې یې ارزښتناکه ځای پیدا کړی دی .

دژورنالېزم له پیل څخه لېره موده تېره نه وه چې د دولت په چوکاټ کې یې دڅلورمې قوې ارزښت لاسته راوړ او لېر وروسته یې په هغه مقام بسنه ونکړه او د دولت د لومړۍ قوې په نامه یې خلک ځان ته قایل کړل .

دیادولو وړ ده چې د ژورنالېزم ننني مقام په دومره اسانۍ هم په لاس نه دی راغلی د دغه مقام دلاسته راوړلو، خلکو او دولتونو ته دقناعت ورکولو لپاره په زرګونو ژورنالېستانو د سر قربانۍ ورکړي او خپل خواږه ژوند ته یې د پای ټکی ایښی، بندیان شوي او له خپلو هیوادونو څخه جلاوطنه شوي دي.

څرنګه چې ویل کېږي چې میډیا یا رسنۍ د یوه نظام یا دولت څلورمه ستنه ده، نو بې له شکه چې د نظام په ترمیم او تخریب دواړو کې د میډیا له تأثیره سترګې نه شو پټولی. لکه څرنګه چې ژورنالېزم د ټولنې په جوړښت او خرابۍ کې عمده رول او ونډه لري، نو یکارده چې ددغه مسلک څخه یوه داسې په زړه پورې او روا ګټه واخېستل شي، چې خلک پرې حقیقي ژوند ته متوجه شي او په ټولنه کې شته ستونزې ورسره حل شي، ددې لپاره چې له دغه ډله ییزو (انځوریز،غږیز،خوالهٔ رسنۍ او...) رسنیو څخه مثبته ګټه واخېستل شي،موږ ته یکار دي چې د رسنیو رسالت د ټولنیز چاپېریال په رڼا کې وپېژنو، ژورنالېزم یو مسلک دی،نو لازمه ده چې ددې په هکله لنډ او خلاصه معالومات ولرو او په داسې طریقه یې استعمال کړو، چې د هېواد، ټولنې ،کلتور،عقیدې او د هېواد د بیارغونې په لارکې ورڅخه کار واخلو.

ما د همدې مسلکي مسئولیت د ارزښت او د لا ځواکمن ساتلو په خاطر په دغه علمي مقاله کې د ژورنالېزم موخې، د ژورنالېزم ټولنیز او اخلاقي مسئولیت د

ژورنالېزم پېژندنه، د ژورنالېزم اهمیت او ارزښت او ځینو نورو مهمو موضوعاتو باندې رڼا اچولې او په هر اړخیز ډول څېړل شوي، ترڅو په ټولنه کې د ژورنالېست او ژورنالېزم مسئولیت په ډاګه شي.

**موخې**

په هر مسلک کې مسئولیتونه له اساسي او مهمو اړتیاوو شمېرل کېږي، دا چې یو شخص په خپل اړوند مسلک کې ځانګړی تخصص ولري او په ټولنه کې خپل مسئولیت درک کړي نو، کولی شي خپلې چارې په سم او منظم ډول مخ ته یوسي، په ژورنالېزم کې د نورو مسلکونو په پرتله مسلکیتوب ته ډېره اړتیا ده، که یو خبریال د خپل مسلک له مهمو او اساسي اصولو څخه خبر نه وي، نشي کولی ددغه سپېڅلي مسلک د اړتیاوو مطابق خپلې چارې په سمه بڼه مخ ته یوسي او خپل مسئولیت په سم او منظم ډول ترسره کړي، هر کله چې یو ژورنالېست د خپل ژورنالېستیک مسئولیت له مخې خپل کار تر سره نه کړي، دا په دې معنی چې نوموړی ژورنالېست خپل مسلک او دندې ته ژمنتیا نه لري او نشي کولی هغه څه انعکاس کړي، چې د ټولنې اړتیا ګڼل کېږي.

د ژورنالېزم عمده او اساسي موخې:

- په ټولنه کې مخاطبانو ته د نویو او تازه اطلاعاتو رسول.
- د ټولنې اصلاح او سمون
- تعلیم ورکول.
- تفریح برابرول او فکري رهبري ده.

چې د رسنیو مسئولین او ژورنالېستان پر دې مکلف دي چې د رسنیز مسئولیت له مخې یادو ټکو ته پاملرنه وکړي او په پوره مسلکي ډول د یادو موخو د لاسته راوړلو لپاره د بېلابېلو خپرونو په جوړولو سره د ملي ګټو په نظر کې نیولو سره فعالیت وکړي، افغاني ارزښتونو سره په ټکر او د رسنیو له قانون څخه خلاف عمل ونکړي.

نو د دغې مقالې عمده موخې هم همدا دي، چې هغه هېواد پال او د ملي ارزښتنو په پام کې نیوونکي ژورنالېستان که غواړي چې د خپلو رسنیو رسنیز فعالیتونه او د خپل مسلک بقا تضمین کړي، پکار ده چې نه یوازې د هېواد رسنیز قانون پلي کولو ته غاړه کېږدي، بلکې د افغانستان د ملي ارزښتونو، دیني مقدساتو، کلتور،

مذهب او نورو اړخونو ته پوره توجه وکړي.

**مسئولیت**

مسؤلیت یو عربي کلمه ده، چې د جوابګویي په معنی ده او هغه چا ته مسؤل ویل کېږي، چې دیو کار د سپارلو څخه وروسته پوښتنه ور څخه کېږي تعنې سوال ورته متو جه وي او نوموړی شخص د دغه کار مسئول ګڼل کېږي.

د همدغه اصل په نظر کې نیولو سره مسؤل یوازې انسان کیدای شي یا په بله وینا مسؤلیت یوازې انسان درلودلی شي . دا ځکه چې انسان د عقل او شعور له دواړو نعمتونو څخه برخمن موجود دی، چې دځمکې په سرنور موجودات بیا داسې ندي او هغه ټول دانسان دخدمت لپاره خلق شوي ،نو ځکه پاک خدای (ج) انسان ته اشرف المخلوقات ویلي دي.

مسؤلیت د انسانانو هغه فردي اوا جتماعي وجیبه ده، چې د اخلا قو ،احساساتو او قوا نینو پر بنیا د انسانان هغه ته ژمن پاتې کیدای شي او په پام کې نیول يې خپله دنده بولي.

(دداسې بدمرغه ملت په حال باید په زوره وژاړو چې د مسؤلیت او وظیفې پېژندنې ځای فساد، خیانت ، ځان منونکی، خودخوا او ځانګړي ګټې په نظر کې ونیسي، ځکه چې دطبیعت دقانون سره به داسې وطن او ملت د زوال او نابودی فرمان ډېر ژر لا سلیک کړي)

(۱۱۲:۱).

پر همدې اساس انسان خدا ي (ج) مسؤل پیدا کړی دی، تر څولـه خپلې دماغي قوې څخه د ټولنې په وړاندې ناوړه ګټه وانخلي.

دمخلوقاتو خالق دځمکې پر سرخلیفه ګان یعنې خپل ځای ناستي ټاکلي چې د انسانانو دلارښوونې مسئولیت پر غاړه لري، چې دا بیا د نورو انسانانو لپاره مسئول او په ټولنه کې تر ټولو لوی ټولنیز مسئولیت لري.

که څه هم پاک خدای (ج) انسان په خپلو اعمالو کې فعال او خود مختاره ګرځولی، مګر ځینې الهي محدودیتونه یې هم رامنځ ته کړي چې په قرآنکریم کې یې په واضح ډول یادونه شوي.

د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په اړه په قرآنکریم کې ډېر ایتونه راغلي دي، چې د دې مهمې دیني فریضې ارزښت او اهمیت څرګندوي.

اســـلام د دې لارښـــوونو پـــه اســـاس مســـلمانانو تـــه دنـــده ورکـــوي، چـــې د معـــروف او منکـــر پـــه تشخیصـــولو ســـره دمعروفـــو پـــه خپـــراوي او د منکراتـــو پـــه مخنیـــوي کـــې دهـــرې ممکنـــې وســـیلې لـــه لارې هڅـــه وکـــړي، ترڅـــو د داخلـــي او خـــارجي انحرفـــاتو پـــر وړانـــدې د اســـلامي نظـــام ســـلامتیا تضـــمین کـــړي، چـــې دا پـــه خپلـــه د بیـــان ازادي اصـــل لازمـــوي او څرګنـــدوي چـــې د بیـــان ازادي د قـــرآن او اســـلام لـــه نظـــره د انســـانانو حـــق جـــوړېږي او د بیـــان لـــه ازادۍ پرتـــه پـــر دینـــي متنونـــو او پـــه ځـــانګړې ډول د سیاســـي او ټـــولنیزو مســـایلو پـــه قلمـــرو کـــې د دغـــه ډول دنـــدو ترســـره کـــول، لـــه رســـنیو پرتـــه امکـــان نلـــري، چې ژبه او قلم یې مهمه برخه جوړوي.

نـــو ځکـــه پـــه ډېـــرو حـــالتونو کـــې انســـان خپـــل خـــالق تـــه مســـئول او ځـــواب ورکـــونکی دی، چـــې نـــو مـــوږی مســـئولیت د انســـان لپـــاره د هغـــه د عقـــل او شـــعور پـــر مبنـــی ور کـــړ شـــوی دی، نـــو ځکـــه ویلـــی شـــو چـــې پـــه ټولنـــه کـــې د ټـــولـــو مـــو جـــو داتـــو پـــه مـــنځ کـــې یـــوازځې انســـان مســـئولیت لـــري او نـــور مـــو جـــو دات پـــه هـــېڅ وجـــه دهـــېڅ کـــار پـــر وړانـــدې مســـئول نـــه ګڼـــل کېـــږي، نـــو لـــه همدغـــه ځایـــه ده، چې مسئولیت له نظره په دوه برخو وېشل کېږي:

**لومړی - ټولنیز یا اخلا قي مسئولیت**

**دویم : وظیفوي مسئولیت**

نـــو پـــر همـــدې لحـــاظ دپـــو رتنـــي تحلیـــل پـــه پـــام کـــې نیـــولـــو ســـره مســـؤلیت تعـــر یفـــولی شـو.

**ټولنیز یا اخلاقي مسئولیت:**

د ژورنالېزم اخلاق هغه ژورنالېستي معیارونه دي، چې د یو شي د ښه یا خراب، سم یا ناسم، مسئول او غیرمسئول ارزښتونه ټاکي. دغه ژورنالېستي معیار ته د ژورنالېزم ارزښتونه (Canons of Journalism) هم وایي. دا مسلکي ارزښتونه د ژورنالېست دندې، صلاحیتونه او مسئولیتونه هم ټاکي، لیکن هغه دندې او مسئولیتونه کوم قانوني جواز نلري، بلکې ژورنالېست د خپلې اخلاقي دندې په ګڼلو سره د هغو پیروي کوي. ژورنالېستي اخلاق د ژورنالېستانو د دندو او مسئولیتونو د ټاکلو تر څنګ د رسندویه وسیلو د معیار او کردار اندازه هم ټاکي. (۱۸-۲:۱۷).

د ژورنالېزم دامعیار او ارزښت په ټوله نړۍ کې تقریباً یو ډول دی. جوزف پلټرز (Joseph Pulitzer) د ژورنالېستي ارزښتونو د بیان شوې خوښې او سمون لپاره تل په جنګ کولو ټینګار کوي. د نوموړي په اند "بې انصافي او ناانډولي کله هم مه زغمئ، تل دټولو ډلو د جذبو خیال وساتئ. کله هم دکوم ګوند د

دریځ ملاتړ مه کوئ، دخلکو د حقونو غصبوونکو او د ناوړه ګټې اخیستونکو لوړو طبقو مخالفت وکړئ.
لــه بېوزلــو ســره مرســته وکــړئ، تــل ولســي ســوکالۍ تــه خپــل ځــان وقــف کــړئ، د حــق ملــه اوســئ او پــر ناســمو خبــرو د نیــوکې پــر مهــال لــه هیڅــا او هــیڅ لــوري مــه ویرېــږئ ،د دغو په رڼا کې د ژورنالېزم ارزښتونه داسې بیانېدلی شي، چې ښایي ژورنالیزم:

١ - ناپېیلی او له تعصب څخه خوندي او پاک وي.

٢ - منصفانه او جایز وي.

٣ - پر حقایقو ولاړ وي.

۴ - مسئول او له خپلو موخو سره مخلص وي.

۵ -ښایسته، پتمن او مهذب وي.

۶ -ازاد وي.

**وظیفوي مسئولیت**

پــه ژورنــالېزم کــې لــومړنی وظیفــوي او وجــداني مســؤولیت د قلــم عفــت ســاتل دي، چــې پــه دې اړه د انګلــیس د ســلطانتي مطبوعــاتو د مطالعــاتو کمیســیون د ژونالســتانو د وظیفــوي مســئولیت د احســاس پــه ارتبــاط زیــاتوي او وایــي چــې ژورنالېســتان بایــد لکــه روغتیــايي ډاکټــران او حقــوق دانــان د اخلاقــي او حرفــوي مســئولیت درلــودونکي وي او د مســلکي خــدماتو تــر شــاه د درانــده مســئولیت احســاس وکــړي، داســې کارونــه شــته چې هېڅکله یې څوک د مادیاتو لپاره سرته نه رسوي.

همدارنګــه رســنۍ چــې د خبرولــو او اګــاه کولــو رســالت پــه غــاړه لــري، بایــد داســې کارونــه ســرته ورســوي، چــې لــه هغــو څخــه دشخصــي مادیــاتو د لاســته راوړنــې طمــع نــه وي، ژورنالېســت بایــد پــه ټولنــه کــې د بــې طرفــۍ اصــل مراعــات او ځــان بــې پــرې کــړي او د خپــل مســئولیت پــر اســاس خپلــه دنــده مختــه یوســي او خپــل شخصــیت لــوړ کــړي، ترڅنــګ یــې بایــد د بــې طرفــۍ اصــل مراعــات کــړي، ځکــه چــې د بــې طرفــۍ اصــل د ژورنــالېزم د لســګونو اساســي او بنســټیزو معیــارونو څخــه یــو معیــار دی، چــې ژورنالېست د یاد معیار په رعایت کولو مکلف ګڼل شوی دی.(۳: ۶۳).

یــو ژورنالېســت تــه تــر ټولــو ضــروري خبــره داده چــې دهیــواد نافــذه قوانینــو تــه پــه پــوره احترام وګوري او د ټولنې اخلاقي اصولو ته ژمن پاتې شي.

**د ژورنالېزم پېژندنه**

په دې اړه د پوهانو ترمینځ د نظر اختلاف موجود دی. بېلابېلو پوهانو دغې پوښتنې ته بېلابېل ځوابونه ورکړي دي، چا ورته یو او چا ورته بل تعریف غوره کړی دی، خو د هر چا تعریف پر خپل ځای سم بلل شوی، که څه هم د ژورنالېزم کلمه اوس په ټولو ژبو کې یوه منل شوې کلمه ده او هم په همدغه بڼه کارېږي، خو بیا هم نور کلمات کارول شوي.

په عربي ژبه کې د ژورنالېزم لپاره د صحافت کلمه چې له صحف څخه اخیستل شوې، کارول کېږي. په لومړنیو وختونو کې د محض، صحیفه او صحایف اصطلاحګانې د پاکو او سپېڅلو لیکنو لپاره ځانګړې شوې وې، چا به چې سپېڅلې لیکنې کولې، صحافي بلل کېده. دغه کلمه د الله (ج) استازو ته د رالېږل شویو احکامو لپاره ډېره کارول شوې ده، وروسته بیا علمي، ادبي او فلسفي لیکنې هم د صحایفو په ډله کې و شمېرل شوې .(۲:۴).

په انګرېزي ژبه کې د صحافت لپاره مترادف ( Journalism ) دی، دغه کلمه له ( Journal ) څخه اخېستل شوې، چې معنی یې د ورځنې کار لیکنیزې کتابچې او یا روزنامچې ته ویل کېږي، خو کله چې د چاپ کار پیل شو، مجلې او ورځپاڼې مینځته راغلې، نو دغه اصطلاح بیا د مجلو، لیکنو، ترتیب او سمون لپاره وکارول شوه. د راډیو، ټلویزیون او انټرنېټي خبري سایټونو (ګورتپانو) له رامینځته کېدو وروسته اوس د مجلو، ورځپانو، راډیوګانو، ټلویزیونونو او ویبپاڼو سره اړوندې چارې او ان د فکر او بیان ټول صورتونه د ژورنالېزم په دایره کې شامل دي.

د ژورنالېزم یو کارپوه ایف فرینډز باند وایي چې، د خبرونو راټولول او پر خبرونو تبصرې او ولس ته یې پر وخت رسول، ژورنالېزم دی. یو بل کارپوه وایي، چې ژورنالېزم د خلکو خبرول، خلکو ته سمه لارښوونه او د خلکو قیادت دی. ځینې خلک بیا په بې پرې ډول د پېښو منعکس کولو ته ژورنالېزم وایي.

د یادولو وړ ده چې لا تر اوسه په ټوله نړۍ کې په دومره زور سره بل علم نه دی لیدل شوی، له همدې امله ده چې د ارتباطاتو علم د یو بااعتباره او اړین علم په توګه په نړۍ کې وپېژندل شو او په پوهنتونونو کې یې د یو ځانګړي ځوان علم په توګه ورته ځای ورکړ، چې دا مهال ډېر زیات خوښوونکي لري او پدې هکله د نړۍ لوی عالم (روزولت) وایي چې: (د شلمې پیړۍ د تمدن بنسټ کتاب او مطبوعات

دي). ( ۵: ۱۷۷ ).

نـو د همــدې ضــرورت پــر اســاس لــومړنۍ خبــري اژانــس چــالز هــاواس پواســطه پــه کــال (۱۸۳۵)م کې تاسیس شو. (۶ : ۱۹ ).

ســن مــک برایــډ یــو بــین المللــي کمیســیون پــه وروســتي گــزارش کــې چــې د ارتباطــاتي مســایلو د مطــالعې پــه اړه جــوړ شــوی و، وایــي چــې: پــه کــال ( ۱۹۷۹ - ۱۹۷۸ ) م کــې تــر ســلو زیاتو هېوادونو ځانگړي ملي خبري اژانسونه درلودل .( ۷: ۲۲ ).

د یــادولو وړ ده چــې پــه نــړۍ کــې دامهــال یــو څــو مشــخص خبــري اژانســونه نړیــوال دي، چــې پــه پــر مختللــو وســایلو ســره حیرانــوونکي ژورنالېســتیک خدمتونــه ترســره کــوي. ددغــو اژانســونو لــه ډلــې: د فــرانس پــرس، اسوشــیتدپرس، رویتــر، تــاس او یونایتیــدپرس پــه نــوم اژانســونو یادونــه کــولی شــو، چــې د نــړۍ ټــول سیاســي ،اقتصــادي ،نظــامي او ټولنیزې چارې یې تر خپل کنترول لاندې راوستي او واکمني پرې کوي.

همدارنگــه کــه اساســي بحــث تــه راوگرځــو، نــو بایــد ووایــو چــې اخبــار د خبــر جمــع ده، چــې د ژورنــالېزم د علــم اساســي او مهمــه برخــه تشــکیلوي. دا نــوم د هغــو خبرنــامو لپــاره غــوره شــوي و، چــې د اســلام څخــه د مخــه د ایــران پاچاهــانو د هېــواد هــرې برخــې تــه د خبرونــو درســولو لپــاره ترتیبــول، ددې مقصــد د ترســره کولــو لپــاره بــه هغــوی پــه هرځای کې ټاکلي خبریالان درلودل، چې خبر لیکونکي به ورته ویل کېدل.

داضــرورت د پیغمبــر حضــرت محمــد (ص) پــه دوران کــې او تــر هغــه وروســته دخلفــاء راشــدینو پــه زمانــه کــې هــم محســوس شــوی دی، د اســلام پیغمبــر (ص) او اصــحابو کرامو به ځانونه له حالاتو څخه خبر ساتل.

حضــرت عمــر (رض) بــه د شــپې پلــی گرځیــده او ځــان بــه یــې د مســلمانانو لــه حالتــه خبــراوه، مفتــي شــفیع مرحــوم خپــل یــو مضــمون (ادب الاخبــار) کــې لیکلــي چــې پیغمبــر (ص) او اصــحابو بــه ځکــه ځــان د مســلمانانو لــه حــالاتو خبــراوه، چــې تــر خبرېــدو وروســته د مظلــوم مرســتې تــه ځــان ورســوي، دنــاروغ پوښــتنه وکــړي، کمزوریــو تــه دمرســتې لاس ورکــړي او محتــاجو خلکــو ســره دمــادي او روحــاني مرســتې پــه خــاطر خپلــې ذرایــع پــه کــار واچــوي او کــه چــا ســره یــې مــادي مرســتي وس نــه درلــوده، اقــلاً ددعــا په کولو سره ځان ورسره په غم کې شریک کړي.(۸: ۱۴).

**د ژورنالېزم تعریف**

لکــه څــه ډول چــې نــور تــولنیز علــوم هــم یــو تــولمنلی تعریــف نــه لــري، همدغســې ژورنــالېزم هــم کــوم تــولمنلی تعریــف نلــري، هــر یــو یــا هــر مســلکي یــې لــه خپلــه انــده پېژندنــه وړانــدې کــوي، څــوک یــې د رښــتیا او حقیقــت ویلــو مســلک ګڼــي او څــو ک یــې هم د پیغام رسولو، خپرونې، تفریح او بوختونو وسیله ګڼي.

دژونــالیزم مســلک پوهــانو او علمــاوو (د ژورنــالېزم مســلک پوهــانو د خپــل نظــر او تجربــې پــه رڼــا کــې) لــه مختلفــو اړخونــو ژورنــالېزم تعریــف کــړی، چــې دلتــه مودځوتعریفاتو یادونه کړو.

دکابــل پوهنتــون دژورنــالېزم پــوهنځي اســتاد ښــاغلي ډاکټــر محمــد هاشــم عصــمت الهــي دژورنــالېزم علــم داســې تعریــف کــړی: (ژورنــالېزم انګلیســي کلمــه ده، چــې معــادل یــې ورځپاڼــه لیکنــه بــولي او ورځپاڼــه لیکنــه لــه هغــې پروســې څخــه عبــارت ده چې اخبــار، اطلاعــات، عقایــد او افکــار راټولــوي او هغــه پــه هــره ممکنــه وســیله (لیکــل شــوې یــابرقي) بڼه چې وي، تولنې ته انتقالوي).

همدارنګــه دژونــالیزم یــو بــل تــن استادښــاغلی عزیزاحمــد فــانوس د ژورنــالېزم علــم داســې تعریفــوي :(ژورنــالېزم دنشــراتو هغــه سیســتم تــه وایــي، چــې پــه مــنظم او ډلییــز ډول خلکوتــه دخبررســولو ،تعلــیم ورکولــو او بوخــت ســاتلو لپــاره فعالیــت کــوي او ژورنالېســتي مطــالبو پــه نشــرولو کــې دســازمان داخلــي (رســنیز) اودســازمان څخــه پــه بهرني (اجتماعي اوسیاسي) عواملو رول لوبوي.)

لکــه څرنګــه مــو چــې مخکــې وویــل د ژورنــالېزم علــم علمــاوو او د نظــر خاونــدانو دخپــل لیــد ســره ســم تعریــف کــړی دی، زه د دغــې مقــالې دیــوه لیکــونکي پــه توګــه لــه دغــه خبري تعریف سره موافق نه یم .

دلیــل یــې دادی چــې پــه دغــه تعریــف کــې دســازمان داخلــي (رســنیز) اوســازمان بهرنــی(اجتمــاعي اوسیاســي) برخــو یادونــه شــوي یعنــې ژورنالېســتي یــا رســنیزه برخــه،اجتماعي اوسیاســي دوې بېلــې برخــې ښــودل شــوي، خــو پــه داســې حــال کــې چــې دننــې عصــر ژورنــالېزم او دا مســلک دومــره کــوچنی نــدی، بلکــې دومــره لــوی علــم ګڼــل شــوی، چــې دژونــد تــولې برخــې پــه خپلــه غېــږه کــې رانغــاړلی شــي ان دا چــې دطباعت،جغرافیې،صــنعت، اقتصــاد او تجــارت لــه برخــو ســره نږدېــوالی او د هغــوی پــه کار پوره تاثیر لري.

خــو پــه دې اړه زه د ژورنــالېزم د یــو اســتاد پــه توګــه یــو بــل تعریــف وړانــدې کــوم، ژورنــالېزم دپېښــو پــه بــاره کــي د معلومــاتو راټولولــو، څېړنــو، ارزولــو، شــنلو او پــه مســلکي ډول لیکلــو تــه وایــي. ژورنــالېزم هغــه پېښــې څېــړي او پــر هغــو موضــوعاتو خبــرې کــوي چــي نــوي او تــازه، پــه ورځنیــو پېښــو پــوري اړونــد، رښــتیا او د ټــولني د ټــولییزې روحیې یا دود او کلتور سره اړخ ولګولی شي.

همدارنګــه ژورنــالېزم یــو ټــولنیز مســئولیت دی، چــې واقعیتونــه راغبرګــوي او د پېښــو د ابــلاغ، تحلیــل او تفســیر چــارې پــرمخ وړي. خبریــالي حقیقــت پــه واقعــي او عینــي فضــا کــې څــاري. اصــولاً د خبریــالی دنــده هــم لــه ببلابېلــو لارو او ژورنالېســتیکو ژانرونــو او تکــلارو همدغــه حقیقــت تــه رســېدل دي. د حقــایقو پلټــل او راســپاړل، بــې پرېتــوب، روغتیــا او دقــت، د پېښــو د اړخونــو تــرمنځ انــډول ســاتل، چټکــه اطــلاع د ژورنالېســتی مهــم اصــول دي، چــې ژورنالېســتان یــې پــه پلــي کولــو مکلــف دي. دغــه راز مســلکي زده کــړې، د ژورنــالېزم پــر اصــولو پــو هېــدا او د لیکــوالی پــر تکــلارو لاســبری هــم د خبریــالانو لپــاره مهــم دي، ترڅــو د ژورنالېیســتیکو اصــولو او پرانســپونو د ننــه د ژورنــالېزم دنــده پــه ســمه توګه اجرا شوي وي.

**دژورنالېزم اهمیت او ارزښت**

پــدې کــې شــک نشــته چــې نننــی نــړۍ پــدې پرمختــګ ســره دخــط اوکتابــت نــه مخکــې تصــور کیــدای نشــوه، کــه چېــرې ژورنــالېزم دکمــزورو اوبېوزلــو غــږ نــه وای پورتــه کــړی، هیڅکلــه بــه حــق او باطــل نــه وای ســره جلاشــوي،نننی عــدالت او نظــم بــه پــه نــړۍ کــې هېڅکلــه نــه وای راغلــی اودقــانون پــه نامــه بــه چاڅــه شــی نــه پېژنــدل اوابتــدایي ژونــد وحشــت بــه هیڅکلــه نــه وی متوقــف شــوی، دظلمــت تیــاره پــرده بــه لاهــم پــه نــړۍ غوړېــدلې پــاتې وای، چــې دا ټــول بیــا د پنځلســمې پېــړۍ پــه تــرڅ کــې دژورنــالېزم دلمــر پــه راختــو ســره لــه مینځــه لاړل، خلکــو دخپــل ژوندانــه اساســي لاره وموندلــه، داســلام مقــدس دیــن علمــاوو پــه اســانی ســره دقــرآن عظــیم الشــان ســپېڅلي احکــام ددغــې وســیلې پواســطه دکفــر او الحــاد پــه وړانــدې وځلــول او خلکــو تــه یــې دګمراهــی څخــه درڼــا پــه لــور هــدایت ورکــړ او لکــه څرنګــه چــې اســلام تــل د حقــایقو او رښــتینولی او صــداقت پرکولــو او رامــنځ تــه کولــو ټینګــار کــړی دی او ژورنالېســتان یــې پــه دې مکلــف ګرځولي دي، چې د ژورنالېزم ټول اخلاقي اصول او اساسات په پام کې ونیسي.

همــدا وجــه وه چــې د انســاني ژونــد پــه ټولــو ډګرونــو کــې مطبوعــاتو د یــو اړیــن مشــاور

حیثیت غوره کړ، لکه چې ولټر دمطبوعاتو په هکله وایي :(هر حکومت چې ښه مطبوعات ولري، هغه بندیخانو ته ضرورت نلري.)

نوموړی زیا توي چې: (مطبوعات داسې ماشین دی چې پخپله نه ماتیږي، خو محصول یې دنوي کېدو او پرمختیا په لړکې دوروستیو شیانو، دناپوهۍ او ظلمونو خاورې ایرې کول دي.)

دنړۍ لوی عالم پوانکاره بیا مطبوعات دومره اړین بولي چې وایي :(مطبوعات د لرغوني تاریخ بنسټ دی، هیڅوک باید خپل تاریخ ګډوډ او شکمن نه کړي، هغه څواک چې دمطبوعاتو ازادي محدوده کوي، هغه دخپل هېواد تاریخ ته خیانت کوي.) دمطبوعاتو دارزښت لپاره په پای کې دومره باید ووایو، چې همدا به کافي وي چې جرسن یې وایي .(که له ما څخه پوښتنه وشي چې په هېوادکې دبې له ورځپاڼې حکومت وي؟ او که بې له حکومته ورځپاڼه؟ زه به هرومرو دویمه خبره غوره وګڼم .) (۹: ۱۷۵).

همداراز د ژورنالیزم ډاکټر ښاغلی محمد هاشم عصمت الهي دژورنالیزم ارزښت فوق العاده بولي او وایي چې: (انسان اطلاعاتو اومعلوماتو ته اړ دی او غواړي چې هر کله دحوادثو او واقعو څخه په چاپېریال کې باخبر وي او ژورنالیزم ددغه انساني ضرورت په تامینولو کې ټولنې سره کومک کوي او له بلې خوا ژورنالیزم په اطلاع ورکولو سره ټولنه هدایت او رهنمایي کوي، نوځکه باارزښته رول لري.) (۶۳:۱۰).

(دشپې په تیارو کې دلارې په کرلیچونو پوهېدل د دوست او دښمن پېژندلو او دتیارې په څادر کې دپټو خطرونو څخه ځان خبر ساتلو لپاره لکه چې دڅراغ رڼاته یې بنسټیز ضرورت دی، په همدې توګه د ژوند قافلې دښه سفر لپاره داسې وسیلو ته هم ضرورت شته، چې دهغوله مخې قافلې ته د شاوخوا حالاتو او پېښو په باب معلومات لاسته ورشي، چې پدې ورځو کې دانسان دغه ضرورت درفع کولو ذریعه یوازې ژورنالیزم اومطبوعات دي ): موږ د ژورنالیزم په مسئولیت وغږېدو، اوس ژورنالېست هم پېژنو، چې څوک دی؟ څه وظیفه او مسئولیت لري؟ (۱۱: ۱۳).

**ژورنالېست چاته وايي ؟**

ژورنالېست هغه چاته ویل کېږي، چې په ټوله نړۍ کې سخت، ستونزمن او له خطره ډک کار پرمخ بیایي، دخطر، سختۍ او ستونزمنوالی اساسي علتونه یې په

ډاګــه دي، هغــه داچې ظــالم پــه هــر زمــان او وخــت کــې ظــالم وي اوڅــوک چــې دظــالم څخه حق اخلي، نو خامخا دستونزو اوکړاونو سره مخ کېږي .

ژورنالېســت یــا خبریــال چــي پــه لوېدیځــه نــړۍ کــې ورتــه راپــورتر او خبــر جــوړونکی او خبــر څېړونکــی هــم وایــي، معلومــات راټولــوي، کیســې تیــاروي، پــه ورځپــاڼو، راډیــو او تېلویزیــون کــې خبرونــه وړانــدې کــوي او ولــس پــه ســیمه ییــزو، ملــي او نړیوالــو پېښــو خبــروي. د دې تــر څنــګ پــر ټولــو پېښــو تبصــرې کــوي، خلــک پــه ټــولیزو چــارو خبــروي او دوی دخپلــو نظرونــو څرګنــدولو تــه هڅــوي. خبریــال همدارنګــه د دولتــي کارمنــدانو کــړه وړه څــارې، د سیاســي او دولتــي کړیــو کــړه وړه او تصــمیمونه ملــت تــه پــه روانــه، ســاده او څرګنده ژبه ژباړي او د ملت غږ دولت ته رسوي.

یــو ژورنالېســت دیــو ملــت اســتازی، ان داچــې دبشــریت اســتازی ګڼــل کېــږي. کــه تــاریخ تــه ځیــر شــو، تاســې وګــورئ ژورنالېســتان د بشــریت د ضــمیر د اواز ویــونکي او د حــق غوښــتونکي او د مظلــوم د غــږ رســوونکي ډلــه ده، چــې داغوښــتنې دظــالمو، اســتبداد ګــرو او ټیکــه دارانــو تــه پــه هــیڅ ډول دزغملــو وړنــدي، همداســبب کېــږي چــې ژورنالېســتان ځــورول، رټــل او بنــدیخانو تــه لیــږل کېــږي او ان لاداچــې وژل کېــږي. ولــې ژورنالېستان دا زحمتونه ګالي؟ شپې ورځې تېروي او لوږې تندې زغمي!

دیــادولو وړده چــې لــه دغــو ټولــو ســتونزو ســره ســره دیوخــاص خونــد، عــزت، اجــر او ثــواب څخــه بــرخمن مســلک هــم دی، داځکــه چــې دانســان فطــرت خــالق همداســې خلــق کــړی چــې دمثبــت خبرلــه اورېــدو او لــه هغــه څخــه دخوښــېدو ترڅنــګ دمنفــي خبــر د اورېــدلو هڅــه هــم کــوي او غــواړي چــې دټــولنې اویــا بــل انســان پــه غــم هــم ځــان خبــر کــړي د هغــه پــه غــم وځــورېږي، چــې دا د انســان فطــري غوښــتنې دي چــې دانســان وجــدان پــرې خوشــحاله او خفــه کېــږي او دخپــل انســاني مســئولیت پــه رفــع کولــو ســره ارامتیــا تــر لاســه کــوي، لــدې څخــه څرګنــدېږي چــې یــواځېنی مســلک چــې دټــولنې دخلکــو پــه دواړو حــالاتو غــم او ښــادۍ کــې ورســره مــل وي، دژورنــالېزم مســلک یــا ژورنالېســتان دي، چې دغم په ورځو او شپو کې ټولنې سره ژاړي اوپه ښادۍ کې ورسره خاندي.

ځکــه ژورنالېســت دټــولنې دســترګو او غوږونــو مثــال لــري، د دولــت او ملــت تــر میــنځ دارتباطي پله پشان له دولت او ملت سره یو ځای دیو هدف لپاره کار کوي.

ژورنالېســت دملــت لپــاره کــار کــوي، دخلکــو تــر څنګــه درېــږي او د خلکــو (ملــت ) حــق لــه دولــت څخــه غــواړي، ترڅــو چــې حــق حقــدار تــه وســپاري او لــه ملــت څخــه د دولــت لپــاره

قانون ته دخلکو ژمن پاتې کېدل غواړي.

ژورنالېستان په ټولنه کې لکه دانسان په وجودکې دمضرمکروب وژونکې قوې په څېر عمل کوي، چې کله د وجود په کومه برخه کې مضره باکتریا پيداشي، هلته ورځي او هغه سرکوبوي، تر څو يې مخنيوی شوی وي اوانسان صحتمند پاتې شي.

دژورنالېزم متعبر استاد ښاغلی ډاکټر محمد هاشم عصمت الهي ژورنالېست داسې تعريفوي :(ژورنالېست هغه څوک دی، چې په فعاله او دايمي توګه په يوه رسنۍ کې کارکوي او دخبرونو، عقايدو او افکارو په راټولولو او دهغه په خپرولو کې فعاله برخه ولري او له دغه فعاليت څخه معاش لاسته راوړي.) (۱۲: ۸۸).

ښاغلي عزيز احمد فانوس بيا ژورنالېست داسې تعريف کړی :(ژورنالېست عبارت له پېيلي او ناپېيلي شخصيت څخه دی، چې دخبر ورکولو، تعليم، ترويج او د لارښوونې په موخه فعاليت کوي.) يا : (ژورنالېست هغه څوک دی، چې دمسلکي اساساتو او اصولو په درلودلو سره دخبر ورکولو وظيفه سرته رسوي اوهمدارنګه زمينه برابروي تر څو تبليغ کوونکي او رواجوونکي له نوموړو اطلاعاتو څخه په استفادې سره خپل ټول تبليغي اوترويجي کارونه سرته رسوي.)

**دژورنالېست څو ګونی رول**

پدې کې شک نشته چې ژورنالېزم ټولنې ته په هر اړخيزه سياسي، اقتصادي، کلتوري، ټولنيز او ان جغرافيايي، طبي، ښوونه او روزنه، هوايي چلند، ارتباطي لارې او بالاخره دنړۍ په سطحه د هر ډول ډيپلوماتيکو او ټولنيزو ارتباطاتو تحليل او د نړۍ څارنه کوي، دفاکټونو په پام کې نيولو سره راتلونکې تحليلوي، ترڅو دخپل هېواد ملي ګټې خوندي وساتي.

په همدې سبب ويلی شو چې دنړۍ څوان او انکشافي خو تر ټولو سخت اوپېچلی علم دی، چې هره لحظه دبدلون په حالت کې دی او ژورنالېستان بيا هغه څوک دي، چې د خپل ذهنيت، لياقت، دقت، وړتيا، ذکاوت او ديانت سره د ټولنې د حقه حقوقو څخه دفاع کوي.

ژورنالېست په ټولنه کې کټ مټ لکه دانسان په وجود کې دمدافع سيستم په څېر عمل کوي، کله که امراض دانسان دوجود په کومه برخه حمله وکړي، مدافع قوه ځان ورسوي او د مرض مخنيوی کوي.

ژورنالېســـت دټــولنې اســـتازی او د خلکـــو دحقوقـــو مـــدافع بلـــل کېـــږي، کـــه پـــه پـــوره دقـــت ســـره ورتـــه ځيـــر شـــو، نـــو پـــوه بـــه شـــو چـــې څـــومره تقـــدس، پـــاکي او حســـن نيـــت پـــه يـــوه واقعـــي زړه ســـواندي او مســـلکي ژورنالېســـت کـــې ليـــدل کېـــږي، چـــې د هـــر ډول فکـــر خاوند قناعت پرې کېدای شي.

پـــه همـــدې دليـــل ژورنالېســـت پـــه ټولنـــه کـــې څوګـــونی رول لـــري، دبېلګـــې پـــه توګـــه ژورنالېســـت پـــه ټولنـــه کـــې دمعلـــم رول لـــري، دټـــولنې روانـــي طبيـــب دی، پـــه ټولنـــه کـــې دمـــدبر سياســـي رهبـــر نقـــش لوبـــوي، پـــه ټولنـــه کـــې دخيانـــت او جنايـــت پـــر وړانـــدې ديـــو پـــوليس پـــه څېـــر فعاليـــت کـــوي، پـــه ټولنـــه کـــې د څـــارنوالانو پـــه څېـــر د هېـــواد پـــه رهبـــرۍ څارنـــه کـــوي، لنـــډه دا چـــې يـــو ژورنالېســـت پـــه ټولنـــه کـــې دهغـــې طبيـــب پـــه څيـــر دی، چـــې په خپلې يوې معاينې سره د زرګونو ټولنيزو ناروغانو معالجه کوي.

جفرســـن وايـــي : لکـــه څنګـــه چـــې دهـــرې غـــلا او ګنـــاهونو ســـريزه د خولـــو تـــړل او دچيغـــو مخنيـــوی دی، همـــدا ډول دهـــرظلم پيـــل کـــول دازادو فکرونـــو مخنيـــوی او دازادو مطبوعاتو بندول دي.

**دژورنالېست وظيفوي رسالت**

هـــر مســـلک پـــه ټولنـــه کـــې ځـــانګړې مســـئوليت لـــري، پـــر همـــدې اســـاس څرنګـــه چـــې ژورنـــالېزم يـــو مهـــم ټـــولنيز مســـلک دی، نـــو دژورنالېســـت تـــر ټولـــو مهمـــه وظيفـــوي برخـــه پيغـــام رســـونه ده، دلـــومړي ځـــل لپـــاره دغـــه مقدســـه دنـــده ( پيغـــام رســـونه ) هُـــد هُـــد مرغـــه تـــر ســـره کـــړې، چـــې حکايـــت يـــې پـــه قـــرآن عظـــيم الشـــان کـــې شـــوی دی، ترهغـــه را وروســـته دکـــوترو پـــه واســـطه لـــه يـــوې پاچـــاهۍ څخـــه و بلـــې پاچـــاهۍ تـــه راغلـــي، خلکـــو يـــواځې لـــه ځينـــو حيوانـــاتو څخـــه دترانســـپورتي اســـانتيا ګټـــه اخېســـته، نـــو ځکـــه بـــه يـــې کوترې دپيغام رسولو لپاره تربيه کولې.

خـــدای (ج) انســـان خپـــل ځـــای ناســـتی (خليفـــه )پـــه ځمکـــه کـــې تـــاکلی او پيغمبـــر حضـــرت محمـــد (ص) دخلکـــو درهبـــرۍ او لارښـــوونې لپـــاره را اســـتولی دی، خـــدای (ج) پـــه قـــرآن کـــريم کـــې فرمـــايي، ترجمـــه: و مـــا ارســـلناک الا رحمـــت اللعلمـــين ايـــت ( او نـــه مـــوږ استولی محمده (ص) مګر رحمت لپاره دعالميانو. ) ( ۱۰۷:۱۳ ).

اوس نـــو چـــې يـــو مســـلمان ژورنالېســـت ټـــولنې تـــه پيغـــام رســـوي، ټولنـــه رهبـــري کـــوي، نـــو لازمـــه ده چـــې د پيغمبـــر حضـــرت محمـــد مصـــطفی (ص) لاره تعقيـــب کـــړي او دټـــولنې لپاره رحمت وي.

زمــونږ پــه نظــر یــو ژورنالېســت دخــدای (ج) پــر وړانــدې درســالت او مســئولیت لــه مخــې تــر ټولــو درونــد پیټــی پــه اوږو لــري، داځکــه چــې د ژورنالېســت کــار ډلییــز او عــام دی او دټــولنې سرنوشـــت همـــدا ژورنالېســـتان ټـــاکي، اوس نـــو کـــه ټولنـــه دنېکمرغـــی اویـــا دبــدبختی پــه لــور بیــایي، مســئول بــه یــې ژورنالېســتان وي او پــاک خــداي (ج) بــه هــم لــه همدوی څخه پوښتنه کوي.

حفــیظ حفیفــي پاشــا وایــي :(د نــن ورځــې ښــه او ســمه روزنــه دپرونیــو ژورنالېســتانو دافکـــارو زېږنـــده ده.) همدارنګـــه پاشـــا د اســـلام او ژورنـــالېزم پـــه کتـــاب کـــې دنـــړۍ د نـــامتو عـــالم جیمـــز میـــل دغـــه قـــول نقـــل کـــړی، چـــې د ژورنالېســـتانو درســـالت پـــه اړه وایـــي: (کچېـــرې ژورنالېســـتان او لیکـــوالان پـــه رښـــتیا ســـره دکـــارګرو هوســـاینه غـــواړي، بایــد ډېــر پــام وکــړي چــې ددوی پــه مــاغزو کــې دبــې ځایــه غوښــتنو هیلــې را ژونــدۍ نــه کــړي، دوی ســره د یــو او بــل دحــق تــر پښــو لانــدې کولــو تــه ونــه هڅــوي، داســې شــیان ونــه لیکــي چــې دټــولنې پــه میــنځ کــې دشــر، فســاد او داخلاقــو دچټلولــو تخــم را زرغــون کــړي، کــه څــه هــم دده پــه لیکنــې سمدســتي او یــا وروســتۍ مــادي ګټــې هــم ولــري.) (۱۴: ۱۴).

زمــونږ پــه انــد کــه د هېــواد پــه هــر ګــوټ کــې مظلــوم دظــالم لخــوا ځــورول کېــږي او یــا د چــا حــق تــر پښــو لانــدې کېــږي، نــو ژورنالېســتان بــه یــې د چــپ پــاتې کېــدو پــه صــورت کــې دخدای (ج ) پر وړاندې ځواب وایي، چې هغه وخت به بیا دا ځواب ډېر سخت وي.

**دژورنالېزم ټولنیز مسئولیتونه**

څرنګه چې ژورنالېست د ټولنې غړی، استازی او ژبه بلل کېږي، نو پر همدې اساس د ټولنې ټولنیز مسئولیت پر غاړه لري، چې په شلمه پېړۍ کې د ټولنیز مسئولیت نظریه (Social Responsibility Theory)د ژورنالېزم ازادۍ تر مشهورېدلو وروسته د ژورنالېزم د ازادۍ مفهوم هم بدل شو. د ټولنیز مسئولیت نظریه د ( Hutchins Commission on Freedom of Press) رپورټ پربنسټ بیان شوی. دکمیسیون د رپورټ لومړنی ټوک ( یوه ازاده او مسئوله رسنۍ) ترسرلیک لاندې تر ټولو د مخه د ( ۱۹۴۷ )کال دمارچ په( ۲۷) خپور شو.( ۱۵: ۷).

د (University of Illinois Urbana) Communication College of پوهاند ډین تیوډر پیټرسن په ( ۱۹۵۶) م کال په خپل کتاب درسنیو څلور نظرېي (Four Theories Of Press)کې دټولنیز مسئولیت نظریه د ژورنالېزم د ازادۍ ډېره مهمه څرګندونه کړې. د پیټرسن په نظر د ټولنیز مسئولیت په نظریه کې مهم شی دادی، چې ازادي او د مسئولیت احساس سره لازم او ملزوم

دي او زموږ پر ژورنالېزم چې د حکومت ترسیوري لاندې دی اړینه ګرځي، چې په خپله همزولي(هم عصره) ټولنه کې خپل مسئولیتونه پوره کړي.(۱۶: ۷۸-۷۴).

همدې موضوع ته په پام سره يې (Hutchins Commission) دژورنالېستي معيار يوه نوې اجنډا وړاندې کړه، چې د ټولنيز مسئوليت دنظريې ملاترړی يې تاييد او وايي، حکومت ازادو رسنيو ته يوازې اجازه نه، بلکې وده هم ورکړه، په ټولنيز ډول د مسئوليت نظريه په اصل کې د خپل ضمير پر وړاندې د ځواب ورکولو پر بنسټ ولاړه ده. خو بيا هم بېلابېلو خلکو د هغې مخالف توجهات او تعبيرونه وړاندې کړي، له دې امله د هغې کوم واحد تعريف نشي کيدلی پخپله پيټرسن د دې کوښښ نه دی کړی، چې د ټولنيز مسئوليت نظريه د ژورنالېستي اخلاقو معيار جوړ کړي. د هغه له نظره "دايوازې او يوازې نظريه ده، ليکن دا له دې پلوه مهمه ده، چې دا هغه لاره تجويز کوي په کومه کې چې د ژورنالېزم د ازادۍ لاره پوښلې ده." د (Four Theories Of Press) تر خپلولو (۲۵ ) کاله وروسته د ( ۱۹۸۱ )م کال په سپتمبر کې پيټرسن په يوه مرکه کې وويل، چې هغه کله هم د خپل ټولنيز مسئوليت دباب (برخې) وکالت نه دی کړی. سره له دې چې نوموړي څو ځله د داسې کولو اراده کړې. ليکن داباب په ژورنالېزم ډېر ښه اغېز کوونکی دی او هغه د ټولنيز مسئوليت نظريه ډېره مشهوره کړه. ځکه ښايي کله د هغه پربنسټ کوم اخلاقي قانون جوړ شي. د پيټرسن يو ملګري(Clifford G. Christian ) په دې خبره خواشيني وښوده، چې د ا نظريه ديومناسب اخلاقي معيار په پيداکولو کې پاتې راغله. د پوهې يو بل ماهر (Jonn I.. Hultenge of Stanford University) د ټولنيز مسئوليت نظريه دغو رسندويه وسيلو ته په نږدې راتلونکې کې د عمل وړ يوازېنۍ پاتې کېدونکې نظريه وګڼله. ليکن له دې نظريې څخه د اخلاقي معيار هېڅ يو هم په منطقي توګه له پامه نشي غورځولی. د دې دليل په راوړلو سره "Hultenge"ليکي په ننۍ پېر کې چې دابلاغ کوم قوانين او معيار ټاکلی شو، پر هغو ډېرې نظريې اغېز لري.( ۱۷: ۷۹-۷۸).

ديـــادولو وړده چـــې دژورنـــالېزم اجتمـــاعي مســـئوليت کـــټ مـــټ لکـــه داجتمـــاعي اخلاقـــو پـــه څېـــر ثابـــت اومطلـــق نـــدی يعنـــې پـــه هرځـــای کـــې اخـــلاق متفـــاوت لـــه بـــل ځـــای څخـــه دي، ان تردې چې ديوې ولسوالۍ په بېلو برخو کې اخلاق په بيل ډول تعبيريږي.

همـــدغې نقطـــې تـــه ايرانـــي عـــالم پـــه (روزنامـــه نګـــاري نـــوين ) کتـــاب کـــې داســـې اشـــاره کـــړې، ژبـــاړه :(دورځپانـــه ليکنـــې ټـــولنيز رســـالت اومســـئوليت مقـــام پـــه هـــره ټولنـــه کـــې دهغـــو ټولنـــو پـــه سياســـي، اقتصـــادي او فرهنګـــي جوړښـــتونو پـــورې اړه لـــري (فـــرق کـــوي )اوهغـــه رســـالت چـــې دورځپـــانې ليکنـــې لپـــاره يـــې تصـــور کېږيـــږي، ورتـــوالی او توپيرونـــه لـــري ،هغـــه کـــه دهرچالـــه نظـــره وي څـــه دمخـــاطبينو لـــه نظـــره څـــه د دولتـــو نـــو اويـــا

دمطبوعاتودکارکونکو لخواچې ورتوالی اوتوپیر حتمي دی.

پــه ایــران کــې د ورځپــاڼې لیکنــې اجتمــاعي مســئولیت او رســالت پــر ســر بحثونــه او اختلافــات دمطبوعــاتو لــومړي قــانون پــه نشــرېدو ســره پــه (۱۲۸۷) هـــ ش کــال اولــه هغــې نــه ۷۷ کالــه وروســته کلــه چــې دمطبوعــاتو وروســتی قــانون تصــویب شــو اوپــه (۱۳٦٤) هـ ش کال اسلامي شوری هم پدې اړه کومې پرېکړې ته ونه رسیده.

پــه ایــران کــې نــن هــم لــه خلکــو ســره داســوال شــته چــې پــه ټــولنیز ډول دمطبوعــاتو رســالت اوپــه خــاص ډول دورځپــاڼې لیکنــې رســالت او ټــولنیز مســئولیت بایــد څــه وي؟ او زمــونږ دهېــواد ژورنــالېزم بایــد څرنگــه وي؟ اوڅــه خصوصــیات بایــد ولــري؟ (۱۸: ۴۲۱).

پــه یــو ټولنــه کــې صــالح ،دردمــن او عملــي ژورنالېســت د ژورنالېســتکې کــار پرمهــال دټــولنې حالــت او وضــعیت تــه پــه هــر اړخیــزه کتنــې ســره دپــام وړ تــوکي برابــروي، رښــتنی ژورنالېســت پــه هرحالــت کــې دټــولنې اړتیــا درک کــولی شــي، حــق او باطــل پېژنــي او یــا هڅــه کــوي چــې ویــې پېژنــي، دهېــواد ملــي گټــو لپــاره لــه هېڅــا اوهــېڅ شــي څخــه ویــره نــه کــوي او یــو مســلکي، علمــي اوزړه ســواندی ژورنالېســت بایــد د دغــو لانــدې اصــولو مسئولیت ولري:

- **نــاپیلتوب :** رســنی بایــد خپلــواکې اومســئولې وي، دهېــواد دمطبوعــاتو اواساســي قــانون اساساتو سره برابرې اومالي منبع یې په ډاگه وي.
- **عــدالت :**رســنی بایــد لــه هــر رازتبعــیض او تــوپیر څخــه پرتــه دالهــي حکــم پــر بنــا اوصــداقت ســره څرگنــدونې وکــړي، څکــه چــې لــوی خــدای (ج) پــدې هکلــه فرمــایي: ترجمــه (کلــه چــې تاســې حــاکم شــوئ پــه مــنځ دخلکــو کــې، نــوحکم وکــړئ پــه عــدالت سره .)
- **رښــتینولي یاصــداقت :** رښــتینولي د ژورنــالېزم پــه مســلک کــې دیــو مهــم اصــل پــه توگــه دژورنالېســتانو تــر ټولــو لــوی مســئولیت اورســالت دی، ژورنالېســت دټــولنې اســتازی دی، کــه چېــرې رښــتینولي پــه پــام کــې ونــه نیســي ډېــر ژر بــه نــه تنهــا خپــل بلکــې داړونــدې رسنی اعتبار هم له لاسه ور کړي.
- **مقدســات، عنعنــات اوخصوصــي حــریم تــه درنــاوی :** داهغــه څــه دي چــې د وجــدان لــه قانونــه پرتــه پــه اساســي قــانون، دمطبوعــاتو قــانون او دجــزا پــه قــانون کــې پــرې ټینگــار شــوی او پــه صــراحت ســره یــې دخونــدي ســاتلو لپــاره یادونــه شــوي ده، چــې یــو

ژورنالېست ته په لږه بې غورۍ سره دمصیبت لوی جنجال جوړولی شي.

همدارنګــه یــو سلســله وجــداني ، لایحــوي اومقرراتــي نــور مســئولیتونه هــم شــته، چــې ژورنالســتان یــې بایــد پــه کلکــه ننګــه وکــړي، هغــه لکــه وطــن دوســتي، ملــي ګټــو ســاتل، عامه پوهاوی اوداسې نور ملي ارزښتونه ......

علمــاء او ژورنالېســتان د ژورنــالېزم دکــار اســاس او ژورنالېســتي اصــول پــه ټولــو ژورنالېسـتي ژانرونــو کــې پــه تېــره بیــا د خبـر او راپــور پــه برخــه کــې دا لانــدې څــو مــورده اړین بولي :

**(حقیقــت ،تــوازن، بــې طرفـي او ژوروالـی، وضــاحت، لېوالتیــا، پــه وخــت، ثقــه والـی یــا نقل قول ).**( ۱۹: ۲۷).

**حقیقت** : واقعي شتوالی ،درستي اوصداقت بیانوي .

**تــوازن** : دبــېلا بېلــو برخــو او خــواوو تــرمینځ د برابربښــت اوعــدالت پــه پــام کــې نیــول ښــيي، کــه څــه هــم ځینې خلــک تــوازن، مســاوات پــه نامــه یــادوي، چــې دا بالکـل غلطــه ده، ځکــه چــې مســاوات پــدې ځــای کــې دکمونســتي رژیــم شــعار ښــکاروي، چــې مــونږ دعدالت معنی ترې اخلو.

**بــې طرفــي** : دا د ژورنالېســت نــاپېلتوب اوازادي پــه ګوتــه کــوي، چــې دژورنالېســت شخصــي نظــر د موضــوع پــه اړه ردوي او مــداخلې تــه اجــازه نــه ورکــوي، خــو دیــادولو وړده چــې نومــوړی اصــل پــه ژورنــالېزم کــې صــدق نکــوي، ځکــه چــې ژورنالېســت هــم انســان دی، دحــق اوباطــل څخــه متــاثره کېــږي، اوس نوکــه دحــق پلــوي هــم وکــړي، بیــا هــم طــرف واقــع شــو پــه همــدې دلیــل زمالــه نظــره بــې طرفي پــه مطلــق ډول نشــته اوپــه نسبي ډول کېدای شي .

**دقــت** : منظــور لــه دقــت څخــه ژوروالــی دی، تــر څــو دهــر راز سیاســي، اقتصــادي او ټولنیزو مسایلو کې په پوره ژوروالي غور وکړل شي، تر څو دموضوع اصل پیداشي.

**وضــاحت** : دځرګنــدوالي پــه معنــی دی، چــې ټاکــل شــوې موضــوع بایــد څرګنــده، واضحه او په ډاګه هدف ورسوي .

**لېوالتیا** : ژورنالېستي توکي باید رښکونکي، په زړه پورې او دټولنې ضرورت وي .

**پــه وخــت** : دژورنالېســتي توکــو یولــه اساســي خواصــو څخــه داده، چــې بایــد پــه ســرعت خلکو ته ورسېږي، تر څو زاړه او بې مفهومه نشي .

**نقــل قــول** : دلا اعتبــار او اعتمــاد لپــاره ثقــه والــی لازم دی، چــې لــه ګنــو امکــاني منــابعو

څخه نقل قول وشي .

**ژورنالېزم اوسر ښندنه**

ژورنالېزم په ټوله نړۍ کې يو سخت اوله خطرونو ډکه مسلک پېژندل شوی دی، هرکال په نړۍ کې په لسګونو تنه ژورنالېستان دخپلو دندو د سرته رسولو پرمهال وژل، بنديان، وهل او رټل کېږي، کوم چې په وروسته پاتې درېيمه نړۍ کې ژوند کوي، دبې امنۍ ،جنګ چپاول، بې قانونۍ له وجې ژورنالېستانو سره دا ډول چلند کوي او هغه هېوادونه چې دلومړۍ نړۍ په کتار کې دي دمافيا او بين المللي ډاکوګانو دسياسي او اقتصادي منافعو دساتلو لپاره ژورنالېستان وژني، تحديدوي اوير غمل يې نيسي.

پوهان اوشنونکي وايي چې ،جګړه ،تاوتريخوالی ،دننه باورفضاء هغه څه دي چې دخبريالانو دوژل کېدو لارې چارې برابروي .

دخبريالانو دژغورنې اداري (CPJ ) دراپور له مخې تېرکال عراق د زياتو خبريالانو هديره ګرځېدلې وه ،اسيايي هېوادونه هم هر کال دخبريالانو لوی وژنځايو نه په ګوته کوي.

که له افغانستان څخه تېر شو، مرکزي اسيا هېوادونه: (روسيه، چين، پاکستان، شمالي کوريا او ايران) هم خبريالانو سره ښه چلند نه لري.

په تېرو دوو لسيزو کې په سلګونو تنه خبريالان په مختلفو هېوادونو کې وژل شوي دي، چې د افغانستان ژورنالېستان هم په دغه وژل شويو کسانو کې شامل دي.

افغانستان چې په تېرو څو لسيزو کې دتاوتريخوالي په منګلو کې ښکېل و، خو سره له ټولو ننګونو بيا هم د ژورنالېزم په ډګر کې يې بې ساری پرمختګ وکړ، اما دا پرمختګ د جمهوريت په سقوط سره مخ په ځوړند روان دی. ( ۲۰:۱۲-۱۱).

داپداسې حال کې تر سره کېږي، چې اوس مهال ټوله نړۍ او ټول خلک پدې پوهېدلي چې دمطبوعاتو او ژورنالېزم له فعاليتونو پرته نړۍ نيمګړې اوپه تپه درېږي.

**مناقشه**

د ژورنالستانو سر وکار د ټولنې له وګړو سره وي او تل په دې هڅه کې وي چې په ټولنه کې شته ناخوالې راوسپړي او خپلو مخاطبينو ته يې ورسوي، د دې لپاره چې دغه چارې په ښه ډول سره پرمخ يوسي، نو لومړۍ بايد دوی خپله هغه څه پلي

کړي چې نور ترې منع کوي.

دغــه مقالــه چــې د( ژورنالېســت او ژورنالېســيتک مســئوليت ) تــر عنــوان لانــدې ليکــل شــوي هڅــه شــوي چــې ترڅــو د ژورنــاليزم مســئوليت او پــه تولنــه کــې دهغــې رول او کــردار پــه ډګــه کــړي. پــه تولنــه کــې د يــوې تــولنې اخــلاق د هغــې تــولنې لــه فرهنــګ ســره تړلــې اړيکــي لــري او همــدا علــت دی چــې اخلاقــي ارزښــتونه پــه بېلابېلــو ټولنــو کــې لــوی تــوپير لــري، خــو پــه ژورنــاليزم کــې ډېــر داســې اخلاقــي نورمونــه شــته چــې د مســئوليت لــه مخــې پــه اکثــرو ټولنــو کــې ســره يــو شــان دي، لکــه د حقيقــت پلټنــه، پــه خبــر کــې تــوازن، خصوصــي حــريم تــه درنــاوی، د رشــوت نــه اخيســتل، لــه تبعــيض او تعصــب څخــه لــرې والی او په لسګونه نور داسې اصول دي چې په نړيواله کچه منل شوي دي.

ژورنالســت بايــد بــې لــه دې څخــه چــې کــوم فشــار پــرې راوړل شــي، پــه خپلــو چــارو کــې اخلاقــي مــوازين مراعــات کــړي. د حقيقــت پــه پلټنــه کــې د ژورناليســت تنبلــي، د منبــع ســلطه، د وظيفــوي امنيــت نــه شــتون، لــه مســايلو ســره ســليقوي چلنــد او د ملــي ګټــو پــر ځــای شخصــي ګټــو تــه لومړيتــوب ورکــول هغــه عناصــر دي چــې پــه نــړۍ کــې د اخلاقــي ستونزو د رامنځ ته کېدو لامل کېږي.

کــه څــه هــم پــه وروســتيو کلونــو کــې افغانســتان د رســنيو پــه برخــه کــې لــوی پرمختــګ کــړی، پــر تــولنيزو رســنيو ســربېره پــه هېــواد کــې پــه لســګونو چــاپي، انځــوريزې او غږيــزې رســنۍ فعاليــت کــوي، خــو دا پرمختــګ پــه مســلکي برخــه کــې هغســې چــې تمــه وه ونــه شــو. زمــوږ ځينــې ژورنالســتان نيمــه ورځ د رســنيو کــارکوونکي او نيمــه ورځ د چــارواکو او زورواکــو د ويانــدويانو نقــش لوبولــو او لــه مســايلو ســره عقــدوي، سياســي، او تعصــبي چلنــد کولــو چــې دا تــول مســايل د ژورنــاليزم د اصــولو او اخلاقــو خــلاف عمــل بلل کيږي.

**پايله**

ددې څېړنيــزې مقــالې پــه تحقيــق ســره دې پــايلې تــه رســيږو، چــې ژورنــالېزم اومطبوعــات دنــړۍ او ژونــد لــه پيــل ســره جوخــت لــه انســان ســره لکــه د سرســيوری نــه بېلېــدونکی امــر دی. لکــه چــې د يــوه کــره خبــر خــورا مهمــه ځانګړنــه دا وي، چــې پــر حقــايقو ولاړاو د پېښــې عينــي انځــورګري وکــړي ،د اســلام مبــارک ديــن هــم د خبــر د صــداقت او رښــتياوالي پــه نورمونــو بانــدې ډېــر ټينګــار کــوي، د هغــو ځانګړتيــاوو څخــه چــې ژورنالېســت بايــد ورتــه د کــار پــه بهيــر کــې پاملرنــه وکــړي، رښــتيا او د واقعيتونــو ويــل او د

خپل مسئولیت په سم ډول ادا کول دي، مونږ د دغې مقالې په لیکلو سره دې پایلې ته رسېږو، چې یو ژورنالېست باید پښنه په هماغه ډول چې پښنه شوې وي، خپره کړي او په دې توگه د خپلې ټولنې پر وړاندې خپل ژورنالېستک مسئولیت په سمه توگه ادا کړي، نه په هغه ډول چې دده زړه یې غواړي، سره له دې چې ډېرو رسنیو ,په ځانگړې توگه لوېدیزو هغو رسنیو د بې پربوالي له تکي په مسلکي ډول ناوړه گټه پورته کړې، د خبر د ترلاسه کولو او خپرولو پر مهال باید د سیاسي،شخصي او ټولنیزو گټو او دغه راز د کینې،مینې او احساساتو له کارولو ډډه وشي، نا پلوی ته نه ځیرنه ددې لامل کېږي، چې اورېدونکي او لیدونکي خپل باور پر پام وړ رسنۍ له لاسه ورکړي او په دې توگه رسنۍ له ماتې سره مخ شي،کلاسیکو دورو کې چې (اخبار)د ابلاغي وسایلو خورا مهم مرکز و او خلکو به لا هاغه مهال چې نور بریښنایي او طباعتي ماشینونه منځ ته نه وو راغلي، په خپله مروجه بڼه له اخباره استفاده کوله او د وخت پاچایانو به د ولسونو د خبرولو لپاره ورته مختلفې وسیلې کارولې،چې بالاخره ژورنالېزم په نړۍ کې له ډېرو سیاسي ستونزو سره مخ کېدو، وروسته نني پړاوته را ورسېده.

په ټوله کې دنړۍ ژورنالېزم او ارتباط درې پړاوونه وهلي دي، چې اول پړاویې دانسان دمغاربې ژوند پړاو و، چې دا ډېره ابتدايي مرحله وه، دویم پړاویې دپنځلسمې پېړۍ چې دمطبوعاتو او ژورنالېزم دظهور او مبارزې پړاو و، چې تر نولسمې پېړۍ رارسېږي.

درېیم او وروستی پړاو یې دنولسمې پېړۍ څخه تر اوس مهاله دی، چې پدې دوره کې ژورنالېزم دومره پرمختگ وکړ، چې دمطبوعاتو عصر وبلل شو.

پدې دوره کې مطبوعات خپل وروستي اوحیرانونکي پړاوته ورسېدل. کمپیوټر ،انترنیټ ، فکس او تکنالوژي دژورنالېزم خدمت ته دنړۍ هر کونج ته ور ورسېده ،همدلامل و، چې ژورنالېزم دزورواکو له اسارت څخه راووت او دبیان ازادي دامرانه او دیکتاتورانه نظامونو څخه خلاص او د ډیموکراتیک رژیم او دازادو مطبوعاتي نظامونو ځای یې خپل کړ.

ومن الله توفیق

**ماخذونه**


1. ژورې خبرې، دانش خپرندویه ټولنه ک ۱۳۷۵ ص ۱۱۲.
2. "Code of conduct for working journalist by AT chaudhri "PP 17. 18.
3. نظام مطبوعات افغانستان ،داکټر محمد ها شم عصمت الهي ،تهران :ک ۱۳۸۲ ص۶۳.
4. د اوسني ژورنالېزم نچوړ، شېرشاه همدرد، ګودر خپرندویه ټولنه ، ک ۱۳۹۵ ص ۲.
5. ژورې خبرې ،میرزاعلم حمیدي ،دانش خپرندویه ټولنه، ک ۱۳۷۵ ص۱۷۷.
6. خبرګزاري جهان،ګیتاعلي ابادي وعباس اسدي ،وزارت فرهنګي وارشاد اسلامي ایران ک ۱۳۸۱ ص۱۹.
7. خبرګزاري جهان،ګیتاعلي ابادي ،عباس اسدي ،وزارت فرهنګي وارشاد اسلامي ایران :ک۱۳۸۱ ص۲۲ .
8. ژورې خبرې ،میرزاعلم حمیدي ،دانش خپرندیه ټولنه ،ک ۱۳۷۵ ص۱۷۵ .
9. عصمت الهي ،محمد هاشم ، مطبوعات افغانستان ،تهران :سال ۱۳۸۲ ص۶۳.
10. اسلام اوژورنالېزم ،سیدغبید الاسلام زیني ، لاهور ،ک۱۳۷۵ ص۱۳.
11. عصمت الهي ،محمد هاشم ، مطبوعات افغانستان ،تهران :سال ۱۳۸۲ ص۸۸.
12. سورت الانبیاء ، قران کریم ، اولسمه سپاره، ایات ۱۰۷
13. زیني ،سیدعبیدالاسلام ،اسلام اوژورنالېزم ،پاکستان لاهور : کال ۱۳۷۵ ص ۱٤ .
14. Robert Shmuhl " The Responsibilities of journalism " IOWA state University press Ist ed 1983 P .7
15. Fred S. siebert, Theodore Peterson, and Wilbur Schramm, " Four Theories of the pree "Urbana: University of Illinois press 1956. PP. _ 74-78
16. Robert Schmuhul. Four theories of the Press PP 78. 79
17. روزنامه نګاري نوین ، نعیم بدیعي وحسن قندي ، تهران :ک ۱۳۸۳ ص٤۲۱.
18. غوره ژورنالېم ، پوهیالي محمد خان نیازي ، خوست : ۱۳۸٦ ص ۲۷ .
19. عملي ژورنالېزم ،سیدهارون نجفي زاده ،ترجمه ببرک میاخیل ،دانش خپرندویه ټولنه : ک ۱۳۸۵ ص ۱۲\۱۱ .

## شفاهي تاريخ او په تاريخي څېړنو کې د هغې ارزښت او ونډه

ليکونکی: پوهنمل سيف الله غروال

شيخ زايد پوهنتون، ټولنيزو علومو پوهنځی، تاريخ او جغرافيې څانګې علمي کادر غړی.

تقريظ ورکوونکی: پوهنوال زرولي صديقي د ټولنيزو علومو پوهنځي د تاريخ او جغرافيې څانګې استاد

**لنډيز**

تاريخي څېړنې يوازې په کتابتونونو، ارشيفونو او دولتي ادارو کې په شته مکتوبي اسنادو يا نورو مادي تاريخي آثارو پورې تړلې نه دي، بلکې کولای شو چې د موادو او شواهدو په راټولونه کې له مختلفو مېتودونو او سرچينو ګټه واخلو، چې د هغوی له جملې يوه تر ټولو غوره وسيله شفاهي سرچيني دي. شفاهي تاريخ د انسانانو د سوابقو او تېرو تجربو د راټولولو وسيله ده، بناً هر څومره چې دا ډول څېړنې له ټولنيز تاريخ او خلکو سره نږدې وي، په همغه اندازه د شفاهي سرچينو ارزښت ډېرېږي. د شفاهي تاريخ له لارې د هغو پېښو په اړه معلومات ترلاسه کولای شو، چې تر دې مهاله ثبت شوي نه وي. دا مېتود له مقابل اړخ سره په مخامخ خبرو او مرکه ترسره کېږي او کله چې د مرکه ورکوونکي خبرې او نظريات ليکلې بڼه غوره او په تاريخي ارونو تحليل شي، نو د يوه تاريخي متن بڼه غوره کوي. دا مقاله د شفاهي تاريخ او په تاريخي څېړنو کې د هغه د ونډې په اړه بحث کوي، مواد يې د کتابتوني مېتود له لارې له معتبرو کتابونو او په علمي ژورنالونو کې له خپرو شويو علمي مقالو څخه راټول او تحليل شوي دي. په دې بحث کې د شفاهي تاريخ د تعريفونو ترڅنګ، د شفاهي تاريخ مخينه، په تاريخي څېړنو کې د شفاهي تاريخ مېتود او په پای کې په تاريخي څېړنو کې د شفاهي تاريخ پر ونډه او ارزښت بحث شوی دی.

**کليدي ټکي:** د شفاهي تاريخ مخينه، د شفاهي تاريخ مېتود، ، د شفاهي تاريخ ارزښت، شفاهي تاريخ، شفاهي سرچيني.

**سريزه**

إِنَّ الْحَمْدَ لِلهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِىَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، و امابعد.

قال الله تبارک و تعالی فی کتابه الکريم: ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْقُرَى نَقُصُّهُ عَلَيْكَ مِنْهَا قَائِمٌ وَحَصِيدٌ(هود، ۱۰۰)

ژباړه: دغه د څو کلیو ماجرا ده چې موږ يې تاته اورو. له هغوی څخه ځینې اوس هم ولاړ دي او د ځینو کښتونه لو شوي دي (۸: ۱۲۹۷).

شفاهي تاریخ د تاریخي پېښو د ثبت او په تاریخي څېړنو کې د معلوماتو د راټولولو یوه نوې علمي تګلاره ده، چې په ورسیتو څو لسیزو کې یې د مختلفو علومو ترمنځ ډېره پراختیا پیدا کړې ده. د همدې بین الرشتوي ماهیت له امله د مختلفو ټولنیزو علمي حوزو، لکه: د تاریخ، ارواپوهنه، ادبیات، ټولنپوهنه، انسان پوهنه او داسې نور علوم د خپلو اړونده څېړنو پرمهال ترې ګټه اخلي. له دې اړخه ویلی شو، چې اوس مهال شفاهي تاریخ په نړیواله کچه له ځانګړي مقام څخه برخمن دی.

د تاریخ لیکنې پخوانۍ طریقه د واکمنانو، امپراتورانو او د ځواکمنو پادشاهانو پر اسنادو او معلوماتو تکیه درلودله، خو شفاهي تاریخ یو ژوندی، له شوره ډک، متحرک او د عامه ټولنې له افکارو سره ډېر نږدې دی. له پخوانیو تاریخونو ډېره سخته ده چې د ټولنې ژورو ته لاره پیدا کړو او د هغوی له دردونو، رنځونو، باورونو، رسمونو او رواجونو څخه خبر شو. خو شفاهي تاریخ کولای شي چې د ټولنې د هغو طبقاتو د اذهانو او افکارو انځورګري وکړي، چې د حوادثو په متن او بطن کې شتون لري، خو تل له پامه غورځول شوي او هیر شوي دي. هغه تاریخ پوهان چې د شفاهي مېتود له لارې تاریخي څېړنې کوي، د ټولنې دې ډول طبقاتو داخل ته ننوځي، د هغوی تراخه او خواږه واقعات او تجربې راټولوي او نورو نسلونو ته یې انتقالوي او له همدې لارې د نسلونو ترمنځ اړیکي او پیوندونه رامنځ ته کوي.

که څه هم په په نړیوالو علمي او څېړنیزو مرکزونو کې په ډېری تاریخي څېړنو کې له شفاهي مېتود څخه ګټه اخیستنه یو معمول کار ګرځیدلی دی، خو د افغانستان په سطحه تر دې مهاله په دې برخه کې ځانګړي پرمختګونه نه ترسترګو کېږي، بناً ددې څېړنې اصلي موخه داده چې په هېواد کې د تاریخ د حوزې څېړونکي دې ته متوجې شي، ترڅو په خپلو څېړنو کې یاد مېتود ته هم ځانګړې پاملرنه ولري، ترڅو په هېواد کې مو تاریخي څېړنې لاغنې شي. ددې برسیره اړینه ده چې په هېواد کې د تاریخ د څېړنې لپاره

ځانګړي انجمنونه او مرکزونه جوړ شي او له دې لارې شفاهي تاریخ برخه پیاوړې او غني شي.

د شفاهي تاریخ او د شفاهي مېتود په واسطه د تاریخي معلوماتو د راټولولو لپاره د نړۍ په سطحه ډېر کار شوی دی. د شفاهي تاریخ د انجمنونو، څېړنیزو مرکزونو او انټرنیټي سایټونو برسېره په دې برخه کې ډېر شمېر څېړنې ترسره شوي دي، چې ددې مقالې د (د شفاهي تاریخ مخینه) په برخه کې ورته ځانګړې پاملرنه شوې ده؛ خو په افغانستان کې په دې برخه کې کومه ځانګړې څېړنه نه ترسترګو کېږي، چې د شفاهي تاریخ د مخینې په څېړنه کې ترې ګټه واخیستل شي.

**د څېړنې مېتود:** ددې څېړنې مواد د کتابتوني مېتود له لارې له معتبرو او نویو ترسره شویو څېړنیزو مقالو او کتابونو څخه راټول شوي، توضیح او تحلیل شوي دي.

**د څېړنې اصلي موخه**

د شفاهي تاریخ او په تاریخي څېړنو کې د هغه د ارزښت او ونډې پېژندل.

**فرعي موخې:**

۱- شفاهي تاریخ د مفاهیمو پېژندنه او تعریف.

۲- د شفاهي تاریخ د مخینې پېژندنه.

۳- په تاریخي څېړنو کې د شفاهي تاریخ د مېتود پېژندنه.

۴- د شفاهي تاریخ د ګټو او ارزښت په اړه پوهېدنه.

**د شفاهي تاریخ تعریف**

د خلکو ژبني روایات چې د دوه اړخیز تعامل له لارې د انساناتو ترمنځ په رسمي او غیر رسمي ډول صورت نیسي، په مختلفو شفاهي قالبونو او کله هم په مکتوبي شکل ساتل کېږي. د شفاهي سرچینو د تنوع له نظره کولای شو، چې شفاهي تاریخ ددې سرچینو یوه تر ټولو اصلي سرچینه وشمېرو. اوس مهال شفاهي تاریخ په تاریخي څېړنو کې مهم بحث دی او په دې اړه ډېرې څېړنې شوي دي، ډېری پوهانو او ددې برخې متخصصانو کار کړی او د شفاهي تاریخ د مانا او مفهوم په اړه یې خپل نظریات او تعریفونه وړاندې کړي دي(۷: ۳۷).

د شفاهي تاريخ مانا او مفهوم په لاندې توګه په يو څو تعريفونو کې رانغاړو:

شفاهي تاريخ هغه مېتود دی چې د پېښو او حوادثو په اړه له خلکو سره د مرکو د ثتبولو ( غږ يا انځور) له لارې تاريخي معلومات راټولوي او ساتي. په بل عبارت شفاهي تاريخ د هغو هڅو ټولګه ده چې د ځانګړو وسايلو او فنونو څخه په ګټې اخيستنې د افرادو او ټولنيزو ډلو له شخصي تجربو څخه تاريخي معلومات راټولوي او ساتي. دا تاريخي معلومات د مرکه کوونکي او مرکه ورکوونکي ترمنځ په منل شويو ځانګړو کلتوري شرايطو او تعامل کې ترلاسه کيږي.

شفاهي تاريخ د تاريخ ليکنې يوه ډېره پخوانۍ او يوه ډېره نوې طريقه ده (د شفاهي تاريخ لرغونتوب او نوي والي په اړه د موضوع په مخينه کې بحث شوی دی). انسانانو خپل تاريخ د رواياتو، شعرونو او افسانو له لارې راتلونکو نسلونو ليږدولی دی. د تاريخي انتقال دا طريقه لوی تاريخي شاليد لري، چې د دوهمې نړيوالې جګړې څخه وروسته او په ځانګړي ډول د غږ د ثبتولو په اختراع سره د يوه غوره تاريخي سرچينې په توګه ومنل شوه. شفاهي تاريخ تاريخي پېښې او حادثات د شاهدانو او ناظرانو د لېدنو، اورېدنو، نظرونو او کړنو په اساس تر څېړنې لاندې نيسي او دا پروسه د مرکې له لارې ترسره کيږي(۱۳: ۹۸).

په ټوله کې شفاهي تاريخ د خبرونو او پېښو د انتقال او د تاريخ ليکنې يو تر ټولو پخواني مېتود دی چې له ډېرو لرغونو زمانو، حتی له لکنيز(مکتوبي) تاريخ ليکنې څخه وړاندې يې هم شتون او ارزښت درلود او نن ورځ هم په مختلفو هېوادونو کې په نوې تاريخ ليکنه کې ترې ځانګړې ګټه اخيستل کيږي. د شفاهي تاريخ مانا او مفهوم د مختلفو پوهانو له خوا تعريف شوی دی، چې دلته ترې يادونه کيږي: شفاهي تاريخ د تاريخي حوادثو په اړه د ژونديو کسانو د شواهدو يوه منظمه ټولګه ده. شفاهي تاريخ له عامه کلتور، شايعاتو، افواهاتو او له مسموعاتو سره توپير لري. د شفاهي تاريخ ليکونکي هڅه کوي، چې خپلې موندنې له علمي لارو تحليل او تجزيه کړي او هغوی په يو مناسب تاريخي تسلسل کې سره پيوند کړي.

ویلای شو چې شفاهي تاریخ هغه پروسه ده، چې له خلکو سره د خپلې ماضي د ښې پېژندنې، تاریخي پوهې او درک په ترلاسه کولو کې مرسته کوي. ددې مانا داده، چې شفاهي تاریخ خلک له خپل تاریخ سره اشنا کوي او په خپل تاریخ کې انتقادي پوهه ترلاسه کوي(۶: ۲۶).

**د شفاهي تاریخ مخینه**

شفاهي تاریخ په تاریخي څېړنو کې یو څېړنيز مېتود او د تاریخي معلوماتو د راټولولو یوه غوره وسیله ده، چې په وروستیو لسیزو کې یې د مختلفو علومو ترمنځ پراختیا کړې ده، په ځانګړي ډول د تاریخي څېړنو په برخه کې یې علمي بنسټونو ته لاره پیدا کړه. د بین الرشتوي ماهیت له امله د مختلفو علومو څېړونکي لکه ټولنپوهان، ارواپوهان، آدب پوهان او تاریخ لیکونکي په خپلو څېړنو کې ترې ګټه اخلي. شفاهي تاریخ پراختیا ددې څرګندونه کوي، چې دا مېتود یو تغیر منونکي مېتود دی، په دې مانا چې په مختلفو تاریخي دورو کې یې د ټولنې د بدلونونو او شرایطو ته په کتو سره، په کارونه کې هم بدلون رامنځ ته شوی او په دې توانیدلی چې خپل ځان د وخت او ځای له غوښتنو او اړتیاو سره برابر کړي (۲۲: ۸۷).

په وروستیو لسیزو کې د شفاهي تاریخ او د مورخینو ترمنځ اړیکه چې ددې برخې اصلي دعوه کوونکي دي له لوړو او ژورو څخه برخمنه وه. مورخینو د شفاهي تاریخ په اړخونو او د شفاهي سرچینو له لارې د راټولو شویو معلوماتو پر ارزښت خورا ډېر بحثونه او څېړنې ترسره کړي دي (۲۶: ۲۵).

پورتنیو توضیحاتو ته په کتو پوښتنه پیدا کیږي، چې ولې شفاهي تاریخ ارزښت لري؟ او ولې یې په تاریخي څېړنو کې دومره پراختیا وکړه؟ ددې پوښتنو په ځواب کې ویلو شو، چې ژبه د انسانانو ترمنځ د اړیکو د نېولو لومړنۍ وسیله ده او کله چې انسانانو د ځمکې پرمخ ژوند پیل کړی، د خپل منځي اړیکو نېولو احساس ورته پیدا شوی او دې اړیکې د ژبې له لارې صورت نیولی دی. ترڅو چې لیک اختراع کېده، انسانانو د ډېرو اوږدو کلونو لپاره ټولنیزې اړیکې او خپل منځي اړتیاوې د ژبې له لارې پوره کولې. د لیک په اختراع سره د

انسانانو په ټولنیز ژوند کې لوی بدلون او نوې تاریخي دوره پیل شوه، چې د تاریخي دورې په نوم یادیږي. د لیک په اختراع سره د یو تمدن ملي او کلتوري برخه ثبت او وساتل شوه او نورو نسلونو ته یې د انتقال زمینه برابره شوه. ژبه او لیک د ټولنیز ژوند په ټول تاریخ کې، د ټولنیز ژوند سمون او د ټولنیز ژوند د اړتیاو په پوره کولو کې ونډه درلودله.

انسانانو تر دې مهاله درې کلتوري دورې تیرې کړې دي:

۱. د شفاهي کلتور دوره.

۲. د کتبي(لیکنیز) کلتور دوره چې د لیک اختراع مهال ته رسیږي او د چاپ ماشین په اختراع سره یې بشپړ رواج پیدا کړ.

۳. انځوریز او تلویزوني کلتور دوره چې معاصره دوره ده.

په لرغوني دوره کې شفاهي کلتور رواج درلود او اړیکې د ژبې له لارې نېول کېدې، هغه کلام چې اوس هم د ورځنیو چارو په مخته وړلو کې ترې ګټه اخیستل کیږي؛ خو دا کلام له ادبي کلامونو سره توپیر لري. د وخت په تېرېدو انسانانو هڅه وکړه ترڅو کلام یې پایدار او ځواکمن پاتي شي؛ نو لیک یې اختراع کړ. د لیک په اختراع سره شفاهي کلام خپل ارزښت له لاسه ورنکړ؛ ځکه چې شفاهي کلام د لیکلي کلام په پرتله مانا لرونکی، دقیق او جذاب وي. لیکلی کلام بې غږه او خاموش وي، شفاهي کلام معنوي او فکري؛ خو لیکلی کلام محسوس ماهیت لري. شفاهي کلام د لیکلي کلام په وړاندې دا برتري لري، چې شفاهي کلام ژوندی بڼه لري او په مطالعې سره یې د خلکو فکرونه او نظرونه ښه پېژندل کیږي، د سختو مسایلو په ځانګړي ډول فلسفي او عرفاني مسایل چې فني او کتابي ژبې ته اړتیا لري، له متن څخه په آسانه نه شي استنباط کېدای؛ ځکه دا ډول مسایل مختلف تعبیرونه لري. حال دا چې په شفاهي کلام کې دغه ستونزه او سختي نشته.

د لیک په اختراع سره چې د تاریخي دورې په نوم یادیږي، شفاهي تاریخ( سینه په سینه انتقال) له منځه نه دی تللی او شفاهي راپورونه د هیرودوت او توسیدید آثارو لپاره سرچینه او مأخد وګرځېدل. وروسته له هغه چې د عربستان په ټاپووزمه کې اسلامي

تمدن رامنځ ته شو او له فتوحاتو وروسته یې ډېره پراختیا وکړه، نو د صدر اسلام د پېښو او وقایعو په راټولو کې له روایانو څخه ګټه واخیستل شوه او لیکلی شکل یې غوره کړ، چې غوره بیلګې یې په ایام العرب، مغازي او علم الانساب کې لیدلی شو(۱۷: ۱۰۸). همدې ته ورته نبوي روایات په ځانګړې ډول د حدیثونو راټولول او د اسلامي تمدن په اوج کې د مسلمان تاریخ پوهانو آثار د شفاهي سرچینو په اساس رامنځ ته شوي دي، چې د شفاهي تاریخ غوره بیلګې شمېرل کیږي(۴: ۶).

په روسیه کې د تزاري رژیم له پرځېدو وروسته له روسیې څخه ډېر شمېر شهزاده ګان، درباریان او دولتي چارواکي امریکا ته وتښتېدل او هلته یې پناه واخیستله. هغوی هلته د تاریخي څېړنو او د انساني علومو په حوزه کې د غږیزو معلوماتو په اساس د شفاهي ارشیفونو د رامنځ ته کولو په فکر کې شول. همدا ډول د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د ناسیونالستي او دیموکراتیکي فکرونو په رامنځ ته کیدو سره، شفاهي تاریخ د تاریخ لیکنې یوه نوې تګلاره ګرځېده، ورو ورو یې پرمختګ وکړ او په ۱۹۴۰م لیسزې په دوران کې د غږ د ضبط په اختراع سره شفاهي تاریخ په نوي مفهوم سره ځان راڅرګند کړ او دوه لسیزې وروسته د یوې پوهنتوني څانګې تر عنوان لاندې رامنځ ته شوه(۹: ۱۲۲).

شفاهي تاریخ په رسمي ډول په ۱۹۴۸م کې رامنځ ته او پرمختګ یې وکړ. په دې کال کې آلن نوینز(Allen Nevins) د کلمبیا په پوهنتون کې د شفاهي تاریخ د لومړني ارشیف بنسټ کېښود. په ۱۹۶۰م لسیزه کې د شفاهي تاریخ نړیوال انجمن(OHA) په رامنځ ته کېدو سره د شفاهي تاریخ طلایي دوره پیل شوه، چې په عمل کې یې د شفاهي تاریخ غورځنګ ته لاره برابره کړه. له دې وروسته په تاریخ لیکنه کې له شفاهي تاریخ ګټه اخیستنه د تاریخ پوهانو د کار اړینه برخه وګڼل شوه، تر دې بریده، چې په ۱۹۷۰م را وروسته شفاهي منابع د تاریخي څېړنو لپاره مهمه اړتیا شمېرل کیږي(۱۰:۱۴).

تاریخ پوهانو د معاصر تاریخ د دورې په څېړلو کې هغه وخت له شفاهي سرچینو ګټه اخیستل پیل کړل، کله چې انسان پیژندونکو او ټولنپوهانو په خپلو څېړنو کې له مرکې کولو له مېتود او اصولو څخه ګټه اخیستنه پیل کړه. له دې کار څخه موخه دا وه چې په

هغو برخو کې تاریخي پوهه پراختیا پیدا کړي چې په اړه یې مستند اسناد او شواهد ډېر لږ، یو اړخیز او یا بیخي شتون ونه لري. په اروپا کې به په ورځپاڼو کې خبرتیاوې خپرېدلې چې هغه کسان، چې د دولت له ځانګړو سیاستونو څخه ترخې تجربې لري، کولای شي چې خپل معلومات په شفاهي او کتبي ډول وړاندې کړي.

**په شفاهي تاریخ کې د څېړنې مېتود**

هغه څېړونکي چې د معاصر تاریخ په اړه څېړنه کوي مجبور دی چې له معاصرو رهبرانو، چارواکو او د ټولنې له نورو وګړو سره خبرې او مرکې وکړي (۱۸: ۹۱).

د شفاهي تاریخ د مطالعه کولو وسیله مرکه ده او ددې تاریخ لیکنې اصلي مخاطبین انسانان دي. شفاهي تاریخ له انسانانو او د هغوی له روایتونو سره کار لري، کوم چې د پېښو او واقعاتو په بطن کې نبغ په نبغه ګډون لري او په حقیقت کې ژوندی تاریخ ننداري ته وړاندې کوي. د شفاهي تاریخ څېړونکی خپلې پوښتنې ته د کره او مناسبو ځوابونو د لاسته راړلو لپاره په پوره دقت او ځیرکتیا وړاندې کوي او هڅه کوي چې هغو پېښو په اړه د هغو کسانو خاطرې ژوندی او بیا ورغوي چې د هغې شاهدان وي. همدا ډول د شفاهي تاریخ څېړونکي په خپلو څېړنو کې له یو ډول مېتود ګټه نه اخلي او په ټاکنه کې یې مختلف لاملونه دخالت لري، نو په دې ډول د څېړنې موضوع ته په پام د هغوی د کار ډول هم توپیر لري.

څېړونکي د موضوع له ټاکنې وروسته د معلوماتو تر ټولو غوره سرچینې، لکه: ورځپاڼې، مجلې او ارشیفي سرچینې مطالعه او څېړي او مرکه کوونکو د رضایت او موافقت ترلاسه کولو وروسته مرکې ترسره کوي، چې دواړه اړخونه پکې ټاکونکي ونډه لري.

په دې لړ کې د پام وړ خبره داده، چې د شفاهي تاریخ مرکه کوونکي د نورو څېړنو په څېر د یوې ځانګړې احصایوي ټولنې استازیتوب نه کوي؛ بلکې د یو ناظر، شاهد او عامل په توګه د یوې تاریخي پېښې بیانولو او ننداري ته د وړاندې کولو په موخه ټاکل کیږي. په دې بهیر کې داسې مطالب وړاندې کیږي چې له کومې بلې سرچینې څخه نه ترلاسه کیږي. دا معلومات نوي او تازه وي. په شفاهي تاریخ کې څېړونکي باید د ګټورو معلوماتو ته د

لاس رسي په موخه دې ته پام ولري چې د مرکې لپاره غوره او مناسب کسان وټاکي او همدا ډول اړینه ده، چې څېړونکی هم د مرکې پر موضوع باندې پوره حاکمیت ولري، چې و کولای شي مناسبو پوښتنو په کولو سره د مرکه کوونکي په ذهن کې پخوانۍ پېښې اړ خاطرات راژوندي او هغه د لا ډېرو توضیحاتو لپاره وهڅوي.

د یادونې وړ ده، چې دا تاریخي معلومات هغه وخت د تاریخ له علمي ماهیت سره مرسته کولای شي، چې د هغو اړونده پوښتنو ځوابونه ترلاسه کړي، چې له هغې مخکې یې ترې خبرتیا نه درلودله. دا چې مرکې له لارې ترلاسه شوي معلومات ژوندي او نوي وي څېړونکي ورڅخه ډېره ګټه اخلي (۲: ۹۰- ۹۱).

**په تاریخي څېړنو کې د شفاهي تاریخ ارزښت**

د تاریخ په اوږد کې مؤرخینو په تاریخي څېړنو کې له شفاهي مېتود څخه ګټه اخیستې او پر هغه یې تاکید کړی دی. د بیلګې په توګه بیهقي وایي: « تېر خبرونه په دوه ډوله دي، یا له یو چا اورېدل کېږي او یا له کتاب څخه باید ولوستل شي» (۷: ۶۶۲).

صادق آینه وند د طبري له قوله لیکي چې: « د تیرو قومونو پېښې او جاري خبرونه، له هغو کسانو نه ترلاسه کېږي، چې هغه وخت یې نه وي درک کړې یا په خپله د هغوی ناظر نه وي، بلکې له هغوی کسانو څخه ترلاسه کېږي چې مخبران او د نقل قول ناقلان وي» (۳: ۴).

همدا ډول مایکل ستنفورډ لیکي چې د صلیبیي جګړو مورخ(توسیدید) د خپل کار مېتود په دې ډول بیانوي: « کومې پېښې مې چې څېړلې دي یا خپله پکې حاضر وم، یا مې له عیني شاهد څخه ترلاسه کړې دي او دا کار مې په بشپړ دقت او امکان تربریده کنترول کړی دی، حتی د حقیقت مندل له دې لارې هم آسان کار نه و، ځکه چې مختلفو عیني شاهدانو له یو ډول پېښو څخه متفاوت راپورنه وړاندې کول» (۱۲: ۲۵۷).

د شفاهي تاریخ له لارې کولای شو چې مختلف موضوعات تر څېړنې لاندې ونیسو، چې د څېړنې په موخې او مسئلې پورې اړه لري، لکه: سیمه ییز تاریخ، کسبونه، مهارتونه، نوښتونه، جګړې، عمومي خدمتونه، د فردي او ډله ییزو تفکراتو تګلورې، کورنۍ او

بهرنۍ ټولنيزې اړيکې، خواړه او خوراکونه، د کورنيو، قبيلو، نژادي ډلو او له پامه غورځول شويو ډلو لکه د کارګرانو، توريوستکو او مهاجرينو تاريخ(۷: ۶۷).

ددې برسيره له شفاهي تاريخ څخه ګټه اخيستنه يوازې د پېښو په ثبتولو، حوادثو او احساساتو پورې محدوده نه ده؛ بلکې په لاندې څو ټکو کې کولای شو چې په تاريخي څېړنو کې د شفاهي تاريخ ونډه او ارزښت ارزونه په ښه ډول وکړو:

- له دولتي او رسمي انحصار څخه توليد شويو سندونو خلاصول. په دې سره به د تاريخي مشارکت فرصتونه ډېر شي او د ټولنې معمولي طبقات، لکه ښځې او کارګران به د تاريخ برخه وګرځي. دا تاريخي مشارکت هغه وخت ښه رامنځ ته کيدلی شي چې هغوی د خپل ماضي په اړه حساس او فعال وي او مورخ وکولای شي، چې د هغوی د ژوند بېلابېل اړخونه د هغوی د ماضي په څېر ژوندي ورغوي.

- شفاهي تاريخ مختلفو ټولنو ته ددې ښوونه کوي، چې څه ډول ټولنې تاريخي بستر له يو شمېر حقوقو څخه بې برخې شوی دی. هغه ټولنې چې هيڅ ډول مکتوبي اسناد نلري يا په لږ شمېر کې مکتوبي اسناد په لاس لري يا په قصدي ډول ترې بې برخې شوي دي، د شفاهي سرچينو په څېړلو او راټولولو سره به ډېره ګټه ترلاسه کړي. په ډېرو مواردو کې د ټولنې د تاريخ مستند کول ډېر ارزښت لري او د لا ډېرو معلوماتو په راټولولو سره ياد اسناد متعادل او پخيږي. شفاهي تاريخ هغه محرک دی، چې د وياړ ډکو داستانونو بيا ځلې تعريف او څېړلو سره د ټولنې غرور ځواکمن کيږي. په همدې توګه شفاهي تاريخ د يوې قوي وسيلې په توګه کولای شي، چې د يو قوم ژبه او يا ځانګړی نژاد له ورکېدو او نابودۍ څخه وساتي( ۱۱: ۲۲- ۲۳).

- د شفاهي تاريخ له لارې د هغو ټولنو او پرګنو د تاريخ بيارغونه کيږي، چې په لويو ټولنو کې ژوند کوي او د هغوی کلتور او رواجونو له پامه غورځول شوي وي. هغه اقليتي پرګنې، قومونه او نژادونه چې د اکثريت په منځ کې ژوند کوي، معمولاً د هغوی تاريخ او کلتور په مکتوبي آثارو کې ډېر کم منعکس وي. له بله اړخه کډوال (داخلي او بهرني) په کوربه ټولنه کې د حاضرو غړو په توګه غايب وي. که څه هم دوی په کوربه ټولنه کې په

خپله د ډېر تحولاتو او بدلونو سرچینه وي، خو د مکتوبي اسنادو په تولید کې چندان ونډه نه لري. له دې امله له دوی سره د تیر په اړه په ژوندۍ بڼه بحث او خبرې کول د ډېرو ورکو روایتونو د پیدا کېدو لامل کیږي او د تاریخي تشو په ډکولو کې ډېر اغیزمن تمامیږي(۱۷: ۵۴).

ددې ترڅنګ د شفاهي روایاتونو ارزښت له دې کبله نور هم زیاتیږي، کله چې لیکلی تاریخ یوازې د واکمنې ډلې وي، د ولس مبارزه او په تاریخي پروسه کې د دوی رول نه وي روښانه شوی. د بیلګې په توګه، کله چې هند د انګریزانو مستعمره وګرځېد، نو بهرنیو واکمنانو د ولس مبارزه ونه لیکله. تر خپلواکۍ وروسته هیله کېده چې د تاریخ دایره به پراخه کړل شي او د ولس تاریخي ونډه به هم په کې روښانه کړل شي؛ خو درباري مؤرخینو د تاریخ لیکنې هماغه پخوانی مېتود خپل کړ او تاریخ یوازې تر واکمنې ډلې پورې محدود پاتې شو (۱۵: ۱۲۱).

همدا ډول شفاهي مېتود له تاریخي څېړنو سره په لاندې برخو کې مرسته کوي:

- په تاریخي موقعیتونو کې د هغو افرادو د ژوند د پېښو په اړه معلومات راټولیږي چې د ټولنې په بطن کې رامنځ ته شوي وي(۲۱: ۵۳).

- په ټولنه کې د فرد ژوند ته مفهوم ورکول کیږي او د مشارکت لپاره د اسانتیاو رامنځ ته کیږي(۲۳: ۱۱۵).

- د خلکو ژوند ته تاریخ داخلیږي او له تاریخ سره یو ځای کیږي(۲۰: ۲۵).

- د شفاهي تاریخ له لارې ټولنه د مورخ په لاس لیکل شوي تاریخ او هغه تاریخ ترمنځ چې دوی یې غواړي درک او پوهه ترلاسه کولای شي(۲۴: ۱۹۲).

- د شفاهي تاریخ له لارې د پوهنتوني مؤرخینو او عادي خلکو ترمنځ اړیکه رامنځ ته کیږي(۲۵: ۴۸).

باید یادونه وکړو چې د شفاهي مېتود له لارې د معلوماتو راټولول یوازې په تاریخي څېړنو کې ګټور نه دي؛ بلکې شفاهي مېتود بین الرشتوي ماهیت لري او په ځانګړي ډول په انساني علومو کې لکه ادبیات، ټولنپوهنه او اروا پوهنه کې ترې ډېره ګټه اخیستل کیږي.

**پایله**

له دې څېړنې څخه دې پایلې ته رسېږو، چې شفاهي تاریخ د تاریخ لیکنې لپاره د یوې غوره سرچینې ترڅنګ د تاریخي څېړنې لپاره یو غوره مېتود هم دی. لکه څرنګه چې تاریخي څېړنه تېر تاریخي واقعیتونه او شواهد په تاریخي سرچېنو بدلوي په همدې ډول شفاهي تاریخ هم کولای شي چې تاریخي شواهد په تاریخي سرچېنو بدل کړي. که چېرې په تاریخ لیکنه کې دې مېتود ته پاملرنه ونه شي، نو ویلای شو چې بشري حافطه مو له پامه غورځولې ده؛ ځکه چې شفاهي تاریخ د یوې ټولنې هغه تجربې، مهارتونه او رواجونه چې د هېرېدو په پوله ولاړ وي ساتي، ارزښت ورکوي، د پېښو او واقعاتو پټ اړخونه راڅرګندوي.

د شفاهي تاریخ مېتود په مرکه او خبرو اترو ولاړ دی. په نننۍ نړۍ کې د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره ددې مېتود کارونه پراخه شوې ده او ارزښت یې ورځ تربلې زیاتېږي. دا مېتود کولای شي چې د پېښو پټ اړخونه را څرګند او تاریخي واقعیتونو ته ډېر نږدې کړي. ددې لپاره چې د نورو علمي څانګو په منځ کې شفاهي تاریخ د یوه غوره څېړنیز مېتود په توګه مطرح شي، باید په علمي او پوهنتوني مرکزونو کې له هغه څخه د ګټې اخیستنې زمینه برابره شي.

دا کار هغه وخت شونی دی چې استادانو او محصلانو ته څېړنیزې پروژې وسپارل شي او هغوی محبور شي چې د موضوع اړوند شفاهي سرچینې پیدا، تحلیل او پایلې یې له نورو سره شریکې کړي. واقعیت دادی چې که پوهنتوني مؤرخین وغواړي او یا ونه غواړي، ورځ تربلې د شفاهي سرچېنو تولید د پراختیا په حال کې دی. په دې برخه کې به د دوی فعال شتون په تاریخ لیکنه او د تاریخي څېړنو پر بهیر باندې ډېرې مثبتې اغېزې وکړي او بله دا چې له غیر پوهنتوني تاریخ لیکونکو سره به د هغوی اړیکې پیاوړې شي.

**وړاندیزونه**

لکه څرنګه چې شفاهي تاریخ په تاریخي څېړنو کې ډېر اړین دی او ددې لپاره چې د شفاهي تاریخ له لارې خپل تاریخ پیاوړی کړو؛ نو ددې لپاره لاندې وړاندیزونه کېږي:

۱- شفاهي تاريخ دې د يوه غوره څېړنيز مېتود په توګه مطرح شي، په علمي او پوهنتوني مرکزونو کې دې له هغه څخه د ګټې اخيستنې زمينه برابره شي، استادانو او محصلانو ته څېړنيزو پروژو په ورکولو سره د شفاهي تاريخ په مخ د پوهنتونونو دروازې خلاصې شي، ترڅو استادان او محصلان د يوه لابراتوري عمل په توګه شفاهي سرچينې په خپله توليد، تحليل او نتايج يې ترلاسه کړي.

۲- د تاريخ استادان دې خپلو محصلانو ته داسې څېړنيز موضوعات وسپاري چې تر ډېره بريده شفاهي معلوماتو ته اړتيا ولري.

۳- تاريخ څانګې ته وړانديز کېږي چې خپلو استادانو ته سپارښتنه وکړي، چې د څېړنو او ترفيعاتو موضوعات يوازې په کتابتون پورې ونه تړي، او د شفاهي تاريخ له مېتود څخه هم ګټې کټه واخلي.

۴- لوړو زده کړو، اطلاعاتو او کلتور وزارتونو او نورو کورنيو او نړيوالو تعليمي موسساتو ته وړانديز کېږي، چې په دې برخه کې اړين عصري وسايل (کيمرې، د غږ د ثبتولو آلات، کمپيوټرونه.....) د استادانو او محصلانو په واک کې ورکړي.

۵- تاريخ ليکونکو ته وړانديز کېږي چې په محلي کچه د تاريخي مسايلو په اړه څېړنه او څېړنه کړي.

## ماخذونه


۱- القرآن الکريم.

۲- آبادي، نهيه سنګين. (۱۳۹۸). قلمرو و جايګاه تاريخ شفاهي در تاريخ نګاري، مجله پژوهش و مطالعات علوم اسلامي، سال اول، شماره ۸.http://ensani.ir/fa/article/422127-Pdf

۳- آئينه وند، صادق. ( ۱۳۶۰). علم تاريخ در اسلام. تهران : وزارت فرهنګ و ارشاد.

۴- الويری، محسن.(۱۳۸۵). درآمدی بر مفهوم، فرايند و ويژګی های تاريخ نګاری شفاهی- نامه تاريخ پژوهان، سال دوم،شماره 1، ص1. https://www.magiran.com/paper/475671-Pdf

۵- بيهقی، ابوالفضل. ( ۱۳۵۰). تاريخ بيهقي، تصحيح علی اکبر فياض. مشهد: دانشګاه مشهد

۶- توکلي، فايزه. (۱۳۹۶). تاريخ شفاهي( مبانی نظري، روش شناسي). تهران: سوره مهر

۷- حسن آبادي، ابوالفضل. (۱۳۹۰). جايګاه تاريخ شفاهی در تحقيقات تاريخی، نشريه اسناد بهارستان، ۱، ۳۶۹. https://www.magiran.com/p1380988-pdf

۸- د افغانستان د سترو علماو يوه ډله. (۱۴۱۴). د قرانکريم ترجمه او تفسير په پښتو ژبه کې.)

کابلي تفسير- ج، ۱). بيا کتنه: سيد عبيدالله شاه. د حرمينو شريفينو د خادم پادشاه فهد د قران کريم د طباعت لپاره. (ب، ط)

۹- رسولي پور، مرتضی. (۱۳۸۷). مروري بر تاريخ نگاري معاصر و لزوم توجه به تاريخ شفاهي. پژوهشگاه علوم انساني و مطالعات فرهنگي، شماره ۴۵.http://ensani.ir/fa/article/83084-pdf

۱۰- رضائيان، علی. (۱۳۷۹). مديريت رفتار سازمانی. تهران: سمت

۱۱- سامر، باربارا. (۱۳۹۷). راهنمايي تاريخ شفاهي، ترجمه: رضا مهاجر، تهران: سازمان اسناد و کتابخانه ملي جمهوري اسلامي ايران.

۱۲- ستنفورد، مايکل. (۱۳۸۸). در آمدي بر تاريخ پژوهشي، ترجمه مسعود صادقي، تهران: انتشارات سمت.

۱۳- شارقي، سيما. (۱۳۸۸). آينده ارشيو و تحقيقات تاريخي، فصلنامه گنجينه اسناد، سال نوزدهم، دفتر چهارم، صص ۹۵- ۱۰۲. http://ganjineh.nlai.ir/article_1133.html#ar_info_pnl_fl-pdf

۱۴- فاطمي مقدم، زهرا.(۱۳۸۸). بررسی ميزان اعتبار استفاده از منابع شفاهي در تحقيقات تاريخي با تکيه بر مصاحبه های انجام گرفته در خصوص انجمن پيروان قرآن. نشريه الکترونيکي سازمان کتابخانه ها و موزه ها و مراکز اسناد آستان قدرس رضوي، دوره ۱ ، شماره ۲. http://shamseh.aqr-libjournal.ir/article_49687.html-pdf

۱۵- مبارک علی. (۱۳۸۵).تاريخ او د تاريخ فلسفه. ژباړه: محمد نويد. کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه

۱۶- ملايي توان، عليرضا. (۱۳۸۶). درآمدي بر روش پژوهش در تاريخ. تهران: نشر نی.

۱۷- نوراني مرتضی؛ ابوالحسني ترقي، مهدي.(۱۳۸۹). مقايسه تحليلي خاطره نگاری با تاريخ شفاهي، فصلنامه گنجينه اسناد، ۲۰(۴): ۹۶- ۱۲۲. ganjineh.nlai.ir/article_1283_7eee3223062fab89953880ac47a00c2a.pdf

۱۸- نوراني، مرتضی. (۱۳۸۶). روندی برای مکتوب سازي تاريخ علوم اجتماعي، سوره انديشه.

۱۹- نيک نفس، شفيقه. (۱۲۸۶). قديمي ترين نوع تاريخ، ماهنامه فرهنگي تحليلي سوره ا، شماره ۳۶.(http://www.oral-history.ir/?page=post&id=1029- PDF)

20- Gerber, D. A. (1979). Local and community history: Some cautionary remarks on an idea whose time has returned. The History Teacher, 13(1), 7-30.

21- Hoopes, J. (2014). Oral history: An introduction for students. UNC Press Books.

22- Nevins, A. (1966). Oral History: How and way it was born, pp87-94.

23- O'Brien, S. (1998). A Short Reflection on Teaching Memoir and Oral History. The oral history review, 25(1), 113-118.

24- Samuel, R. (1987). Local history and Oral history. In History workshop, No 1, p.192.

25- Scholte, B. (1987). The Literary Turn in Contemporary Anthropology, p.48.
26- Thompson, p. (1999). Vice of the Past (Oral history and Historian), Oxford university, pp25-81

# ډینامیک پروګرام او په لنډ مسیره مسائیلوکې د هغې د تطبیق مطالعه کول

لیکونکی: پوهنمل محمدرحیم رحیمي

لوګرد لوړو زده کړو مؤسسه، ښوونې او روزنې پوهنځي ریاضي څانګې استاد

تقریظ ورکونکی: پوهندوی عبدالتواب عزیزي د ښوونې او روزنې  پوهنځي فزیک څانګې استاد

**لنډیز**

په دې علمي څېړنیزه مقاله کې د ریاضي د کاریدونکو پروګرامونو له جملې څخه یو هم ډینامیک پروګرام او په لنډ مسیره  مسائیلو(Shortest Route problems) کې د نوموړي پروګرام تطبیق شوی دی. ډینامیک پروګرام د ریاضیکي سیستمونو او د کمپیوتري  پروګرامونو  یوه کړنلاره ده، چې د دې پروګرام پواسطه نږدې او لرې فاصله، اعظمي او اصغري قېمتونو اوهمدارنګه په ورځني ژوند کې په کمپیوتري شبکو، د عکسونو په پروسس، جنیتکي الګوریتم،  سپورت په نظریه کې، ګرافیکي مسئلې، مصنوعي استخباراتوګرافیک، معلوماتي تیوري، ماشینونو په زده کړه کې، دتختې لوبو څخه لکه شطرنج، د اوبو لګولود سیستم کنټرول، دپروژې پراختیا، د اوبو دکیفیت ساتنه، پیچلو محاسباتي نظریو، اقصادي او مالي مسائیلوکې، کنترول تیوري، د سکې د بدلون ستونزه همدارنګه د لنډې لارې د مسیر په محاسبه کولوکې کوم چې د GPS په برخه کې کارول کیږي اشاره شوې ده.

**کلیدي ټکي**: اعظمي او اصغري نقطې، اقتصادي او مالي برخې، ډینامیک پروګرام، شبکې جوړونې، لنډ مسیر.

**سریزه**

په نن عصرکې د ریاضي علم څخه د ژوندانه په بیلابیلو برخوکې ګټه اخیستل کیږي، دا چې ریاضي د بشري علومو ساختماني هسته ګڼل کیږي، ریاضي ده چې د بېلابېلو کړنلارو په کارولو سره د نورو علومو نیمګړتیا له منځه وړي او ستونزې یې حلوي. د ریاضي د کاریدونکو پروګرامونو له ډلې څخه یو هم ډینامیک پروګرام او په لنډ مسیره مسائیلو کې یې تطبیق کول دي. د دغه پروګرام پواسطه د نږدې او لرې واټن پیداکول، د ټیټ او لوړ(اعظمي او اصغري) قېمتونو پیداکول، شبکې جوړونې کې کارول، کمپیوترلب کې کارول، د پروازونو او رباتیک په کنترول اوهمدارنګه د اقتصاد اومالیې ډیرى برخو کې په پراخه توګه ورڅخه ګټه اخیستل کیږي. د ډینامیک پروګرام نظریه د لومړي ځل لپاره 1957  کال کې د ریچارد بیلمن  ($Richard\ Bellman$) لخوا رامنځ ته شوه.

**موخې**

- د ډینامیک پروګرام کارولو پواسطه د نږدې او لرې واټن پیداکولو پیژندنه.
- د ډینامیک پروګرام کارولو پواسطه د اعظمي او اصغري قیمتونو د پیداکولو سره آشنا کیدل.

**د کارمواد اومیتود**

د دې علمي مقالې د لیکنې لپاره مې له بیلابیلو معتبروخارجي ژورنالونو او همدارنګه د داخلي اوخارجي کتابونو څخه مهم ټکي راټول کړي او وروسته مې د ښې توضیح لپاره په مفصل ډول سره تشریح کړي دي.

**ډینامیک پروګرام**

ډینامیک پروګرام د تطبیقي ریاضیاتود پیژندلو یوه برخه ده، چې دغه نظریه په 1957م کال کې د ریچارد بیلمن ($Richard\ Bellman$) لخوا رامنځ ته شوه، د دې پروګرام پواسطه کولی شو د نږدې او لرې واټن په پیداکولو او

همدارنګه د نوموړي پروګرام پواسطه مغلق اعظمي او اصغري قیمتونه د یوې خاصې طریقې څخه په استفادې سره پیدا کړو. ډینامیک پروګرام څخه معمولا هغه وخت استفاده کولی شو چې مسئله په څو برخو باندې طبقه بندي کړو اود مسئلې مکمل حل دهغې د فرعي حل څخه په لاس راشي. همدارنګه ډینامیک پروګرام د اقتصاد او مالي په ډیری برخو کې پلي کیږي [3 :37-34].

ډیری مسایل کولی شود ډینامیک پروګرام د طریقې په تطبیق سره حل کړو، چې دهغې له جملې څخه د ډینامیک پروګرام پواسطه د نژدې لارې د مسیر پیداکول دی. ډینامیک پروګرام او خطي پروګرامونه په حقیقت کې دوه تکتیکونه دي چې د دواړو پروګرامونو څخه په ریاضیاتو کې د اعظمي اواصغري قیمتونوپه پیدا کولو کې ترې ګټه اخیستل کیږي، همدارنګه په ورځنې ژوند کې په کمپیوټري شبکو، د سپورت په نظریه کې، ګرافیکي مسئلې، مصنوعي استخباراتو، د ماشینونو په زده کړه کې، د لنډې لارې د مسیر په محاسبه کولوکې کوم چې د GPS په برخه کې کارول کیږي ترې استفاده کیږي.

.[30-35:9]

$$f_t(i) = \underbrace{min}_{j}\ \{c_{i\,j} + f_{t+1}(j)\}$$

د ډینامیک پروګرام لپاره لاندې ټکي په نظرکې نیسو:

- لومړی دغه شبکه په 1,2,...,10 سره نامګذاري کوو.
- $C_{ij}$ د **i** ښارڅخه د **j** ښارته هغه واټن راښیي.

- $f_t(i)$ دیوې طبقې څخه بلې طبقې ته هغه واټن راښيي.

**ځانګړتیاوې**

- لومړی مسئله په څوفرعي طبقو باندې طبقه بندي کوو.
- هره طبقه د خپل ځان سره د طبقې مربوطه شمېرې او حالتونه لري.
- کوم تصمیم چې د هرې طبقې لپاره انتخاب شوی وي، دا څرګندوي چې د اوسنی طبقې حالت به په راتلونکې طبقه کې څنګه وي.
- د باقیمانده دهرحالت لپاره تصمیم نیول په مخکینیو حالتونو یا غوره شوي تصمیم پورې اړه نه لري.
- که چیرته د مسئلې طبقه بندي د T په طبقو باندې ګروپ بندی شي، نوبیرته یو شاه تګ موجود دی داسې چې هغه قېمت چې د $t, t+1, \dots, T$ په طبقوکې لاس ته راځي دهغه قېمت سره چې د$t+1, t+2, \dots, T$ طبقوڅخه لاسته راځي یوله بل سره اړیکه درلودلی شي. [10-20:5]

**لنډ مسیره مسائیل**

لنډ مسیره مسائیلو موضوع یو پراخه عملي تطبیقي ساحه لري. چې زیاتره مسایل یې په برقي انجینري، کیمیا، اداره او منجمنت، بازارموندنې، تجارت، صنعتي انجینري، د ترانسپورت په پلان جوړونه او همدرانګه په ښوونه او روزنه کې د لنډې لارې ماډل په توګه تنظیم کیدلی شي. د ډینامیک پروګرام په واسطه په اسانی کولی شو هغه مسایل چې ډیرمغلق او پیچلي وي حل کوو. لومړی مکمله مسئله په څو فرعي طبقو باندې وېشواوهره فرعي طبقه محاسبه کوو، بیا دهغې مکمل حل دهغې د فرعي حل څخه په لاس راوړو.[8-85:2]

د دې لپاره لاندې مثال په نظرکې نیسو اود New York ښارڅخه Los Angeles ښار ته هغه نږدې واټن پیدا کوو.[255-260:10]




۱- شکل

د پورتني شبکيي سیستم په شکل کې لس ښارونه (10-1) په پنځو طبقو کې ځای په ځای شوي دي، که چیرې دغه طبقې په $f_i$ ، $i = 1,2,\ldots,5$ سره وښیو، پس د طبقو سیټ یې عبارت دی له:

$$f_1 = \{1\}, f_2 = \{2,3,4\}, f_3 = \{5,6,7\}, f_4 = \{8,9\}, f_5 = \{10\}$$

د پورتني شبکې سیستم اعظمي او اصغري قیمتونه په لاندې ډول په لاس راوړو.[6 :20-13]

1.لومړی مونږ Los Angeles ته هغه نږدې واټن د څلورمې طبقې څخه معلوموو، نو یو قدم شاه تګ کوو. ځکه چې په پنځمه طبقه کې یعني $f_5(10) = 0$ سره دی.




۲- شکل

دلته هغه نږدې فاصله د Denver او د San Antonio څخه Los Angeles ته عبارت دی له:

$$f_4(8) = 1030$$
$$f_4(9) = 1390$$

2- اوس یوه طبقه شاته ځو او هغه نږدې واټن د دریمې طبقې دهرښار څخه معلوموو.

$$f_3(5) = \min\begin{cases} C_{58} + f_4(8) = 610 + 1030 = 1640^* \\ C_{59} + f_4(9) = 790 + 1390 = 2180 \end{cases}$$

$$f_3(6) = \min\begin{cases} C_{68} + f_4(8) = 540 + 1030 = 1570^* \\ C_{69} + f_4(9) = 940 + 1390 = 2330 \end{cases}$$

$$f_3(7) = \min\begin{cases} C_{78} + f_4(8) = 790 + 1030 = 1820 \\ C_{79} + f_4(9) = 270 + 1390 = 1660^* \end{cases}$$

لیدل کیږي چې $f_3(5)$، $f_3(6)$ او$f_3(7)$ کې ترټولوټیټ قیمتونه $1640^*$، $1570^*$ او $1660^*$ دي.

3- بیا یوه طبقه شاته ځو او هغه نږدې واټن د دوهمې طبقې دهرښار څخه معلوموو.

$$f_2(2) = min\begin{cases} C_{25} + f_3(5) = 680 + 1640 = 2320^* \\ C_{26} + f_3(6) = 790 + 1570 = 2360 \\ C_{27} + f_3(7) = 1050 + 1660 = 2710 \end{cases}$$

$$f_2(3) = min\begin{cases} C_{35} + f_3(5) = 580 + 1640 = 2220^* \\ C_{36} + f_3(6) = 760 + 1570 = 2330 \\ C_{37} + f_3(7) = 660 + 1660 = 2320 \end{cases}$$

$$f_2(4) = min\begin{cases} C_{45} + f_3(5) = 510 + 1640 = 2150^* \\ C_{46} + f_3(6) = 700 + 1570 = 2270 \\ C_{47} + f_3(7) = 830 + 1660 = 2490 \end{cases}$$

لیدل کیږي چې $f_2(2)$، $f_2(3)$ او$f_2(4)$ کې ترټولوټیټ قېمتونه $2320^*$، $2220^*$او $2150^*$ دي.

4- بیا یوه طبقه شاته ځواو هغه نږدې واټن د New York ځخه Los Angeles ته پیدا کوو.

$$f_1(1) = min\begin{cases} C_{12} + f_2(2) = 550 + 2320 = 2870^* \\ C_{13} + f_2(3) = 900 + 2220 = 3120 \\ C_{14} + f_2(4) = 770 + 2150 = 2920 \end{cases}$$

وینو چې په $f_1(1)$ طبقه کې ترټولوټیټ قېمت $2870^*$ دی، نو په نتیجه کې ویلای شو چې هغه مطلوب نږدې واټن عبارت دی له:

1→2→5→8→10




-٣)

**د ډینامیک پروګرام د محاسبې مؤثریت**

- په پورتني شبکې مثال کې، د ټولو ممکنه مسیرونو شمېر معلومول آسانه دی یعنې (3X3X2=18) مسیرونه وجود لري.
- د لویو مشکلاتو د حل لپاره ، ډینامیک پروګرام د ټولو لارو د شمېرولو په نسبت خورا ډیراغیزمن دی.
- فرض کړئ، یوه شبکه چې د 7 طبقو ځخه تشکیل شوې وي، که د 2 طبقې ځخه تر 6 طبقې پورې هر یو یې 5 غوټې ولري، دلته د 1 غوټې ځخه تر 27 غوټې پورې $5^5$ ممکنه لارې موجودې دي چې د هر مسیر طول د پیدا کولو لپاره د 5 عدد اضافه کولو ته ضرورت لرو.




(۴-شکل)

**پایله**

د پورتني تحقيق او څېړني په بهيرکې مونږ دې پايلې ته رسيږو چې ډینامیک پروګرام په واسطه د نږدې او لېرې واټن په معلومولو، د اعظمي او اصغري قیمتونو په پيدا کولو، ګرافيکي مسايلو، لنډ مسيره مسايلو، کمپيوتري شبکې، پروازونو په ترتيب کولو، رباتیک په کنترول اود اقتصاد او مالي په مختلفو برخو کې ( د يو شرکت د ګټې يا تاوان ټيټ اولوړ قېمتونه معلوم کړو) همدارنګه د شبکه سازي په مسائيلو او نږدې اولرې مسير په معلومولو کې ترې په پراخه توګه کار اخيستل کيږي.

**ماخذونه**

[1] á Denardo, E. (1982). Dynamic Programming: Theory and Applications, Prentice Hall, Englewood Cliffs, NJ, USA."6(2): 40-50.
[2] Alwan, N. A., et al. (2012). "Fast computation of the shortest path problem through simultaneous forward and backward systolic dynamic programming." **54**(16): 08-85.
[3] Bellman, R. J. S. (1966). "Dynamic programming." **153**(3731): 34-37
[4] Bertsekas, D. P. (1987). Dynamic Programming: Determinist. and Stochast. Models Prentice-Hall.
[5] Chou, Y.-L., et al. (2001). "A Formalism for Dynamic Programming."8(1):10-20.
[6] Denardo, E. V. (2012). Dynamic programming: models and applications, Courier Corporation. "40(7)13-20.
[7] E. V. Denardo.(2003). Dynamic programming: models and applications. Courier Dover Publications.
[8] Mahdavi, I, et al. (2009). "A dynamic programming approach for finding shortest chains in a fuzzy network." **9**(2): 503-511.
[9] Rust, J. (2008). Dynamic Programming. In: Durlauf, S.N., Blume L.E. (Eds.), New Palgrave Dictionary of Economics. Palgrave

Macmillan, second edition: 30-35.
[10]Trick, M.A., and S.E. Zin (1997). Spline approximations to value functions linear programming approach. Macroeconomic Dynamics: 255–260.

# د افغانستان او پاکستان د ښوونیز نظام پرتلیزه څېړنه

لیکونکی : پوهنمل اسدالله تنی
د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځي د عامه اړیکو څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی محمد خان نیازی دژورنالېزماو عامه اړیکو پوهنځي، عامه اړیکو څانګې استاد

**لنډیز**

په ټوله نړۍ کې د ښوونې او روزنې نظام د دولت له لومړنیو موخو او اړتیاوو څخه ګڼل کېږي، چې په دې سره یې اقتصادي پرمختګ، کلتوري، سیاسي او ټولنیزه هوساینه لاسته راځي. دا کار د بشري منابعو له پراختیا، د ساینس او پوهې له خپرېدو او د هغه د وجود په مختلفو برخو او ابعادو کې د انساني استعدادونو له راڅرګندېدو پرته ممکن نه دي.

د ښوونې او روزنې سیستم هغه وخت تازه، ګټور، متحرک او اغېزمن وي، چې د نصاب جوړوونکي متخصصین او پالیسي جوړوونکي د پوهنې سیستم تاریخ او فعالیت وګوري ستونزې او خنډونه یا سرعت کوونکي عوامل په ګوته کړي او د لرې کولو او سمولو لپاره یې کار وکړي. خنډونه او اغېزمن عوامل چمتو کوي او ټول ښکېل کسان باید د هېواد د پراختیا او د بشري منابعو د پراختیا ترمنځ په اړیکو ژور باور ولري، تر څو چې ستونزې او خنډونه په ګوته او د حل لپاره یې جدي او فعال ګامونه پورته نه شي، د یو پرمختللي هېواد او ټولنیزې هوساینې او رفاه تمه ناشونې ده.

د افغانستان د ښوونې او روزنې نظام د جوړښت، اسلوب او سیستم له پلوه د خپل ژوند په لړ کې ډېر بنسټیز بدلون نه دی لیدلی او تقریباً له پیل نه تر اوسه یو ډول جوړښت لري. خو د پاکستان تعلیمي نظام له پیل نه تر اوسه پورې د اکسفورډ په سیستم مخته روان دی، چې په علمي او تخنیکي لحاظ د افغانستان له تعلیمي نظام نه ډېر پرمختللی سیستم لري.

**کلیدي ټکي**

**د ښوونې روزنې نظام، د افغانستان او پاکتستان تعلیمي نظامونو جوړښت، د افغانستان او پاکستان تعلیمي نظامونو پرتلنه.**

**سریزه:**

د پوهنې د پرمختګ تاریخ په هر هېواد کې او د هر ډول ټولنیز سیاسي سیستم په هېوادونو کې دا روښانه کوي چې د مسئلو او ستونزو او نیمګړتیاوو پېژندل د هرې هڅې یوه اړینه برخه ده او دا مسئله په ملي او نړیوالو پالیسیو کې پېژندل شوی ځای لري او د هېوادونو چارواکي په ژوره توګه په دې باور دي چې د هېواد اقتصادي وده او پرمختګ په پرمختللو تعلیمي سیستمونو پورې اړه لري. د ټولنې د ژوند د شرایطو هوساینه، رفاه او ښه والی له علمي پرمختګ او د انسان له فکري لاسته راوړنو پرته ناشونې ده.

زموږ په هېواد کې اوسنی تعلیمي نظام د پرمختللو هېوادونو له دودیز سیستم څخه اخیستل شوی دی، په دې توګه ښوونیز پروګرامونه د مخکې ټاکل شوي هدف سره سم پرمخ وړل شوي دي، د نصاب

محتوا د داسې چلند پر بنسټ ولاړه وه، چې د ماشوم ذهن د ځمکې په توګه وګڼل شي او په هغه کې د لویانو مختلف ډولونه وده وکړي، دا ممکنه او اړینه ده، چې د زده کړې طریقه به د حفظ کولو طریقه وي، کوم چې په ننني نړۍ کې نامناسب او غیر مؤثر ګڼل کېږي.

په دې طریقه د زده کړې بهیر د زده کوونکو اړتیاوې، ذوقونه او انفرادي توپیرونه او تمایلات په پام کې نه نیسي او همدارنګه د زده کوونکي فعال رول، استعداد او ذوق هم په پام کې نه نیول کېږي. له همدې امله په دې مقاله کې هڅه شوې ده، چې د هېواد د پوهنې د نظام نیمګړتیاوې وڅېړل شي، د دغه حیاتي او مهم نظام دکمزورتیا لاملونه په ګوته شي او د ګاونډي هېواد پاکستان له تعلیمي نظام سره یې ښېګڼې او بد ګڼې پرتله کړو.

**موخې**

۱-د افغانستان او پاکستان د ښوونیزو نظامونو د قوت او ضعف ټکو پېژندنه

۲- د دواړو هېوادونو د ښونیزو نظامونو له یو بل سره په جوړښت، تخنیک او په تیکنالوژیکي برخو کې د توپیرونو موندنه

۳- ددواړو هېوادونو د ښونیزو نظامونو د غوره او ګټور نظام پېژندنه

**مخینه**

له تاریخي اسنادو په ډاګه کېږي، چې افغانستان د نولسمې پېړۍ تر پایه د ښوونې او روزنې منظم او مشخص نظام نه درلود، بلکې دغه کار په دودیزه توګه په فرهنګي مرکزونو، جوماتونو کورنیو مکاتبو، مدرسو او ... کې په دودیزه او ابتدایي بڼه تر سره کېده. ښایي دغه لاره د هغه مهال په اکثریت هېوادونو کې دود وه؛ خو کله چې امیر شېرعلي خان (۱۸۹۷-۱۸۶۷م) کالونو کې واک ته ورسېد، د ختیځ نابغه سید جمال الدین افغان په ګډون یې د هغه مهال له علمي، فرهنګي او فکري شخصیتونو سره اړیکې ټینګې کړې او د غو کسانو له ارشاداتو او افکارو یې ژوره ګټه پورته کړه. د هېواد په تاریخ کې لومړنۍ جریده (( شمس النهار)) خپره شوه او د هغه مهال افغانستان په دودیزه ټولنه کې یې د افکارو او اذهانو په روښانولو کې مهم رول ولوبوه.

د عصري کولو په ډګر کې د امیر شېرعلي خان بل کار په کابل کې د حربي ښوونځي پرانیسته وه، دا د افغانستان په تاریخ کې لومړنۍ رسمي ښوونځی و، چې په دوو برخو (ملکي او نظامي) کې یې فعالیت درلود. امیر حبیب الله خان د امیر شېرعلي خان کارونو ته ادامه ورکړه او په (۱۲۸۲هـ ش) کال یې په کابل کې د حبیبې لېسه تآسیس کړه. حبیبې لېسې درې دورې لرلې، چې لومړۍ ته یې ابتدائیه (څلور کلنه)، دویمې ته رشدیه (درې کلنه) او درېیمې ته یې اعدایه (درې کلنه) دوره ویل کېده او په دې سره د هېواد لومړنۍ عصري لېسه وګرځېده. (۱: ۲۵-۲۴ ).

د امیر حبیب الله خان له علم پالونکو کارونو بل هم دا و، چې په هېواد کې یې د لومړي ځل له پاره د ښوونکو روزنې مرکز (دارالمعلمین) جوړ کړ. د ښوونکو روزنې په دې مرکز کې د زده کړو موده درې کاله وه او هغه مهال (۸۰) تنو ښوونکو په کې زده کړې کولې. روزل شوي ښوونکي د امیر په امر ولایتونو ته لېږل کېدل، څو هلته په تازه پرانیستل شویو رسمي ابتدائیه ښوونځیوکې تدریس وکړي.

په اماني دوره کې د فرهنګي ودې له پاره ستر ګامونه پورته شول او د حبیبې لېسې د فعالتیونو له

پراخولو سربېره، اماني لېسه، غازي لېسه، استقلال لېسه، تلگراف مکتب، د رسامۍ مکتب، د معمارۍ مکتب، السنه مکتب، د کرنې مکتب، عربیه دارالعلوم او رشدیه متسورات په کابل کې تآسیس او په تعلیمي فعالیتونو یې پیل وکړ. همدارنگه په ولایتونو کې هم ستر ښوونځي او مدارس تآسیس شول، چې تر ټولو مشهور یې په لاندې ډول دي: جلال آباد رشدیه، کندهار زراعتي رشدیه، هرات رشدیه، هرات دارالمعلمین، مزار شریف رشدیه، قطغن رشدیه، مکتب پولیس، مکتب میوزیک، د غالۍ اوبدلو مرکز، معماري مکتب او طبیه مکتب. د اماني دورې تر پایه په ټول هېواد کې د دولتي ښوونځیو شمېر (۳۲۲) بابو ته ورسېد او (۱۳۰۵) هـ ش کال له احصایې سره سم د ابتدایي زده کوونکو شمېر تر (۵۱) زرو لوړ ؤ.

(۲: ۳۶-۳۵).

همدارنگه په اماني دوره کې د افغانستان لومړنی اساسي قانون تدوین او د (۶۸) مادې له مخې لومړنۍ زده کړې جبري شوې. د پوهنې (معارف) وزارت رسماً تآسیس او سردار محمد سلیمان د افغانستان په تاریخ کې د پوهنې لومړنی وزیر وټاکل شو. له (۱۳۰۲-۱۳۰۶هـ ش) کالو ټولټال (۶۹۳۵۹۵) ټوکه درسي کتابونه د پوهنې وزارت له لوري چاپ او ورسره سم د پوهنې مطبعه هم تآسیس شوه. سلگونه زده کوونکي د تحصیل له پاره بهرنیو په ځانگړې توگه اروپایي هېوادونو ته ولېږل شول او د پوهنې وزارت بودجه له حرب (دفاع) او دربار وزراتونو وروسته په درېیمه درجه کې راغله. په کابل ښار کې د دولت له لوري د دوو کتابتونونو جوړېدو، د څېړنو او تحقیقاتو له پاره هم زمینه پرانیسته او د ښوونې روزنې بهیر صعودي مزل پیل کړ، مگر دا هر څه د حبیب الله کلکاني (بچه سقاو) په راتگ سره له منځه لاړل او د ښوونې او روزنې رڼې مشال د څه مودې له پاره تیاره شو.

د محمد ظاهر شاه د څلوېښت کلن سلطنت (۱۳۵۲. ۱۳۱۲) هـ ش کالونو په لومړیو کې د پوهنې وضعیت د پام وړ پرمختگ نه دی کړی، خو د شاه محمود خان د صدارت په دوره کې دې وضعیت ته څه نا څه پاملرنه وشوه او د ټولو ښوونځیو شمېر (۶۲۷) ته ورسېد او په کې (۱۱۱۲۵۴) تنو زده کوونکو (نجونو او هلکانو) زده کړې کولې او د (۳۴۴۱) تنو ښوونکو له خوا یې تدریسي چارې پر مخ تلې.

(۳: ۸۴-۴۷).

د محمد ظاهر شاه د واکمنې په جریان کې پاکستان منځ ته راغی او د پخواني برتانوي هند په تعلیمي سیستم یې خپل تعلیمي بهیر پر مخ بېولو، چې په کې له اکسفورډ سیستم څخه استفاده کېدله.

په (۱۳۵۲) هـ ش کال کې د ظاهر شاه سلطنت د یوې سپینې کودتا په وسیله پای ته ورسېد او د سردار محمد داوود خان جمهوریت یې ځای ونیو. داوود خان د خپلې واکمنۍ پر مهال ابتدائیه دوره له شپږو کالو اتو کالو ته لوړه کړه، د ښوونځي د پیل عمر یې ۶ یا ۷ کلني اعلان کړه او د څلور کلنې ثانوي دورې له پاره یې د کانکور ازموینه وټاکله. د سردار محمد داوود خان د ښوونې او روزنې پروگرام بریالی نه دی گڼل شوی، په ځانگړې توگه هغه د کانکور ازموینه له نیوکو سره مخ شوه، چې باید ثانوي دورې (متوسطه او لېسه) ته د بریالیتوب له پاره ورکړل شوې وای.

په (۱۳۵۷) هـ ش کال د ثور په اوومه د جمهوریت له پای او کمونیستي نظام له راتگ سره پوهنې او د

ښوونې روزنې نظام ته له سره کتنه وشوه. کمونیستانو ښوونه او روزنه د خپلو مارکیسستي او لېنیني ایډیالوژۍ پراخولو له پاره تر ټولو مناسبه لاره ګڼله، ځکه یې له خپلې ایډیالوژۍ سره په کې پراخ تغییرات راوستل. د هغه مهال د نوي اساسي قانون د څلوېښتمې مادې په لومړۍ فقره کې د ښوونکي د دندو په اړه راغلي: ((د علومو پر مستحکمو بنسټونو د زده کوونکو سمبالول، په زده کوونکو کې د علمي نړۍ لید تشکیلول، د زده کوونکو ګټوره ټولنیزه وده او لیاقت د ښوونکي له دندو څخه دي)). همدارنګه د ۵۷ مادې په دوهمه فقره کې د ښوونځي مدیر مسئولیتونه دا ډول ټاکل شوي: ((د تدریس د سیاسي او ایډیالوژیکو افکارو له پلي کولو څارنه، د پوهې درجې کیفیت څارنه، په زده کوونکو کې د نېک رفتار او کردار ایجادول او له ټولګي څخه بهر د زده کوونکو د سیاسي او روزنیزو کړنو تنظیم)).(۵: ۵۷- ۵۸).

د خلق دیموکراتیک جمهوریت له پای او د صبغت الله مجددي په مشرۍ د مجاهدینو حکومت په راتګ سره مارکیسستي تفکر د افغانستان له معارف څخه وتوړل شو او ځای یې اسلامي افکارو ونیو. د مجاهدینو په دوره کې تعلیمي نصاب درې ګونو دورو (ابتدائیه، متوسطه، لېسه) کې ګڼ شمېر دیني مضامین لکه قرآنکریم، حدیث، تفسیر، عقاید، فقه، تجوید، اسلامي تاریخ، صرف او نحو او همدارنګه عربي ژبه زیات شول. خو د مجاهدینو حکومت ډېر ژر په ټولو برخو کې له ننګونو سره مخ شو او په دې لړ کې معارف هم درانه زیانونه وګالل. د اوبایمې لسیزې کورنیو جګړو پر مهال د پوهنې ۷۰ سلنه تآسیسات ویجاړ او د تحصیل بهیر په ټپه ودرېد.

د شلمې پېړۍ په پای کې د مجاهدینو حکومت د طالبانو اسلامي امارت له خوا وپرځول شو او په لومړي سر کې کابو ټول ښوونځي وتړل شول؛ ځکه د طالبانو په باور جهاد له زده کړو لومړیتوب درلود. د پلازمېنې له نیولو او اسلامي امارت له اعلان وروسته، د معارف په اړه نوی قانون جوړ شو او په دوهمه ماده کې یې لومړۍ زده کړې جبري وګڼل شوې. که څه هم د طالبانو د امارت د پوهنې په قانون کې ښځو ته د علم د زده کړې حق ټاکل شوی، خو دغه حق کله هم ورنه کړل شو. د (۱۳۷۷) ه ش په پیل کې د ښځو انجمن او د ورکتونو عمومي ریاست لغوه شول او کابو (۷۰۱۴) ښځینه ښوونکې له دندې وشړل شوې. همدارنګه د دولتي کارکوونکو د چاڼ په برخه کې هم (۲۷۰۵۴) تنې ښځې له دندو اخراج شوې. د ملا محمد عمر له فرمان سره سم، له ۱۲ کالو لوړ عمر لرونکو او ټولو زده کوونکو له پاره د لونګۍ په سر کولو جبري اعلان شول او امر وشو چې ټول خلک باید نبوي لباس واغوندي .(۴: www.moe.gov.af).

د پاکستان لومړني ثانوي ښوونځي د برتانیې لخوا تآسیس شوي. د لاهور د ارسطو د هلکانو ښوونځی، د ایلیټ کالج (پخوانی) او د آیچیسن کالج (اوس)، د انګریزانو لخوا د هند-پاکستانی شهزادګانو او د نارینه حکومتي چارواکو د زامنو د روزنې لپاره تاسیس شوي، نیمه عامه آیچیسن او ملکه مریم، چې یو څه خصوصي ښوونځیو ته ورته دي او د تحصیل فیسونه ترلاسه کوي، د ټولنې په مختلفو کچو کې د بې وزلو زده کوونکو په ګډون زده کوونکو ته ثانوي زده کړې ورکوي، د شتمنو خلکو په مرسته چې د زده کوونکو په زده کړې ټینګار کوي د وړیا زده کړې فرصتونه برابر کړي (۶: www.na.gov.pk).

د ثانوي زده کړو لومړنۍ مرحله د تعلیم دې برخې له خپلواکۍ وروسته ډېره وده کړې. د دغه کورس په ودې سره، چې پوهنتون ته د زده کوونکو د چمتو کولو کورس بلل کېږي، د نویو پوهنځیو په جوړولو او

د تخنیکي زده کړو په زیاتوالي کې ژور بدلون راغلی دی.
(۱۹: www.beps.net/publications ).

ثانوي زده کړې د بشري علومو څانګه، د انجینرۍ د چمتووالي څانګه او د طبي چمتووالي څانګه لري، د بشري علومو په ډیپارټمنټ کې تر ټولو مهم درسونه د تاریخ، ټولنیزو علومو، جغرافیه، ارواپوهنې، اقتصاد، انګلیسي، فارسي، عربي، پنجابي ژبې دي.(۷: د پاکستان نړیوال بانک،سروې،- ۱۵. جنوري ۲۰۲۲).

**د ښوونې او روزنې نوی نظام**

په (۱۳۸۱) هـ ش کال د نوي نظام په جوړېدو سره د پوهنې سیستم ته یو ځل بیا له سره کتنه وشوه او له نړیوالو معیارونو سره سم، نوی تعلیمي نصاب جوړ شو. ګڼ شمېر ښوونځي، د ښوونکو روزنې مؤسسې، پیداګوژیکي مرکزونه، د مسلکي زده کړو ښوونځي او مدارس فعال شول او د میلیونونه افغان ماشومانو له پاره یې د ښوونې روزنې زمینه برابره کړه.

خو د پاکستان هېواد تعلیمي نظام له پیل نه تر اوسه پورې زموږ د تعلیمي نظام په څېر انقلابونو نه دی ځپلی او خپل تعلیمي سیستم ته یې د پخوا په پرتله نوښت او پرمختګ هم ورکړی دی.

په (۱۳۹۹) هـ ش کال کې تقریباً ۹ میلیونه ماشومان (۴۱ سلنه نجونې) په شاوخوا لس زره بابه دولتي ښوونځیو کې د زرګونو ښوونکو له خوا تر زده کړو لاندې و او تر څنګ یې تقریباً ۱۵۰۰ بابه خصوصي ښوونکي هم د نوي نسل په روزنه بوخت و. دغه د ښوونځیو د مدیریت کچه له پخوا ډېره ښه شوې وه او د هېواد په سترو ولایتونو کابل، کندهار، هرات، مزار شریف، ننګرهار، خوست او کندوز ولایتونو کې سلګونه بابه ښوونځي د خلاقانه او نوښتګر مدیریت په مټ د ماډل یا نمونه ښوونځیو په بڼه فعالیت کولو او د عصري ښوونې روزنې ټول امکانات یې د زده کوونکو او ښوونکو په واک کې ورکړي وو. (۸: www.moe.gov.af).

د پاکستان د تعلیمي نظام په اړه د ترلاسه شوو احصایو له مخې په ۱۹۹۱ کال کې ۱۱۹۷۸ د لېسو زده کوونکي، ۱۵۴۸۰۲ د عالي لېسې ښوونکي او ۲۹۹۵۰۰۰ د عالي لېسې زده کوونکي وو، د لېسې د زده کوونکو تناسب له ښوونکو سره ۱۹ زده کوونکي د یوه ښوونکي په پرتله په ۱۹۸۳ کال کې ۳۳٪ ته لوړ شو. په هرصورت د ۱۹۸۰ لسیزې په لومړیو کې د لېسو د فارغانو په شمېر کې د پام وړ بدلون راغلی، په داسې حال کې چې په ۱۹۷۵ کې د نارینه او ښځینه فارغانو په تناسب کې یو شان وو. (۹: www.na.gov.pk).

**د افغانستان تعلیمي نظام جوړښت**

د افغانستان د ښوونې او روزنې نظام د جوړښت، اسلوب او سیستم له پلوه د خپل ژوند په لړ کې ډېر بنسټیز بدلون نه دی لیدلی او تقریباً له پیل تر اوسه یو ډول جوړښت لري. د ښوونې او روزنې نظام په دوو سترو برخو (لومړنۍ زده کړې، ثانوي زده کړې) او درېیو دورو (ابتدائیه، متوسطه، لېسه) کې پر مخ وړل کېږي. په لومړنیو زده کړو کې ابتدائیه، او متوسطه دورې، یانې له لومړي تر نهم ټولګي پورې شاملېږي او په ثانوي زده کړو کې لېسه دوره، یانې له لسم تر دوولسم ټولګیو شامل دي.

په افغانستان کې ښوونه او روزنه په دوو برخو کې ترسره کېږي: لومړنۍ زده کړې او ثانوي زده کړې.

(۱۰: د زده کړې قانون، ،ص،۸۲).

**اساسي زده کړه**

دا کورس له لومړي څخه تر نهم ټولګي پورې اړه لري، په افغانستان کې تر دریم ټولګي پورې دری، قرانکریم ، ریاضي، نقاشي، خطاطي، سپورت او تمدن تدریس کېږي. له څلورم نه تر شپږم ټولګي پورې د دری ژبې، ریاضي، نقاشي، خطاطي، تاریخ، جغرافیه، نړۍ، سپورت او تمدن مضمونونه تدریسېږي.

**ثانوي زده کړې**

په دې کورس کې له لسم څخه تر دوولسم ټولګي شامل دي. (۱۱: د زده کړې قانون، ،ص،۸۲).

د هر ټولګي موده نهه میاشتې ده په دې نهه میاشتو کې د زده کوونکو څخه دوه ازموینې اخیستل کېږي .

یوه ازموینه یې څلورنیمې میاشتې ده او بله ازموینه یې کلنۍ ده.

که یو څوک په څلورنیم میاشتنۍ ازموینه کې په یوه یا ډیرو مضامینو کې له (۴۰) څخه کمې نمرې تر لاسه کړي، هغه زده کوونکی ناکام ګڼل کېږي، خو که چېرې یو زده کوونکی په یو یا دوه مضمونونو کې له ( ۴۰) څخه کمې نمرې ولري او پاتې نورې یې له (۴۰) څخه پورته نمرې ولري هغه به مشروط وي او د کال په پای کې به مشروطه ازموینه ورکوي.)(۲۰: ۲۵)

**د پاکستان ابتدایي زده کړو تعلیمي جوړښت**

په پاکستان کې د ۵ کلنۍ دورې (د ۵-۱ټولګي) په موده کې د ۵ کلنۍ څخه پیل کېږي. زده کوونکي بیا دوه پړاوه روزنیز کورس ته داخلېږي، چې په لومړی پړاو د( ۶ - ۸ ټولګي) شامل دی. (او دویمه مرحله (د ۱۰-۹ ټولګي او د لس کلنې دورې د آزموینې له پاسولو وروسته، د ثانوي ښوونځي سند(SSC) فارغانو ته ورکول کېږي. د دې سند په ترلاسه کولو سره، زده کونکي د ۴ کلونو مطالعې وروسته د کالج پورې تړلو کالجونو او د لیسانس درجې ته د مستقیم داخلېدو وړ دي. (۱۲: www.pgc.pk ).

په پاکستان کې ثانوي زده کړې په ۹ کال کې پیل کېږي او څلور کاله دوام کوي .د ښوونځي د هر کال پای ته رسېدو وروسته، زده کوونکي اړ دي، چې ملي ازموینه تېره کړي چې د منځنې او ثانوي زده کړو سیمه ایز بورډ (یا (BISE لخوا اداره کېږي.

د ۹ کال په پای ته رسېدو سره، زده کوونکي تمه کېږي چې د دوی د اکاډمیک مضامینو SSC-I) په هرې لومړۍ برخې کې معیاري ازموینه واخلي . دوی بیا د ورته کورسونو د دوهمې برخې ازموینې د ۱۰ کال (SSC-II)په پای کې اخلي .د دې ازموینو په بریالۍ پای ته رسېدو سره، دوی ته د ثانوي ښوونځي سند) یا (SSC) ورکول کېږي. (۱۳: www.pgc.pk )

دې ته په محلي ډول د میټریک سند یا لنډ لپاره 'میټریک' ویل کېږي، په نصاب کې معمولاً د اتو کورسونو ترکیب شامل وي، په شمول انتخابي (لکه بیولوژي، کیمیا، کمپیوټر او فزیک) او همدارنګه اجباري مضامین (لکه ریاضي، انګلیسي، اردو، اسلامي مطالعات او د پاکستان مطالعات شامل دي. (۱۴: www.na.gov.pk ).

**د ښوونځیو د مدیرانو او معلمانو پر وړاندې شته ستونزې او ننګونې**

مدیریت ستونزمن او سترې شغل دی، ځکه چې مدیران باید د لږو سرچینو او محدودو امکاناتو په مټ د مراجعینو پراخو او لویو غوښتنو ته ځواب ووايي. د ۲۱ پېړۍ ماهیت همداسې دی، چې مراجعین باید زیاتې تمې او غوښتنې ولري، ځکه دغه پېړۍ د علمي او اطلاعاتي انفجار په پېړۍ شهرت لري، د انټرنېټ اطلاعات په هرو شپږو ساعتونو کې دوه برابر زیاتېږي، زرګونه ټلویزیوني کانالونه او سټلایټونه د معلوماتو په خپرولو بوخت دي، ځکه نو د خلکو عمومي پوهه او معلومات له پخوا سره د پرتلنې وړ نه دي.

په داسې شرایطو کې د مدیرانو دنده خورا درنه او له ننګونو سره مل ده، ځکه چې مدیران باید په داسې شرایطو کې د رهبري او همغږۍ په قدرت د خپلو مراجعینو تنده خړوبه کړي. خو که زموږ په هېواد کې د مدیریت (په ځانګړې توګه تعلیمي مدیریت) سیستم له نورو هېوادونو سره پرتله کړو، وبه وینو چې مدیریت تر ټولو آسانه او ساده شغل دی.

دلته هغه څوک مدیر دی، چې سیاسي زور، له ځواکمنو سره تړاو او مالي سرچینې په واک کې ولري. زموږ مدیران پراخو مالي او انساني سرچینو ته لاسرسی لري، خو هیچا ته ځواب ویونکي نه دي. اصولاً د ځواب وینې نظام د افغانستان په اجرایی سیستم کې نه دی تعریف شوی.

د افغانستان د ښوونې او روزنې په اداره کې د ښوونځیو مدیران او معلمان د ځانګړو شرایطو له مخې مدیریت کوي: تر ټولو ټیټ معاش، بې سرپناهي، ناامني او تر ټولو لږ اداري پرسونل، خو له دې ټولو سره باید د زده کوونکو والدینو، ټولنې او دولت ته ځواب هم وايي؛ ځکه هر ډول تنبلي او تېروتنه د زده کوونکو پر ښوونه او روزنه منفي اغېز کولی شي او د دې کار لوی زیان ټولنې ته اوړي.

د افغانستان د دولتي ښوونځیو مدیرانو او معلمانو ته د سرپرستۍ ناچیز حق ورکړل شوی او په ټولو ادارو کې د خپلو همرازه مدیرانو پر خلاف، د کور، موټر، ګارد او ښه معاش څخه برخمن نه دي، بلکې یوازې له مدیریت سره د مینې او علاقې په خاطر کار کوي. د افغانستان د دولتي ښوونځیو مدیران باید خپل مافوق، د زده کوونکو والدینو او ټولنې ته ځواب ووايي او له بلې خوا په لږو (حتی هیڅ امکاناتو) د ښوونې روزنې کیفیت هم لوړ وساتي او په تش لاس د ښوونځي له ودانۍ او امکاناتو هم ساتنه وکړي.

د ښوونځیو مدیران له مدیریت سربېره، چې هغه هم ځانګړې فرصتونه غواړي باید د معلمۍ، روزنې، خدماتي کارونو، دفتري کارونو او حتی د یوه ساتونکي درانه مسوولیتونه هم سمبال کړي.

دا په داسې حال کې ده، چې حتی د یوه ښوونځي له پاره اړینو امکاناتو لکه کتابتون، لابراتوار، لوبغالي، مېزونو، څوکیو، درسي کتابونو او آن په ځینو ښوونځیو کې د څښاک پاکو اوبو ته هم لاسرسی نه لري. پاکستان هم زموږ په شان له ورته او یا په لږ تغییر سره په تعلیمي بهیر کې له ستونزو او ننګونو سره لاس او ګرېوان دی. په پوهنتونونو کې د ښوونکو د روزنې پروګرامونو لپاره وړ مسلکي کسان نه لري . په بلوچستان کې نږدې یو پر درېیمه برخه پوهنتونونه په خپلو ښوونیزو څانګو کې پروفیسوران نه لري او د بلوچستان په هیڅ یو پوهنتون کې د تعلیم په برخه کې پی ایچ ډي نه شته .(۱۵: www.pbs.gov.pk ).

په پاکستان کې د تعلیمي نظام په وړاندې ځینې لوی خنډونه شامل دي: تعلیم ته نه لاسرسی، مساوي فرصتونه، مطابقت، اړین ښوونکي او چاپېریال .د پاکستان ځینې داسې برخې هم شته چې حکومتي مشرانو یې داسې تګلارې نه دي جوړې کړي چې ماشومان ښوونځیو ته لاړ شي .ډېری ماشومان د رسمي

زده کړو د ترلاسه کولو لپاره له ښوونځي څخه ډېر لرې ژوند کوي .(۱۶: www.pbs.gov.pk )
ښځینه زده کونکو ته هم په ډېری ښوونځیو کې د نارینه زده کوونکو په څېر ورته ټولګي نه ورکول کېږي .د ښځینه زده کوونکو تر څنګ د زده کړو له فرصتونو بې برخې دي، ښځینه ښوونکې هم د درسي امکاناتو له نشتوالي سره مخ دي .په پاکستان کې د تعلیم د کمزورتیا یو بل ټکی چې ورسره مخامخ دی د محتویاتو اړوند دی .محتوا باید زده کوونکو ته درس ورکړي چې څنګه ټولنیزې ستونزې حل کړي او په سیاسي شخړو کې ور سره مرسته وکړي .

**ستونزې او حل لارې:**

زموږ د ښوونځیو مدیران او معلمان په داسې حال کې تدریس او مدیریت کوي، چې د ښوونځي له پاره ودانۍ نه لري او هغه چې ودانۍ لري، بیا هم د ټولګیو له کمښت سره مخ دي، د ښوونځي ودانۍ له هر ډول درسي امکاناتو تشه ده او ډېرې ودانۍ د زده کوونکو د حاجت پوره کولو له پاره تشنابونه او د څښاک پاکې اوبه هم نه لري. بله خوا مدیران هم له هر ډول ټیکنالوژۍ او نویو اطلاعاتو بې برخې دي، اکثریت ښوونکي لوړې او مسلکي زده کړې نه لري او د ټیټ معاش له امله د ښوونځي او زده کوونکو په پرتله، خپلو شخصي کارونو ته پاملرنه کوي.

د دولتي ښوونځیو معلمانو او مدیرانو لویه ستونزه دا ده، چې د معلمي او مدیریت تر څنګ کڼ نور مسوولیتونه هم ور تر غاړې دی. دوی باید د ښوونځي د مدیریت تر څنګ تدریسي چارې، خدماتي کارونه، دفتري او اداري کارونه او د ښوونځي ساتنې دندې هم پر مخ یوسي. د ښوونځیو یو شمېر معلمان او مدیران د هغه ځای اوسېدونکي نه دي، چې په ښوونځي کې یې په معلمي او مدیریت ګمارل شوي دي. د ښار اوسېدونکی کس په لرې پراته کلي او د یوه ولایت اوسېدونکي د بل ولایت په یوه سیمه کې د ښوونځي معلم او مدیر ګمارل شوی. دغه معلمان او مدیران باید هره ورځ څو کیلومټره پلې لاره ووهي او د ژوند په ناوړه شرایطو کې له امنیتي اندېښنو سره مل شپې ورځې تېرې کړي، دغه چاره خپله د مدیریتي ضعف لامل شوې ده.

په ټوله کې د تعلیمي مدیریت او په ځانګړې توګه د ښوونځیو د مدیریت یوه له سترو مسایلو دا ده، چې دغه مدیران د سابقه لرونکو معلمانو یا د ټولنې د نامتو فرهنګیانو له ډلې ګمارل کېږي، چې ممکن د ښوونځیو مدیریت له پاره کافي لیاقت او وړتیا ونه لري او حتا د ستونزو زېږولو لامل هم شي. ډېر کله داسې هم کېږي، چې د مدیریت څوکۍ د واسطه بازۍ پېر او پلور ښکار شي او د ضوابطو پر ځای روابطو ته ترجیح ورکول کېږي. په داسې حال کې، چې د مدیریت مقام لرونکي کسان نه یوازې باید غوره تعلیمي سابقه ولري، بلکې باید له غوره شخصیت، نېکو اخلاقو او پیاوړې رهبرۍ وړتیا لرنې هم برخمن وي.

په پاکستان کې هم دننه په ښوونځیو کې ډېرې عامې ستونزې موجودې دي، چې په کې د مناسبو روزنیزو اسانتیاوو نشتوالی، د روزنیزې دورې وړه موده، د ښوونکو لپاره په خدمت کې د روزنې نشتوالی او نورې ستونزې شاملې دي.

په پاکستان کې د ښوونکو کمښت دی، لابراتوارونه یې زاړه او ضعیف دي او نصاب یې خورا زوړ دی او د نننۍ نړۍ سره ډېر تړاو نلري. په ښوونځیو کې د درسي موادو نیمګړتیاوې او درسي نصاب، بې کیفیته

او کم کیفیت لرونکي ښوونکي او له ګڼې ګوڼې ډک ټولګي شامل دي .

**مناقشه:**

د افغانستان او پاکستان تعلیمي نظامونه په خپل منځ کې سره جلا، جلا توپیرونه، مثبت او منفي نقاط لري او د دواړو هېوادونو تعلیمي نظامونه له یو بل سره په جوړښت، تخنیکي او تیکنالوژیکي وسایلو کې سره فرق کوي. د افغانستان تعلیمي جوړښت تر دوولسم ټولګي پورې زده کړې لري، چې ابتدائیه، متوسطه او لېسه دي. له دې وروسته د کانکور ازموینې له اړخه د پوهنتون لیسانس سند (BA) څلور کاله د ماستري سند (MA) دوه کاله او دوکتورا سند(PHD) پنځه کاله دوام کوي.

د پاکستان تعلیمي جوړښت بیا د پرایمري(۶) مډل (۸) او مټریک یې(۱۰) تر لسم او کالج یې (۱۱-۱۲)ټولګي پورې دی. د پاکستان تعلیمي رشته بندي په سیکنډري سکول کې کېږي، د لیسانس سند(BA) په ۱۴ کې ورکوي، د ماستري سند (MA) دوه کلن او یو کلن لري او د دوکتورا سند (PHD) پنځه کاله دوام کوي.

د افغانستان تعلیمي نظام په رسمي ژبو کې تدریس ورکوي(پښتو ، فارسي) او دپاکستان تعلیمي نظام په انګلیسي ژبه تدریس لري او په لرې پرتو سیمو کې بیا په اردو او پښتو ژبه هم تدریس ورکوي.

د افغانستان تعلیمي نظام مرکزي او واحد کریکولم لري او په ټولو ولایتونو کې د تطبیق وړ دی.

د پاکستان تعلیمي نظام واحد کریکولم نه لري او فیډرالي سیستم لري، یعنې د هرې صوبې لپاره جدا تعلیمي کریکولم لري او شغل یې هم په هماغې صوبې پورې محدود دی.

د افغانستان تعلیمي نظام د جنډر له اړخه جدا تعلیمي نظام لري، یعنې نارینه او ښځینه یې بېلې زده کړې کوي. په اوسني نظام (اسلامي امارت) کې هلکان په یوه ورځ او نجونې په بله ورځ پوهنتونونو ته ځي.(۱۷: www.moe.gov.af).

د پاکستان تعلیمي نظام مختلط دی، هلکان او نجونې ګډ تعلیم کوي.

د افغانستان په پوهنتونونو کې د خارجي محصلانو لپاره سکالرشیفونه نه شته، خو د پاکستان پوهنتونونه د خارجي محصلانو لپاره سکالرشیفونه ورکوي. د افغانستان تعلیمي نظام رخصتي ملي دی او په ټول هېواد کې په یو ډول د تطبیق وړ ده، خو په پاکستان کې رخصتي په صوبو پورې محدوده ده.

د افغانستان تعلیمي نظام بودجه ملي ده او د افغانستان بانک ته راځي، خو د پاکستان تعلیمي نظام بودجه بیا په صوبه پورې محدوده ده.

د آزدی راډیو د راپور په اساس چې د عقرب ۲۲, ۱۳۹۷ کې خپور شوی، راغلي چې په پاکستان کې د ښوونې او روزنې سیستم په ځانګړې توګه د نجونو لپاره، د اوسلو ناستې له سرمشریزې راهیسې چې په ۲۰۱۵ م کال کې وه، د پاکستان هېواد د نړۍ تر ټولو خراب تعلیمي سیستم نومول شوی دی. په دغه راپور کې راغلي چې په پاکستان کې تر ۲۲ میلیونو زیات ماشومان چې یو پر درېیمه برخه یې نجونې او ۲۱ سلنه هلکان ښوونځي ته نه ځي. راپور زیاتوي چې ۵۹ سلنه نجونې او ۴۹ سلنه هلکان تر شپږم ټولګي وروسته ښوونځي ته نه ځي او ډېری یې د خپلو کورنیو د ملاتړ لپاره کار کولو ته اړ دي. (۱۸: ۲-۱۳۹۷-AP).

دمناقشې په وروستی برخه کې د دواړو هېوادونو د ښوونې او روزنې د نظامونو په پرتلیزه څېړنه کې د

پورته څېړنیز تحلیل په پایله کې دا ثابته شوه، چې د هر هېواد ښوونیز نظام ښېګړې او بدګړنې لري، چې د پاکستان د ښوونې او روزنې نظام نسبت د افغانستان ښوونیز او روزنیز نظام ته په لاندې دلایلو سره، یو څو ښېګړنې لري.

- په نهم ټولګي کې زده کوونکي سره بېلېږي، ( په ساینسي او ټولنیزو علومو ).
- ساینسي علوم یې بیا په مختلفو برخو ویشل کېږي، لکه کیمیا، بیولوژي، ریاضیات او ... چې په همدې ترتیب د زده کوونکو لپاره ریشته تخصصي کېږي.
- په دې نظام کې زده کوونکي له تکنالوژیکي ساینس سره ښه بلدتیا پیداکوي.
- له لومړي تر لسم ټولګي پورې اکثریت مضامین یې په انګلیسي ژبه تدریس کېږي، چې دا په خپله له زده کوونکو سره مرسته کوي چې له تکنالوژي سره په اسانۍ بلد شي.

**پایله:**

ښوونه او روزنه د یوه هېواد د پرمختګ او ترقۍ تهداب دی او د هرې ټولنې پرمختګ د ښوونې او روزنې له پرمختګ سره تړلی دی. له همدې امله د ښوونې او روزنې مسوولین او رهبران باید دغه چاره او د دې چارې د سمبالوونکو (معلمانو او مدیرانو) ستونزې او مشکلات له پامه ونه باسي. مسئولین باید د ښوونځیو د معلمانو او مدیرانو ستونزې هوارې او د ژوندانه اسانتیاوو ته یې جدي پاملرنه وکړي، تر څو هغوی هم د راتلونکي نسل ښوونې او روزنې ته لومړیتوب ورکړي.

په افغانستان او پاکستان کې هر کال د هېواد د ښوونې او روزنې له پوهنځیو او د ښوونکو روزنې مرکزونو ګڼ شمېر محصلان فراغت مومي، خو ډېر کم لیدل شوي، چې دغه روزل شوي کادرونه د ښوونځیو په مدیریتونو کې ګمارل شوي دي، چې له امله یې د ښوونې او روزنې د کیفیت ټیټېدو باعث ګرځي. ښه خبره دا ده، چې له دغه روزل شویو کادرونو په ښوونځیو کې استفاده وشي، تر څو له یوې خوا د مدیریت او زده کړو کیفیت لوړ شي او له بلې خوا د ښوونې او روزنې په برخه کې شوې پانګونه بې ځایه مصرف نه شي.

زموږ او پاکستان په تعلیمي نظام کې د مدیریت مقام لا هم خپل اصلي معیارونه او ضوابط نه دي موندلي، خو زموږ په نسبت د پاکستان تعلیمي نظام په تخنیکي او تیکنالوجیکي لحاظ ډېر پرمختللی دی. د تعلیمي مدیریت د ځینو ستونزو د هواري له پاره کولی شو، چې د معلم روزنې د پروګرامونو د پراخولو سر بېره، د مدیرانو له پاره هم لنډ مهاله مدیریتي کورسونه او د رهبرۍ لارو چارو ښودلو ورکشاپونه په لاره واچوو.

د ښوونځیو مدیران باید د معلمۍ تجربه ولري، تر څو وکولی شي دغه تجربې د ښوونځي په چارو کې وکاروي او په څنګ کې ور سره له خپلو فکري سرچینو، فني او ادراکي مهارتونو څخه هم ګټه واخلي. د ښوونځیو د مدیرانو له پاره لازمه ده، چې د روزنیزو علومو، روانپوهنې او ټولنپوهنې په برخو کې هم زده کړې وکړي.

د دواړو هېوادونو د مدیرانو د معلوماتي سطحې لوړولو له پاره باید د ښوونځیو مدیریتونه په معلوماتي تیکنالوژۍ او انټرنیټ تجهیز کړو، تر څو وکولی شي خپل معلومات نوي او د نړۍ له هره ګوټه د مدیریت

په برخه کې نوې تجربې خپلې کړي. باید په یاد ولرو، چې د ټولنې نوی او راتلونکی نسل د ښوونې روزنې په کیفیت او د تعلیمي مدیرانو او رهبرانو په ورتیاوو پورې تړلی دی.

**ماخذونه:**


1. ایمان، امان الله، (۱۳۹۲-۱۳۸۷). معارف تر هره کوره. کابل: میهن خپرندویه ټولنه.
2. ارشاد، اورنګزیب،(۱۳۸۴). افغانستان پېژندنه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
3. ایمان، امان الله ،(۱۳۹۲-۱۳۸۷). معارف تر هره کوره. کابل: میهن خپرندویه ټولنه.
4. د پوهنې وزارت. (۱۳۹۲-۱۳۹۰). د پوهنې ملي منځمهاله پلان. کابل: پوهنې مطبعه، www.moe.gov.af
5. غبار، میرغلام محمد. (۱۳۶۶). افغانستان د تاریخ په اوږدو کې. کابل: انقلاب خپرندویه ټولنه.
6. abc د پوهنې وزارت، پاکستان . (PDF) "په 2 اکتوبر 2011 کې د اصلي (PDF) څخه آرشیف شوی، www.na.gov.pk
7. "د سواد کچه، د لویانو مجموعه (د خلکو٪ 15 او پورته عمرونه) - پاکستان . "نړیوال بانک . په 15 جنوري 2022 کې اخیستل شوی.
8. د افغانستان د اسلامي جمهوریت تعلیمي نصاب، د پوهنې وزارت لخوا خپور شوی، اتم ټولګی، د پوهنې ویب پاڼه، د افغانستان د پوهنې وزارت ویب پاڼه" . په نومبر ۵, ۲۰۱۰ کې د اصلي آرشیف څخه ترلاسه شوی ۲۰۱۰ کال د نومبر ۱۰مه.
9. abc د پوهنې وزارت، پاکستان . (PDF) "په 2 اکتوبر 2011 کې د اصلي (PDF) څخه آرشیف شوی.
10. د زده کړې قانون - دریم څپرکی - ثانوي عمومي زده کړه" . په نومبر ۵, ۲۰۱۰ کې د اصلي آرشیف څخه ترلاسه شوی ۲۰۱۰ کال د نومبر ۱۱مه.
11. د ښوونې او روزنې قانون - دوهم فصل - اساسي ثانوي زده کړه" . په نومبر ۵, ۲۰۱۰ کې د اصلي آرشیف څخه ترلاسه شوی، ۲۰۱۰ کال د نومبر ۱۱مه.
12. پاکستان کې د تعلیم سیستم ستونزې، مسلې او حلونه 17 _ www.pgc.pk . "نومبر 2017 په 24 مارچ 2018 کې اخیستل شوی.
13. پاکستان کې د تعلیم سیستم ستونزې، مسلې او حلونه 17 _ pgc.edu . "نومبر 2017 په 24 مارچ 2018 کې اخیستل شوی.
14. د پاکستان د اساسي قانون 25 Aماده (انګلیسي ژباړه 28 www.na.gov.pk ,(PDF) "(فبروري 2012 په 24 جولای 2019 ).
15. " da b c پاکستان ټولنیز او د ژوند معیارونو اندازه کولو سروې 15-2014 (PSLM) ولایتي / ولسوالي . (PDF) "مارچ 2016 د 10 سپتمبر 2019 اخیستل شوی www.pbc.gov.pk
16. پیټر بلډ، ایډ) .۱۹۹۴]" .(پاکستان - تعلیم . "[پاکستان: یو هېواد مطالعه . د کانګرس د کتابتون لپاره . GPOاخیستل شوی د اپریل ]. 2010 .
17. د افغانستان د پوهنې وزارت ویب پاڼه. www.moe.edu.af
18. Aban 22, 1397, AP , راپور www.da.azadiradio.com
19. دجورج واشنګټن انستیټیوټ د کار ابتدایي نصاب راپور -www.beps.net/publications/DARI
20. کامګار، جمیل.(۱۳۸۷.تاریخ معارف افغانستان،کابل:انتشارات میوند، چاپ اول.

# د حمزه بابا غزل او سهل ممتنع

ليکونکی: پوهنيار سيدمرجان سروري
شيخ زايد پوهنتون، ژبو او ادبياتو پوهنځي ، پښتو څانګې استاد
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی دوکتور سبحان الله شهاب د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې استاد

**لنډيز**

په دغه څېړنه کې د سهل ممتنع صنف پېژندنه، د هغو شاعرانو ځانګړنې چې په خپلو اشعاوړ کې يې دغه فن ته ځای ورکړی دی لنډ بحث شوی دی. د حمزه بابا لنډه پېژنګلوي او دده له کليات د سهل ممتنع اړوند ځينې نمونې را اخيستل شوې دي. د حمزه بابا شعري وړتيا د پښتو ژبې په سوچه توب کې دده هڅې او د همدغو موضوعاتو د اثبات په اړه وضاحت د همدغې مقالې منځپانګه جوړوي. که د حمزه بابا کليات او هم دده په اړه ليکل شوي اثار مطالعه کړو، پوهېږو چې حمزه بابا هم په خپله خوږه پښتوکې د اشعارو داسې بېلګې لري، چې د خپل عاطفي او شاعرانه ځواک سره سم يې سخت او مشکل مطالب په ډېرو اسانو او عام فهموکلموکې را نغښتي دي، چې دا په خپله د ده د شعري وړتيا او د پښتو ژبې د عظمت نښې بلل کېږي. د حمزه بابا د شاعرۍ له ګڼو نورو اړخونو يو اړخ د سهل ممتنع نادر صفت دی، چې د ده غزل يې د تغزل لوړې مرتبې ته رسولی دی.

**کليدي وييونه:** ابداع، تغزل، حمزه بابا، شعريت، سهل ممتنع.

**د څېړنې موخې**

**اصلي موخه**

۱. د حمزه بابا په اشعارو کې د سهل ممتنع صنف پېژندل.

**فرعي موخې**

۱. د سهل ممتنع اشعارو په ځانګړنو پوهيدل.

۲. د سهل ممتنع شعر او موزون نثر ترمنځ له توپيرونو سره بلدتيا.

۳. د ابداعي اشعارو پېژندنه.

**سريزه**

سهل ممتنع د لوېې شاعرۍ هغه نادر او نه موندونکی صفت دی، چې د ډېرو سترو شاعرانو په شاعرۍ کې هم نه ليدل کېږي. ادب څېړونکي د دغه صفت د نه موندنې لامل له حده وتي اساني بولي. دا څرګنده خبره ده، چې ځينې شاعران په فطري توګه لوړ تخيل او معنا لرونکي شعرونه ليکي، مګر دا ناممکنه ده، چې هر شاعر دې په سهل ممتنع ډول شعرونو هم برلاسی وي. د دې وجه دا ده، چې د داسې شاعرۍ ځانګړنې بې حده اساني، سلاست او د ژبې سوچه والی دی. د ادب څېړونکو په وينا د موزون نثر او سهل ممتنع شعر ترمنځ ډېرکم توپير شته، هغه دا چې سهل ممتنع شعر په لوستلو او پوهېدلو کې دومره اسان وي، چې يو عادي لوستونکی هم دا فکر کوي، چې زه يې ليکلی شم؛ خو په

حقیقت او عملي ډول ډېر لوی شاعران هم د داسې وینا توان نه لري. د سهل ممتنع شعر ویلو د نورو ځانګړنو تر څنګ یوه ځانګړنه دا هم ده، چې کله هم شاعر په کومه ژبه شاعري کوي، د هغې ژبې د مناسبو کلمو او د اړتیا پر وخت د متبادلو لفظونو را وړلو ماهر وي. د ژور فکر، لوړ تخیل او بشپړې مشاهدې په درلودلو سره يې پنځونه افاقي، وینا او پیغام يې د هر چا لپاره څرګند وي. حمزه بابا په سوچه پښتوکې د سهل ممتنع صفت ډېرې شعري بېلګې لري. د ده شاعرانه بصیرت دومره لوړ دی، چې کله يې ویلي شعرونه خپله لوستي، نو د حیرانی ګوته يې په غاښ کړې او په زړه کې وايي، چې دا وینا د چا ده؟

چې خپل غزل له چانه واورم حمزه!

وایم، چې چاهسې ویناکړې ده (۳۰۵:۹)

په دغه بیت کې شاعرانه مبالغه نشته، یو ډول حیراني ده. د سهل ممتنع شاعر عاطفي اړخ ډېر لوړ وي. هغه د بشر داخلي احساساتو څخه هم خبر وي او د خپلې پوهې او کمال پر بنسټ د لوستونکي له عاطفي ځواک سره سم سخت او مشکل مطالب په ډېرو اسانو او عام فهمو الفاظو کې وړاندې کوي.

**دڅېړنې کړنلاره او مېتود**

د څېړنې کړنلاره کتابتوني ده، میتود يې تشریحي او توضیحي دی. دغه برخه کې د حمزه شینواري کلیات چې د محمد آصف صمیم په زیار او سریزې چاپ شوي دي تر ټولو اساسي رول لري؛ ځکه چې زما د څېړنې عملي کار پر دغه کلیاتو ولاړ دی. همدا رنګه د حمزه بابا په اړه د بېلابېلو ادبپوهانو له لورې لیکل شویو اثارو څخه هم ګټه اخیستل شوې ده.

**د څېړنې ارزښت**

د دغې څېړنې ارزښت دا دی، چې لوستونکي به د سهل ممتنع صنف په بشپړه مانا وپېژني او ترڅنګ به يې د هغو شاعرانو او اشعارو ځانګړنې هم وپېژني، چې په هغه کې د دغه نادر صنف څرکونه موجود وي . همدارنګه به لوستونکي د حمزه بابا د شاعرۍ د نورو اړخونو ترڅنګ د ده په اشعارو کې د سهل ممتنع په ابداع هم وپوهېږي. لوستونکي به د دغې مقالې په لوستلو سره د سهل ممتنع اشعارو ځانګړنې درک کړي، د موزون نثر او سهل ممتنع ترمنځ به پوله ورته معلومه شي.

**تېرو اثارو ته کتنه**

حمزه بابا د ملک بازمیر خان زوی، په (۱۹۰۷) زېږدیز کال د خیبر پښتونخوا په قبایلي سیمه لنډي کوتل کې زېږېدلی دی. په درې کلنۍ کې يې مور وفات شوه. د مور له مړینې وروسته يې روزنه مشر ورور بلخې خان او میرې مور ته ور په غاړه شوه. حمزه بابا په (۱۹۱۶) زېږدیز کال کې د نهو کالو پر عمر ښوونځي کې شامل شو، مګر حمزه بابا ښوونځی د ښوونکي لخوا د سختو وهلو په وجه پرېږدي، چې کېسه يې اوږده، دلته يې یادونه موضوع اوږدوي. حمزه بابا د زده کړو پرېښودو وروسته د پولټیکل په محکمه او پاسپورټ دفتر کې د دندو ترڅنګ ډېرې نورې دندې هم ترسره کړې دي، د دندو ترڅنګ يې په بېلابېلو هنري او ادبي جریانونو کې فعال ګډون درلود. حمزه بابا پیل کې شاعري په اردو ژبه کې پیل کړه اردو ادب يې ډېرمطالعه کړ. د اسلامیاتو له مطالعې سره سره يې پر اردو او پښتو ژبو یو ډول برلاسي درلوده. څه وخت يې اردو ولیکله خو بیا يې د خپل پیر پر لارښوونه په پښتو شعر پیل وکړ، چې پښتو کې يې له

دېرشو زرو څخه  ډېر بیتونه ولیکل. په (۱۹۳۵) زېږدیز کال سید عبدالستار شاه خپل استوګنځي ته شاعران او ادیبان را بلل د « بزم ادب» په نوم یې یوه ادبي ټولنه جوړ کړه، چې لومړنی مشر یې حمزه شینواری او مرستیال یې یو بل پیاوړی شاعر او ادیب راحت زاخیلي و. حمزه بابا د شاعرۍ ترڅنګ یو ښه ژباړن او  ډېرې په زړه پورې  منظمې راډیویي ډرامې هم لیکلې دي، چې شمېر یې درې سوو ته رسېږي. لنډه دا چې حمزه بابا خپل ډېر عمر د شعر او ادب په چوپړ کې نذرانه کړی دی. د پښتو ژبې دغه ستر شاعر، عارف، صوفي، فلسفي، ژباړن او ډرامه لیکونکی په (۱۹۹۴) زېږدیز کال په مارچ کې دغه فاني نړۍ د تل لپاره پرېښوده روح یې ښاد. (۱۱: ۳۹- ۴۵)

**په اشعارو کې د سهل ممتنع صنف پېژندنه**

ادب څېړونکي سهل ممتنع د لوړې شاعري هغه نادر صفت بولي، چې د لویو شاعرانو په شعرونوکې هم ډېر په ندرت سره تر سترګو کېږي. موږ داسې شاعران مطالعه کړي دي، چې په ډېر لوړ تخیل سره یې اشعار ویلي دي، مګر د غه د سهل ممتنع صفت یې په اشعارو کې نه لیدل کېږي. که شعري الهام خدایي ورکړه وبولو، نو د سهل ممتنع صفت هم خدایي ورکړه او عطاکې راځي؛ چاته چې الله تعالی خوښه وي، په دغه لوی نعمت یې نازولي دي. سهل ممتنع په شعر کې یو نه لیدونکی او پټ صنف دی، چې لوستونکو ته په لوستلو او پوهیدلو کې اسان ښکاري. ښاغلی فضل ولي ناګار یې داسې را پېژني: (( د ادبي فنونو د نورو ښکلاوو ترڅنګ سهل ممتنع هغه نادر او نه موندونکی صنف دی، چې د ډېرو لویو شاعرانو په برخه هم نه دی رسېدلی. لامل یې دادی چې سهل ممتنع له حده وتې اساني ده، له پولو او حدودو نه د یوه فکر و هنر وتل او بیا یې تناسب او توزون ساتل یوه خارق العاده فني ځواک ته اړتیا لري. او دا د هر شاعر له وسه پوره نه وي.)) (۱:۱۲)

هغه شعرونه چې سهل ممتنع ولري، لوستونکوته په لوستلو او پوهولوکې ډېر اسان او روان ښکاري، ځکه چې جوړښت یې د موزون نثر په شان وي. یعنې په موزون نثر او سهل ممتنع شعر کې یو ډېر بریک توپیر موجود دی. بیا هم باید وویل شي، چې سهل ممتنع شعر دومره اسان ښکاري، چې لوستونکي یې په زړه کې داسې انګیري، چې داسې اشعار خو هر څوک او ممکن زه هم ولیکم. مګر په حیقیقت او عملي توګه عام لوستونکي خو څه چې ډېر لوی شاعران هم  د داسې اسانه کلام او شعرل لیکلو توان نه لري. د ادبپوهانو په وینا د سهل ممتنع شعرونو پنځولو کې هغه شاعران برلاسي وي، چې ذهنونه یې پر تخلیق سربېره شاعرانه قدرت هم لري؛ ددې ترڅنګ چې په کومه ژبه شاعري کوي، د هغې ژبې د مناسبو الفاظو یا په وخت د اړتیا د متبادلو الفاظو د را ورلوځانګړتیا هم لري. (۳۳۳:۲)

د حمزه بابا د شعري ځانګړنې او مقوبولیت په ځانګړې توګه د ده په شعر کې د سهل ممتنع صنف په اړه  فضل ولي ناګار په خپل اثر د دحمزه عرفان او غزل کې لیکي: (( تر عبدالرحمن بابا وروسته یوازې او یوازې حمزه دا امتیاز لري، چې ځینې شعرونه یې د خلکو په خولو جاري دي او دا د یوه شاعر د عظمت او مقبولیت څرګنده نښه او معقول دلیل دی. په عمومي ډول هغه شعرونه د متلونو په ډول کارېږي، چې له عام فهمۍ سره سره پر یوه داسې صداقت او رښتینوالی ولاړ وي، چې سالم طبیعت یې له چون و چرا پرته ومني او دعامې تجربې او مشاهدې ښکارندوی او مظهر وي... په حقیقت کې صرف هغه

شعرونه دمتلونو په ډول کارېږي، چې د سهل ممتنع بېلګې ولري. (۱۸۰:۱۱)

**د څېړنې پایله**

د سهل ممتنع په اړه که د حمزه بابا د غزلو بېلګې وګورو، نو دا به راته جوته شي، چې واقعاً حمزه بابا د پښتو ژبې حق پر ځای کړی دی. په دې مانا چې حمزه بابا په سوچه پښتو کې د سهل ممتنع بې شمېره شعرونه ویلي دي. ځکه هغه شاعران چې په یوه ژبه کې داسې شعرونه وایي حتماً به یې ژبه سوچه، روانه اوساده وي. د یوې ژبې سوچه والی او رواني دا ثابتوي، چې هماغه ژبه په لویو ژبو کې وګڼل شي. حمزه بابا ته الله تعالی همداسې ابداعي کلام او د سهل ممتنع کمالات ورکړي وو، چې دغه حمکت اوکمال د ده د یوه غزل د لاندې بیت او دې ته ورته ډېرو شعرونوکې لیدلی شو:

وروځې، لېمه، زلفې، بانه پښتانه

څنګه یوځای شو پښتانه پښتانه (۷۹۱:۹)

که پورته بیت په ژوره توګه تحلیل کړو ورته حیران به شو، چې دا شعر دی که نثر؟ او د حیرانتیا ځای بیا پکې دا هم دی، چې شعر له داسې مجردو او عامو لفظونو څخه جوړ شوی دی، چې په دغو مفردو لفظونو او د الفاظو په ترکیب او کارونه کې یې د غزل هغه نازک خیال هم ساتلی دی. په شعر کې یې یوکولتوري یا تاریخي ډوله حقیقت ته هم اشاره کړې ده. حمزه بابا په دغه شعر کې د پښتون قوم ناروغي تشخیص کړې ده او بیا یې په شعر کې د هنري ښکلا او تغزل پر بنسټ د ټولنیز ژوند درس په ساده او روانه ژبه ورکړی دی. د حمزه بابا د شاعرۍ بله ښېګڼه دا هم ده، چې په غزل کې یې د هرعنوان او مضمون تخلیق په بریالیتوب سره تجربه کړی دی، چې د تغزل رنګ او تصور یې پرځای ساتلی دی؛ حال دا چې پخوا به غزل یواځې د ښکلاییزو رنګونو لپاره ډالۍ و او د هغه ډول غزل به مخالفت کېده، چې له مینې، زلفو، سترګو او... پرته د نورو مضامینو د ستایلو تحمل به پکې موجود و. د حمزه بابا شاعري که مطالعه شي، کټ مټ ابداعي ښکاري. د فضل ولي ناګار په وینا؛ په ابداعي ویناکې تشبېه او استعاره بیخي نه وي او په شعرکې د یوه حقیقت انکشاف موجود وي.

د یادونې وړ ده، چې د حمزه بابا په شاعرۍکې د اسانۍ ترڅنګ داسې شعرونه هم شته، چې په هغوی پوهېدل مشکل دي او له ډېرو لوستونکو هم اورو، چې وایي په حمزه بابا پوهیدنه مشکله ده. دلته د نه پوهېدلو څخه موخه دا ده، چې د حمزه بابا ځینې اشعار د مطلب او مقصد په لحاظ د لوستونکو لپاره مشکل دي، یعنې هر لوستونکی یې په مطلب نه پوهېږي. د حمزه بابا مشکل پسندي د ده له یوه بیت څخه هم معلومېږي، چې وایي:

حمزه ته ګران یې، ګرانه! ګرانې کوه

زه د اسـان دپاره نـه وایـمـه (۸۷۹:۹)

د پورته بیت اصلي مطلب دا دي، چې حمزه بابا د خاصو خلکو لپاره ګران او مشکل لیکل کړي دي. او دی وایي چې مشکل لیکل را باندې ډېر ګران دي؛ په دې مانا چې دغه ګران لیکل یې هم د طبعې مطابق دي. ځکه چې په داسې حالاتو کې به حمزه بابا د یو ستر روحاني مقام یا منزل خبره کړې وي یا به یې د کومې تصوفي او عرفاني موضوع بیان کړی وي، نو په هغې باندې پوهېدنه به خامخا د ځینو لوستونکو

لپاره مشکله وي. مګر هغه لوستونکي چې دوی له پورته موضوعاتو څخه اغېزمن شوي وي او په دغه برخه کې له ځينو څخه لارې ورکې وي، د حمزه بابا شاعري د هغوی لپاره د لارې مشال هم دی. دلته داسې موضوعاتو راړونه هم د حمزه بابا په شعري او هنري ځواک دلالت کوي، چې ده د عام ټولنيز ژوند سربېره عرفاني، بطني او مخفي حقايق هم په خارجي او شاعرانه ژبه کې بيان کړي دي. دا ځکه چې دغه افاقي او روحاني کيفيات يواځې محسوسېږي او په الفاظو کې يې بيانول د هر چا په توان پوره نه دي. (۳۳۷:۲)

د حمزه بابا د شاعرۍ حيرانوونکی اړخ د پښتو ژبې او پښتون فرهنګ ځينې ځانګړې محاورې او متلونه دي. په دې اړه پوهنوال فضل ولي ناګار ليکي: ((تر عبدالرحمن بابا وروسته يواځې او يواځې حمزه بابا دا امتياز لري، چې ځينې شعرونه يې د خلکو په خولو جاري دي او دا د يوه شاعر د عظمت او مقبوليت څرګنده نښه او معقول دليل دی. په عمومي ډول هغه شعرونه د متلونو په ډول کارېږي، چې له عام فهمۍ سره سره پر يوه داسې صداقت او رښتينوالۍ ولاړ وي، چې سالم طبيعيت يې له چون چرا څخه پرته ومني او د علمي تجربې او مشاهدې ښکارندوی وي.)) (۱۸۰:۱۱)

د ناګار د نظر په تاييد سره، رښتيا هم زموږ د اکثرو نا لوستو خلکو پر خولو د رحمان بابا شعرونه جاري وي، چې د خپلې موقع پر بنسټ د لوستونکي پاملرنه را جلبوي. نو معلومه شوه، چې په حقيقت کې يوازې هغه شعرونه د متلونو په ډول را وړل کېږي، چې د سهل ممتنع بېلګې وي. ځکه د سهل ممتنع ستر صفت دا دی، چې په لوستلو او يادولو کې بې حده اسان وي، مګر جوړول يې نا ممکن او د هر چا له وسې پوره نه وي. د يادولو وړ ده، چې په سهل ممتنع شعرکې يوازې اساني شرط نه ده، بلکې پرسلاست، فصاحت سربېره بايد روان او عام فهمه هم وي. حمزه بابا پر همدغو ځانګړنو بې شمېره داسې شعري بېلګې لري، چې دده ستر تخليقي او هنري شعور لپاره ښکاره دليل کېدای شي.

يوې خبرې ته مې پرېږده اشنا
بيا به په عمر درته نه وايمه
که څه مې ووې، څه دنيا ورانه شوه
چې خپه کېږې بيا به نه وايمه (۹: ۷۷۹)

د حمزه بابا د شاعرۍ تصوفي او عرفاني اړخ د مطالعې پر وخت لوستونکی دا محسوسولی شي، چې دا اړخ يې هم په لوړ هنر سره ساده کړی او په غزل کې يې بېلابېل روحاني مقامونه په ساده او روانه پښتو بيان کړي دي. مخکې مو يادونه کړې ده، چې حمزه بابا پښتو غزل ته يو بنسټيز بدلون ورکړ، هغه په دې مانا چې له ده پخوا به د غزل چوکاټ کې يواځې عشق، محبت، زلفې، سترګې او نور موضوعات راوړل کېده، مګر حمزه بابا همدغه ښکلاييز رنګونه، د عرفاني شاعرۍ لپاره هم په کار اچولي دي. چې اکثريت يې د حقيقي عشق، محبت او ښکلا لپاره د سېمبولونو په توګه کارولي دي. د بېلګې په توګه؛ له سترګو څخه د عارفانو موخه غيبي بصيرت و، چې د مرشد په مرسته به سالک ته عطا شوی و. همدا رنګه زلفې د جلالي او جمالي صفاتو او هم دکثرت لپاره راړل کېږي. دا ځکه چې عارفان او صوفيان په عمومي توګه خپل باطني حالت په هر حالت پټ ساتي. ترڅو چې ان د خپل مرشد او پير نوم هم نه څرګندوي. د پښتو ژبې ستر صوفي رحمان بابا په اړه ويل کېږي، يو لوی صوفي و، خو تر اخيره يې د

خپل مرشد نوم نه دی څرګند کړی؛ مګر د ساقي، مطرب، باڼه، شراب، میکده، معشوق، عاشق وغیره ټول صوفیانه سېمبولونه یې کارولي دي.

حمزه بابا، یو ستر صوفي او عارف و او په حقیقي توګه عاشق و، د معشوق لپاره یې غزل لیکلي دي او دغه حقیقي عشق یا عرفاني موضوعات یې هم په سهل ممتنع کې بیان کړي دي.

درنه به وا نه وړمه پوی شوې که نه
درته مې وکړې په پښتو خبرې (۳۴۲:۲)

یا

خبرې سل او سر یې یو واعظه
بې له الفت نه هرڅه سر او خوره (۲:۳۴۲)

لومړی بیت یو ابداعي شکل لري، په دې مانا چې نه پکې تشبېه نه استعاره نه کومه بله اشاره شته. مګر د پښتو په دود یې نېغه خبره کړې ده او هغه هم په پښتو کې. موږ ګورو چې په داسې ویناوو کې د حمزه بابا ژبه څومره ساده او بې حده اسانه ده. یعنې پر داسې شعرونو باندې یو نا لوستی شخص هم سمدستي پوهېدلی شي، چې همدا د سهل ممتنع ځانګړنه ده. دویم بیت له نورو ښېګڼو سربېره د ارسال المثل ښېګڼه هم لري؛ چې شعر یې نور هم ښکلی کړی دی. او بله ځانګړنه یې داده چې خبره په زغرده یا په ډانګ پیيلې کوي او هغه هم په ډېر واضح پیغام سره. په عمومي توګه خو واعظ کوونکي نصیحتونه کوي، مګر د حمزه بابا په شان په ښکاره او ډانګ پیيلې خبرې نشي کولی او نه په دغه برخه کې دومره د کمال درجې ته رسیدلي وي. د حمزه بابا په اړه دغه خبره مشهوره ده، چې: ده د پښتو غزل ځوان کړ او پښتون یې کړ. حمزه بابا دواړه موضوعات په خپل غزل کې را خیستي دي او وایي:

ستا په اننګو کې د حمزه د وینو سره دي
ته شوې دپښتو غزله ځوان زه دې باباه کړم (۱۶۶:۳)

یا

زه که سترګې زلفې ستایم حمزه څه شي
د غزل هره مصرعه مې پښتنه کړه (۸۰۷:۹)

د حمزه بابا پورته وینا پر ځای ده. ځکه چې ده په غزل کې هر ډول مضامین ځای کړل، غزل یې له هغه محدودیت څخه خلاص کړ، چې پخوا له ده به غزل یوازې د عشق، محبت، شونډو او زلفو... لپاره کارول کېده. دده د غزل له پښتون کېدو څخه موخه دا ده، چې خپلې خوږې پښتو ته په ډېر ارزښت قایل دی او تر څنګ یې د پښتون عزم، د پښتون فرهنګ او کولتورته په غزل کې ځانګړی مقام ورکړی دی، ان تر دې چې عرفاني مسایلو کې هم دی له پښتوڅخه نه تېرېږي او خپل پیرته د پښتنو رښتینوالي او کلکه اراده څرګندوي.

نه را ګورې، مه را ګوره، ګورو به
زه هم اولاد د پښتانه یمه (۲۰۳:۲)

پورته بیت سره له دې چې د سهل ممتنع په زړه پورې بېلګه ده؛ د دې ترڅنګ ګورو چې د عشق او محبت تر څنګ د پښتونوالۍ اغېز هم پکې شته. په عام ډول خو له دغه بیت څخه داسې معلومېږي،

چې حمزه بابا وایي( اې محبوبه! ته چې نه را ګورې نو زه هم دپښتون زوی یم زه به هم درته ونه ګورم) مګر ددغه بیت تحلیل سید طاهر بخاري صاحب داسې کړی دي: ((که په رښتیني عشق کې هر څومره سخته مرحله راشي، نو رښتینی عاشق د عشق لاره نه پرېږدي او هر کله چې بیا پښتون عشق کوي؛ نو بیا خو د پرېښودلو هېڅ سوال نه پیدا کېږي. نو د دغه بیت مطلب دا دي، چې اې محبوبه که ته راته نه ګورې نو ستا خوښه مه را ګوره. مګر زه د پښتون زوی یم او دغه کتل به نه ترک کوم.)) (۲: ۳۴۶-۳۴۷)

د حمزه بابا لاندې بیتونه که ولولو د سهل ممتنع له ځانګړنو خالي نه دي.

زړه دې بد شي، سم چې تاته په کاته شم
چې در نه شم، وایې څه شو؟ وایه څه شوم؟ (۳۴۷:۲)

یا

زه خو ورځم او بې بلنې ورځم
هغه میلمه چېرې شړلی نه دی (۳۴۷:۲)

د حمزه څېړونکو دا خبره کړې ده، چې کله به حمزه بابا له خپل مرشد سید عبدالستارشاه باچا سره په کوم تولي کې ناست و؛ حمزه بابا به د بې اختیاره مینې له وجې خپل مرشد ته په ځیرکتل. مرشد به مقابل کې په یوه داسې تهدیدي نظر ورته وکتل چې مخ به یې ترې واړوه، پر دغو حالاتو تولي یا محفل کې دوی په خپلو کې سره پوهېده. په دې اړه د حمزه بابا لاندې بیت هم ښکاره ثبوت دی:

ساقي که په کتوکې عقابونه را کوي
د سترګو په کاسوکې شرابونه را کوي (۴۰۵:۹)

د مرشد په کتلو سره به حمزه بابا په انفعالي کیفیت کې مبتلا شو، کله به دغه کیفیت څو ورځو ته غځېده. دې وخت کې به چې حمزه بابا بیا محفل ته حاضر نشو، مرشد به د محفل ګډونوالوکې له نږدې خپلوانو پوښتنه کوله چې نن خو میرحمزه نه دی راغلی، خیر خو به وي؟ او دا معلومه ده، چې شاه باچا به دغه خبره د دې لپاره کوله، چې هغه حمزه بابا ته ورسوي او هماغه شان به وشول. نو ددغه تاثیر او اغېز پر بنیاد یې دغه پورته بیت ویلی دی.

له دویم بیت څخه یې هم خپل مرشد مراد دی او دلته یې بیا په دغه شعر کې یوکمال دا هم کړی دی، چې په صوفیانه موضوعاتو کې یې د پښتني کلتور مهمه ځانګړنه (میلمه پالنه) هم ځای کړې ده. دا یو حقیقت دی، چې پښتانه زبردست میلمه پاله خلک دي او بیا چې په پښتنو کې واقعي مرشدان وي، هغه بیا ډېر میلمه پال او سخیان وي.

حمزه بابا په لوړ شعري ځواک سره دتصوف او عرفان اړوند د هغومقامونو او حالتونو بیانول هم په خورا ساده توګه بیان کړي دي، چې داسې حالتونه اومقامونه یواځې محسوسېږي، مګر په الفاظو کې یې بیانول ناممکن وي. د تصوف څېړونکو په وینا سالک چې کله د وحدت مقام ته ورسېږي، خپله هستي فناکوي د بشریت اوصاف یې پای مومي او رباني اوصاف پیداکوي. د ځینوتصوفي طریقو له مخې په دغه مقام کې د خپلې هستۍ احساس هم خفي شرک دی. د دې لپاره چې له خپلې موضوع لېرې نشو، دلته مو موخه دا وه، چې دداسې حالتونو بیانول په الفاظو او بیا په سهل ممتنع کې ناممکن دي،

مګر حمزه بابا دغه ناممکن ممکن کړي دي، لکه چې وایي:

چې له خپل ځانه مخکې تېرشومه زه
اوس خو بیخي د یار په څېرشومه (۷۷:۱۰)

د حمزه بابا په شاعرۍ کې د سهل ممتنع بېلګې بې شمېره دي. چې د ټولو لیکل او بیا یې څېړل د یوې مقالې په لنډ چوکاټ کې نه ځایېږي. په پای کې به یې د یوه غزل څو بیتونه را وړو، چې د سهل ممتنع ځانګړنو درلودونکي دي:

ګوره په هرچا هسې ور پېښ نه شې
وخـته چې تېرېږې په ما نن سبـا
وصله چې په ژوند کې مې بیا را نه شې
ښکاري مې الفت کې خلا نن سبـا
ګـوره چې موسکی نه شي اشنا زما
ډېـره له ما کېـږي خطا نن سبا (۶۰۵:۹)

**مناقشه**

سهل ممتنع اشعار په لوستلو او اورېدولو سره ډېر اسان معلومېږي، ځکه چې جوړښت یې د موزون نثر په شان وي. لوستونکي یا اورېدونکي دا فکر کوي، چې داسې شعرونو لیکل به اسان وي، هرڅوک به یې لیکلی شي؛ مګر په واقیعت او عملي توګه یو عام لوستونکی خو څه چې دغه ځانګړنه د ځینو لویو شاعرانو هم نه ده په برخه شوې. حمزه بابا د سهل ممتنع تر څنګ د اشعارو داسې بېلګې هم لري، چې د هغوی په مطلب او مقصد باندې هر څوک نه پوهېږي. وجه یې داده، چې حمزه بابا د عرفاني او تصوفي موضوعاتو ځینې حالتونه په خپلو اشعارو کې بیان کړي دي، نو ځکه پر داسې موضوعاتو باندې پوهیدنه د هر چا په وس پوره نه وي.

**وروستۍ پایله**

په شاعرۍ کې د سهل ممتنع صنف هغه نه لیدونکې ځانګړنه ده، چې د ډېرو لږو شاعرانو په شعرونو کې تر سترګو کېږي. ډېر داسې شاعران به ولرو، چې ډېر لوړ تخیل لرونکي شعرونو نمونې لري، مګر د سهل ممتنع له صفت به محروم وی. څنګه چې د شعر ویل یا شاعرانه وړتیا د الله تعالی ورکړه یا انعام دی، داسې په شعر کې د سهل ممتنع صفت هم د الله تعالی له لوري یوه پېرزوینه ده، چاته یې چې خوښه وي، هغه ترې برخمن کوي. حمزه بابا ته هم الله تعالی دا وړتیا ورکړې ده، چې غزل یې بې شمېره د سهل ممتنع بېلګې لري. د حمزه بابا شاعري که مطالعه شي، ځینې داسې ساده روان شعرونه پکې موندل کېږي، چې لوستونکی حیرانېږي، چې د نثر سره یې څنګه توپیر وکړي. چې دا په خپله د حمزه بابا د شاعرۍ اسانوالی او سادګي ښیي. د یادولو وړ ده، چې د حمزه بابا د شاعرۍ اړخونه ډېر دي، د ساده والي ترڅنګ داسې شعري بېلګې هم لري، چې پرې پوهېدنه زیات فکر او سوچ ته اړتیا لري. نو ویلي شو چې حمزه بابا عامو خلکو لپاره په ساده روانه ژبه شاعري کړې ده او د ځانګړو یا خاصو لوستونکو لپاره بیا داسې اشعار هم لري، چې پرې پوهیدنه او مطلب اخیستنه یې له هرچا په توان او وس کې نه وي.

**وړاندیزونه**

۱. د حمزه بابا په اثارو کې د عرفان او تصوف اړوند پېچلو موضوعاتو په اړه نظریات شته، که د علمي مراکزو مسولینو لخوا دغه برخه کې کار وشي، اړوند موضوعات یې توضیح شي؛ دا به د حمزه بابا لوستونکو لپاره د ځانګړې پاملرنې وړ کار وي.

۲. که د لوړو زده کړو وزارت محترم مقام حمزه پېژندنې مضمون زموږ د پوهنتونونو په نصاب کې ورزیات کړي دا به یوه ښه پرېکړه وي، ځکه چې د حمزه بابا له مطالعې سره د پښتني کولتور ترڅنګ د شعر او ادب ډېر بهترین موضوعات او اوصاف تړلي دي.

۳. د حمزه بابا ځینې اثار تر اوسه چاپ شوي نه دي، دغه برخه کې د دولتي چاپخونو مسولینو توجه ډېره مهمه ده، تر څو د حمزه بابا هغه اثار چې تر اوسه د چاپ انتظار باسي، د چاپ زمینه ورته برابره شي.

**اخځلیکونه**

۱. ایوبي، محمد نادر. (۱۳۳۴ق). عرفان.کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه.

۲. بخاري، سید طاهر. (۲۰۱۶ م). تنقید او ادبي مفردات. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

۳. ختک، راج ولي شاه. (۲۰۱۷م). د فکر ملغلرې. پېښور: منګل کتابپلورنځی.

۴. روهي، محمد صدیق. ( ۱۳۸۴ ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۵. روهي، محمد صدیق. (۱۳۹۷ ل). د خېرنې لارښود.کابل: سروش کتابپلورنځی.

۶. زیور، زیورالدین. (۱۳۸۹ ل). د پښتوادبیاتو تاریخ( اوسنی دوره). پېښور: میهن خپرندیه ټولنه.

۷. ښکلی، اجمل. (۱۳۹۴ ل). تصوف او ادب. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۸ . ښکلی، اجمل. (۱۳۹۰ ل). سبک پوهنه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۹. صمیم، محمد آصف. (۱۳۸۷ل). د حمزه شینواري کلیات. کابل: د اطلاعات او فرهنګ وزارت.

۱۰. مومند، مراد لایق.( ۱۳۸۹ ل) د حمزه بابا یو شعر. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۱. ناګار، فضل ولي. (۱۳۹۵ ل). د حمزه بابا عرفان او غزل.ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.

۱۲. ناګار، فضل ولي. ( ؟). رحمان بابا او سهل ممتنع. ( مقاله). ننګرهار: ننګرهار پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

۱۳. نړیوال، رازقي. (۱۳۹۳ ل). په پښتو ادب کې عرفاني پلوشې او مذهبي څرکونه. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.

# د شرعي مقاصدو د ویش او مراتبو پېژندنه

لیکونکی: پوهنیار غلام الله احمدي
شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ثقافت څانګې استاد
تقریظ ورکونکی: پوهندوی سید کمال شاه بنوري د شرعیاتو پوهنځي استاد

**لنډیز**

د شرعي مقاصدو فهم او علم هر مجتهد او دیني عالم ته ډیر اړین اومهم دی؛ ځکه چې د دی علم په وجه دی د شرعي نصوصو څخه د مسائلو استنباط په اسانی سره کولای شي اګرکه شارع پرې تصریح نوي کړی، د شرعي مقاصدو پیژندل د ایمان د کلکوالي اوقوت سبب ګرځي او زړه ته اطمنان حاصلیږي،حتی په دین باندې ثابت قدمه پاتی کیدو باعث ګرځي؛ ځکه دا ورته معلومیږي، چې اسلام د دنیا او آخرت د سعادت اونیک بختی لپاره راغلی دی اوپدې به اقرار وکړي چې دا سماوي دین دی او د بشر په لاس ندی جوړ شوی، د اسلامي شریعت په مقاصدو باندې پوهه حاصلولو سره د شریعت محاسن او ښیګڼې مسلمان ته څرګندیږي، همدا راز په اسلام د اعتراض کونکو شبهات د کتاب او سنت په رڼاکې جوابولای شی ،خصوصا هغه اعتراض کونکی،چې د اسلام مبارک دین قاصر او ناقص ګڼي او وایې: چې اسلام په معاصر دورکې د خلکو حاجاتو او مشکلاتو ته ځواب نشي ویلی.

یاده موضوع یوه کتابتوني موضوع ده ،چې له مخې به یې لوستونکي د اسلامي شریعت مقاصدو ویش او مراتب په تفصیل سره و پیژني ،چې شرعي مقاصد د علماو لخوا څو ډولونو ته ویشل شوي دي او هر مقصد یې په کومه مرتبه کې قرار لري، د دغه مقاصدو د ویش او مراتبو د معرفت سره به انسان وکولای شي ژوند په منظم ډول مخ ته بوزی او د مشکلاتو څخه به حتی الامکان وساتل شي.

**کلیدي ټکي:** اسلامي شریعت، تحسینیات، حاجیات،شرعي مقاصدو ویش، ضروریات.

**سریزه**

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلَّ له، ومن يضلل فلا هاديّ له، وأشهد ألّا إله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.

دا یوڅرګند حقیقت دی چې د اسلامي شریعت د مقاصدو علم د لویو او فایده منو علومو څخه دی؛ ځکه ددې علم په اساس د اسلامي شریعت عدل ، حکمتونه او اسانتیاوی په عام اوخاص ډول څرګندیږي،او دا په دې ګواهي کوي چې دا دین د الله رب العزت له لورې راغلی دی، د بنده په لاس نه دی جوړ شوی،او داسې مصلحتونه پکې شتون لري چې په هروخت او زمانه کې یې ټولو خلکو ته فائده

رسیږي ، د دې مصلحتونو د خوندیتوب په وجه د اسلامي شریعت کره والی ، ثابتوالی او کلکوالي څرګندیږي .

د اسلامي شریعت د مقاصدو د علم په اړه فقهاؤ او محققینو علماؤ چې په شرعي نصوصو دقیق فهم لري لیکنې کړي دي، او د اسلامي شریعت دلایل یې په دقیق ډول څېړلي اسرار او حکمتونه یې رابرسیره کړیدي، لکه څرنګه چې دا کار د دوي لخوا د قراني آیاتونو تفسیر، د نبوي احادیثو د شرحو او د فقهي احکامو د بیان څخه څرګندیږي.

دا هغه علم دی چې د اصول فقه علماؤ یې د اساس ډبره ایښي ده ، اوپه دې اړه یې کره لیکنې کړیدي؛ نو هر طالب العلم ته پکار دې چې د دې علم څخه ځان خبر او پوهه کړي ، چی د دنیا اوآخرت د سعادت اونیکبختی څخه برخمند شي.

**د لیکنې موخې**

۱ـ د اسلامي شریعت د مقاصدو لغوي اواصطلاحي معنی پېژندل.

۲ـ په مختلفو اعتباراتو سره د اسلامي شریعت د مقاصدو اقسام پېژندل.

۳ـ د ضروري ، حاجی او تحسیني مقاصدو په تفصیل سره پېژندل.

۴ـ د ضروري مقاصدو دحفاظت اوساتنې وسائل پېژندل.

۵ـ د ضروري، حاجی او تحسیني مقاصدو مراتب پېژندل.

**د کار توکي او کړنلاره**

۱: له معتمدو کتابونو څخه په دې لیکنه کې استفاده شوېده .

۲: په لیکنه کې په عمومیاتو پیل شوېدی بیا وروسته خاصو اموروته اشاره شویده.

۳: د هر عالم قول په پوره امانت داری خپل قائل ته منسوب شویدی.

۴: د هر مصدر اومرجع څخه چې په نقل د عبارت کې استفاده شویده په پای کې پرې حواله ورکړ شویده ، لکه د مصنف ، کتاب نوم، جلد او صفحه ذکر شویده.

۵: د قراني آیتونو ژباړه د کابلي تفسیر څخه شوی او نبوي احادیث د اصلي مصادرو څخه رانقل شویدي.

**د شرعي مقاصدو تعریف**

**د مقاصد لفظ لغوي معنی**

مقاصد د مقصد جمع ده، او د فعَلَ په وزن (قَصَدَ یقْصِد قصْداً وَمقْصَداً) څخه اخیستل شوی، قصد او مقصد معنی یوه ده ترمنځ یې کوم توپیر نشته، د قصد لفظ د عربي ژبدود لمخې په مختلفو معنی ګانو سره کارول کیږي.

۱ـ د باور، قصد ، یو شی ته د راتګ اوتوجه کولو په معنی سره رازي، ویل کیږي (قصده، وقَصَدَ له، وقصَد إليه) اعتماد یې پرې وکړ،توجه یې ورته وکړه ،او راتګ یې ورته وکړ.

۲ـ په لاره کې د استقامت په معنی سره هم رازي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایې: { وَعَلَى اللَّهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ}.(النحل: ۹).

ژباړه: خاص په الله رب العزت باندې بیان دسمې لارې دي اوځینې د لارونه کږې دي. (۱۵۱۴:۱۱)

۳ـ د عدل ، توسط او میانه روۍ په معنی سره هم راځي.(۳۵۳:۱۸)

په دې معنی سره هم په ډیرو نصوصو کې مستعمل دی؛ بلکې مونږ د نمونې په ډول یو ایت شریف ذکر کوو،الله تعالی فرمایې: ﴿ وَاقْصِدْ فِي مَشْيِكَ ﴾. (لقمان: ۱۹)

ژباړه: میانه روی اوسه په مزل کې (یعنی مه ګړندی زه اومه ډیر ورو). (۶۲۴:۱۲)

**د شرعي مقاصدو اصطلاحي تعریف.**

د مقاصدو د علم مختلف تعریفونه علماؤ کړیدي، مونږ دلته د نمونې په ډول دوه تعریفونه رانقلوو.

اما م غزالی رحمه الله یې داسې تعریفوي: د شریعت مقصود د بندګانو د پنځو شیانو ساتنه ده،چې د دوی د دین، نفس، عقل، نسل اومال ساتنه وکړي، هر هغه څه چې د دغه پنځو اصولو ساتنه کوي مصلحت دی او چې د دې پنځو اصولو ساتنه لمنځه وړي مفسده ده. (۱۷۴:۱۶)

ابن عاشور رحمه الله وایې: د مقاصدو علم د هغه لوړو اوسترو معانیو او حکمتونوڅخه عبارت دي چې شارع د شرعي احکامو په تشریع کې په عام او خاص ډول د بندګانو د مصلحتونو د تحقق په خاطر په نظر کې نیولې دي اوهغه یې مراعات کړي دي. (۱۶:۷)

غوره تعریف دویم دی؛ ځکه د مصالحو جلبول او د مفاسدو دفع کول د دغه پنځو اصولو د ساتنی نتیجه ده.

**د شرعي مقاصدو ډولونه**

شرعي مقاصد د مختلفو اعتباراتو له مخې لاندې ډولونو ته ویشل شویدي.

**اول ډول** ـ د شمول په اعتبارسره په درې ډوله دي ، عام مقاصد ، خاص مقاصد اوجزئي مقاصد.

۱ـ عام مقاصد : دا هغه اهداف اومصلحتونه دي چې شارع د شریعت په ټولو بابونو کې مراعات کړیدي ، په دې قسم کې د شریعت اسانتیاوې ، د مصلحتونو جلب او د مفاسدو دفع شامل دي، البته په ټولو بابونو د شریعت کې د دې لپاره یو لړ شرائط علماو وضع کړی چې د دی ځای سره همدا بسنه کوي. (۱۷۱:۱۳)

۲. خاص مقاصد : دا ځانګړې اهداف دي چې د شریعت د بابونو څخه د یو باب پوري اړه لري ، لکه عقوبات ، مالي معاملات ، مالي عبادات او کورنی نظام وغیره. (۱۷۱:۱۳)

۳ـ جزئی مقاصد: دا د هر جزئي حکم پورې تړلي اسرار او حکمتونه دي چې شارع معتبرکړيدي .(۲۸:۶)

**دویم ډول** ـ د ټول امت د افرادو اواجتماع سره د تعلق په اعتبار د شرعي مقاصدو ویش: په دې اعتبارسره شرعي مقاصد په دوه ډوله دي،۱ـ کلي مقاصد. ۲ـ جزئي مقاصد.

۱ـ کلي مقاصد : داهغه مقاصد دي چې د ټولو انسانانو سره تعلق لري اوخیر يې ټول امت ته راجع وي، لکه امت د تفرقې اواختلاف څخه ساتل، دین د زوال څخه ساتل، ټول هغه څه چې دین او د مسلمانانو نظم اخلالوي مخه يې ډب کول.

۲ـ جزئي مقاصد: دا هغه مقاصد دي چې د امت افرادو سره تعلق لري او یا د وړو ډلګیو سره، دا هغه مقاصد دي، چې شارع د دې د ساتنې لپاره معاملات روا کړیدي .

**دریم ډول** ـ د قطعیت او ظنیت په اعتبارسره: پدې اعتبارسره شرعي مقاصد په درې ډوله دي.

۱ـ قطعي مقاصد : دا هغه مقاصد دي چې په یو د درې طریقوسره ثابت وي،اول:په داسې نص سره چې د تاویل احتمال ونه لري.

دویم: استقراء د زیاتو دلایلو يې شوي وي.

دریم: چې عقل پدې دلالت وکړي چې ددې په لاسته راوړنه کې لوی مصلحت دی.

۲ـ ظني مقاصد: دا هغه مقاصددي چې په ظني دلیل سره ثابت وي اویا عقل سره معلومه شی چې دیکې مصلحت دی او دا د شارع مقصد دی.

۳ـ وهمي مقاصد: داهغه مقاصد دي چې د انسان په خیال کې رازی چې په دېکې به جلب د مصلحت او دفع د فساد وي، د ضرر د پېټوالې له امله یا مصلحت د ضرر سره ګډ شوی وی ، خو دا په حقیقت کې مرجوح وي او په مقابل کې يې لویه فساد وي. (۲۲۰:۱۳)

**څلورم ډول** ـ د حقیقي اونسبي وجود په اعتبارسره . پدې اعتبارسره شرعي مقاصد په څلور ډوله دي.

۱ـ حقیقي مقاصد: داهغه مقاصد دي چې په خپله تحقق مومي اوسالم عقلونه يې درک کوي، چې دا د مصلحت سره مناسب دي (منفعت راجلبوی) یاترې نفرت کوي چې په عرف اوعادت کې (عام ضرر جلبوي) ، مثلا عدل فائده مند دی او ظلم کې ضرر دی دا په عقل سره معلومیږي.

۲ـ اعتباري مقاصد: داهغه معاني دي چې د نورو حقیقتونو سره توپیر لري؛ خو د هغه تعلق په وجه چې داېې د حقیقت سره لري عقل ورسره اړیکه پیداکوي، لیکن قائم بالذات نه وي دبل حقیقت تابع وي.

۳ـ د عام عرف مقاصد: دا هغه مقاصد دي چې عقل يې حسن په تجربه سره درک کړی وي. لکه، د یو بل سره احسان او نیکي کول.

۴ـ د خاص عرف مقاصد: دا هغه مقاصد دي چې عقل يې مناسبت په تجربه سره درک کړی وي؛ خو عام عرف نه وي او اسلامي شریعت معتبر کړي وي د عامه مصلحتونو په وجه باندې لکه د قریشیت

شرط کول په خلافت کې او ذکورت (نارینتوب) شرط کول په ولایت کې. (۱۷۲:۱۳)

**پنځم ډول** ـ د مکلف د برخې سره د تعلق په اعتبار یا په قصد کې د مراتبو په اعتبار سره، په دې اعتبارسره شرعي مقاصد په دوه ډوله دي.

۱ـ اصلي مقاصد: دا هغه مقاصد دي چې مکلف ته پکې دخل نشته؛ بلکې د شارع لخوا تعین وي لکه، د اصول خمسه و ساتنه، چې دا د شارع امردی اوبنده ته پکې اختیار نشته.

۲ـ تبعي مقاصد: دا هغه مقاصد دي چې د مکلف لحاظ پکې ساتل شوی وي ،لکه د پاکو شیانو څخه خوندونه او فایدې اخیستل، پدیکې انسان ازاد دی. (۳۰۰:۱۰)

**شپږم ډول** ـ د شریعت د مقاصدو ویش د مصلحتو نو په اعتبار سره چې شارع یې د ساتنې رعایت او لحاظ کړیدی، یا د شرعي مقاصدو شپږم تقسیم د مصلحتونو د اهمیت په اعتبارسره دی، چې د ټولنې او افرادو ژوند ورپورې تړلی دی، په دې اعتبار سره شرعي مقاصد درې ډوله دي، ضروریات ،حاجیات او تحسینیات.

هغه مصلحتونه چې اسلامي شریعت یې په ساتنه اهتمام کوي په درې ډوله دي،یاپه بل عبارت، شرعي مقاصد د مصلحتونو د مرتبو په لحاظ سره په درې ډوله دي، ضروریات، حاجیات اوتحسینیات. د مصلحتونو له مخې ضروریات په لومړۍ مرتبه کې دي بیا په دویمه مرتبه کې حاجیات اوپه دریمه مرتبه کې تحسینیات دي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی.

**ضروریات**

د ضروریاتو تعریف او د ساتنې دلایل یې

۱- **د ضروریاتو تعریف:** دا هغه مصلحتونه دي چې پنځو ضروري مقاصدو ساتنه کوي ، چې هغه ددین ، نفس، عقل، مال اونسب څخه عبارت دي. (۴۱۷:۱۶)

امام شاطبي رحمه الله داسې تعریف کړیدی: داهغه څخه دي چې ددین او دونیا دواړو مصلحتونه لدې پرته په لاس نه راځي، پداسې شان سره که چیرې لمنځه لاړ شي د دنیا مصلحتونه بر قرار نه پاتې کیږي؛بلکې فساد او ګډوډې رامنځته کیږي او ژوند فوت کیږي او په آخرت کې هم د نعمتونو د ژوند څخه بې برخه او د تاوان سره مخ کیږي. (۸:۱۰)

۲- **د ضروریاتو په ساتنه دلیل**: مونږ دلته صرف دیودلیل په ذکر کولو اکتفاء کوو چې دی ټولو ضروري مقاصدو په ساتنه دلالت وکړی. الله رب العزت فرمایي: ( قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلاَّ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَلاَ تَقْتُلُواْ أَوْلاَدَكُم مِّنْ إمْلاَقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ وَلاَ تَقْرَبُواْ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَلاَ تَقْتُلُواْ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللّهُ إِلاَّ بِالْحَقِّ ذَلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ) (الأنعام: ۱۵۱)

ژباړه: ای محمده دوی ته ووایه راشئ زه په تاسې هغه څه ولولم چې ستاسو رب په تاسو حرام کړیدي، چې تاسې د الله جل جلاله سره شریک مه جوړوئ او د مور او پلارسره نیکي کوئ ،او خپل اولادونه د فقر له ویري مه وژنئ،مونږ تاسو او دوی ته روزي ورکوو،او ښکاره او پټو فاحشو ګناهونو ته مه نږدې کیږئ،او هغه نفس مه وژنئ، چې الله یې په ناحقه وژل حرام کړي دي، په دې تاسو ته الله کلک حکم کوي د دې لپاره چې عقل مند شئ. (۸۲۹:۱۱)

دا آیت شریف د ټولو ضروریاتو په ساتنه دلالت کوي د شرک څخه په منع کولو کې د دین حفاظت کوي د نفس د قتل څخه په منع کې د نفس ساتنه کوي، دزنا اوفحاشئ څخه په منع کې د عقل ، نسب اومال ساتنه کوي. (۱۷:۱۷)

**د دین ساتنه**

**د دین مقصود:** د دین پیروي د انساني فطرت غوښتنه ده حق وي او که باطل، ددې فطرت مخالفت انحراف دی، دلته د دین څخه مراد حق دین دی ، چې د الله تعالی له لوري په محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی، هغه دین چې د خرافاتو، بدعاتو او تحریف څخه پاک دی، هغه دین ، چې الله جل جلاله یې د حفاظت ذیمه کړیده؛ ځکه د اسلام پرته په مخ دځمکه بل حق دین نشته ټول باطل ادیان دي او سماوي ادیان هم د تحریف څخه خالي نه دي او منسوخ شوي دي. (۱۹۳:۲۲)

**د دین د ساتنې وسائل**

د دین د حفاظت ذمه الله رب العزت کړیده، الله تعالی فرمایي: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴾ (الحجر: ۹)

ژباړه: بې له شکه مونږ قرانکریم نازل کړی دی اومونږ خامخا د دې ساتونکي یو.(۱۴۷۴:۱۱)

سره لدې الله رب العزت ددین د حفاظت وسائل ښودلي دي او بندګان یې پرې مکلف کړي دي، چې له دغه وسایلو څخه په لنډه توګه د ځینو یادونه کوو.

۱ـ په دین باندې عمل کول .

۲ـ د دین د قیام او تنفیذ لپاره جهاد کول.

۳ـ دین ته خلک رابلل او دعوت ورته کول.

۴ـ په دین باندې فیصله کول.

۵ـ هر هغه څه چې د دین مخالف وي مخه یې نیول.

د دین ساتنه شارع په دوه طریقو کوي:

الف ـ د وجود لمخې: وجود لمخې یې حفاظت د ارکانو او احکامو په بیانولو سره او هر هغه څه چې د دین قیام اوثبات پرې رازې کوي او دا په دین عمل کول ، فیصله پرې کول ، د عوت ورته کول او د دین د

نشر لپاره جهادونه کولو څخه عبارت دی.

ب ـ د عدم له مخې: د عدم لمخې یې حفاظت د هر بدعت اوتحریف مخه نیولو سره کیږي. (۱۹۵:۲۲)

**د نفس ساتنه**

د اسلام مبارک دین د انسان د نفس ډیر لحاظ ساتلی دی، داسې احکام یې وضع کړي دي چې د نفس لپاره مصالح راجلبوي اومفاسد ترې دفع کوي او دا په لوړه کچه د نفس ساتنه ده، او په نفس یې تجاوز منع کړی دی، که داسې نوی شوي؛ بلکې په نفس تجاوز جائز وی؛ نو په مخ د ځمکه به داسې څوک نوی پاتی شوي چې د الله رب العزت بندګي یې کړی وی، په دې سره بیا د دین حفاظت هم کیږي؛ ځکه چې مکلف موجود وي؛ نو دین به هم موجود وي ،په اسلامي شریعت کې د نفس د ساتنې لپاره ډیر دلائل شتون لري چې د نمونې په ډول مونږ د یو مبارک حدیث شریف یادونه کوو ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ، يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ، إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: الثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ). (۱۳۰۲:۲۱)

ژباړه: د یو مسلمان وینه تویول روانه دې کله چې دی د الله تعالی په وحدانیت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په رسالت اقرار کوي مګر په دری وجوهو سره اول زاني محصن. دویم کله یې چې قتل کړی وي دریم او کله چې دین پریږدی او د مسلمانانو له ډلی نه جدا شی.

اسلامي شریعت د نفس د ساتنې لپاره وسائل وضع کړیدي چې په مختصر ډول یې لاندې توګه ذکر کیږي.

۱ـ په نفس یې تیری منع کړی دی، په ناحقه یې وژل یاترې اندام قطع کول اویا یې وهل ټکول او داسې نور شریعت حرام کړي دي.

۲ـ هغه کارونه هم شریعت منع کړیدي چې د قتل سبب ګرځي لکه په اسلحه دیو انسان ویرول.

۳ـ د نفس د حفاظت لپاره شارع د قصاص حد مقرر کړی دی ترڅو ژوند یې خوندي شي.

۴ـ چې کله یوڅوک موجب د قصاص ګرځې؛ نو د مقتول په وارثانو یې د قاتل د قتل د ثبوت لپاره د ګواهانو پیش کول لازم کړي دي، هسې نه چې بې موجبه یو نفس ووژل شي.

۵ـ د انسان وینه یې هدر نه ده ګرځولې تاوان یې پرې تعین کړی دی، یا یې د ده د وینې لپاره قصاص لازم کړی، چې کله یې شروط پوره شی،او یا به دیت اخلی.

۶ـ اسلامي شریعت د هغه نفس په وژلو کې تاخیر لازم کړی کله چې موجب د قتل وي او د ده په قتل باندې د بل نفس د مرګ خطر وي لکه د حاملې یا تی ورکونکې زنانه څخه قصاص اخیستل یا د هغې رجم کول؛ ځکه چې دلته د ماشوم ژوند ته خطر دی.

۷ـ د نفس د حفاظت لپاره یې د قاتل په اړه عفوه روا کړی ده کله، چې د مقتول ورثه عفوه وکړی؛ نو

دی د مرگ څخه بچ شو.

۸ـ همدارنګه اسلامي شریعت د نفس د ساتنې لپاره په حالت د اضطرار یا ضرورت کې دحرامو خوړل رواکړي دي، لکه مرداره ،د خنزیر غوښه ، وینه اوداسی نور خوړل .(۲۱۱:۲۲)

**د عقل ساتنه**

عقل د الله رب العالمین له لورې په انسان باندې ستره لورینه ده: د عقل په وجه یې انسان د ځارویو څخه جلا کړیدی، کله چې انسان خپل عقل د لاسه ورکړي؛ نو د ځارویو په څیر وګرځي هر طرف ته یې چې کش کوې دی پرې نه پوهیږي،خپل مصلحت اومفسدت نه پیژني.

د فساد څخه د عقل ساتنه یو اتفاقي کار دی،هر ذي عقل یې پر اهمیت پوهیږي، په همدې اساس د عقل ساتنه په ټولو ادیانو کې موجوده وه او د اسلام مبارک دین پرې هم ډیر ټینګار کوي. (۱۸۴:۱۴)

اسلامي شریعت په انسان هغه څه حرام کړي دي کوم چې د ده عقل خرابوي اویایې لمنځه وړي، د عقل مفسدات په دوه ډوله دی:

**الف ـ هغه چې حس کیږي**: حسي مفسدات هغه دي چې د انسان په عقل کې خلل اونقصان راولی په داسې شان سره چې بیا نه دوست پیژني او نه دشمن، نه خیر پیژني او نه شر او خبرې یې ګډې وډې شي، دا مفسدات عبارت دي د شرابو او عامو نشایي توکو څخه ، (۱۴۵:۱۷)

او د نشه یي توکو استعمال قران او سنت منع کړیدی، الله تعالی فرمایی: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ) (المائدة: ۹۰)

ژباړه: ای مؤمنانو بي له شکه چې شراب ،قمار اوغشي د فال پلیت دي، د شیطان کاردی د دې په خاطر ترې ځان وساتی چې نجات ومومی. (۶۹۲:۱۱)

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې: (كُلُّ مُسْكِرٍ خَمْرٌ، وَكُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ، وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِي الدُّنْيَا فَمَاتَ وَهُوَ يُدْمِنُهَا لَمْ يَتُبْ، لَمْ يَشْرَبْهَا فِي الْآخِرَةِ). (۱۵۸:۲۱)

ژباړه : هر نشه کونکی شی شراب دي اوهر نشایي شی حرام دی، څوک چې په دنیا کې په دائمي توګه شراب څکي او توبه ترې ونه باسي په آخرت کې به یې ونڅکی.

**ب ـ معنوي مفسدات:** اسلامي شریعت هغه افکار او سوچونه چې دین بربادوي او د مسلمانانو سیاسي وحدت ټکنی کوي هم منع کړیدي؛ ځکه دا د خلکو عقلونه خرابوي ، بلکې الله تعالی خپل بندګان په خپل کتاب کې سوچ او فکر ته رابللي دي، الله رب العزت باربار وایې د فکر او سوچ څخه کارواخلئ په کائناتوکې سوچ او فکر وکړئ. (۱۱۴:۱۷)

**د نسل ساتنه**

په دې څلورم ضروري مقصد کې د علماؤ ترمنځ اختلاف دی، چې دا نسب دی که نسل اوکه بضعه یا عرض دی؟ د دې اختلاف اساسي وجه داده چې د دې هریو اهمیت په شریعت کې بیان شویدی ، بضع په لغت کې فرج ته وايي او فرج د فصل او نسل محل دی او نسل شرعا مطلوب دی؛ خو هغه نسل چې په شرعي توګه منځ ته راشي، معلومه شوه چې د دې درېواړو الفاظو دیو بل سره تلازم دی، بعض علماؤ يې په يوبل باندې په اطلاق کې تساهل کړیدی. د فرج حفاظت د زنا په حد اورجم سره شویدی، اوشریعت حرامه کړی هم ده ، اودنسل ساتنه نکاح ته په ترغیب سره شویده ، او د نسب ساتنه د زنا په حرمت سره شویده؛ ځکه چې دا د نسب د اختلاط سبب ګرځي. (۲۵۳:۲۲)

**ترجیح:** د ذکر شوي بحث نه دا جوته شوه چې د نسل ساتنه ضروري ده؛ ځکه د نسل په نه شتون سره انساني نسل اوعالم لمنځه ځي، امام شاطبی رحمه الله وايي: که نسل ختم شي انسانیت به باقي پاتې نشي، او نسب د نسل تکمیلونکی دی؛ ځکه نسل د نسب په ضمن کې منځ ته رازی.

اوهر چې فرج دی په دې کې دوه وجهې دی: ۱ـ د فرج په وجه د نسب ساتنه کیږي او د نسب په وجه د نسل ساتنه کیږي؛ نو دا تکمیلوونکی د نسل د ساتنې شو. (۱۹۴:۱۰)

۲ـ د فرج ساتنه يو مستقل مقصد دی؛ ځکه که د دې ساتنه ونه شي نو د دې په وجه د عقل، مال او نسل د ټولو ساتنه لمنځه ځي اوضایع کیږي. (۲۵۴:۲۲)

**د نسل د ساتنې وسائل**

اسلامي شریعت د نسل ساتنه په دوه طریقو سره کړی ده .

**۱ـ د وجود له مخې:** هغه داچې اسلام خپل پیروانوته د نسل په ساتنه تاکید کړې دی هغه څه سره چې د نسل په بقا اودېروالی دلالت کوي، په همدې اساس يې نکاح طرف ته ترغیب ورکړیدی لکه څرنګه چې د قران او سنت نصوص پدې باندې دلالت کوي.

**۲ـ دعدم له مخې :** یعنی هغه څه يې منع کړيدي چې انساني نسل له منځه وړي اویايې کموي،ددی اسباب هم شریعت مطهره په ګوته کړیدی چې په لاندې ډول دي.

۱ـ نکاح نه کول او یاترې مخ اړول.

۲ـ د حمل منع کول او دیته ورته نورشیان.

۳ـ دحمل ضایع کول او دیته ورته نورشیان. (۲۵۴:۲۲)

**د مال ساتنه**

د هغه ضروریاتو څخه چې د دنیاوي ژوند مصالح ورپورې تړل شویدي هغه مال دی دا د ژوند اساسې نقطه ده او د ژوند مصالح پکې نغښتې دي، په همدې وجه الله رب العزت فرمايي: ﴿ وَلاَ تُؤْتُواْ السُّفَهَاء أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَاماً ﴾ (النساء:۵)

ژباړه: هغه مال چې الله تعالی ستاسې د ګزران سبب ګرځولی دی بې عقلانوته یې مه ورکوئ.(۴۲۹:۱۱)

مال ته ضرورت په فردي اواجتماعي ډول لیدل کیږي؛ ځکه مال هغه څه ته وایې چې انسان ورته میلان لري، هغه سامان وي که نقدې پیسې او دیته ورته نورشیان؛ خو مال یوازې نقدو پیسوته شامل نه دی لکه څرنګه چې یو شمیر خلکو په ذهن کې راګرځي. انسان مال ته ځکه ضرورت لري چې د ده دنیاوي اودیني مصلحتونه دمال پورې تړلي دي، د انسان د ژوند ساتنه د خوراک څښاک پورې اړه لري ،همدارنګه جامي چې انسان دګرمۍ اویخنۍ څخه ژغوري اوداسې نور. (۲۸۳:۲۲)

**د مال د ساتنې وسائل**

دا هره وسیله مستقله موضوع ده لیکن د نموني په ډول یې صرف نومونه اخیستل کیږي.

د مال ساتنه هم په شریعت مطهره کې په دوه طریقو شویده.

**۱ـ د وجود له مخې:** هغه داسې چې اسلام کسب اوکارته ترغیب ورکړیدی.

**۲ـ د عدم له مخې:** او د دې لپاره یو څو امور دي.

۱ـ سلامي شریعت په مال باندې تیری منع کړیدی.

۲ـ د مال ضائع کول یې منع کړیدي.

۳ـ د غلا اوقطاع الطریق حد یې ذکر کړیدی.

۴ـ کله چې د چا څخه د بل مال تلف شي تاوان پرې لازمیږي.

۵ـ د مال څخه د فاع اسلام روا کړیده .

۶ـ اسلام وایې چې د قرض معاملات ولیکئ ترڅو مال مو ضایع نشی.

۷ـ د لقطې (هغه مال چې موندل شوی وي) د هغې تعریف اواعلان اسلامي شریعت په موندونکې باندې لازم کړیدی ترڅو د چا مال ضایع نشي. (۲۸۶:۲۲)

په دغه ټولو وسائلو سره اسلام د مال حفاظت اوساتنه کوي او د فساد څخه یې بچ کوي، همدارنګه د مال ارزښت یې بیان کړیدی چې دا د انساني نسل د پرمختګ مهم عنصر ګڼل کیږي، په همدې طریقه اسلام د ذکرشوو مصالحو اومقاصدو ساتنه هم کړیده کوم چې د انسان ژوند او وجود ورپورې تړلی دی، که د دغه مقاصدو ساتنه ونشی نو انساني ژوند د خطر اوخرابوالي سره مخ کیږي نمو اوپرمختګ یې دریږي. (۲۸۶:۲۲)

**د دې پنځو مقاصدو ترمنځ ترتیب**

ضروري مقاصد د اهمیت له مخې سره توپیر لري بعض مهم دي نسبت نوروته اګر که په مجموعي لحاظ سره ټول په مرتبه د ضروریاتوکې دي،اوکله کله د دې مصالحو ترمنځ تعارض واقع کیږي، بیا مجتهد په دغه مصلحتونو کې قوي مصلحت ته ترجیح ورکوي، پدې عنوان کې د دغه مصلحتونو

مراتب بیانوو ترڅو د تعارض په صورت کې قوي مصلحت ته اعتبار ورکړو، د قوي اوضعیف معلومولو لپاره دمراتبوبیان ضروري دی.

**د دین د ساتنې مرتبه**

دیني مصلحت ته ترجیح ورکول په نورو ضروریاتوباندې،دې مسئله کې د علماؤ دوه نظرونه دی.

**لومړی نظر:** دیني مصلحت به مقدم وي په نورو ضروریاتوباندې،کله چې د دوه مصلحتونو ترمنځ تعارض راشی یو دیني مصلحت ته راجع وي اوبل مصلحت نفس یا عقل وغیره ته راجع وي، نو دلته به دیني مصلحت مقدم وي په نورو مصلحتونو باندې، او دا دجمهورو اصولینو نظردی. (۲۷۵:۲)

دلیل: دوی وایې: دین په ټولو مقاصدو کې لوی اومهم مقصد دی؛ ځکه چې الله رب العزت فرمایی: ﴿ وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ ﴾ (الذاریات:۵۶)

ژباړه: ما پیریان اوانسانان نه دې پیداکړي مګر دخپل عبادت لپاره. (۱۲:۱۲۵۰)

د خلکو د پیدائش او د شرعي احکامو د رالیګلوڅخه مقصد د الله رب العزت بندګي ده،چې ددی په وجه د الله تعالی په خواکې د ابدي ژوند سعادت حاصلیږي، هرچې باقې نورضروریات دې لکه دنفس ،عقل ،مال حفاظت هغه هم د دین له وجې نه مقصودې ګرځیدلي دي. (۲۷۵:۴)

دویم دلیل: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی: (فدین الله أحق بالقضاء)ٔ (۲۰: ۸۰۴)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې: د پریکړې اوفیصلې په اعتبار سره د الله دین په ټولو شیانوحقدار اومقدم دی.

**دویم قول:** بعض علماء وایې: څلور واړه مقاصد (ماسوا ددین نه لکه نفس، عقل، نسل، مال) داپه دین باندې مقدم دی، دا قول آمدې رحمه الله داعتراض په شکل ذکر کړیدی او مستقل قول یې ندی بللی ٔ (۴: ۲۷۵)

دلیل: څلورګونې مقاصد ( نفس،عقل ،نسل،مال) د انسانانو حقوق دي اودین د الله تعالی حق دی، کله چې د الله تعالی دحق سره د بنده حق مزاحم اومعارض شي او دواړه په یو وخت کې نه ترسره کیږي؛ نو دبندګانو حق به مقدم وي د الله تعالی په حق باندې او د دې لپاره دوه وجهې دي .

۱ـ د الله په حقوقو کې اسانتیا او سهولت وي په خلاف د بندګانو حقوقو باندې .

۲ـ د الله تعالی حق که فوت شي الله تعالی ته کوم ضرر نشته ، او که د بنده حق فوت شي، دی متضرره کیږي؛ نو د هغه چا د حقوقو حفاظت اولی دی چې په فوت کیدو یې متضرره کیږي نسبت هغه چاته چې دحق په تلف کیدو نه متضرره کیږئ. (۹: ۵۸)

د دې دلیل نه جواب پدې طریقه سره کیږي ، چې د بنده حق به مقدم وي؛ خو مراد هغه بنده دی چې د ده دحق ساتنه به دالله حق نه تلف کیږي که داسې وه؛ نو بیا به دالله حق مقدم وئ (۲۲: ۳۳۸)

**ترجیح**

د ذکر شوو دلائلو په رڼا کې باید وویل شي: چې راجح قول لومړنی دی، چې د دین مخکې کول په نورو څلور واړو مقاصدو باندې او داخبره په یوځو دلائلو ولاړه ده .

۱ـ د دیني مقصد مخکې کول په نورو مقاصدوباندې د جمهورو مسلک دی،او د دې خلاف د اجماع څخه خلاف دی.

۲ـ دلته یو شمیر نصوص دې چې د دین ساتنه یې مقدم کړی ده په نورو مقاصدو باندې، الله تعالی فرمایی: ﴿ انْفِرُواْ خِفَافًا وَثِقَالاً وَجَاهِدُواْ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ ﴾ (التوبة: ۴۱)

ژباړه: سپک یاست اوکه درانه (غزا)ته ووځئ او د الله په لارکې په خپلو مالونو اونفسونو سره جهاد وکړئ،دا ستاسې لپاره ډیره ښه ده که پوهیږئ. (۱۰۸۲:۱۱)

۳ـ لوی مقصد په مقاصدوکې د دین ساتنه ده، هر چې باقی نور مقاصد دي شریعت یې لحاظ د دین د حفاظت په خاطر کړیدی. (۳۱۲:۲۲)

هر چې د نورو ضروریاتو ترمنځ توپیر دی پرته د دین نه، پدې اړه اصولین متفق دي، چې د نفس ساتنه مخکې ده په نورو ضروریاتو باندې ؛ البته په دوه شیانو کې سره اختلاف لري.

۱ـ په نسل او عقل کې به کوم یو ته ترجیح ورکول کیږي؟ کله چې د دې ترمنځ تعارض راشي د عقل ساتنه به مخکې وي او که د نسل؟ دی مسئله کې د علماؤ دوه قوله دي.

**اول قول:** آمدی او ابن الحاجب وایې: چې د تعارض په صورت کې د عقل ساتنه مخکې ده د نسب په ساتنه باندې. (۴: ۲۷۶)

دلیل: د دوی دلیل دادی چې د نسب ساتنه راجع ده د نفس ساتنې ته؛ ځکه که دده په وجه د اولاد ساتنه کیږي، که دا نه وي نو اولاد ضائع کیږي اویا بې تربیته پاتی کیږي او هر هغه مقصد چې راجع وي د نفس ساتنی ته هغه به مخکی وي په عقل باندی. (۴: ۲۷۶)

**دویم قول:** ابن السبکي او د مراقی السعود مصنف پدې نظر دي چې کله د نسب او عقل د ساتنې تعارض راشې؛ نو د عقل ساتنه به مخکې وي په نسب باندې . (۳۲۲:۱۵)

دوی د خپل قول لپاره کوم علت او وجه نده ذکر کړې؛ خو دا احتمال شته ، چې دوی د نفس لمنځه تلو ته کتلی وي؛ځکه کله چې عقل د منځه لاړشي نفس هم لمنځه ځې؛ نو د عقل ساتنه هم د نفس ساتنې ته راجع شوه، په دې اړه امام تفتازاني وایې: چې د عقل لمنځه تللو په وجه نفس هم فوت کیږي؛ ځکه عقل د آفاتو څخه د نفس ساتنه کوي؛ خو ده هم صراحتا نه دي ویلي چې د عقل ساتنه مقدم ده په

نفس باندې. (۲۲: ۳۱۵)

هر چې د عرض او مال يا د نسب او مال ترمنځ ترتيب دی په دې اړه بايد وويل شي چې عرض په دوه ډوله دی ځينې داسې وي چې د نسب ساتنې ته راجع وي؛ نو د دې ساتنه به مخکی وي په مال باندې، او ځينې داسې دي چې د نسب ساتنې ته راجع نوي لکه يو چاته کنځل کول رد بد ويل يا يوچاته بخيل ويل نوداډول به دمال په ساتنه مقدم نوي. (۲۲: ۳۱۵)

**حاجيات**

**د حاجياتو تعريف**

دا هغه ډول مصلحتونه دي چې انسان ورته د مشقت او لاس تنګوالي د لرې کولو او په ژوند کې د وسعت او پراخې پيدا کولو په خاطر اړتيا لري، که دا ډول مصلحتونه موجود نه وي ژوند تيريږي، کوم فساد پکې نه راځي اونه د ناکامی سره مخ کيږي؛ البته زحمت اومشقت کې واقع کيږي، داسې مشقت چې په عرف اوعادت کې بې برداش ممکن وي. (۱۰: ۱۱)

د حاجياتو په باب کې حاجت د ضرورياتو حالت ته نه رسيږي په داسې شان سره چې که دغه حاجت موجود نه شي ژوند د ناکامی اوفساد سره مخ کيږي؛ بلکې که حاجي مصلحتونه پوره نه شي خلک په مشقت کې واقع کيږي اوکله کله داسې کيږي چې دحاجي مصلحتونو د نه شتون اوپوره کيدو په وجه په ضرورياتو کې من وجه خلل راځی . (۱۰: ۱۶)

په همدې خاطر شريعت مطهره حاجي مصلحتونو ته اعتبار ورکړيدی ترڅو د خلکوڅخه مشقت دفع کړی، الله رب العزت فرمايي: ﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ ﴾. (الحج: ۷۸)

ژباړه: الله تعالی په دين کی په تاسو مشقت نه دی ايښی.(۱۲: ۲۳۵)

همدارنګه الله تعالی فرمايي: ﴿ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ ﴾. (المائدة: ۶)

ژباړه: اراده نه لري الله چې مقرر کړي په تاسو څه تنګوالی بلکې الله تعالی غواړې چې تاسو پاک کړي. (۱۱: ۵۹۹)

ددې دلائلو په رڼاکې مونږ ويلای شو چې په دين کې مشقت او تنګوالی نشته، شارع پورته کړيدی، برابره خبره ده که دغه مشقت په عباداتو کې وي که په عاداتو، معاملاتو او جناياتو کې.

**د حاجياتو مثالونه**

۱ـ عبادات: کله کله د عباداتو پورې غير عادي مشقت پيوسته کيږي ؛ نو د دې مشقت د لرې کولو لپاره شارع رخصت روا کړی دی لکه په رمضان کې افطار د مسافر او مريض لپاره . (۱۰: ۱۲۰)

الله تعالی فرمايي: ﴿ فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾. (البقرة: ۱۸۴)

ژباړه: هر څوک چې په تاسې کې مريض يا مسافر وي او روژه وخوري ؛ نو پده باندې شمار د نورو

ورځو لازم دی (چې بیا پکی روژه ونیسی). (۱۱: ۱۳۵)

همدارنګه په د مسافر لپاره په لمونځ کې قصر کول، الله تعالی فرمایي: ﴿ وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَقْصُرُواْ مِنَ الصَّلاَةِ ﴾. (النساء: ۱۰۱)

ژباړه: او کله چې تاسو په ځمکه کې سفر کوئ نو په تاسې ګناه یا وبال نشته چې لمونځ کوتاه او لنډ وکړئ. (۱۱: ۵۲۳)

**۲ـ عادات:** الله رب العزت د خپل احسان له مخې بنده او مکلف ته پاک حلال او خوندور شیان د مشقت د لیرې کولو په خاطر روا کړیدي هغه لباس دی که خوارکونه او مشروبات دي او دیته ورته نور فائده مند شیان بیا دا لازمه نه ده چې دغه مذکور شیان دی د حاجیاتو په مرتبه کې قرار ولري؛ بلکې دغه مذکور شیان درې مرتبې لري، هغه چې ډیر اړین دي او د انسان ژوند ورپورې تړلی دی، د ضروریاتو په مرتبه کې راځي او که په پرېښدلو یې انسان په مشقت کې واقع کیده ؛ نو دا دحاجیاتو په مرتبه کې راځي، که په پرېښدلو یې مکلف په مشقت کې نه واقع کیده دابیا د تحسینیاتو په مرتبه کې راځي. (۱۰: ۱۱)

**۳ـ معاملات:** دا وا ضحه خبره ده چې د انسان مصلحتونه په ورځنۍ ژوند کې د معاملاتو پورې اړه لري د دې نه بغیر ژوند ستونزمن دی؛ نو شارع معاملات روا ګرځولي دي او که پدیکې معمولی شان غرر (دوکه) پیښیږي؛ نو هغه یې د لویو مصلحتونو په وجه معاف کړي دي، د مثال په ډول د سلم بیع ، مضاربت ، اجاره ،مساقات او داسې نور د حاجت له مخې د اصل په خلاف روا شوي دي، پکار وه چې دغه عقدونه روا شوي نوی؛ ځکه دابیع د معدوم ده؛ خو د خلکو د حاجت له مخې روا شول. (۵: ۵۰۴)

**۴ـ جنایات:** د مشقت د لرې کولو په خاطر شارع د خطا قتل دیت په عاقله و باندې ایښی دی؛ ځکه که دا په یواځې توګه په قاتل لازم وی؛ نو په حرج اومشقت کې واقع کیده، ابن قدامه حنبلي رحمه الله وایی: خطایې جنایتونه زیات واقع کیږي او د انسان دیت هم زیات دی که دا په جاني لازم شوی وی؛ نوپه مشقت اوحرج کې واقع کیده؛ ځکه ده به د ټول دیت ادا کول په یواځې توګه نشو اداء کولای؛نو شارع خپل حکمت له مخې دغه ډول دیت په عاقله و کیښود. (۵: ۵۰۴)

مخکې مثالونه چې ذکر شول لکه عبادات، عادات، معاملات او جنایات،د دې څخه په ښکاره ډول د اسلامي شریعت کمال څرګندیږي،او دا واضحه کوي چې اسلامي شریعت د خلکوحاجتونه په ورځنې ژوند کې پوره کوي او د خپلو پیروانو څخه یې په عباداتو اومعاملاتو کې مشقت اوحرج دفع کړی دی . (۲۲: ۳۲۴)

**د حاجي مصلحتونو اهداف**

شارع د حاجي مصلحتونو د روا والې څخه لاندې اهداف لري:

۱ـ د مکلف څخه د مشقت او تنګسیا لرې کول.

۲ـ حاجي مصلحت سره د ضروري مصالحو حمایت او ساتنه کیږي.

۳ـ د حاجي مصلحتونو په وجه د ضرورې مصلحتونو خدمت کیږي.

۴ـ د نورو مصلحتونو موجودیدل لکه مریض ته په لمونځ کی د قیام رخصت او داسې نور. (۲۲: ۳۲۴)

**تحسینیات**

**د تحسینیاتو تعریف**

دا هغه مصلحتونه دي چې نه ضروري دي او نه حاجي که دا ډول مصلحتونه په ژوند کې نه وي؛ نو ژوند د مشقت، تنګسیا او زحمت سره نه مخامخ کیږي . (۳: ۲۷۵)

یا دا په هغه کارونو باندې عمل کول دي چې د نیکو عاداتو سره تړاو لري او د داسې چټلو شیانو څخه ځان ساتل دي چې راجح عقلونه یې نه خوښوي . (۱۰: ۱۱)

**د تحسینیاتو ډولونه**

تحسینیات په دوه ډوله دی. (۸: ۱۶۱)

**اول:** هغه تحسیني مصلحتونه چې د شرعي قاعدې سره په ټکر کې نه وي مثلا، د نجاستونو حرمت، د انسان طبیعت اومزاج د نجسو شیانو څخه نفرت کوي او دا نفر ت د دغه حرمت سره مطابق دی، د متیازو څکل حرام دی او د شرابو څکل هم حرام دی، خو شارع د شرابو په حق کې حد مقرر کړی دی او د بولو په څکونکې یې حد ندی مقرر کړی، د دې وجه دا ده چې د بولو نه د انسان نفرت دی ؛ نو د ده طبیعت ته یې اعتبار ورکړ، همدارنګه د نجاست څخه ځان ژغورنه هم د انساني طبیعت او اخلاقو غوښتنه ده، او شراب خو مرغوب فیها دی؛ نو ځکه پرې شارع حد مقرر کړ، حاصل دا دی، ټول هغه څه چې د پاکوالي سره رابطه لري هغه د بدن وي که د مکان او یا هم لباس شارع پرې امرکړیدی لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي: ﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ﴾. ( المدثر:۴)

ژباړه: خپلی جامې پاکې وساته. (۱۲: ۱۵۷۰)

همدارنګه فرمایی: ﴿ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ ﴾ . ( البقرة: ۲۲۲)

ژباړه: الله تعالی بیا بیا توبه ویستونکې او د پلیتیو څخه ځان ساتونکي (پاک) خوښوي (۱۱: ۱۷۸)

همدارنګه طهارت او پاکوالی د شارع لخوا د لمونځ د صحت لپاره شرط ګرځول شوی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (لا تُقْبَلُ صلاةٌ بغير طُهُور..). (۱۹: ۲۰۴)

ژباړه : بغیر د پاکوالې لمونځ نه قبلیږي یا نه صحیح کیږي، دا ټول د دې په خاطر چې مسلمان پاک او

نظیف وي خیرن نه وي.

دلته ځینې تحسیني امور نور هم شته چې د عاداتو سره تعلق لري لکه د خوراک اوڅښاک آداب او داسې نور، شارع د خوراک لپاره آداب ښودلي دي ځینې مخکې دخوراک څخه دي اوځینې په منځ د خوراک کې اوځینې وروسته دخوراک نه دي، لکه په اول کې بسم الله ویل، په ښي لاس خپل مخې ته خوراک کول،او په اخر کې د الله جل جلاله حمد ویل، او د څکلو آداب دادي چې په ښي لاس یې وڅکې، په ناسته یې وڅکې، په خوراک او څکاک کې ټول آداب باید مراعات شي کوم چې شارع ښودلي دي ترڅو د څارویو سره یې توپیر وشي.

او هغه تحسیني امور چې د معاملاتو سره رابطه لري لکه، د نجاساتو د بیع څخه ځان ساتل؛ ځکه د نجاستونو تول اوپیمانه کول مناسب کار نه دي، همدارنګه د اضافه اوبو خرڅول، او یا د وښو او خشاکو ،ګیاګانو خرڅول؛ ځکه داپه بخل دلالت کوي او د مسلمان د شان سره مناسب نه دي، د تحسیني امورو نه دا هم دي چې ښځه یې منع کړیده چې خپل ځان چاته په نکاح ورکړي یا بله جینۍ چاته په نکاح ورکړي؛ ځکه دا کار د دې د حیاء د کموالي سبب ګرځي .(۲۲: ۳۳۳)

**دویم قسم:** د تحسینیاتو دویم قسم هغه دی چې د شرعي قاعدې سره په ټکر او تعارض کې راشې ،لکه د مکاتب مریې سره د کتابت عقد کول، ځکه دې عقد ته مالک محتاج نه دی، که دا کار ونکړي ده ته یې کوم ضرر نشته؛ خو د انساني کرامت له وجې له امله روا دی، او د مریې ازادول په عرف کې ښه کار دی.

د شرعي قاعدې سره یې د مخالفت صورت دا دی چې مریی د بادار مال دی او هغه څه چې دا مریی ګټې هغه هم د مالک دي؛ نو دلته دا عقد د مالک داسې دی چې خپل یومال په بل خرڅوي، او د دې خو څه فائده نشته؛ ځکه دا د مال خرڅول دې په خپل بل مال سره او دا د یوچا مالک جوړول دې د هغه څه چې هغه یې مالک دی، په هغه څه سره چې د ده ملکیت دی او دا تحصیل د حاصل دی او د بیع قانون دا دی چې عاقدین به جلا جلا اشخاص وي په حقیقي توګه یا په حکمي توګه. (۸: ۱۶۱)

لیکن شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایې: دلته نه د شرعي قاعدې خلاف شته او نه د قیاس؛ ځکه دلته مریې خپل ځان د هغه مال په مقابل کې اخیستی دی کوم چې د ده په ذیمه دی، او بادار ته په هغه څه کې حق نشته کوم چې د مریې په ذیمه دی؛ ځکه د ده حق په اموالو د مریې کې دی نه د هغه په انسانیت کې، د مریې د ازادیدلو وروسته به د هغه څه مطالبه کیدلای شي کوم چې د هغه په ذیمه دی اوپه دغه وخت کې د مالک ملکیت په مریې نشته، دلته دی مریې خپل ځان د هغه پیسو په مقابل کې واخیسته کوم چې د ده په ذیمه دی. (۵: ۵۳۰)

**د تحسيني مصلحتونو اهميت**

د تحسيني مصلحتونو اهميت په لاندې ډول دی.

۱ـ په تحسيني امورو عمل کول د امت زينت او ښکلا ده او په اخلاقيت او کمال دلالت کوي، محمد طاهر ابن عاشور رحمه الله وايي: زما په اند تحسيني مصالح هغه دي چې په هغې سره د امت په نظام کې کمال او پوره والی راځي ، تر دې چې د امت ژوند مطمئن او د سکون والا شي د نورو ډلو په ذهن کې د اسلام تازه ګي واقع شي او د اسلام سره يې مينه پيدا او نزديکت ورته اختيارکړي.

تحسيني عادات پديکې داخل دي برابره خبره ده که عام عادات وي لکه د عورت پټول،او که خاص وي د يو امت او ډلې پورې لکه د ګيرې پريښودل، يا د فطري صفاتو مراعاتول. (۱۳: ۸۲)

۲ـ تحسيني مصالح د حاجي او ضروري مصالحو خدمت کوي. (۱۰: ۲۲۴-۲۱۷)

۳ـ په تحسيني مصلحتونو کې نقصان راتلل په حاجي مصلحتونو کې نقصان راولي په يوه وجه د وجوهو سره . (۱۰: ۲۴۸)

۴ـ تحسيني مصالح د فرع حيثيت لري نسبت اصل ته چې ضروري مصالح دې؛ ځکه دا تکميلونکي د حاجي اوضروري مصلحتونو دي. (۱۰: ۱۷)

**پايله**

د دې لينکنې پايله په لاندې ډول ده

۱ـ د اسلامي شريعت مقاصد په مختلفو اعتباراتو سره علماو تقسيم کړيدي، هر عالم د خپل اجتهاد مطابق ويشلي دي مثلا د قطعيت او ظنيت په اعتبار سره د کل اوجز په اعتبار سره د مصلحتونو په اعتبار اوداسې نورو سره.

۲ـ د مصلحتونو د مراتبو په اعتبار سره شرعي مقاصد په درې ډوله دي،لومړۍ مرتبه د ضرورياتو ده دا ځکه په لومړۍ مرتبه کې قرار لري چې د دې په نه شتون کې د بندګانو ژوند امکان نه لري دنياوي او اخروي ژوند يې د فساد سره مخ کيږي، په دويمه مرتبه کې حاجيات دي دا مصلحتونه ځکه په دويمه مرتبه کې قرار لري چې د دې په نه شتون کې انساني ژوند د مشقت سره مخ کيږي؛ خو لمنځه نه ځي يعنی ژوند تيريږي خو لږ په تکليف اومشقت سره ، او په دريمه مرتبه کې تحسيني مصلحتونه قرار لري،دا ځکه په دريمه مرتبه کې دي چې د دې په نه شتون کې ژوند د کوم مشقت او تکليف سره نه مخ کيږي؛ خو که موجود شول نوژوند خوندور او د مزوسره تيريږي لکه ښه خوراکونه اعلی لباس وغيره،

۳ـ که ضروري مصلحتونه لمنځه لاړ شي ؛ نو حاجي او تحسيني مصلحتونه ورسره په مکمل ډول لمنځه ځي؛ خو که حاجي اوتحسيني مصلحتونه لمنځه لاړشي نو ضروري مصلحتونه لمنځه نه ځي البته په يوه وجه د وجوهو سره پکې خلل راځي.

۴ـ تحسيني مصلحتونه حاجي اوضروري مصلحتونو لره تکميلونکي دي لکه په عباداتو کې د مستحباتو لحاظ ساتل، دې سره فرائض او ارکان پوره کیږي او حاجي مصلحتونه ضروري مصلحتونو لره تکميلونکي دي لکه په لمونځ کې د شرائطو او ارکانو لحاظ ساتل .

۵ـ د شرعي مقاصدو پیژندل د ایمان د قوت سبب ګرځي، اوزړه ته اطمنان حاصلیږي ، دا ځکه هغه څه چې الله او د هغه رسول بیان کړیدي د دې په پوهه اوتابعداری باندې مسلمان مکلف دی ، کله چې مسلمان دیو شرعي حکم په مقصد باندې پوهه شي؛ نو د ده په ایمان کې قوت راځي اوپه دین باندې ثابت قدمه کیږي، ځکه دا ورته معلومیږي چې اسلام د دنیا او آخرت د سعادت اونیک بختۍ لپاره راغلی دی او پدې به اقرار وکړي ، چې دا سما وي دین دی او د بشر په لاس جوړ شوی نه دی.

۶ـ د اسلامي شریعت په مقاصد و باندې پوهه حاصلول په دې سره محاسن اوښیګڼې د شریعت مسلمان ته څرګندیږي، د مثال په ډول په اسلامي شریعت کې د انسان دین ، نفس ، عقل ، عزت اومال ټول خوندي دي، هغه څه چې د مسلمان دنیا او آخرت ښائسته کوي په هغې یې ورته امرکړی او هغه څه چې د انسان دنیا اوآخرت برباد وي د هغې څخه یې منع کړیدی.

۷ـ کله چې یو مسلمان د شریعت په مقاصدو باندې پوهه ولري نو په دې سره کولای شې چې په اسلام د اعتراض کونکو شبهات د کتاب او سنت په رڼاکې جواب کړي ،خصوصا هغه اعتراض کونکې چې د اسلام مبارک دین قاصر اوناقص ګڼي او وایې چې اسلام په معاصر دورکې د خلکو حاجاتو اومشکلاتو ته ځواب نشي ویلی.

۸ـ د شرعي مقاصدو فهم مجتهد ته ډیر اړین اومهم دی؛ ځکه د دې په وجه دی د شرعي نصوصو څخه د مسائلو استنباط په اسانۍ سره کولای شي اګرکه شارع پرې تصریح نوي کړی.

**مناقشه**

د هرې لیکنې وروسته لیکوال د خپلې لیکنې مناقشه کوي زه هم د خپلې لیکنې مناقشه په لاندې نقاطو کې راخلاصه کوم:

۱- د شرعي مقاصدو مختلف تعریفونه شوي دي مګر د ټولو اساسې نقطه د مصلحتونو جلبول او د مفاسدو دفع کول دي او همدا د دغه پنځو اصولو ساتنه ده.

۲- شرعي مقاصد په مختلفو اعتباراتو سره ویشل شوي دي مکر تر ټولو اهمترین تقسیم د مصلحتونو په اعتبار سره دی چې دا درې ډولوته ویشل شوی دی ۱. ضروریات. ۲- حاجیات. ۳- تحسینیات.

۳ – په ضروریات خمسه و کې چې کله د دین د حفاظت سره د بل ضروري مقصد تعارض راشې مثلا: یو طرف ته د د ین ساتنه وي بل طرف ته د نفس، عقل، نسب وغیره ؛ نو دلته به د دین ساتنه په نورو ټولو ضروري مقاصدو مقدمه وي، دا دجمهورو مسلک دي او د دي خلاف د اجماع خلاف دی،

همدارنګه د دین ساتنه تر ټولو اړینه ځکه ده چې د نورو څلورو واړو مقاصدو ساتنه بیا د دین د ساتنې له امله شوی ده.

۴ – د دین پرته په نورو ضروري مقاصدو کې د نفس ساتنه په مال، نسب او عقل باندې مخکې ده او دا د فقهاو تر منځ اتفاقي خبره ده.

۵ – کله چې د نسل او عقل د ساتنې ترمنځ تعارض راشي دلته دوه نظره دي یوه ډله علماء د نسب ساتنه په عقل مقدمه بولي ځکه چې دې سره د نفس ساتنه کیږي او ځینې بیا د عقل ساتنه مقدمه بولي ځکه دا هم د نفس ساتنې ته راجع کیږي، د لیل د دواړو لپاره یو شی دی همدا وجه ده چې ترجیح یې ممکنه نده؛ ځکه چې دواړه په دلیل کې علت د نفس ساتنه ذکر کوي او د نفس ساتنه د دین وروسته په ټولو ضروریاتو مقدمه ده.

۶- هر چې د عرض او مال یا د نسب او مال ترمنځ ترتیب دی په دې اړه باید وویل شي چې عرض په دوه ډوله دی ځینې داسې وي چې د نسب ساتنې ته راجع وي؛ نو د دې ساتنه به مخکی وي په مال باندې، او ځینې داسې دي چې د نسب ساتنې ته راجع نوي لکه یو چاته کنځل کول رد بد ویل یا یوچاته بخیل ویل نوداډول به دمال په ساتنه مقدم نوي

۷- ضروریات خمسه و ساتنه مقدم ده په حاجیاتو او تحسینیاتو ځکه چې د ضرویاتو پرته ژوند ممکن ندی او د حاجیاتو او د تحسیناتو په نه شتون کې ژوند ممکن دی.

**وړاندیزونه**

۱ – په ټولنه کې علماو او خطیبانو ته مې وړاندیز دی چې د شرعي مقاصدو په اړه عامه پوهاوی عوامو او خواصو ته ورکړي او د دې علم اهمیت روښانه کړي.

۲ – د موجوده نظام څخه غوښتنه لرم چې د شرعي مقاصدو د علم په اړه لیکل شوي کتابونه په دیني تعلیمي نصابونو کې ځای پر ځای کړي تر څو عالم د فراغت وروسته پدې علم آګاه وي.

۳ – په علماو او پوهانو غږ کوم چې د علم المقاصد په اړه لیکنې ملي ژبو ته واړوي تر څو افغاني ټولنه د دې بهترین علم څخه برخمنه شي.

**دمصادرو اومراجعو فهرست**


1. القران الکریم
2. الآمدي، أبو الحسن سيد الدين علي بن أبي علي بن محمد بن سالم الثعلبي .(د ت)، الإحكام في أصول الأحكام. الناشر: المكتب الإسلامي، لبنان . بيروت. ج. ٢.
3. الآمدي، أبو الحسن سيد الدين علي بن أبي علي بن محمد بن سالم الثعلبي .(د ت)، الإحكام في أصول الأحكام. الناشر: المكتب الإسلامي، لبنان . بيروت. ج. ٣.

4. الآمدي، أبو الحسن سيد الدين علي بن أبي علي بن محمد بن سالم الثعلبي .(د ت)، الإحكام في أصول الأحكام. الناشر: المكتب الإسلامي، لبنان . بيروت. ج. ۴.
5. ابن تيمية، تقي الدين أبو العباس أحمد بن عبد الحليم بن تيمية الحراني.( ١٤١٦هـ/١٩٩٥م). مجموع الفتاوى. المحقق: عبد الرحمن بن محمد بن قاسم.الناشر: مجمع الملك فهد لطباعة المصحف الشريف. السعودية. المدينة النبوية.
6. جغيم ، الدكتور نعمان جغيم.( ١٤٣٥ هـ - ٢٠١٤ م) طرق الكشف عن مقاصد الشارع.الناشر: دار النفائس. الأردن. الطبعة: الأولى.
7. الخادمي، نور الدين بن مختار الخادمي.( ١٤٢١هـ- ٢٠٠١م). علم المقاصد الشرعية.الناشر: مكتبة العبيكان. الطبعة: الأولى.
8. الرازي ، أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الرازي الملقب بفخر الدين خطيب الري (١٤١٨ هـ - ١٩٩٧ م)،المحصول. تحقيق: الدكتور طه جابر فياض العلواني .الناشر: مؤسسة الرسالة. الطبعة: الثالثة.
9. الزركشي ، أبو عبد الله بدر الدين محمد بن عبد الله بن بهادر (١٤٠٥هـ - ١٩٨٥م). المنثور في القواعد الفقهية،،الناشر: وزارة الأوقاف. الكويتية.الطبعة: الثانية.
10. الشاطبي، إبراهيم بن موسى بن محمد اللخمي الغرناطي.( ١٤١٧هـ/ ١٩٩٧م)الموافقات.محقق:ابوعبيدة.الناشر: دار ابن عفان. الطبعة الأولى.
11. شيخ الهند، ديوبندی محمود الحسن اوعثماني شبير احمد .ژباړه: دافغانستان دستروعلماويو ټولګی. (دت )کابلی تفسير.(د ناشر: مجمع خادم الشريفين .سعودی عربستان .مدینه منوره. (دط). ج. ١.
12. شيخ الهند، ديوبندی محمود الحسن اوعثماني شبير احمد .ژباړه: دافغانستان دستروعلماويو ټولګی. (دت ). کابلی تفسير.(د ناشر: مجمع خادم الشريفين .سعودی عربستان .مدینه منوره. (د ، ط). ج. ٢.
13. ابن عاشور، محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر التونسي.(١٩٩٨م). مقاصد الشريعة الإسلامية،تحقيق:محمد طاهر الميساوي.الناشر:البصائرللانتاج العلمي.الطبعة الاولى.
14. عز الدين، أبو محمد عز الدين عبد العزيز بن عبد السلام بن أبي القاسم بن الحسن السلمي الدمشقي.( ١٤١٤ هـ - ١٩٩١) قواعد الأحكام في مصالح الأنام،الناشر: دار الكتب العلمية .لبنان .بيروت، طبعة: اخرى .
15. العطار ، حسن بن محمد بن محمود الشافعي (د،ت)، حاشية العطار على شرح الجلال

المحلي على جمع الجوامع.الناشر: دار الكتب العلمية.لبنان. بيروت. (د،ط).

١٦. الغزالي ، أبو حامد محمد بن محمد الطوسي. (١٤١٣هـ - ١٩٩٣م). المستصفى. تحقيق: محمد عبد السلام عبد الشافي. الناشر: دار الكتب العلمية. لبنان. بيروت. الطبعة: الأولى.

17. قادري ، عبد الله الأهدل . (د،ت)الإسلام وضرورات الحياة(د،ط) .ملاحظة: (هذا الكتاب من كتب المستودع بموقع المكتبة الشاملة).

18. ابن منظور، محمد بن مكرم بن على أبو الفضل جمال الدين الإفريقى الأنصاري الرويفعي. (١٤١٤ ه). لسان العرب . الناشر: دار صادر .لبنان. بيروت. الطبعة: الثالثة .

19. النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (دت)،المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي. الناشر: دار إحياء التراث العربي. ج. ١.

20. النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (دت)،المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي. الناشر: دار إحياء التراث العربي. ج. ٢.

21. النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري (دت)،المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي. الناشر: دار إحياء التراث العربي. ج. ٣.

22. اليوبى، دكتور محمد سعد بن احمد بن مسعود.(١۴١٨م)مقاصد الشريعة وعلاقتها بالأدلة الشرعية،.ناشر: دارالهجرة للنشروالتوزيع. طبع : الاولى .

# سیاست های پولی در اقتصاد اسلامی

نویسنده : پوهنیار عبدالفتاح مفلح
عضو کادر علمی دیپارتمنت اقتصاد ملي پوهنتون شیخ زاید
تقریظ دهنده: پوهنوال دوکتور رحیم جان دردمل استاد پوهنځی اقتصاد

***چکیده***

پالیسی سازان برای دستیابی به اهداف مطلوب اقتصادی از سیاست های اقتصادی استفاده میکنند که این سیاست ها از نظر اقتصاد ماکرو به سیاست ها پولی و مالی دسته بندی میگردند. سیاست های پولی جهت کنترول حجم پول و ثابت نگهداشتن سطح قیمت ها در اقتصاد از طرف بانکهای مرکزی طرح و تطبیق میگردد.

هر سیاست اقتصادی در پهلوی اهداف مشخص شامل وسایل و ابزار های مشخص جهت دستیابی به آن اهداف میباشد. دراین مقاله چگونگی طرح و تطبیق سیاست های پولی در اقتصاد اسلامی مورد تحقیق و مطالعه قرار گرفته شده و معلومات به روش تحقیق کتابخانه ای از کتب معتبر اقتصاد اسلامی و تحلیل سیاست های پولي در عمل در کشور های اسلامی بخصوص ایران که در آن هیچ بانک سودی فعالیت نداشته و بانک مرکزی با مجموعه ای از بانک های تجارتی در چوکات اقتصاد اسلامی فعالیت دارند، بدست آمده است.

یافته های این تحقیق نشان میدهد که سیاست های پولی در اقتصاد اسلامی همانند اقتصاد های معاصر در پی مهار انفلاسیون و کنترول حجم پول در اقتصاد بوده و ابزار ها و میکانیزم آن برخلاف اقتصاد های معاصر خالی از سود می باشد.

**واژه های کلیدی:** اقتصاد اسلامی ، اهداف سیاست اقتصادی، سود، سیاست های پولي، وسایل سیاست اقتصادی

***اهداف تحقیق***

۱. شناسایی اهداف سیاست های پولی در اقتصاد اسلامی
۲. شناسایی وسایل سیاست های پولی در اقتصاد اسلامی

*مقدمه*

سیاست پولیشاخه ای از سیاست اقتصادی و بطور کلی مجموعه ای از تدابیر است که دولت بمنظور نظارت برنظام پولی و حفظ ثبات نسبی ارزش داخلی و خارجی پول درجامعه در پیش میگیرد. ( فراهانی فرد, ۱۳۸۵)

مبنای اقتصاد اسلامی را ارزش های اسلامی تشکیل میدهد به اساس این ارزش ها موقف فرد مسلمان در مقابل ثروت و دارایی، تلاش برای پیدا کردن کار مشروع، خود داری از عواید نا مشروع، کم ساختن فاصله طبقاتی، اجتناب از اسراف و همکاری اجتماعی معین میگردد. همینطور در سطح اجتماع حدود مالکیت فردی و مالکیت جمعی، نوع همکاری بین نسلها و تلاش برای خود کفایی مورد توجه قرار میگیرد. (نورعباد, ۱۳۹۳)

مشخصه عمده اقتصاد اسلامی منع ربا و رعایت اخلاق اقتصادی در معاملات است. از آنجایکه سیاست های پولی در اقتصاد های عنعنوی بیشتر از طریق نرخ سود قابل تطبیق می باشد در این مقاله چگونگی طرح و تطبیق این سیاست را در اقتصاد اسلامی با مشخصه بدون سود مورد تحلیل قرار میدهیم.

معلومات جمع آوری شده از ناحیه کتابهای معتبر قابل دسترس در حول موضوع و مطالعه و تحلیل سیاست های اقتصادی بانک مرکزی ایران به عنوان بانک که فعالیت های آن اسلامی می باشد بدست آمده است.

*مواد و روش تحقیق*

شکل این تحقیق کتابخانه ای و تحلیلی بوده که در آن مواد مرتبط از کتب معتبر اقتصاد اسلامی و فعالیت های بانک مرکزی ایران به عنوان بانک که این سیاست ها را بشکل اسلامی اعمال میکنند استفاده صورت گرفته است.

*پیشینه تحقیق*

در حول موضوع مورد بحث تحقیقات ذیل دریافت و مطالعه گردیده است.

- داکتر حمید الله نور عباد در کتاب درسی خود تحت عنوان اقتصاد و بانکداری اسلامی (۱۳۹۶) واضح نموده است که علمای اقتصاد اسلامی باور دارند که بانکها اسلامی برای اجرای فعالیت های اکتیفی ( تمویل تصدی ها و پروژه ها) و پاسیفی (معامله با امانت گذاران) خود بدون اخذ و اعطای ربح باید از انواع مختلف قرار داد های مشارکت و سهمگیری در مفاد و ضرر استفاده به عمل آورند و بانک های اسلامی میتوانند توسط

معاملات مرابحه، اجاره، اجاره به شرط تملیک، کرایه، فروش به اقساط، سلم و استصناع مشتریان سمت اکتیف و پسیف خود را تمویل کنند. (نورعباد, ۱۳۹۳)

- چپرا در مقاله خود در سال ۱۹۹۰ بیان داشته که نبود ربح در اقتصاد اسلامی و موجودیت اصول همچو زکات و تلاش برای اصغری شدن احتکار تقاضا برای مقدار پول را بیشتر باثبات نگهمیدارد و تقاضا برای پول صرف باساس حجم معاملات و احتیاط صورت میگیرد که در چنین شرایط برای کنترول مقدار پول ابزارها کنترول عمومی مقدار پول در اقتصاد نقش اصلی را دارند. (Chapra, 1990)
- مونیخ در مقاله نشر شده اش در سال ۲۰۰۷ بیان میدارد که ایران بعد از سال ۱۹۸۴ سیستم بانکداری خودرا اسلامی ساخته است و یگانه کشور است که در آن بانک سودی وجود ندارد. ابزار های که بانک مرکزی ایران برای اجرای سیاست های پولی روی دست دارد عبارت از اوراق مشارکت، کنترول نرخ بهره بانک های تجارتی، ذخیره قانونی، سپرده های خاص به بانک مرکزی و تعین سقف کریدیت است. (Munich, 2007)

با در نظرداشت تحقیقات صورت گرفته فوق دراین تحقیق جنبه های علمی و عملی سیاست ها پولی در اقتصاد اسلامی مورد توجه قرار داده میشود که هم از معلومات کتب اقتصاد اسلامی و هم از بانکها مرکزی اسلامی که عملا این سیاست ها را بشکل اسلامی به پیش میبرند استفاده صورت میگیرد.

***مبانی نظری تحقیق***

**سیاست های پولی:** سیاست پوليشاخه ای از سیاست اقتصادی و بطور کلی مجموعه از تدابیر است که دولت بمنظور نظارت برنظام پولی و حفظ ثبات نسبی ارزش داخلی و خارجی پول درجامعه در پیش میگیرد. سیاست های پولي در کنار سیاست های مالی جهت رشد و ثبات اقتصادی، جلوگیری از تورم و افزایش سطح استخدام طرح وتطبیق میگردد.

بمنظور کنترول مقدار پول و اجرای سیاست های پولي در اقتصاد های معاصر وسایل متعددی در اختیار بانک های مرکزی قرار دارد که میتواند به طور عموم این وسایل را به دو گروپ کنترول مقدار عمومی پول و کنترول از طریق نرخ بهره تقسیم بندی کرد. در شیوه اولي کنترول مقدار پول بانک مرکزی پول که از طرف بانک های تجارتی برای مردم و شرکت ها داده میشود را کنترول میکند و دو وسایل مهم در آن تعین سقف کریدیت و تغیر نرخ ذخیره قانونی است. در شیوه دوم کنترول از طریق

تحت تاثیر قرار دادن تقاضای کریدیت از طرف اشخاص به بانکها صورت میگیرد. (Munich, 2007)
در اقتصاد اسلامی بمنظور کنترول مقدار پول و تعقیب بعضی اهداف اقتصادی به سیاست های پولی نیز نیاز است اما منع ربح میکانیزم و وسایل این سیاست را در اقتصاد اسلامی متفاوت تر میسازد.
چپرا معتقد است که نبود ربح در اقتصاد اسلامی و موجودیت اصول همچو زکات و تلاش برای اصغری شدن احتکار تقاضا برای مقدار پول را بیشتر ثابت نگهمیدارد و تقاضا برای پول صرف باساس حجم معاملات و احتیاط صورت میگیرد و بنا پشنهاد میکند که در چنین شرایط برای کنترول مقدار پول ابزارها کنترول عمومی مقدار پول در اقتصاد نقش اصلی را دارند. (Chapra, 1990)
کشور های اسلامی در میتود کنترول باساس نرخ بهره و عملیات در بازار باز از اوراق مشارکت استفاده میکنند. (Munich, 2007)
ایران بعد از سال ۱۹۸۴ سیستم بانکداری خودرا اسلامی ساخته است و یگانه کشور است که در آن بانک سودی وجود ندارد. ابزای های که بانک مرکزی ایران برای اجرای سیاست های پولی روی دست دارد عبارت از اوراق مشارکت، کنترول نرخ بهره بانک های تجارتی، ذخیره قانونی، سپرده های خاص به بانک مرکزی و تعین سقف کریدیت است. (Munich, 2007)

### *(i) اهداف سیاست پولی*

در اقتصاد اسلامی آنچه از این جهت اهمیت دارد این است که سیاست بانک مرکزی درجهت افزایش یا کاهش حجم پول باید درجهت اهداف اقتصاد اسلامی بوده و اولویت ها دربین آن اهداف رعایت شده باشد.
در اقتصاد اسلامی اگر این سیاست های با درنظر گرفتن اهداف و مصالح اقتصادی و سیاسی نظام صورت گرفته باشد نه تنها مشکل ندارد بلکه در مواردی ضروری نیز می باشد، ضمنا اگر سیاست های پولي سبب دوری از عدالت اجتماعی گردد جایز نمی باشد. بطور کلی چنین سیاست ها در سطح کلان جایز نبوده مگر اینکه هدف مهمتری مانند استقلال اقتصادی یا اصل حفظ نظام را دنبال کند. (سعید فراهانی فرد, ۱۳۸۵)
سیاست های پولی معمولا از دو طریق تغیر در پایه پولی و تغیر در ضریب فزاینده پولی ممکن است عملی شوند.

**A. ابزارهای موثر در پایه پولی**

ابزارهایکه در این بخش بررسی می شوند به جهات گوناگون تقسیم بندی گردیده اند مانند.

- از جهت تاثیر گذاری بر پایه پولی و ضریب فزاینده پولی

- از جهت عقدی که دراین اوراق استفاده میشود به اوراق مشارکتی و اوراق اعتباری که در نوع اول باساس عقد مشارکت یا مضاربت و در قسم دوم باساس بیع دین طرح می گردند. در برخی منابع نیز اوراق به دوقسم مبتنی بر ملک و مبتنی بر دین تقسیم شده اند که قسم اول از اوراق که در آن از عقد اجاره، شرکت و مضاربه استفاده گردیده و در قسم دوم نیز به اوراق دین نقدی و غیر نقدی اشاره شده است.

**۱) اوراق بدهی دولتی**

دراین طرح که بانک مرکزی آنرا پشنهاد کرده است ابتدا بخش خصوصی کالاهای مورد نیاز دولت را خریداری کرده آنها را به قیمت بیشتری به دولت بصورت نسیه می فروشد و درمقابل آن اسنادی را از دولت تحت عنوان اوراق بدهی دولتی می گیرد. این اوراق به وسیله بانک ها یا بانک مرکزی قابل خرید و فروش در بازار و تنزیل هستند. در صورت که این اوراق از طرف بانکها به مردم واگذار شود نقدینگی بخش خصوصی با خرید این اوراق توسط بانکها جذب شده سبب مهار تورم و یک نوع سیاست انقباضی پولی دنبال می شود.

**۲) اوراق مرابحه**

عقد مرابحه چنان است که کسی کالای خودرا با در صدی یا مقداری بیشتر از قیمت خرید به دیگر بفروشد یعنی بگوید من روی این جنس ده درصد قیمت خرید یا یک مبلغ ثابت دیگر به شما فایده میدهم که درینصورت خریدار آخر باید از قیمت خرید اول خبر باشد و در انجام معامله دوم نیز هردو طرف اختیار انجام و یارد داشته باشند.(سعید فراهانی فرد, ۱۳۸۵)

**۳) اوراق اجاره**

این اوراق بر تامین مالی از طریق اجاره مبتنی هستند که برای فروش به همگان صادر میشوند. روش کار بدین صورت است که ابتدا کالاها و تجهیزات مورد نیاز دولت و همچنین اشخاص حقیقی و حقوقی به وسیله بانکها خریداری شده بجای فروش نسیه به آنها اجاره داده میشوند سپس بدین جهت که اصل مالکیت بانک محفوظ است اسناد مالکیت آن ها را میتوان خرید و فروخت. افزین براین که مال الاجاره آنها که بوسیله دولت یا سایر مستاجران پرداخت میشود به صورت سود مالکان سهام قابل توزیع و سرمایه گذاری مجدد است و هرچه مبلغ اجاره بیشتر شود قیمت سهام نیز افزایش میابد.

**٤) اوراق مضاربه**

یکی دیگر از ابزار های که می تواند جاگزین اوراق قرضه شود و با آن میتوان بر حجم پول نظارت داشت اوراق مضاربه است. در قرار داد مضاربه صاحب مال حق ندارد در عملیات مضاربه دخالت کند

و عامل در این عملیات اختیار کامل دارد. پس از انعقاد قرار داد می تواند مالکیت سرمایه مورد مضاربه را به شخص یا اشخاص جدید منتقل ساخت که جانشین مالک یا ملکین اول با تمام ویژه گی های آن شود و از اینکه اوراق مضاربه قیمت اسمی دارد که از قیمت حقیق آن متفاوت می باشد برای استفاده از این عقد در عملیات بازار می توان سهم مالک در عقد قرار داد مضاربه را بصورت اوراقی در آورد که قابل خرید و فروش باشد. مساله ضمانت سرمایه و مفاد آن بر عهده موسسه مستقلی گذاشته میشود.

**۵) اوراق مشارکت**

شرکت عقدی بین دو یا چند نفر برای انجام عملی بروی مال مشترک آن ها است. چنین شرکتی را در اصطلاح شرکت عقدی یا اکتسابی می گویند. حاصل آن اینست که شریکان میتوانند در مال شریکی تصرف کرده آن را در فعالیت های تولیدی، خدماتی و غیره بکار گیرند.

**٦) تنزیل بدهی مردم به دولت نزد بانک مرکزی**

هرگاه بانک مرکزی در صدد سیاست انبساطی باشد میتواند طلب دولت از مردم را که از طریق فروش نسیه کالاهای دولتی، ارایه خدمات، مالیات و سایر حقوق دولت که به اساس توافق مدار است پدید آمده تنزیل کند. این نرخ ها باساس سیاست پولی بانک مرکزی تعین میشود. از این جهت که این طلب ها همیشه وجود دارد وطلب های بعدی میتواند جاگزین طلبها پشین شود چنین ابزاری استمرار لازم برای اجرای سیاست پولی را نیز دارد.

**۷) اوراق قرضه بدون بهره**

این ابزار مبتنی بر عقد قرض الحسنه و با توجه به تشویقات فراوانی است که در منابع اسلامی در باره سنت نیکوی قرض الحسنه شده است. برهمین اساس دولت میتواند اوراق قرضه بدون بهره را منتشر ساخته پرداخت اصل آنرا در سر رسید های معین تضمین کند. بهتر است موارد مصرف این قرض ها تعین شده و از اموری باشد که برای مردم از نظر اعتقادی و اجتماعی دارای اهمیت باشد و نیز بهتر است مدت سر رسید این اوراق کوتاه در نظر گرفته شود.(محمدي, ۱۳۹۴)

**۸) اوراق قرضه همراه با جایزه**

برای جذب قرضه الحسنه قرار دادن جوایز برای اوراق قرضه می باشد که در نتیجه کسانیکه از نظر معنوی انگیزه لازم برای چنین قرضه ها ندارد میتواند باساس انگیزه جایزه اوراق خرداری کنند و ثانیا با افزایش این جوایز میتوان بالای میزان خرید اوراق تاثیر گذاشت. این میتود مشکلات خود را نیز دارد از جمله قرار دادن جایزه قطعی ولو به مقدار نامشخص باشد از مصادیق ربا بوده و حرام است. اما پشنهاد شده که اگر این جایزه از طریق قرعه کشی صورت گیرد و قرضه دهنده از جریان خبر باشد

بعضی فقها اجازه داده اند.

**B. ابزارهای موثر در ضریب فزاینده پولی**

مشخصه عمده این ابزارها انست که از طریق تاثیر بر یکی از اجزای ضریب فزاینده پولی آنرا تغیر داده موجب تغیر حجم پول می شود. تقریبا تمام این ابزار ها در قانون بانکداری بدون ربا مقبول افتاده و دید شرع بدون اشکال به نظر میرسند. البته رعایت نکاتی ضرور است که در ذیل به توضیح آن می پردازیم و بحث مشروعیت پس از فارغ شدن از این مبحث است که بانک ها ( دولتی یا خصوصی) اجازه خلق پول و ایجاد اعتبار را دارند و بانک مرکزی از طریق ابزاری بر میزان آن نظارت میکند.

**۱) تغیر در حد اقل نسبت سهم سود بانکها**

بانک در انجام عقود بین پس اندازه کننده گان و متقاضیان تسهیلات سهم از فایده را برای خود اختصاص میدهد و تغیر این نسبت میتواند ابزاری برای سیاست پولی استفاده شود. مثلا در صورت افزایش این نسبت کمتر مردم خواهان پس انداز در بانک شده، سبب کاهش ذخایر بانک ها و در نهایت کاهش قدرت پول آفرینی آنها را در پی خواهد داشت. همچنان در باره متقاضیان تسهیلات افراد کمتری تقاضای تسهیلات میکنند و بانک ها با ذخایر مازاد مواجه شده در نهایت رشد حجم پول کاهش میابد. (نورعباد, ۱۳۹۳)

**۲) تغیر در حق وکالت بانکها**

در ابزار قبلی فرض این بود که بانک ها بطور مستقیم به سرمایه گذاری اقدام یا بامتقاضیان تسهیلات دراین جهت مشارکت میکنند و رابطه آن با سپرده گذاران نیز براساس عقود مشارکت، مضاربه و غیره است؛ اما ممکن است بانکها فقط نقش واسطه را بین سپرده گذاران و متقاضیان تسهیلات ایفا کنند و در واقع مشارکت بین صاحبان سپرده و متقاضیان تسهیلات باشد. در آنصورت سود نیز بین آنها به نسبتی که بانک به وکالت از طرف تعیین میکند تقسیم می شود. در این میان بانک فقط از درامد حق وکالت برخوردار میشود که چون حق الوکاله جز وهزینه سرمایه گذاری بشمار می رود در مقدار سود تاثیر خواهد داشت. بنابراین بانک مرکزی باتغیر حق الوکاله بانکها بر میزان سپرده گذاران و همچنین تقاضای تسهیلات تاثیر گذاشته می تواند از ان به صورت یک اهرم برای تاثیر گذاری در حجم پول استفاده کند.

**۳) تغیر در نرخ سود مورد انتظار**

همان طور که گفته شد بانکها با تقاضا ها برای گرفتن تسهیلات جهت سرمایه گذاری در طرح های باسود های انتظاری متفاوت مواجه اند و به طور طبیعی در صدد مشارکت با طرح های هستند که

بیشترین سود مورد انتظار را داشته باشند از این جهت با تعیین حد اقل سود انتظاری تعداد از طرح ها از قابلیت برخورداری از تسهیلات بانکها محروم میشوند بنابرین بانک مرکزی با تغیر این نرخ می تواند تعداد طرح های را که قابلیت دریافت تسهیلات از بانک داشتنه اند تغیر دهد و درنتیجه بر میزان تسهیلات دریافتی از بانک وحجم پول تاثیر بگذارد. بدیهی است که تحقق سهم سود بانک پس از تمام فعالیت و در صورت سود آور بودن فعالیت مورد نظر خواهد بود.(عثمانی, ۱۳۹۴)

**٤) تغیر حد اقل و حد اکثر نرخ سود بانک ها در برخی تسهیلات**

در برخی از تسهیلات اعطایی از سوی بانکها مانند اجاره به شرط تملیک، فروش اقساطی، معاملات سلف و ... به لحاظ اینکه سود بانک در صورت بخشی از قیمت فروش نسیه به قیمت نقدی اضافه میشود هرچه سود بانک بیشتر باشد قیمت نسیه و درنتیجه هزینه تسهیلات بالا میرود و این بدان معناست که برای تقاضای تسهیلات رغبت کمتری پیش آمده در رشد حجم پول نیز تاثیر خواهد گذاشت.

***نتیجه گیری***

سیاست های پولی در اقتصاد اسلامی نیز برای تحقق اهداف والای اقتصادی از جمله استقلال اقتصادی وحفظ نظام بشرطیه دور از عدالت اجتماعی نباشد مجاز است. واین سیاست های باید بشکل بسیار محتاطانه و دقیق طرح و تطبیق شود.

وسایل مورد استفاده در تطبیق این سیاست ها عبار از اوراق بدهی دولتی، اوراق مرابحه اوراق اجاره، اوراق مضاربه، اوراق مشارکت، تنزیل بدهی مردم به دولت نزد بانک مرکزی، اوراق قرضه بدون بهره، اوراق قرضه همراه با جایزه، تغیر در حد اقل نسبت سهم سود بانکها، تغیر در حق وکالت بانکها، تغیر در نرخ سود مورد انتظار، تغیر حد اقل و حد اکثر نرخ سود بانک ها در برخی تسهیلات می باشند.

***منابع***


1. Chapra, M. U. (1990). Towards a Just Monetary System. In *JKAU: Islamic Econ* (Vol. 2, Issue 1). http://ierc.sbu.ac.ir/
2. Munich. (2007). *Munich Monetary Policy In Islamic Economic Framework : Case of Islamic Republic of Iran*. *4837*.
3. Zaman, A. (n.d.). *Islamic Monetary Policy | An Islamic WorldView*. Retrieved June 4, 2022, from https://azprojects.wordpress.com/2021/09/03/islamic-monetary-policy/

٤. دادگر, د. ی. (۱۳۸۳). ظرفیت های وچالش های اجرای اقتصاد اسلامیensani.ir *.Ensani.Ir* .

٥. سعید فراهانی فرد. (۱۳۸۵). *سیاست های اقتصادی در اسلامی* (دوم). سازمان اتشارات پژوهشگاه فرهنگ و اندیشه اسلامی.

٦. عثمانی, م. ت. ت. ر. ا. ر. (۱۳۹٤). *اقتصاد اسلامی*. کتابخانه عقیدهwww.aqeedeh.com .

٧. محمدي, ع. م. (۱۳۹٤). مفهوم نظام در اقتصاد اسلامی *.Ensani.Ir* .
http://ensani.ir/fa/article/347353/مفهوم-نظم-در-اقتصاد-اسلامی

٨. نورعباد, ح. (۱۳۹۳). *اقتصاد بانکداری اسلامی*. مرکز ملی تحقیقات پالیسی پوهنتون کابل .
http://catalog.acku.edu.af/cgi

# په اسلامي شریعت کې د غیر مسلمو حقوق او وجائب

لیکونکی: پوهنیار عباد الله نورزی
شیخ زاید پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي تعلیماتو څانګې استاد
تقریظ ورکونکی : پوهندوی سید کمال شاه بنوري د شرعیاتو پوهنځي استاد

**لنډیز**

د اسلامي ټولني پیژندل یوه اړینه موضوع ده، اسلامي ټولنه له دوه کلمو څخه جوړه ده چې یو یې د اسلام او بله یې د ټولنې کلمه ده، دا دواړه کلمات ډېر استعمالېدونکي دي او معنی یې روښانه ده، اسلام د امن او اطمینان دین دی او هغه دین دی چې د هر شخص نفس، مال، عزت، وینه او حقوق پکې خوندي دي او ټولنه هغه ځای ته ویل کېږي چې د څو مختلفو کورنیو خلک پکې راټول شوي وي او په هغې کې یو ځای ژوند کوي، پر همدې اساس اسلامي ټولنه هره هغه ټولنه ده چې هلته اسلامي نظام وي، د ټولنې اکثریت وګړي مسلمانان وي، د اسلام شعائرو ته پکې درناوی کېږي او پر ځای کېږي، مسلمانان پکې په آزاد ډول خپل شعائر اداء کوي او په دې کې ورته کوم خنډ نه پیدا کېږي.
په اسلامي ټولنه کې حربي کافرو ته دومره حقوق حاصل نه دي ، څومره چې اهل الذمة او مستامن ته حاصل دي، یوازې د جنګ پر مهال د دوی ښځې، ماشومان او کمزوري خوندي دي او که اهل الکتاب وي د ښځو سره یې نکاح جائز ده، حربي هغه کس ته وایي چې په دار اسلام باندې تجاوز کوي او د اسلامي عقیدې د آزادۍ مانع واقع کېږي او په اسلام کې د ذمي عقد : هغه عقد ته وایي: چې د مسلمانانو امیر یا نائب (وزیر، سفیر، والي) یې له ذمیانو سره کوي او دا پکې وي چې هغوی پر خپل دین پاتې شي پر دې شرط چې ذمه ورکړي او د اسلام احکام پر ځان عملي کړي.
مستامن هغه چاته وایي : چې یو بل اقلیم ته په امان سره داخل شي مسلمان او که کافر وي، مستامن ته په دار الاسلام کې د معاملاتو د ازادۍ عقیدې او تعلیم حق ورکړل شوی دی، کله چې امان تر یوې زماني پورې موقت وي ؛ نو د زماني په ختمیدو سره امان هم ختمیږي .
ذمي : هغه کافر شخص ته وایي چې د ده سره عهده شوي وي او په مقابل د جزئي کې د ده مال، ابرو او دین په حفاظت کې وي په اسلامي دولتونوکې د اهل ذموو د اعمالو او هستوګنی په سبب سره الزام د ورکولو د جزیي دي مسلمانانوته او په اسلامي دولت باندې لازمه ده ، چې د ذمي د مال ساتنه به کوي او د هر قسم ضرر څه به یې دفاع کوي او همدارنګه په اسلامي ټولنه کې د ذمیانو مسؤلیتونه په تفصیل سره بیان شوي دي.

یاده موضوع یوه کتابتوني موضوع ده، چې له مخې به يې لوستونکې د اسلامي ټولني په پېژندنه قادر او په اسلامي ټولنه کې به د غير مسلمو ( حربي کافر، ذمي او مستامن) حقوق وپېژني، تر څو د ځمکې پر مخ عدل قايم شي حق حقدار ته ورسيږي، د ظلم مخنيوی وشي او د چا حق تر خپو لاندې نه کړل شي.

**کليدي ټکي:** اسلامي شريعت پيژندنه، حربي کافر پيزندنه، ذمي پيژندنه، مستأمن پيزندنه، مستأمن، ذمي او حربي کافر د حقوقو او وجائبو پيژندنه .

**سريزه**

إن الحمد لله, نحمده ونستعينه ونستغفره, ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا, من يهده الله فلا مضل له, ومن يضلل فلا هادى له , وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له, وأشهد أن محمًدا عبده ورسوله.

أمًّا بعد: د لوی او عظيم الشان رب جل جلا له تر ثنا او صفت وروروسته په زرګونو درودونه دي وی د بشريت په ستر لارښونه ، رهبر او رهنما محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم باندې.

څرنګه چې کوم وخت د ځمکې پر مخ بشر خپل ژوند پيل کړی له هغه وخت څخه انسانانو اجتماعي او ټولنيز ژوند غوره کړی او د خپل ګټور ژوند اوزواک په خاطر يې د ځانونو لپاره دينونه غوره کړي (ټاکلي) دي.

خو اسلام داسې يو دين او قانون دی چې د انسان هر اړخيز ژوند هغه که په اسلامي ټولنه کې وي او که په غير اسلامي ټولنه کې وي او د انسان مادي او معنوي غوښتنې او ضروريات يې په نظر کې نيولي او د هغې سره سم يې هدايات ورکړی تر څو انسان په يو اړخ کې هم کمی او مشکل حس نکړي بلکې د هر اړخ لپاره پوره او مکمل هدايت لري .

**د ليکنې موخې**

۱_ د اسلامي نصوصو په رڼا کې مستأمن ، ذمي او حربي کافرانو پيژندل او دوی سره د اسلامي شريعت کړنلاره روښانه کول او دا په ډاګه کول چې اسلامي شريعت غير مسلمو ته هم خپل حقوق او وجائب ورکړي دي.

۲_ د اسلامي شريعت له مخې د دوی اړونده حقوق او وجائب روښانه کول .

۳_ د غير مسلمو سره په اسلامي ټولنه کې د روا او ناروا کړنو په تړاو د مؤثقو معلوماتو وړاندې کول .

**د کار توکي او کړنلاره**

۱: له معتمدو کتابونو څخه په دې ليکنه کې استفاده شوې ده .

۲: په ليکنه کې په عموميـاتو پيل شوی دی بيا وروسته خاصو اموروته اشاره شوې ده.

۳: د هر عالم قول په پوره امانت دارئ خپل قائل ته منسوب شوې دی.

۴: د هر مصدر اومرجع څخه د عبارت په نقلولو کې استفاده شوی ده په پای کې پرېي حواله ورکړل شوي ده

۵: نبوي احاديث د معتبرو کتابونو څخه رانقل شوي دي.

دا ليکنه په روانه او ساده پښتو ژبه شوېده، چې هر څوک کولای شي استفاده ترې وکړي په ليکنه کې د معتمدو مصادرو څخه استفاده شوېده، آيتونه د عثماني رسم الخط مطابق د مصحف څخه نقل شوي دي او د آيتونو سره پښتو روانه ژباړه د کابلي تفسير څخه په استفادې ليکل شوې ده.

**د اسلامي ټولنې پېژندنه او ځانګړتياوې**

**د اسلامي ټولنې پېژندنه**

اسلامي ټولنه له دوه کلمو څخه جوړه ده چې يو يې د اسلام او بله يې د ټولنې کلمه ده، دا دواړه کلمات ډېر استعمالېدونکي دي او معنی يې روښانه ده، اسلام د امن او اطمينان دين دی او هغه دين دی چې د هر شخص نفس، مال، عزت، وينه او حقوق پکې خوندي دي او ټولنه هغه ځای ته ويل کيږي چې د څو مختلفو کورنيو خلک پکې راټول شوي وي او په هغې کې يو ځای ژوند کوي، پر همدې اساس اسلامي ټولنه هره هغه ټولنه ده چې هلته نظام اسلامي وي، د ټولنې اکثريت وګړي مسلمانان وي، د اسلام شعائرو ته پکې درناوی کيږي او پر ځای کيږي، مسلمانان پکې په آزاد ډول خپل شعائر اداء کوي او په دې کې ورته کوم خنډ نه پيدا کېږي. (۲۵:۲۸۰)

پر دې بنا زموږ د ګران هېواد افغانستان ټولې سيمې اسلامي دي او هره ټولنه يې اسلامي ټولنه ګڼل کيږي، ځکه په هر ځای کې مسلمانان آزاد او اسلامي احکام پکې عملي کيږي.

**د اسلامي ټولنې ځانګړتياوې**

اسلامي ټولنه د نورو په نسبت ډېرې ځانګړتياوې لري چې هغه په نورو ټولنو کې نشته او هره يوه ځانګړتيا يې د دې جوګه ده چې له امله يې لويه ډله په اسلام کې داخله شي، د هغه ځانګړتياوو څخه ځينې دا دي:

۱_ اسلامي ټولنه يو بل ته د درناوي او احترام ټولنه ده: په صحيح حديث کې راغلي دي: عَنْ ابْن السَّرْحِ - عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا، وَيَعْرِفْ حَقَّ كَبِيرِنَا فَلَيْسَ مِنَّا». (۱۹:۲۸۶)

ژباړه: د عمرو بن السرح څخه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((څوک چې زموږ په کوچنيانو رحم ونه کړي او د مشرانو حق ونه پېژني، زموږ څخه نه دی)). دا حديث د اسلامي ټولنې انځور خلکو ته وړاندې کوي چې په دې کې به د مشر او کشر ځای پېژندل کېږي او هر يو ته به په خپل ځای درناوی کېږي.

۲_ اسلامي ټولنه د امن او اطمینان ټولنه ده: په صحیح حدیث کې راغلي دي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ». (۱۱:۱۱)

ژباړه: د عبد الله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان د هغه د ژبې او لاس څخه په امن وي او مهاجر هغه دی چې الله جل جلا له د کومو شیانو څخه منع کړي وي هغه پرېږدي).

له حدیث څخه څرګنده شوه چې اسلامي ټولنه د امن او اطمینان ټولنه ده او هیڅ یو مسلمان ته نه دي روا چې بل ته په ژبه یا لاس سره ضرر ورسوي.

۳_ اسلامي ټولنه د ظلم او استبداد څخه په امن ده: اسلام تل د دې هڅه کړې چې یو انسان د بل حق ترپښو لاندې نه کړي او هر یو ته خپل حق ورسېږي، په دې موخه الله جل جلا له په قرآن کریم کې ګڼ شمېر آیتونه د ظلم د ناروا کېدو په موخه رالېږلي دي او په نبوي احادیثو کې هم ګڼ شمېر داسې شته چې دا مفهوم ادا کوي او د ظلم مخنیوی کوي.

لکه په دې حدیث کې داسې راغلي دي : عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِيمَا رَوَى عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: « يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي، وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا، فَلَا تَظَالَمُوا ».(۱۹۹۴:۳۵)

ژباړه: له ابو ذر رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم له الله جل جلا له څخه روایت کړی دی، الله جل جلا له فرمایلي دي: (ای زما بنده ګانو ما ظلم پر خپل ځان حرام کړی دی او ستاسې په منځ کې مې هم حرام کړی دی، نو یو پر بل ظلم مه کوئ).

الله جل جلا له ظلم حرام ګرځولی دی او دا د اسلامي ټولنې خصوصیت دی چې ظلم پکې حرام دی او هیڅا ته اجازه نه ورکول کېږي چې د بل حق تر پښو لاندې کړي، که چېرته یو شخص د بل حق تر پښو لاندې کړي او د هغه په دین، عزت، مال او یا نفس باندې تېری وکړي له سخت مجازات سره مخ کېږي.

٤_ اسلامي ټولنه د مینې او محبت ټولنه ده: په صحیح حدیث کې راغلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ».(۷۴:۳۳)

ژباړه: له ابو هریرة رضی الله عنهڅخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((تاسې تر هغې جنت ته نه شئ داخلېدی چې ایمان رانه وړئ، تر هغې ایمان نه شئ راوړی چې له یو بل سره مینه ونه کړئ، آیا داسې یو شی درته ونه ښایم چې کله یې وکړئ په خپلو کې به مو له یو بل سره

مینه پیدا شي؟ په خپل منځ کې سلامونه خپاره کړئ)). یعنې یو پر بل باندې سلامونه ډېر اچوئ.

**د حربیانو پېژندنه**

لومړی باید ووایو چې د بشریت د ټولو ستونزو اساسي رېښه عقیده تشکیلوي، که عقیده سالمه وي ټولنه او افراد د اصلاح لاره خپلوي او کنه بشریت به د تل له پاره د ظلم، فساد، جنګ او بدبختی په تورو تیارو کې شپې او ورځې سبا کوي، نو همدارنګه یو له هغه کسانو څخه چې د تل له پاره بشریت ته ظلم، جنګ او داسې نور فسادونه رامنځ ته کوي هغه حربي کافر دی، چې لومړی مونږ د هغې تعریف او وروسته د هغې احکام بیانوو:

د حربي له تعریف څخه مخکې د دار الحرب پېژندنه هم اړینه ده، چې علماوو دار الحرب داسې تعریف کړی دی: (هي كل بقعة تكون احكام الكفر فيهاظاهرة). (۱۳۰:۳۰)

ژباړه: دارالحرب د هغې ځمکې نه عبارت دی چې د کفر احکام په کې ښکاره وي.

۲_ امام شافعي رحمه الله د دار الحرب اصطلاحي تعریف داسې کړی دی: (هي كل مكانٍ يسكنه غير مسلمين ولم يسبق فيه حكم اسلامي او لم تظهر فيه احكام الاسلام). (۸۶:۲۱)

ژباړه: دار الحرب عبارت د هغه ځای نه دی چې غیر مسلم پکې استوګن وي او مخکې پکې اسلامي احکام نه وي ظاهر او یا پکې قطعاً اسلامي احکام نه وي ظاهر شوي.

حربي په لغت کې جنګ کوونکي ته وایي او حرب مشتق دی (حرب) څخه او مصدر یې حرب دی مثال یې لکه: (حرب ماله أي سلبه).(۲۲۹:۵)

په اصطلاح کې د حربي تعریف داسې شوی دی: (الذي يقوم بالاعتداء على دار الإسلام دون حرية العقيدة والإسلام). (۳۵۸:۲۵)

ژباړه: حربي هغه کس ته وایي چې په دار اسلام باندې تجاوز کوي او د اسلامي عقیدې د آزادۍ مانع واقع کېږي.

**د ذمیانو پېژندنه**

په دې ځای کې له (ذمي) څخه د فقهاوو په اند موخه دا ده: ((عقد يبرمه الإمام أو نائبه مع أهل الذمة، ويتضمن إبقاءهم على دينهم، بشرط دفع الجزية مع الالتزام بأحكام الإسلام). (۳۲:مادة أهل الذمة)

ژباړه: هغه عقد دی چې د مسلمانانو امیر یا نائب (وزیر، سفیر، والي) یې له ذمیانو سره کوي او دا پکې وي چې هغوی پر خپل دین پاتې شي پر دې شرط چې ذمه ورکړي او د اسلام احکام پر ځان عملي کړي.

ابن منظور یې داسې تعریف کړی دی: "هُمُ الَّذِينَ يُؤَدُّونَ الْجِزْيَةَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ كُلِّهِمْ" .(۲۲۱:۸)

ژباړه: له ټولو مشرکانو څخه هغه کسان چې جزیه ورکوي (اهل الذمة بلل کېږي). له دې تعریف څخه معلومه شوه چې هر ډول مشرک او کافر ذمي جوړېدلای شي. په الموسوعة العربية العالمية کې یې داسې

تعريف شوى دى: ( أَهْلُ الذِّمَّة: هم غير المسلمين الذين بقوا على دينهم في بلاد المسلمين بناءً على عقد الذمة الذي يبرمه معهم إمام المسلمين أو نائبه) . (۳۲: مادة أهل الذمة)

ژباړه: اهل الذمة: هغه غير مسلم (کافر) دي چې د مسلمانانو په هېواد کې پر خپل دين پاتې شي او ( په کفر د پاتې کېدو ) اساس يې د ذمې هغه عقد وي چې د مسلمانانو امام يا د هغه نائب (وزير، سفير او يا والي) ورسره پوخ کړی وي.

د فقهاوو په اند له (اهل الذمة) څخه موخه ذميان دي او د ذمي تعريف داسې دی: (الذِّمِّيُّ نِسْبَةٌ إِلَى الذِّمَّةِ ، أَيِ الْعَهْدِ مِنَ الإِمَامِ - أَوْ مِمَّنْ يَنُوبُ عَنْهُ بِالأَمْنِ عَلَى نَفْسِهِ وَمَالِهِ نَظِيرَ الْتِزَامِهِ الْجِزْيَةَ وَنُفُوذَ أَحْكَامِ الإِسْلاَمِ) . (۴۷۵:۲)

ژباړه: ذمي (ذمة) ته نسبت دی، يعنې هغه شخص چې د مسلمانانو د امام او يا د هغه د ځای ناستي (معاون- سفير) له لوري ورسره داسې عهد شوی وي چې له مخې يې د هغه نفس، مال او عزت خوندي وي، ځکه چې هغه پر ځان جزيه لازمه کړې وي او د اسلام احکام پرې نافذېږي.

**د مستامنينو پېژندنه**

مستامن په لغت کې هغه کس ته وايي، چې د امن طلب کوي، د نون څخه مخکې د ميم په کسرې او فتحې دواړو سره يې لوستل صحيح دي، ابن منظور رحمه الله ويلي دي: ( المستأمن بكسرالميم الثانية اسم فاعل أي: الطالب للأمان ويصح بالفتح اسم مفعول والسين والتاء للصيرورة أي صار مؤامنا يقال استأمنه: أي: طلب منه الأمان واستأمن إليه: دخل في أمانه). (۳۵۸:۲۸)

ژباړه: مستامن په لغت کې د دوهم (ميم) په کسره سره ولوستل شي نو اسم فاعل کېږي او معنی داسې کېږي چې غوښتونکی د امان دی او په فتحه سره يې لوستل هم صحی دی بيااسم مفعول کېږي او(سين) او (تا) حروف لپاره دصيرورک دي يعني ياامن ده ته ورکړل شو اوپه امن کې داخل شو.

او په اصطلاح کې د مستامن تعريف داسې شوی دی: ((مَنْ يَدْخُل إِقْلِيمَ غَيْرِهِ بِأَمَانٍ مُسْلِمًا كَانَ أَمْ حَرْبِيًّا)) .(۳۵۸:۲۵)

ژباړه: مستامن هغه کس ته وايي چې بل اقليم ته په امن سره داخل شي که مسلمان وي او که حربي وي.

د فقهاوو په آند مستأمن هغه چا ته وايي: (مَنْ دَخَل دَارَ الإِسْلاَمِ عَلَى أَمَانٍ مُؤَقَّتٍ مِنْ قِبَل الإِمَامِ أَوْ أَحَدِ الْمُسْلِمِينَ).(۱۰۶:۳۰)

ژباړه: هغه څوک چې دار الاسلام ته د مسلمانانو د امير او يا د يو مسلمان لخوا په موقت امان سره داخل شي.

د مستامن داسې تعريف هم شوی دی: (مستامن هغه حربي کافرته وايي چې دامان په واسطه داراسلام

ته داخل شي او د دائمي استوګنې نيت نه لري، بلکې د يوکال څخه د کمې مودې د هستوګنې نيت ولري که چېرته تر يوکال واوړي نو بيا ذمي ګرځي). (۶۹۷:۲۳)

مستامن هم خپل ځانګړي احکام لري او له اهل الذمة سره يې تړاو په دې ځای کې دی چې د دواړو لپاره په دار الاسلام کې امن ثابت وي؛ خو توپير يې دا دی چې د اهل الذمة امن مؤبد (همېشنی) وي او تر څو چې لوظ مات نه کړي امن يې نه ختمېږي؛ خو د مستامن امن بيا موقت وي او د لنډې مودې لپاره وي.(۱۱۱:۳۰)

**د حربي، ذمي او مستامن حقوق**

**د حربيانو حقوق**

حربي کافرو ته دومره حقوق نه دي حاصل، لکه چې اهل الذمة او مستامن ته حاصل دي، يوازې د جنګ پر مهال د دوی ښځې، ماشومان او کمزوري خوندي دي او که اهل الکتاب وي د ښځو سره يې نکاح جائز ده، چې په اړه يې لنډ وضاحت داسې دی.

**د ښځو، ماشومانو او کمزورو خونديتوب**

د هغه حربي کافرانو چې جنګ کې برخه نلري وژل يې جواز نه لري، چې دا عبارت دي له: ښځو، ماشومانو، مجنون، شيخ فاني چې ډېرسپين ږيري وي، مريض چې حرکت د جنګ ميدان ته نه شي کولای، هغه حربيان چې شل،ګوډ او ړانده وي، ياېې لاس يا پښه غوڅ شوي وي او هغه حربي چې ګډې وډې خبرې کوي او هغه راهب چې په خپله عبادت خانه کې ناست وي، د جنګ ډګرته نه وي راوتلی او هغه بزګران چې په خپل کښت اوکرنه بانديې اخته وي، نودغه ټول پورته ذکرشوي کسان که جنګ کې برخه وانخلي نه په قول سره او نه په فعل سره او نه په کوم بل امداد او کومک سره، نو د دوی وژل نه دي پکار. (۲۸۳:۲۹)

ځکه په حديث شريف کې راغلي دي: عن أنس بن مالك أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «انْطَلِقُوا بِاسْمِ اللَّهِ وَبِاللَّهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ، وَلَا تَقْتُلُوا شَيْخًا فَانِيًا وَلَا طِفْلًا وَلَا صَغِيرًا وَلَا امْرَأَةً، وَلَا تَغُلُّوا، وَضُمُّوا غَنَائِمَكُمْ، وَأَصْلِحُوا وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ» .(۳۸:۲۰)

ژباړه: د انس رضي الله عنه څخه روايت دي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل لاړشئ په نامه دالله جل جلاله سره اوپه کوم دالله جل جلاله سره او د سول الله صلی الله عليه وسلم د ملت تر سيوري لاندې تاسې سپين ږيري، هلکان، ماشومان او ښځې مه وژنئ، تاسې به زياتی نه کوئ او خپل غنيمت به رانيسئ، صلح او نيکي به کوئ؛ ځکه چې الله جل جلاله نيکان خلک دوستان ګڼي.

له پورته مبارک حديث څخه څرګنده شوه، چې د حربيانو ښځې، ماشومان او سپين ږيري وژل نه دي جائز، البته که دوی په جنګ کې ګډون وکړي او يا هم د جنګياليو مرسته کوي، نو بيا يې وژل روا دي،

البته که جنګ خلاص شي او دوی په جنګ کې ونه وژل شي، نو بیا يې وژل نه دي جائز، ځکه د جنګ په جریان کې د دوی وژل د دې لپاره وي چې د دوی له شر څخه امن راشي او د جنګ تر ختمېدو وروسته د شر وېره نه وي، نو د ښځو څخه وینځې، د ماشومانو څخه غلامان او بوډاګان به يې همداسې پرېښودل شي. (۴۲۲:۱۷)

**د کتابیانو ښځو د نکاح جواز**

د دې حکم د بیانولو څخه مخکې باید وویل شي چې دلته یا به حربي مشرک ، یا به کتابي ، یا به ملحد وي او یا به مرتد وي د حربي مشرک د نکاح حکم به قطعی اوصریح نص سره حرام دي لکه په دې ایت کریمه کې چې الله جل جلاله فرمایلي دي: ﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكَاتِ حَتَّى يُؤْمِنَّ وَلَأَمَةٌ مُؤْمِنَةٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكَةٍ وَلَوْ أَعْجَبَتْكُمْ وَلَا تُنْكِحُوا الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُوا وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ خَيْرٌ مِنْ مُشْرِكٍ وَلَوْ أَعْجَبَكُمْ أُولَئِكَ يَدْعُونَ إِلَى النَّارِ وَاللَّهُ يَدْعُو إِلَى الْجَنَّةِ وَالْمَغْفِرَةِ بِإِذْنِهِ وَيُبَيِّنُ آيَاتِهِ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ﴾. (البقرة: ۲۲۱)

ژباړه : او په نکاح مه اخلئ! مشرکی ښځې تر هغه پورې چې ایمان راوړي دوی او خامخا وینځه مؤمنه بهتره ده له مشرکی اصیلی څخه اګر که تاسې ته هغه (کافره) ښه ښکاره شي او په نکاح مه ورکوئ (مسلمانانې ښځې ) کافرانوته تر هغه پورې چې دوی ایمان راوړي او خامخا مؤمن مریه بهتر دی له کافر سړي نه اګر که تاسې ته (هغه کافر) ښه ښکاره شي دغه کسان بولي (خلق به بدعمل سره ) په لورې د اور (دوزخ) او د الله جل جلاله (او دوستان يې) بولي (خلق) به لورې د جنت او معفرت په اذن (حکم او ارادي ) خپلې سره او بیانوي احکام خپل خلقو ته لپاره د دي چې دوی نصیحت ومنئ (پند واخلي).

پر همدې اساس که حربۍ ښځه اهل کتابه وي، نو نکاح ورسره کېږي، خو که مشرکه وي یا دهریه وي چې هیڅ کتاب او آسماني دین نه مني، نو بیا ورسره نکاح کول حرام دي، د اهل کتابو سره د نکاح د جواز دلیل دا مبارک آیت دی: ﴿الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَهُمْ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِي أَخْدَانٍ﴾ . (المائدة: ۵)

ژباړه: نن ورځ تاسې ته پاک خوراکونه حلال شوي دي او د هغه کسانو خوراکونه هم حلال شوي دي چې کتاب ورکړل شوی دی او ستاسې خوراک د هغوی لپاره حلال دی او تاسې ته پاک لمنې مؤمنانې ښځې او د اهل کتابو پاکلمنې ښځې چې تر تاسې مخکې کتاب ورکړل شوی دی، هم تاسې ته روا دي، کله چې تاسې ورته د هغوی مهرونه ورکړئ، چې واده به ورسره کوئ، بدکاري به ورسره نه کوئ او نه به ورسره پټې دوستانې ساتئ.

**د اهل الذمة (ذمیانو) حقوق**

د اهل الذمة د حقوقو په اړه فقهاوو عامه قاعده داسې ویلې ده چې: (لهم ما لنا وعلیهم ما علینا) .

(۱۷۷:۲۳)

ژباړه: د دوی لپاره ټول هغه حقوق دي چې زموږ لپاره دي او پر دوی باندې ټول هغه عقوبات دي چې پر موږ دي.

یعنې یو مسلمان (اهل القبلة) چې کوم حقوق لري ذمي یې هم لري او مسلمان چې کوم مکلفیتونه او د مخالفت په صورت کې عقوبت زغمي اهل الذمة به یې هم زغمي.

دا قاعده د مالکیانو، شوافعو او حنبلیانو په عبارتونو کې څرګنده ده او له سلفو څخه هم ددې په تائید کې آثار نقل شوي دي چې ځینې یې په لاندې ډول دي: عن عَلِيّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال: «مَنْ كَانَتْ لَهُ ذِمَّتُنَا فَدَمُهُ كِدَمَائِنَا». (۱۷۹:۱٦)

ژباړه: له علي رضی الله عنه څخه نقل شوي دي وایي: له چا سره چې زموږ ذمه وي وینه یې هم زموږ د وینې په څېر ده.

له علي رضی الله عنه څخه په بل روایت کې هم دېته ورته مضمون نقل شوی دی. (٦٢:١٤)

خو حق دا دی چې دا قاعده د مسلمانانو په اړه ده او په صحیح احادیثو کې نبي صلی الله علیه وسلم د هغه چا په اړه ویلې ده چې اسلام قبول کړي، لکه چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَيَسْتَقْبِلُوا قِبْلَتَنَا، وَأَكَلُوا ذَبِيحَتَنَا، وَصَلُّوا صَلَاتَنَا حُرِّمَتْ عَلَيْنَا دِمَاؤُهُمْ وَأَمْوَالُهُمْ إِلَّا بِحَقِّهَا، لَهُمْ مَا لِلْمُسْلِمِينَ وَعَلَيْهِمْ مَا عَلَيْهِمْ». (۱۷۲:۷)

ژباړه: له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((ما ته امر شوی چې له خلکو سره وجنګېږم تر څو دوی د الله جل جلا له د یو والي او د محمد صلی الله علیه وسلم د پېغمبرۍ ګواهي وکړي، قبلې ته مخ کړي، زموږ ذبیحه (حلالکه) وخوري او زموږ په څېر لمونځ وکړي؛ نو پر موږ به یې له حق پرته د وینو تویول او د مالونو اخیستل حرام شي او دوی ته به هغه حقوق حاصل شي چې مسلمانانو ته حاصل دي او پر دوی باندې به هغه مکلفیتونه راشي چې پر مسلمانانو باندې دي.

له دې څخه معلومه شوه چې دا قاعده ټول په ټوله نه شي تطبیقېدای او ذمیان په ټولو حقوقو او واجباتو کې د اهل القبلة په شان نه دي، ځکه چې دوی په کفر کې پاتې دي او د اسلام احکام یې پر ځان په پوره توګه نه دي عملي کړي؛ خو بیا هم ځینې اساسي حقوق لري چې په راتلونکو مطلبونو کې یې بیانوم.

**د دولت له لوري د ذمیانو ساتنه**

کوم کافر چې په ذمې سره د مسلمانانو په هېواد کې اوسېږي اسلامي دولت مکلف دی چې د هغوی د

وينې، عزت او مال د خونديتوب لپاره ګامونه پورته کړي او هغوی ته هيڅ ډول زيان ونه رسوي، ځکه چې نبي صلی الله عليه وسلم او د هغه راشده خلفاوو په دې اړه ډېر ټينګار کړی دی او پر مسلمانانو يې د ذميانو وژنه او له هغوی څخه د هغوی له خوښې پرته د مال اخيستل حرام ګرځولي دي.

نبي صلی الله عليه وسلم د ذميانو د وينې او مال د خونديتوب په اړه داسې فرمايلي دي: «أَلَا مَنْ ظَلَمَ مُعَاهِدًا، أَوِ انْتَقَصَهُ، أَوْ كَلَّفَهُ فَوْقَ طَاقَتِهِ، أَوْ أَخَذَ مِنْهُ شَيْئًا بِغَيْرِ طِيبِ نَفْسٍ، فَأَنَا حَجِيجُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ». (۱۷۱:۲۰)

ژباړه: خبردار که چا پر معاهد (ذمي) ظلم وکړ، يا يې ورته حق کم کړ، يا يې د هغه له وس پورته بوج پرې واچوه او يا يې ترې د هغه له خوښې پرته کوم شی واخيست؛ نو د قيامت په ورځ به ورسره زه لانجه کوم.

په بل حديث کې نبي صلی الله عليه وسلم داسې فرمايلي: «مَنْ قَتَلَ مُعَاهِدًا فِي غَيْرِ كُنْهِهِ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ». (۸۳:۲۰)

ژباړه: چا چې ذمي پرته له کوم جرم وواژه الله جل جلا له پرې جنت حرام کړی دی.

په بل حديث کې داسې وايي: " مَنْ قَتَلَ مُعَاهِدًا بِغَيْرِ حَقٍّ لَمْ يَرَحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ، وَإِنَّهُ لَيُوجَدُ رِيحُهَا مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَامًا" . (۲۲۹:۱٤)

ژباړه: چا چې له حق (شرعي جرم) پرته ذمي وواژه د جنت بوی به هم محسوس نه کړي او د جنت بوی د څلوېښت کلونو په مسافه کې موندل کېږي. همدا راز د مسلمانانو له راشده خلفاوو ابو بکر صديق او عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه هم له ذميانو سره د ښېګڼې، ښو اخلاقو او انصاف کولو په اړه ټينګار نقل شوی دی. (۳۲: مادة أهل الذمة) له دې امله که په ذميانو باندې د حربي کافرو لخوا حمله وشي؛ نو مسلمانان به له ذميانو څخه د دفاع لپاره جنګېږي او دا د دوی مسؤوليت ګڼل کېږي، ځکه چې اسلامي دولت له ذميانو څخه ټکس اخلي؛ نو بايد چې ساتنه يې وکړي او بله دا چې ذميان په دار الاسلام کې اوسېږي؛ نو که څوک پر ذميانو حمله کوي او ورسره جنګېږي په دار الاسلام باندې د تيري په معنی ده ځکه يې دفاع ضروري ده او پر دې باندې فقهاوو تصريح هم کړې ده. (۲۸۱:۲۹)

له ذميانو څخه د دفاع لپاره د جنګېدو په اړه له عمر رضی الله عنه څخه داسې نقل شوي دي: عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «وَأُوصِيهِ بِذِمَّةِ اللَّهِ، وَذِمَّةِ رَسُولِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنْ يُوفَى لَهُمْ بِعَهْدِهِمْ، وَأَنْ يُقَاتَلَ مِنْ وَرَائِهِمْ، وَلاَ يُكَلَّفُوا إِلَّا طَاقَتَهُمْ». (۶۹:۱۲)

ژباړه: له عمر رضی الله عنه څخه روايت دی چې ويلي يې دي: ((زه ورته د الله جل جلا له او د هغه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د لوظ پر بنسټ کلک حکم کوم چې له دوی (ذميانو) سره کړی لوظ دې پوره شي، د دوی په دفاع کې دې جنګ وکړی شي او پر هغه څه دې مکلف شي چې د دوی په وسه کې

وي). فقهاوو په صراحت سره ويلي چې کله حربيان په ذميانو حمله وکړي وينځې او غلامان ترې ونيسي؛ نو که مسلمانان په حربيانو غالب شي او هغه وينځې او مريان ترې ونيسي؛ نو بېرته به يې ذميانو ته ورکوي او نشي کولای چې دوی يې د ځان لپاره مريان وګرځوي او دا د عامو علماوو قول دی. (۲۴۴:۴)

په المغني کې د دې لپاره داسې علت ويلی دی: ((لِأَنَّ ذِمَّتَهُمْ بَاقِيَةٌ، وَلَمْ يُوجَدْ مِنْهُمْ مَا يَنْقُضُهَا، وَحُكْمُ أَمْوَالِهِمْ حُكْمُ أَمْوَال الْمُسْلِمِينَ فِي حُرْمَتِهَا). (۴۴۴:۶)

ژباړه: ځکه چې د دوی ذمه لا اوس هم پاتې ده او له دوی څخه داسې کوم عمل ندی صادر شوی چې د دوی ذمه ماته کړي او د دوی د مالونو حکم د مسلمانانو د مالونو په شان دی او هماغسې عزت لري.

**د اوسېدو او نقل کېدو حق**

اهل الذمة په اسلامي هېواد کې دويم اساسي حق د استوګنې او له يو ځای څخه بل ځای ته په ځان او مال باندې په پوره ډاډ سره د نقل کېدو حق دی، ځکه دوی د ځان لپاره د امن اخيستو په بدل کې مال ورکړی او هدف يې دا دی چې د دوی وينه او مال د مسلمانانو د مال او وينې په څېر شي او مسلمانانو هم ورسره دا منلې ده او مسلمانان خپلو شرطونو ته پابند وي؛ نو ځکه ورته دا حق ورکړل شوی دی. (۱۲۸:۳۶)

البته ټول فقهاء پر دې اتفاق لري چې په مکه او مدينه کې ذمي اوسېدلی نه شي ، ځکه نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (لاَ يَجْتَمِعُ فِي أَرْضِ الْعَرَبِ دِينَانِ). (۱۲۸:۹)

ژباړه: د عربو په ځمکه دوه دينونه نشي يو ځای کېدای.

او په بل ځای کې يې فرمايلي دي: عن عُمَر بْن الْخَطَّابِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ، وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ حَتَّى لَا أَدَعَ إِلَّا مُسْلِمًا ». (۱۳۸۸:۳۴)

ژباړه: له عمر بن الخطاب رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به فرمايل: (زه به خامخا د عربو له جزيرې څخه يهود او نصاری وباسم، آن تر دې چې يوازې مسلمان به پرېږدم). له مکې او مدينې پرته د مسلمانانو په نورو هېوادونو کې ذميان په هغه شرطونو اوسېدلای شي چې د مسلمانانو د امير لخوا ورسره منل شوي وي او اوسېدل يې پخپله خوښه دي که په يو ځای (کمپ) کې اوسېږي او که خواره واره اوسېږي؛ خو د مسلمانانو له ودانيو لوړې ودانۍ به نه کوي، له مسلمانانو څخه ښه لباس به نه اغوندي، له مسلمانانو سره به ځان نه يو شان کوي، ګېرجې او کليساګانې به نه جوړوي او که په کوم ښار کې د دوی د استوګنې له امله د مسلمانانو احصائيه کمېده؛ نو بيا به له ښار څخه بهر په يوه ناحيه کې اوسېږي. (۱۴۵:۳۱)

همدا راز ذميان کولای شي چې د مسلمانانو په هېواد کې له حرمينو پرته هر ځای ته د تجارت يا نورو موخو لپاره سفر وکړي. (۱۲۸:۳۶)

**د عقیدې او عبادت د آزادۍ حق**

د ذمې له عقد سره لازمه ده چې مسلمانان به د ذمیانو له عقیدې او عبادت سره کار نه لري کله چې هغوی خپل شعائر نه ښکاره کوي، ځکه د ذمې د عقد موخه دا ده چې کافران د پیسو (جزیې) ورکولو په مقابل کې په خپل کفر باندې پاتې شي؛ خو له دې سره دا احتمال هم شته چې له مسلمانانو سره د شریک اوسېدو له امله د دین له محاسنو خبر شي، له اسلام څخه متاثره شي او اسلام قبول کړي؛ خو د اسلام په قبلولو او د اسلام په طریقه د عبادت کولو زور ورباندې نشي کېدای، ځکه الله جل جلا له فرمایلي دي: ﴿لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ﴾. (البقرة: ۲۵۶)

ژباړه: په دین (عقیده) کې زور نشته. او نبي صلی الله علیه وسلم چې د نجران اوسېدونکو ته خط لېږلی وو په هغې کې داسې لیکلي وو: ((وَلِنَجْرَانَ وَحَاشِيَتِهَا جِوَارُ اللَّهِ وَذِمَّةُ مُحَمَّدٍ رَسُول اللَّهِ عَلَى أَمْوَالِهِمْ وَمِلَّتِهِمْ وَبِيَعِهِمْ وَكُل مَا تَحْتَ أَيْدِيهِمْ)). (۳۸۵:۱۳)

ژباړه: د نجران او د هغې په غاړو کې د استوګنو د مالونو، دین، ګېرجو او ټول هغه شیانو چې د دوی تر لاس لاندې دي د الله جل جلا له لخوا پناه او د هغه د پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم عهد (ذمه) ده.

په دې مسئله کې د فقهاوو تر منځ اتفاق دی؛ خو په ځینو فروعو کې یې اختلاف هم شته چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

**د ذمیانو عبادت ځایونه**

فقهاء د مسلمانانو ښارونه په درې ډوله ویشلي دي:

لومړی: هغه چې نقشه او پلان یې مسلمانانو جوړ کړی او اباد کړی یې وي، لکه کوفه، بصره، بغداد او واسط؛ نو په دې کې د فقهاوو په اتفاق د یهودو او نصارى وو عبادتځایونه جوړول حرام دي او دوی نشي کولای چې په داسې ځایونو کې شراب وڅښي، خنزیران پکې وپلوري او یا پکې شپېلۍ ووهي. (۱۱۳:۳۰)

ځکه نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ((لاَ تُبْنَى كَنِيسَةٌ فِي دَارِ الإِسْلاَمِ، وَلاَ يُجَدَّدُ مَا خَرِبَ مِنْهَا)). (۱۵۴:۱۸)

ژباړه: په دار الاسلام کې کلیساګانې نشي جوړېدای او کومې چې ویجاړ شوې وي ترمیم یې هم نشي کېدای.

بل دا چې دغه سیمې د مسلمانانو ملکیت دی؛ نو د کافرانو لپاره پکې د راټولېدو ځایونو جوړول جائز نه دي او که د مسلمانانو امیر ورسره په دغه سیمو کې د عبادتځایونو عقد کړی وي عقد یې باطل دی. (۳۰۰:۳)

دویم: هغه چې مسلمانان یې په زور سره فتح کړي؛ نو په دې کې د فقهاوو په اتفاق کافر نشي کولای چې نوي عبادتځایونه د ځان لپاره جوړ کړي؛ خو که له پخوا نه پکې پاتې وي؛ نو آیا ړنګول یې واجب دي او که نه؟ په دې اړه فقهاء اختلاف لري:

د شوافعو په صحیح مذهب کې یې ړنګول واجب دي، ځکه دغه سیمې د مسلمانانو ملکیت دی او د کفر نښې پرېښودل پکې جائز نه دي، بلکې دا د هغه سیمو په څېر دي چې مسلمانانو ودانې کړې وي. (۲۵۶:۲۶)

احناف بیا په دې نظر دي چې ړنګول یې نشته؛ خو د عبادت لپاره پرېښودل یې هم نشته، بلکې د ذمیان به ترې د استوګنځای ګټه اخلي. (۳۰۰:۳)

دریم: هغه سیمې چې مسلمانانو په صلحې سره فتح کړې وي؛ نو که د مسلمانانو امیر ورسره داسې صلح کړې وي چې خاوره به یې د دوی وي؛ خو خراج (ټکس) به یې مسلمانانو ته ورکوي؛ نو د احنافو، مالکیانو او حنبلیانو په مذهب کې کولای شي چې کومو کلیساګانو ته دوی اړتیا لري پکې یې جوړې کړي. (۳۰۰:۳)

او دا د شوافعو صحیح مذهب هم دی، ځکه د دغه سیمې ملکیت د دوی دی؛ نو پخپله خوښه تصرف پکې کولای شي؛ خو د شوافعو په یو ناسم قول کې داسې هم نقل شوي دي چې نه یې شي جوړولای ځکه که ملکیت یې د ذمیانو سره وي؛ خو سیمه د اسلام تر حکم لاندې ده او اسلام د کلیساګانو جوړولو ته اجازه نه ورکوي. (۲۵۴:۲۷)

که د مسلمانانو امیر ورسره داسې صلح وکړي چې سیمه به د مسلمانانو ملکیت وي او دوی به جزیه ورکوي؛ نو بیا یې د کلیساګانو حکم هماغه دی چې په صلح کې یاد شوی وي؛ خو غوره دا ده چې په صلح کې د کلیساګانو د منع یادونه وکړي. (۱۲۰:۳۶)

که صلح په مطلق ډول واقع شي؛ نو بیا د جمهورو (احنافو، شوافعو او حنبلیانو) په اند د کلیساګانو او ګېرجو جوړول پکې ناروا دي؛ خو د مالکیانو په اند که په کومه سیمه کې یو مسلمان هم نه وي بیا یې پکې جوړول جائز دي . (۳۰۰:۳)

خو احناف او حنبلیان وایي چې مسلمانان به یې له پخوانیو عبادت ځایونو سره کار نه لري او د مالکیانو له عبارتونو څخه هم دا مفهوم اخیستل کېدای شي؛ خو د شوافعو په اند بیا صحیح دا ده چې د کلیسا په حیث نشي پاتې کېدای بلکې حیثیت به یې بدلېږي. (۳۰۰:۳)

**د ذمیانو عبادت**

د اهل الذمة په اړه اصل دا ده چې دوی به په خپله دینداری کې آزاد وي او دوی چې په کفر کې کوم کارونه دین ګڼي د هغې له کولو څخه نشي بندولای، لکه د عبادت ځای (معبد) په داخل کې شپېلۍ

وهل، د تورات او انجیل لوستل او د هغه ګناهونو کول چې دوی یې په خپل دین کې حلال ګڼي، لکه شراب خوري، د خنزیر اخیستل او خرڅول، د رمضان په ورځ کې خوراک او څښاک او داسې نور؛ خو کله چې یې په خپل منځ کې کوي او مسلمانانو ته یې نه ښکاره کوي، که دا کارونه ښکاره کړي او په زغرده یې د مسلمانانو په مخامخ کوي؛ نو بیا یې ترې بندولای شي. (۵۲۷:۶)

څکه عمر بن الخطاب رضی الله عنه چې له شامیانو سره د ذمې عقد کاوه داسې یې ورسره لیکلي وو: ((وَأَنْ لَا نُظْهِرَ صُلُبَنَا وَكُتُبَنَا فِي شَيْءٍ مِنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ وَلَا أَسْوَاقِهِمْ، وَأَنْ لَا نُظْهِرَ الصَّلِيبَ عَلَى كَنَائِسِنَا، وَأَنْ لَا نَضْرِبَ بِنَاقُوسٍ فِي كَنَائِسِنَا بَيْنَ حَضْرَةِ الْمُسْلِمِينَ، وَأَنْ لَا نُخْرِجَ سَعَانِينًا وَلَا بَاعُوثًا (۳٤۰:۲۲)

وَلَا نَرْفَعَ أَصْوَاتَنَا مَعَ أَمْوَاتِنَا، وَلَا نُظْهِرَ النِّيرَانَ مَعَهُمْ فِي شَيْءٍ مِنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ)).(۳٤۰:۱۵)

ژباړه: موږ به د مسلمانانو په لارو او بازارونو کې خپل صلیب او کتابونه نه ښکاره کوو، د کلیساګانو په سر باندې به صلیب نه ښکاره کوو، په خپلو کلیساګانو کې به د مسلمانانو په مخامخ شپېلۍ نه وهو، خپل اختر او د استسقاء طریقه به بهر نه کوو، له مړو سره به غږ نه پورته کوو او نه به د مسلمانانو په لار کې ښکاره اورونه بلوو.

حنفي فقهاء بیا د ښار او کلي تر منځ توپیر کوي او وایي چې د مسلمانانو په ښار کې دوی د کفر کارونه په ښکاره توګه نشي کولای؛ خو که په کلي کې یې کوي کولای یې شي که څه هم هلته مسلمانان هم اوسېږي، څکه دوی چې د کفري کارونو له ښکاره کولو څخه منع شوي موخه یې دا ده چې په کوم ځای کې اسلامي شعائر په ښکاره توګه کېږي باید چې د کفر شعائر پکې ښکاره نه شي او په کلي کې د اسلام شعائر هم په پوره ډول نه ښکاره کېږي، لکه د جمعې او اختر لمونځ، د حدودو قائمول او داسې نور. (۱۱۳:۳۰)

شوافع وایي چې که په یو کلي یا ښار کې یوازې اهل الذمة اوسېږي کولای شي چې خپل عبادت په ښکاره توګه ترسره کړي. (۲٥٦:۲٦)

**د کار او کسب د آزادۍ حق**

ذمي چې کوم کار د ځان لپاره مناسب وګڼي هغه کولای شي، که سوداګري وي، که صناعت، نجاري، دبېري، دکانداري او یا داسې نور کارونه وي، څکه فقهاء په صراحت سره وایي چې په کاروبار کې ذمي د مسلمان په څېر دی او همدا صحیح اصل دی؛ خو په دې ځای کې بیا ځینې استثناءات هم شته چې ذمیان به ترې منع کېږي، چې هغه مې د دریم فصل، دویم مبحث په لومړي مطلب کې ځای پر ځای کړي دي. له کاروبار پرته نورې دولتي یا عامې دندې چې اسلام پکې شرط وي (لکه خلافت، په جهاد کې امیر کېدل، وزارت او داسې نور) ذمي یې نشي کولای؛ خو په کومو دندو کې چې اسلام شرط نه وي

ذمیان یې هم کولای شي، لکه کوچنیانو ته د لیک لوست زده کړه، په فابریکه کې دنده، انجینري او یا داسې نور کارونه چې د مسلمانانو امیر د هغې د ترسره کولو حکم وکړي ذمیان یې هم کولای شي. (۲۱:۳۱)

**د مستامن حقوق**

۱_ مستامن ته لومړی حق دا ورکړل شوی چې دار الاسلام ته داخلېدلای شي، او زیاتو علماوو دغه دخول له دولتي قوانینو څخه بللی دی، چې یو اجنبي شخص بل هېواد ته داخل شي، که دغه داخلېدل د معاملاتو لپاره وي او که د بل کار یا سیاحت لپاره وي او کله چې امن وغواړي، نو مسلمان باید امن ورته ورکړي.

۲ د مستامن دوهم حق دا دی : چې هغه نیته د امان به یې په همدې ډول نه وي بلکه مستامن ته به قدرت نه ورکول کیږي چې د یوکال څخه زیات وخت په دار الاسلام کې تیرکړي .

۳ مستامن ته باید شخصي ازادي ورکړل شي یعني مستامن په ازاده توګه خارجیدای شي او هم بیرته داخلیدای شي او دی به د خپل نفس د هر ډول تجاوز او ظلم څخه حمایت کوي، همدارنګه فقهاوو ویلي چې په امام باندې واجب ده، چې د مستامینو سره په دارلاسلام کې د تل لپاره کومک او مرسته کوي.

٤ مستامن حق لري چې په ازاده توګه په دارالسلام کې ژوند وکړي یعني ده ته د انتقال حق شته چې لاړشي او خپل د اوسیدو بل ځای ځانته غوره کړي خو حرم او حجاز ته د انتقالیدو حق نه لري .

٥ مستامن حق لري چې بیرته د دارالاسلام څخه خپل وطن ته لاړ شي، مګر کله چې ذمي وي ؛نو بیا نشي تلای.

٦ مستامن ته د عقیدې ازادي ، فکري ازادي ، د تعلیم حاصلول او د اجتماع اړوند ټول حقوق ورته حاصل دي او د دې ترڅنګ د هستوګنځي درناوی به یې هم کیږي یعني مستامن لره لومړی حق د اسلام مبارک دین قبلول دي خو اکراه ورباندې نشته ؛ ځکه الله جل جلاله فرمایلي دي : ﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ﴾ یو شمیر فقهاوو ویلي دي چې د مستأمنینو حقوق د ذمیانو سره ورته دي، چې باید د دوی او د دوی د هستوګنځیو احترام وشي. (۲۱:۳۱)

**پایله**

څنګه چې د ژوند په ډګر کې د فرد کړنلاره په بشري ټولنه کې ژوند کول او د ژوند شپې او ورځې سباکول دي؛ نو هر انسان باید د خپلې ټولنې په ټولو اړخونو باندې خبرتیا ولري او په اسلامي ټولنه کې په بشري حقوق او احکامو پوهه درلودل انسان د حسد، تکبر، ګناه، فحشا، ظلم او سختیو څخه ژغوري.

په اسلامي ټولنه کې باید د غیر مسلمو په حقوقو د تجاوز، ظلم او سختیو څخه کار وانخیستل شي، بلکې هغه چلند ورسره وشي کوم چې اسلام ورته ښودنه کړې ده .

د اسلام مبارک دین ټولو وګړو ته ځېل حقوق ورکړي، تر څو په نړۍ کې خلک په امن او اطمنان سره ژوند وکړي، په دې تړاو یې د حربي کافرانو ښځو ، ماشومانو او کمزورو بوډاګانو ته یې د خوندیتوب حق ورکړی دی او د کتابیانو د ښځو سره یې د نکاح اجازه ورکړی ده، په همدې ډول ذمیانو ته یې ټول هغه حقوق ورکړي دي کوم چې د یو مسلمان لپاره دي لکه د دوی وینه او مال به محفوظ وي ، دوی ته به د عقیدې ازادي، فکري ازادي ، د کار او کسب کولو حق ، د تعلیم کولو حق، د عبادت او د هستوګنې حق وي، دوی به په ازادنه توګه په اسلامي هیوادونو د ګرځیدو حق لري همدا ډول یې مستأمنینو ته حقوق ورکړي دي لکه: په ازادانه توګه دوی په دار الاسلام کې ګرځېدلای شي، په ازادنه توګه دوی په دار الاسلام کې ژوند کولای شي او دوی لپاره ټول هغه حقوق دي کوم چې د ذمیانو لپاره ذکر شول.

**مناقشه**

د هرې لیکنې وروسته لیکوال د خپلې لیکنې مناقشه کوي زه هم د خپلې لیکنې مناقشه په لاندې نقاطو کې راخلاصه کوم:

په لنډه توګه باید ووایو هغه نقشه او پلان چې مسلمانان یې جوړ کړی او اباد یې کړي، لکه کوفه، بصره، بغداد او واسط؛ نو په دې کې د فقهاوو په اتفاق د یهودو او نصاری وو عبادتځایونه جوړول حرام دي او دوی نشي کولای چې په داسې ځایونو کې شراب وڅښي، خنزیران پکې وپلوري او یا پکې شپېلۍ ووهي. ځکه نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (لاَ تُبْنَى كَنِيسَةٌ فِي دَارِ الإِسْلاَمِ، وَلاَ يُجَدَّدُ مَا خَرِبَ مِنْهَا)، ژباړه: په دار الاسلام کې کلیساګانې نشي جوړېدای او کومې چې ویجاړ شوې وي ترمیم یې هم نشي کېدای. بل دا چې دغه سیمې د مسلمانانو ملکیت دی؛ نو د کافرانو لپاره پکې د راټولېدو ځایونو جوړول جائز نه دي او که د مسلمانانو امیر ورسره په دغه سیمو کې د عبادتځایونو عقد کړی وي عقد یې باطل دی. دویم: هغه چې مسلمانان یې په زور سره فتح کړي؛ نو په دې کې د فقهاوو په اتفاق کافر نشي کولای چې نوي عبادتځایونه د ځان لپاره جوړ کړي؛ خو که له پخوا نه پکې پاتې وي؛ نو آیا ړنګول یې واجب دي او که نه؟ په دې اړه فقهاء اختلاف لري: د شوافعو په صحیح مذهب کې یې ړنګول واجب دي، ځکه دغه سیمې د مسلمانانو ملکیت دی او د کفر ننبې پرېښودل پکې جائز نه دي، بلکې دا د هغه سیمو په څېر دي چې مسلمانانو ودانې کړې وي. احناف بیا په دې نظر دي چې ړنګول یې نشته؛ خو د عبادت لپاره پرېښودل یې هم نشته، بلکې د ذمیان به ترې د استوګنځای ګټه اخلي او دا صحیح خبره ده.

دريم: هغه سيمې چې مسلمانانو په صلحې سره فتح کړې وي؛ نو که د مسلمانانو امير ورسره داسې صلح کړې وي چې خاوره به يې د دوی وي؛ خو خراج (ټکس) به يې مسلمانانو ته ورکوي؛ نو د احنافو، مالکيانو او حنبليانو په مذهب کې کولای شي چې کومو کليساګانو ته دوی اړتيا لري پکې يې جوړې کړي. او دا د شوافعو صحيح مذهب هم دی، ځکه د دغه سيمې ملکيت د دوی دی؛ نو پخپله خوښه تصرف پکې کولای شي؛ خو د شوافعو په يو ناسم قول کې داسې هم نقل شوي دي چې نه يې شي جوړولای ځکه که ملکيت يې د ذميانو سره وي؛ خو سيمه د اسلام تر حکم لاندې ده او اسلام د کليساګانو جوړولو ته اجازه نه ورکوي،که د مسلمانانو امير ورسره داسې صلح وکړي چې سيمه به د مسلمانانو ملکيت وي او دوی به جزيه ورکوي؛ نو بيا يې د کليساګانو حکم هماغه دی چې په صلح کې ياد شوی وي؛ خو غوره دا ده چې په صلح کې د کليساګانو د منع يادونه وکړي. که صلح په مطلق ډول واقع شي؛ نو بيا د جمهورو (احنافو، شوافعو او حنبليانو) په اند د کليساګانو او ګېرجو جوړول پکې ناروا دي؛ خو د مالکيانو په اند که په کومه سيمه کې يو مسلمان هم نه وي بيا يې پکې جوړول جائز دي.

خو احناف او حنبليان وايي چې مسلمانان به يې له پخوانيو عبادت ځايونو سره کار نه لري او د مالکيانو له عبارتونو څخه هم دا مفهوم اخيستل کېدای شي؛ خو د شوافعو په اند بيا صحيح دا ده چې د کليسا په حيث نشي پاتې کېدای بلکې حيثيت به يې بدلېږي.

**وړانديزوونه**

۱- د افغانستان اسلامي امارت ته مې وړانديز دا دی چې د خپل هيواد څخه په لازمه توګه دفاع او ساتنه يې وکړي او په دې هيواد کې د ټولو غير مسلمو حقوق خوندي کړي او دوی ته خپل حقوق په سمه توګه ورکړي.

۲- علماو او خطيبانو ته مې وړانديز دا دی چې د اسلامي ټولنې د پېژندنې او په اسلامي هيوادونو کې د غير مسلمو حقوقو په پار په خپلو وعظونو او خطبو کې عامه پوهاوی ورکړي ترڅو هيوادال مو د هر چا ته خپل حقوق ورکړي او هم د خپلې خاورې څخه په سمه توګه ساتنه وکړي

۳- د شرعياتو او حقوقو پوهنځيو استادانو څخه غوښتنه کوم چې په ياده موضوع خپل محصلين پوه کړي تر څو راتلونکې کې د ستونزو سره مخ نه شو او د هر چا حقوق وپيژني.

ماخذونه


١. القران الكريم

٢. ابن قيم، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين الجوزية. (١٤١٨ - ١٩٩٧). أحكام أهل الذمة. تحقيق: يوسف بن أحمد البكري - شاكر بن توفيق العاروري. الناشر: رمادى للنشر – الدمام. لومړی چاپ.ج. ٢.

٣. ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي. (ب، ت). فتح القدير. دار الفكر. (ب،ط). ج. ٥.

٤. ابن عابدين،محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي. (١٤١٢هـ - ١٩٩٢م). رد المحتار على الدر المختار. بيروت - دار الفكر. دویم چاپ. ج.٣.

٥. ابن فارس ، أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي، أبو الحسين. (١٤٠٦ هـ - ١٩٨٦ م) . مجمل اللغة لابن فارس. دراسة وتحقيق: زهير عبد المحسن سلطان. دار النشر: مؤسسة الرسالة – بيروت. دویم چاپ. ج. ٢.

٦. ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد بن قدامة الجماعيلي المقدسي ثم الدمشقي الحنبلي، الشهير بابن قدامة المقدسي .(١٣٨٨هـ - ١٩٦٨م). المغني لابن قدامة. الناشر: مكتبة القاهرة. (ب،ط) . ج. ٨.

٧. ابن منده، ابو عبد الله محمد بن اسحاق بن محمد بن يحيى بن منده العبدي. (١٤٠٦هـ ). الايمان، تحقيق: دوكتور علي بن محمد بن ناصر الفقيهي. ناشر: مؤسسة الرسالة. بيروت. دویم چاپ. ج . ١.

٨. ابن منظور ، أبو الفضل احمد بن مكرم بن على جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (١٤١٤ هـ). لسان العرب. الناشر: دار صادر – بيروت. دریم چاپ. ج. ١٢.

٩. أبو عُبيد القاسم بن سلاّم بن عبد الله الهروي البغدادي (ب، ت) كتاب الأموال. تحقيق: خليل محمد هراس. الناشر: دار الفكر. - بيروت. (ب،ط).

١٠. الاحكام السلطانية للماوردي الماوردي، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي. (ب،ت).. الأحكام السلطانية. الناشر: دار الحديث – القاهرة. (ب،ط) (ص: ٢١).

١١. البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي. (١٤٢٢هـ). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري. تحقيقق: محمد زهير بن ناصر الناصر. دار طوق النجاة . لومړی چاپ. ج. ١.

١٢. البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي. (١٤٢٢هـ). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه = صحيح البخاري. تحقيقق: محمد زهير بن ناصر الناصر. دار طوق النجاة . لومړی چاپ. ج. ٣.

١٣. البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني. (١٤٠٥هـ ). دلائل النبوة ومعرفة أحوال صاحب الشريعة. بيروت - دار الكتب العلمية. لومړی چاپ. ج.

.٥

١٤. البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني. (١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م) . السنن الكبرى. المحقق: محمد عبد القادر عطا. الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان. دريم چاپ.ج. ٨.

١٥. البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني. (١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٣ م) . السنن الكبرى. المحقق: محمد عبد القادر عطا. الناشر: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان. دريم چاپ. ج . ٩.

١٦. الدارقطني، أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي . (١٤٢٤ هـ - ٢٠٠٤ م). سنن الدارقطني. تحقيق: شعيب الارنؤوط، حسن عبد المنعم شلبي، عبد اللطيف حرز الله، أحمد برهوم. مؤسسة الرسالة، بيروت – لبنان. لومړی چاپ. ج. ٤ .

١٧. الزُّحَيْلِيّ، أ. د. وَهْبَة بن مصطفى أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله بجامعة دمشق - كلّيَّة الشَّريعة . (ب، ت ). الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ (الشَّامل للأدلّة الشَّرعيَّة والآراء المذهبيَّة وأهمّ النَّظريَّات الفقهيَّة وتحقيق الأحاديث النَّبويَّة وتخريجها). دار الفكر - سوريَّة – دمشق. څلورم چاپ. ج . ٦ .

١٨. زيلعي، جمال الدين ابو محمد عبد الله بن يوسف بن محمد. (١٤١٨هـ/١٩٩٧م). نصب الراية لاحاديث الهداية ناشر: دار المامون، بيروت. لومړی چاپ. ج. ٣.

١٩. السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السجستاني. (١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩م). سنن أبي داود. تحقيق: شعيب الأرنؤوط. دار الرسالة العالمية. لومړی چاپ. ج. ٤.

٢٠. السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السجستاني. (١٤٣٠ هـ - ٢٠٠٩م). سنن أبي داود. تحقيق: شعيب الأرنؤوط. دار الرسالة العالمية. لومړی چاپ. ج. ٣.

٢١. السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي (١٤١٤هـ-١٩٩٣م) المبسوط. الناشر: دار المعرفة – بيروت. (ب، ط). ج.١٠

٢٢. سعانين: د دوی مشهور اختر دی چې د دوی له لوی اختر (کرسمس) څخه یوه اونۍ مخکې یې لمانځي او باعوث د دوی لپاره داسې طریقه ده لکه مسلمانان چې استسقاء کوي.

٢٣. السيد السابق. (١٣٩٧ هـ - ١٩٧٧ م). فقه السنة. لبنان - بيروت –دار الكتاب العربي، دريم چاپ. ج . ٢.

٢٤. السيد السابق. (١٣٩٧ هـ - ١٩٧٧ م). فقه السنة. لبنان - بيروت –دار الكتاب العربي، دريم چاپ. ج.٣ .

٢٥. الشحود، علي بن نايف. (ب، ت). المفصل في شرح الشروط العمرية. ناشر: دار المنهاج للنشر والتوزيع رياض. (ب،ط). ج. ١.

٢٦. الشيرازي، أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي. (ب، ت). المهذب في فقة الإمام الشافعي.الناشر: دار الكتب العلمية . لبنان – بيروت. (ب، ط). ج.٢.
٢٧. الشيرازي، أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي. (ب، ت). المهذب في فقة الإمام الشافعي.الناشر: دار الكتب العلمية . لبنان – بيروت. (ب، ط). ج. ٤.
٢٨. الفيومي، أحمد بن محمد بن علي الفيومي ثم الحموي، أبو العباس. (ب،ت). المصباح المنير في غريب الشرح الكبير.الناشر: المكتبة العلمية – بيروت. (ب،ط). (مادة: استامن). ج.١.
29. الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي. (١٤٠٦هـ - ١٩٨٦م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. الناشر: دار الكتب العلمية. دويم چاپ. ج. ٥.
30. الكاساني، علاء الدين، أبو بكر بن مسعود بن أحمد الكاساني الحنفي. (١٤٠٦هـ - ١٩٨٦م). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. الناشر: دار الكتب العلمية. دويم چاپ. ج.٧.
٣١. الماوردي، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (ب ،ت) الأحكام السلطانية. الناشر: دار الحديث – القاهرة. (ب ،ط). ص:١٤٥.
٣٢. الموسوعة العربية العالمية. (ب، ت). مادة أهل الذمة. ناشر: موقع مكتبة صيد الفوائد.
٣٣. النيسابوري، أبو الحسين مسلم ابن الحجاج القشيري النيسابوري. (ب،ت). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم= صحيح مسلم. تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي. بيروت - دار إحياء التراث العربي. (ب،ط). ج.١.
٣٤. النيسابوري، أبو الحسين مسلم ابن الحجاج القشيري النيسابوري. (ب،ت). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم= صحيح مسلم. تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي. بيروت - دار إحياء التراث العربي. (ب،ط). ج.٣ .
٣٥. النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري. (ب،ت). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي، الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت. ج.٤.
٣٦. وزارة الاوقاف والشؤون الاسلامية الكويتية. (من ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ). الموسوعة الفقهية الكويتية، ناشر: دار السلاسل، كويت . ج. ٧.

# د هایدروجن د تولید لارې او د هغوي د لګښت، موثریت او چاپېریالي فعالیت پرتله

لیکونکی: پوهنیار روښان حیران

فزیک څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، شیخ زاید پوهنتون

تقریظ ورکونکی: پوهندوی عبدالتواب عزیزي د فزیک څانګې استاد

**لنډیز**

د چاپېریال ډېرې مسئلې لکه تیزابي باران د اوزون تخریب او نړېوال اقلیمي بدلون د دې ټولو لامل د انرژۍ تولید، انتقال او استعمال دی. په دې وروستیو کې د زیانمنوونکو ککړتیاو اخراج سره تړلو چاپېریالی ستونزو لپاره یو شمېر کوښښونه شوي دي ترڅو یادو ستونزو ته حل پیدا کړي. د هایدروجن انرژۍ سېستمونه یو له خورا موثره حلونو څخه لېدل کېږي او کولی شي د غوره چاپېریال او د پایدارې انرژۍ په ډکر کې مهم رول ولوبوي. د دې مقالې هدف د هایدروجن د تولید مختلف مېتودونه د مثال په توګه، د بایوماس څخه ، د هایدرو کاربنو د جزوي اکسیدیشن څخه، د اوبو د برېښنایي تجزیې څخه، د تصفیه خانې د خارجېدونکې غاز څخه، د ډېرو سکرو په غاز د بدلونې څخه، ترموکیمیکل او فوتوسنتېز څخه د هایدروجن تولید وړاندې کول دي. د هایدروجن د تولید پورته ټولو طرېقو ته کتنه شوې په داسې حال کې چې په ترموکیمیکل طریقو باندې تاکید شوی دی. د بیوماس په اساس د هایدروجن تولید د هایدروجن د تولید د نورو طریقو سره د تولید د لګښت، موثریت او د چاپېریالي فعالیت له مخې هر اړخیزه پرتله شوې ده.

**کلیدي کلېمې:** بایوماس، تخمیر، په غاز بدلونه، تصفیه، هایدروجن، هایدروکاربنونه

**سریزه**

هایدروجن یو پاک، موثر او د هر اړخیزې انرژۍ لېږدونکی دی او د برېښنا سره یو ځای به وکولای شي د انرژۍ اړند ټولې اړتیاوې پوره کړي او د انرژۍ یو داسې سېستم جوړ کړي؛ کوم به چې دایمي او د انرژۍ د سرچېنو څخه خپلواک وي. هایدروجن په کایناتو کې تر ټولو بډایه عنصر دی چې د ټولې مادې شاوخوا درې پر څلورمه برخه تشکیلوي. ټول ستوري او ډېری سیارې حتمي هایدروجن لري؛ خو په ځمکه کې آزاد هایدروجن کم دی. اتموسفیر یې ډېره کمه اندازه (% 0.07) لري او دا عموماً په کمه اندازه په کرستالي زېرمو کې د طبعي غاز سره یوځای موندل کېږي. اټکل کېږي چې تر 2050 مېلادي کال پورې به نوې کېدونکې سرچېنې د ټولې نړۍ د انرژۍ د اړتیا نږدې % 69 چمتو کړي چې په دې کې به د هایدروجن ونډه نږدې % 34 وي. تر 2008 مېلادي کال پورې نږدې % 95 هایدروجن د فوسېل سون توکو (لکه طبیعي غاز، ناپتا، ډېرو سکرو او داسې نورو) څخه تر لاسه کېدو.[2]

هایدروجن تقریبا د هرې انرژۍ سرچېنې څخه استخراج کېدای شي . طبعي غاز، مېتانول، د ډېرو سکاره، بایوماس او اوبه؛ خو تر ټولو زیاته ترجیح بیا نوې کېدونکې سرچېنې ته ورکول کېږي. څرنګه چې د هایدروجن سرچېنې زیاتې دي او بیا نوې کېدلی هم شي؛ نو احتمالاً په راتلونکو څو کالونو کې به د

نړیوال اقلیمي بدلون اغېزې او د انرژۍ کمښت اړتیا به هغه تخنیکونو ته وده ورکړي چې د هایدروجن څخه استفاده کوي او دا به د هایدروجن لپاره د فرصتونو نوې ساحې رامینځته کړي.

د دې لپاره چې د نوې کېدونکې انرژۍ د تولید د دودیزو مرکبو او سېستمونو څخه (کوم چې د لابراتوار په کچه د جوړونې ټېکنالوژیو په کارولو سره رامېنځته شوي دي ) د ستر حجم سوداګریزو د جوړونې محصولاتو ته لاړ شو د پام وړ ننګونې باید حل شي. په دې لاره کې د پخوا راهیسي څېړنې شوي او کیږي چې د هغې جملې څخه یو د هایدروجن تولید دی. [3]

**موخې**

په فوسېل سون توکو باندې د اتکاء ختمولو لپاره د انرژۍ لپاره په لویه کچه د هایدروجن د تولید مخلتفو لارو څېړل او همدا رنګه د یادو لارو او طریقو اقلیمي او اقتصادي ارزښت وړاندې کول دي.

**د کار مواد او مېتود**

د دې موضوع د ترتیبولو لپاره مې د بېلا بېلو معتبرو کتابونو څخه پوره استفاده کړېده او همدارنګه د باوري انټرنیټي سایټونو او علمي مقالو څخه ورېکې کار اخېستل شوی دی او زیار وېستل شوی چې د موضوع اړونده علمي معلومات راټول او ترتیب شي.

**د هایدروجن د تولید میتودونه**

**د بایو ماس څخه د هایدروجن تولید**

د بایو ماس د ا نرژۍ تر ټولو مهمې سرچېنې لرګي او د لرګیو پاتې شونې، کرنیز فصلونه او د فصلونو د محصولاتو بقایه، د ښاروالۍ جامد کثافات، د حیواناتو فضله مواد، د غذا د پروسس څخه رامېنځته شوي ضایعات او همدارنګه د اوبو ونې (aquatic plants) او الجیان دي. د بایو ماس سون توکو څخه ترلاسه شوې انرژي په برېښنایيز تطبیقاتو کې، د تختو او د لرګیو په محصولاتو کې، د کاغذ خمېرې او د کاغذ په صنعت کې کارول کیږي. هایدروجن د بایوماس څخه تولید کېدلی شي؛ خو دا ټېکنالوژي نور پرمختګ ته اړتیا لري. د بایو ماس څخه د هایدروجن تولید له پخوا څخه د اقتصاد له پلوه د نن ورځې سیالي کوي. د بایوماس څخه ترلاسه شوی هایدروجن ډېرې ګټې لري. (الف) د نفتو له وارداتو څخه خپلواک دی. (ب) خالص محصول یې په هېواد کې پاتې کېږي. (ج) د قیمت ثابته کچه لري. (د) د $CO_2$ توازن ورسره نږدې 30 % ښه کېدلی شي.

***د هایدروجن لپاره د بایو ماس خام توکي***: دوه ډوله بایوماس خام توکي شتون لري چې په هایدروجن بدلېدلی شي. (الف) د بایو انرژۍ وقف شوي فصلونه او (ب) ارزانه پاتې شونې لکه د دوامداره زراعتي فصلونو او د لرګیو د پروسېس څخه عضوي پاتې شونې (بایوماس پاتې شونې). په عموم کې د انرژۍ فصلونو لکه ($sweet\ sorghum$) څخه د هایدروجن تولید لپاره د خام موادو په توګه استفاده کیدلی شي. بایوماس په ځانګړې توګه عضوي پاتې شونې د نوي کېدونکې هایدروجن د تولید لپاره یوه اقتصادي او چاپېریال نه ککړونکې لاره وړاندې کوي.[3]

**د بایوماس څخه د هایدروجن د تولید لارې**: د بایوماس څخه د هایدروجن د تولید لپاره موجوده طرېقې په دوه عمده برخو وېشل کېدای شي. (الف) ترمو کیمیکل (ب) بیولوژیکي لارې. هایدروجن د بایو

نوې کېدونکو خام موادو څخه د ترموکیمیکل بدلون پروسو لکه د حرارت په واسطه تجزیه ($pyrolysis$)، په غاز بدلول، بخار په غاز بدلېدل، د بایو- تېلو بخار اصلاح او د بحراني حرارت درجې څخه په لوړه حرارت درجې د اوبو غاز کولو له لارې تولید کېدای شي.

د هایدروجن بیولوژیکي تولید په لاندې ګروپونو باندې ډلبندي کېدلی شي: (الف) د شین الجیانو او نیله-شین الجیانو په کارولو سره د اوبو بایو- فوټو- تجزیه ($cyanobacteria$)، (ب) روښانه - تخمیر ($photo\text{-}fermentation$)، (ج) تیاره - تخمیر ($dark - fermentation$)، دوه رګه ریکتور سېستم ($hybrid\ reactor\ system$).

د ترمو کیمیکل پروسې ګټه دا ده چې کلي موثریت یې لوړ دی او د تولید لګښت یې کم دی. د وچ بایوماس په اساس د بایوماس څخه د تولید شوي هایدروجن حاصل نسبتاً کم ( $16 - 18$) % دی. د بایوماس څخه د هایدروجن محصول او د انرژۍ محتوا د مختلفو طریقو په کارولو سره په (1) جدول کې ښودل شوي دي.[4]

(1) جدول: د دریو مختلفو پروسو په کارولو سره د هایدروجن د محصول پرتله

| پروسې | د هایدروجن محصول | د هایدروجن د انرژۍ محتوا/د بایوماس د انرژۍ |
|---|---|---|
| حرارتي تجزیه + کتالستي اصلاح | 12.6 | 91 |
| په غاز بدلېدنه + انتقالي تعامل | 11.5 | 83 |
| بایوماس + اوبو بخار + د حرارت په استثنا | 17.1 | 124 |

د بایوماس په غاز بدلونه یوه حرارتي تجزیه ده کومه چې په پایله کې د غازي محصولاتو لوړ تولید او لږ مقدار سکور او ایره رامېنځته کوي. په غاز بدلونه عموماً حرارتي تجزیې او احتراق ته شامله ده ترڅو د انډوترمیک تجزیوي تعاملاتو لپاره تودوخه چمتو کړي. په غاز بدلونه د تودوخې په لوړه درجه کې ترسره کېږي. ترلاسه شوی غاز د کاربن ډای اکسایډ او نایتروجن سره د کاربن مونواکسایډ، هایدروجن او میتان یو مخلوط دی. د بایوماس په غاز بدلونې سېستمونه په جزوي اکسیډیشن یا احتراق پروسو کې د هوا یا اکسیجن څخه استفاده کوي. تقریباً په $875 - 1275$ کالوین حرارت درجو کې د جامد بایوماس حرارتي تجزیه زغمي ترڅو غاز- فاز محصولات لکه $H_2\ , CO, CO_2\ , H_2O$ او نور غازي هایدروکاربنونه (CHs) جوړ کړي. د بایوماس په غاز بدلېدنه په عموم کې لاندې تعامل مشاهده کوي.[4]

$$\text{بایوماس} + O_2 \text{ یا } (H_2O)/CO, CO_2, H_2O, H_2, CH_4 + \text{نور} \quad (1)$$
$$CHs + \text{قیر} + \text{سکور} + \text{ایره}$$

په غاز د بدلونې ټېکنالوژي دا فرصت برابروي ترڅو نوي کېدونکي د بایوماس خام توکي د سون په پاکو غازونو یا په ترکیبي غازونو باندې بدل کړي. ترکیبي غاز په اصل کې هایدروجن او کاربن

مونواکسايډ $(H_2 + CO)$ لري؛ کوم چې د $boi - syngas$ په نوم هم ياديږي. بايوماس د کتلېست پرته، کتلېست سره، او بخار په غاز بدلوني پروسو په واسطه په بيو-سېنګاس بدلېدلی شي.

بخار په غاز بدلونه د بايوماس څخه د ترموکېمېکل هايدروجن توليد لپاره يو اميد لرونکي ټېکنالوژي ده. د بخار اصلاح او په اصطلاح وچه يا $CO_2$ اصلاح د لاندې تعاملاتو له مخې ترسره کيږي او د کتلېستونو څخه په استفادې سره وده کوي.[10]

$$C_nH_m + nH_2O \rightleftarrows nCO + (n + m/2)H_2 \quad (2)$$

$$C_nH_m + nCO_2 \rightleftarrows (2n)CO + (m/2)H_2 \quad (3)$$

د خامو موادو د تغير (ترکيب، جوړښت، مقاومت، فزيکي خصوصيات او داسې نورو) او د غوښتل شوو سختو شرايطو (د حرارت درجه، د استوګنې وخت، د تودوخې کچه او داسې نورو) له امله، د دې لپاره چې غاز تجزيه کړي د بايوماس بخار په غاز د بدلوني مخلوط يوه ننګونه ده.

د بخار په غاز بدلوني څخه د $H_2$ حاصل نمونې ته د اوبو د نسبت په زياتېدو سره زياتيږي. د حرارتي تجزيې او د بخار په غاز بدلوني څخه د هايدروجن حاصل د حرارت د درجې په لوړېدو سره زياتيږي. په عموم کې په غاز د بدلوني لپاره د حرارت درجه نسبت هغې درجې ته چې حرارتي تجزيې ته کارول کيږي لوړه ده او په غاز د بدلوني څخه د هايدروجن توليد نسبت حرارتي تجزيې ته ډېر دی. دېميرباس د جوارو د توکو د حرارتي تجزيې او بخار په غاز بدلوني څخه د هايدروجن توليد د حرارت په مختلفو درجو کې څېړلی دی. د دودېزې حرارتي تجزيې په واسطه د جوارو د توکو څخه د هايدروجن توليد د 775 نه تر 1025 کالوين پورې د حرارت د درجې په زياتېدو سره د 33 نه تر 40 % پورې زيات شوی دی. د بخار په غاز بدلوني څخه د جوارو د توکو څخه د هايدروجن توليد د 975 نه تر 1225 کالوين پورې د حرارت د درجې په زياتېدو سره د $(W/S) = 1$ لپاره د $29 - 45$ %پورې او د $(W/S) = 2$ لپاره د $29 - 47$ % پورې زيات شوی دی.[3]

په غاز د بدلوني محصولاتو باندې د کتلېست اغېز خورا مهم دی. د کتلېست استعمال د غاز په محصول باندې کوم اغېز نه دی کړی؛ خو د غازونو ترکيب يې ډېر اغيزمن کړی و. د $H_2$ او $CO_2$ محتويات زيات شوي وو؛ خو د $CO$ محتويات کم شوي وو او همدارنګه د عضوي مرکباتو په محتوا کې د پام وړ کمښت لېدل کېدو. له دې ځايه ويلی شو چې د سکرو حاصلات د هيڅ کتلېست په شتون کې د حرارتي جريان په پړتله تقريباً معادل ثابت پاتې وو او د هايدروجن په محتوا کې ډېروالی شايد د اوبو غاز انتقالونکي باندې د کتلېست د نفوذ له امله وو.

**د هايدروکاربنونو د جزوي اکسيديشن څخه د هايدروجن توليد**

هايدروجن ممکن د هايدروکاربنونو لکه د پاتې شوني تېلو څخه د کتلېست پرته د جزوي اکسېډېشن پواسطه رامېنځته شي. هر ډول هايدروکاربن خام توکي چې متراکم يا پمپ کېدای شي په دې ټېکنالوژۍ کې کارول کېدلی شي. د طبيعي غاز جزوي اکسېډيشن پروسه يوه داسې پروسه ده چې په هغې کې هايدروجن د اکيسجن غاز سره د مېتان د جزوي احتراق له لارې توليد کېږي ترڅو کاربن مونوکسايډ او هايدروجن توليد کړي. په دې پروسه کې تودوخه په اکزوترميک تعامل کې توليديږي. توليد شوی CO

بیا په $H_2$ بدلیږي. کوم چې په (4) معادله کې تشریح شوی دی.[9]

$$CH_4 + 1/2\,O_2 \rightarrow CO + 2H_2 + \text{حرارت} \qquad (4)$$

**د اوبو د برېښنایي تجزیې څخه هایدروجن**

برېښنایي تجزیه هغه پروسه ده په کومه کې چې د برېښنا یا برېښنایي وسیلې په کارولو سره د اوبو مالیکولونه په مستقیم ډول په هایدروجن او اکسیجن تجزیه کیږي.

$$e^- + H_2O \rightarrow 1/2\,O_2 + H_2 \qquad (5)$$

د برېښنایي تجزیه کوونکو دوه خورا عام ډولونه الکلاین (د پوتاشیم هایدروکساید الکترولیت یا برېښنایي تجزیه کارول) او $PEM$ (د جامد پولیمیر غشا الکترولیت کارول) دي. په (1) شکل کې د القلي برېښنایي تجزیې سیستم ساده طرحه وړاندې شوې ده. د برېښنایي تجزیې تعامل د خالص هایدروجن سره د ضمني محصول په توګه خالص اکسیجن تولیدوي. اکسیجن بیا د تولیدي موخو لپاره کارول کېدای شي. هایدروجن د برېښنا د کاروني فابریکې، فوټوولټیک ($PV$)، بادي برېښنا، د اوبو برېښنا، یا د اتومي برېښنا په شمول د هرې برېښنایي سرچینې څخه د اوبو د برېښنایي تجزیې له لارې تولید کېدای شي. برېښنایي تجزیه اوس مهال په فې الکترولایزر کې د څو کیلو واټو څخه د 2000 کیلو واټ پورې، په پراخه پیمانه ترسره کیږ کیږي.




1- شکل: د القلي د برېښنایي تجزیې څخه د هایدروجن تولید. [3]

**د تصفیه خانې د غاز څخه د هایدروجن تولید**

د تصفیه خانې غاز د تصفیوي پروسو په جریان کې د تولید شوو غازونو یو مخلوط دی؛ کوم چې د

مختلفو نفتي توليداتو لپاره د ناپاکو تېلو پروسس په خاطر کارول کېږي. د تصفيه خانې غازونو ترکيب تغير مومي او دا د ناپاکو توکو د کومو څخه چې سرچېنه اخلي په جوړښت پورې او په هغو پروسو پورې چې دوي يې د تاثير لاندې دي اړه لري. عمومي اجزاوې يې بيوتانونه، بيوتالېنونه، مېتان او ايتېلين ته شاملې دي. [5]

د صنعتي غاز يا سېنګاز د بخار اصلاح کول کوم چې د بخار مېتان اصلاح ($SMR$) په نوم يادېږي د سوداګرۍ لپاره په لويه پېمانه د هايدروجن توليد او همدا رنګه د هغه هايدروجن چې د امونيا په صنعتي تجزيه کې کارول کېږي د توليد لپاره تر ټولو يوعام مېتود دی. دا تر ټولو ارزانه طريقه هم ده. د تودوخې په لوړه درجه کې ($700 - □ 1100$ ) او د فلز پر بنسټ کتلېسټ (نکل) په شتون کې بخار د مېتان سره تعامل کوي ترڅو کاربن مونوکسايډ او هايدروجن توليد کړي. دا تعاملات په طبيعت کې رجعي دي.

$$CH_4 + H_2O \rightleftarrows CO + 3H_2 \qquad (6)$$

اضافي هايدروجن د توليد شوي کاربن مونو اکسايډ سره د تودوخې د ټيټې درجې غاز- انتقالي تعامل په واسطه بېرته ترلاسه کيدای شي. تعامل د لاندې معادلې په واسطه خلاصه شوی دی.

$$CO + H_2O \rightleftarrows CO_2 + H_2 \qquad (7)$$

لومړی تعامل قوي انډوترميک دی (تودوخه مصرفوي) او دويم تعامل کمزوری اکزوترميک دی (تودوخه توليدوي).

د $SMR$ پروسه ډېره مختلفه ده او د ناپټا د کتلستي اصلاحاتو سره بايد مغشوشه نه شي. د تېلو تصفيه کولو پروسه کومه چې د لوړ اوکتان غاز سره د پام وړ مقدار هايدروجن هم توليدوي د پروسې موثريت يې نږدې ($65 - 75$ %) دی.

د بخار اصلاح کوونکو په مخرج کې جزوي اکسيديشن ريکتورونه يا د کوک د داش د غازونو واحدونه د $CH_4$ , $CO_2$ , $CO$ , $H_2$ لرونکي سېنګاز د $700$ نه $1400$ انټروال پورې د حرارت په لوړه درجه کې په کيمياوي تعامل کې اوبه د پروسې په فشار او د خام توکو او د پروسې د بخار يا اوبو په مخلوط پورې اړه لري.

د $CO$ انتقالي تبادلې له لارې د $CO$ منځپانګې يوه مهمه برخه په کريک شوي غاز کې د اضافي هايدروجن توليد لپاره کارول کېږي چې معادله يې په لاندې ډول ده.[3]

$$CO + H_2O \rightleftharpoons H_2O + CO_2 \qquad (8)$$

دا پروسه اکزوترمېک ده او د کيمياوي توازن لخوا محدوده ده. د $CO$ انتقالي تبادلې درې مختلف ډولونه شتون لري: د $300$ نه تر $450$ سانتي ګېراد پورې د حرارت د لوړې درجې $CO$ ($HT$) انتقالي تبادله: دا پروسه د ريکتور په مخرج کې$CO$ نږدې $2.5$ % ته راټېټوي. د $220$ نه تر $270$ سانتي

ګېراد پورې د حرارت د لوړې درجې $CO$ $(HT)$ انتقالي تبادله: د ریکتور په مخرج کې $CO$ نږدې $0.5$ % ته راټیټوي. د $180$ نه تر $250$ سانتي ګېراد پورې د حرارت د لوړې درجې $CO$ $(HT)$ انتقالي تبادله: د ریکتور په مخرج کې $CO$ نږدې $0.2$ % ته راټیټوي. د هرې پروسې لپاره یو ځانګړی کتلېست باید په ثابت بستر ریکتور کې وکارول شي ترڅو د $H_2$ د تولید اعظمي حاصل ترلاسه شي.[10]

**د بخار میتان اصلاح کولو څخه د هایدروجن تولید**

د بخار مېتان اصلاح هایدروجن او کاربن مونوکساید ته د میتان او اوبو د بخار یوه انډوترمیکه تبادله ده (9 معادله). تودوخه ډېرې وختونه د مېتان خام غاز د احتراق له لارې چمتو کیږي. دا پروسه عموما د تودوخې له $700$ څخه تر $800$ سانتي ګېراد درجو پورې او د $3$ څخه تر $25$ بارونو فشار لاندې ترسره کیږي. لاسته راغلی غاز تقریباً $12$ % کاربن مونواکساید لري؛ کوم چې د اوبو- غاز انتقالي بدلون له لارې وروسته په $CO_2$ او $H_2$ بدلیږي (10 معادله).

$$CH_4 + H_2O + Heat \rightarrow CO + 3H_2 \qquad (9)$$

$$CO + H_2O \rightarrow CO_2 + H_2 + Heat \qquad (10)$$

د هایدروکاربنونو د بخار اصلاح د هایدروجن او تجزیې غاز ($synthesis\ gas$) د تولید لپاره د خورا اقتصادي او غوره پروسې په توګه منل شوې ده. د بخار اصلاح لپاره په لویه کچه د خام توکو ټاکل د موقعیت، شتون او د محلي انرژۍ د پالیسۍ لخوا تعینیږي. د خام توکو دوه ډولونه د طبیعي غاز څخه تر درنې نافتا پورې ساحه لري. ځکه چې تر ټولو ساده خام توکي ډیرې برخې لري (طبیعي غاز په اصل کې مېتان لري، خو ایتان پروپین، بیوتین او نور لوړ هایدرو کاربنونه هم لري)، ډیری کیمیاوي تعاملات په بخار اصلاح کونکې کې واقع کیږي؛ چې د دې ټولو لپاره محاسبه غیرعملي کوي.

(2) شکل د صنعتي هایدروجن تولید ښیي. اصلاح کوونکې تنور ته خام توکي د بېرته راګرځېدلي هایدروجن او بخار د مناسب مقدار سره ګډ د تصفیې د خارج شوي غاز څخه جوړ دي کوم چې په ترتیب سره د اصلاح کوونکي د کتلېست په خپل فعال حالت کې د ساتلو او د کاربن جوړېدو د مخنیوي لپاره اړین دي.[8]

په اصلاح کونکې باندې ترسره کېدونکي تعاملات د بخار- مېتان اصلاح کونکو تعاملاتو څخه عبارت دي. په عمده ډول د بخار په اصلاح کونکې کې څلور اصلاح کونکي تعاملات ($11-15$ پورې معادلې) واقع کیږي پداسې حال کې چې د تودوخې د لوړې درجې (HT) انتقالي بدلوونکې کې ترموډینامیک د انتقالي تعامل ملاتړ کوي (15 معاله). په پروسس شوي غاز کې اضافي تودوخه د اصلاح کوونکي په مخرج کې بیرته ترلاسه کیږي (په $E_1$ کې) او د ډېر لوړ فشار بخار (VHP) لپاره کارول کیږي. د دې بخار یوه برخه




2 – شکل: د هایدروجن د تولید د پروسې ساده شوی دیاګرام. [3]

د خام توکو سره مخلوط وي پداسې حال کې چې پاتې برخه يې د واحد څخه خارج ته صادريږي. په (HT) انتقالي بدلوونکې کې د واقع کېدونکې انتقالي تعامل (15 معادله ) اضافي $H_2$ توليدوي. هغه ګرم سينګاس ($syngas$) چې انتقالي بدلوونکی پرېږدي مخکې لدې چې د رسوب په توګه داخل شوي بخار لرې کولو لپاره نور يخ او تبخير شي؛ کوم چې بيرته پروسې ته بيا کارول کيږي د جوشوونکي اوليه اوبه د مخه - تودولو لپاره کارول کيږي (په $E_2$ کې). د $H_2$ بډايه جريان بيا د فشار دوران کوونکې سطحي جذبوونکي ($PSA$) ته ننوځي؛ کوم چې $H_2$ د رامېنځته شوي غاز څخه جلا کوي. د $PSA$ څخه رامېنځته شوی غاز په اصلاح کوونکي لوښي کې د احتراق لپاره د خارجي سون توکو د پوره کولو لپاره کارول کيږي. عمومي معادلې په لاندې ډول دي.[10]

$$CH_4 + H_2O \rightarrow CO + 3H_2 \quad (11)$$

$$C_2H_4 + 2H_2O \rightarrow 2CO + 4H_2 \quad (12)$$

$$C_3H_8 + 3H_2O \rightarrow 3CO + 7H_2 \quad (13)$$

$$C_4H_{10} + 4H_2O \rightarrow 4CO + 9H_2 \quad (14)$$

$$CO + H_2O \rightarrow CO_2 + H_2 \quad (15)$$

**د ډبرو سکرو څخه د هايدروجن توليد**

هايدروجن د ډبرو سکرو څخه په غاز بدلونې د مختلفو پروسو (د بيلګې په توګه، ثابت بستر، مايع شوی بستر يا داخل شوي جريان) له لارې توليد کيدای شي. په عمل کې غاز ته د کاربن د اعظمي اندازې بدلولو لپاره د داخل شوي جريان پروسه استعماليږي. ځکه په دې پروسه کې د سکرو، قير او فېنولونو کم مقدار رامېنځته کيږي. د پروسې لپاره يو عادي تعامل په لاندې معادله کې درکړل شوی

دی په کوم کې چې کاربن په کاربن مونو اکساید او هایدروجن بدلیږي.

$$C_{(S)} + H_2O \rightarrow CO + H_2$$

څرنګه چې دا تعامل انډوترمیک دی؛ نو د میتان اصلاح په څېر اضافي تودوخې ته اړتیا لري.

CO بیا وروسته د اوبو د ګاز انتقالي تعامل له لارې په $CO_2$ او $H_2$ بدلیږي؛ کوم چې په (15) معادله کې تشریح شوی دی. د ډېرو سکرو څخه د هایدروجن تولید په سوداګریزه توګه ښه پرمختګ دی؛ خو دا د طبیعي غاز څخه د هایدروجن تولید په پرتله خورا پېچلی دی او د لاسته راغلي هایدروجن لګښت هم لوړ دی. مګر څرنګه چې د نړۍ په ډېری برخو کې د ډېرو سکاره ډېر دي او شاید د انرژۍ سرچېنې په توګه پرته له دې چې د دې کارولو لپاره د پاکو ټېکنالوژیو پراختیا وپلټل شي وکارول شي.[8]

**د ترمو کیمیکل څخه د هایدروجن تولید**

د تودوخې له امله د کیمیاوي تعاملاتو له لارې هایدروجن او اکسیجن ته د اوبو تبادله د ترموکېمېکل تجزیې په نوم یادیږي. د ترموکېمېکل پروسې یوه بېلګه د آیوډین/سلفر دوره ده. د دې پروسې لپاره څېړنې او پرمختګ ته اړتیا لېدل کیږي؛ ترڅو د تودوخې په واسطه جدا شوی $H_2$ بېرته ونیسي او د جانبي تعاملاتو مخه ونېول شي او همدارنګه د مضرو موادو کارول له مېنځه ویسي. د داسې موادو په اداره کولو کې د ککړتیا ستونزې خورا جدي دي.[3]

$$H_2SO_4 \rightarrow SO_4 + H_2O + {}^1/_2\,O_2 \qquad (16)$$

$$I_2 + SO_4 + 2H_2O \rightarrow H_2SO_4 + 2HI \qquad (17)$$

$$2HI \rightarrow I_2 + H_2 \qquad (18)$$

$$H_2O \rightarrow H_2 + {}^1/_2\,O_2 \qquad (19)$$

**د فوتوسنتېز څخه د هایدروجن تولید**

د فوتو سنتېز څخه د هایدروجن فوتو- بیولوژیکي تولید په دوه پړاونو کې ترسره کیږي: د فوتو سنتېز (10) معادله او په شنو الجیانو او سیانو بکتریا کې د هایدروجنزسېز په واسطه کتلست شوی د هایدروجن تولید (20) معادله. په دې برخه کې اوږد مهاله اساسي او تطبیقي څېړنې ته اړتیا ده چې د بریالی کېدو په صورت کې به د نوې کېدونکې هایدروجن د تولید لپاره یو دوامداره حل رامېنځته کړي. دا ډول په طبیعي پروسو او د $H_2$ په ارتې تنظیم باندې پوهېدل ډېر اړین دي. په لویو بیوریکتورونو کې د پروسې د وضاحت لپاره میتابولیکه او ارثي انجېنري ممکن وکارول شي. بله لاره دا ده چې مصنوعي فوتو سنتېز په کارولو سره دوه پړاونه بیا تولید کړل شي.[1]

فوتو سنتېز: $$2H_2O \rightarrow 4H^+ + 4e^- + O_2 \qquad (20)$$

د هایدروجن تولید: $$4H^+ + 4e^- \rightarrow 2H_2 \qquad (21)$$

**پایله**

د دې لپاره چې د فوسېل سون توکو د تدریجي کمښت او د نړیوال اقلیمي بدلون لپاره یو حل پیدا شوی وي نوې کېدونکې او پایښت لرونکې د انرژۍ سرچینې په پراخه کچه څېړل شوي او کېږي. په دې مقاله کې د هایدروجن د تولید ټېکنالوژۍ په هر اړخیزه توګه تشریح او بحث شوې دي. د هایدروجن د تولید ترمو کیمیکل پروسې، عادي په غاز بدلول، هایدروترمل په غاز بدلول او بایوماس تجزیې ته شاملې دي. هغه فکتورونه چې په دې پروسو کې د هایدروجن په تولید اغېزه لري د خام توکو په ډول او خواصو، د حرارت په درجې، فشار او تعامل، د بخار- بایوماس نسبت، د بخار- بیو تېلو نسبت، د کتلست او جذبونکې مادې په ډول او مقدار پورې اړه لري. د هایدروجن د تولید لپاره د بایوماس د بخار تجزیه تر ټولو موثره طریقه په پام کې نېول کېدلی شي. د حرارت د ټیټې درجې هایدروترمل په غاز بدلېدنه په زړه پورې وه؛ خو نورې څېړنې ته اړتیا لري.

د هایدروجن بیولوژیکي ټېکنالوژۍ تیاره او روښانه تخمیر، فوتو سنتېز او بیولوژیکي $WGS$ پروسو ته شاملې دي. په دې پروسو کې د هایدروجن د تولید لړ موثریت او د تولید لوړ لګښت لېدل کېږي؛ خو نسبت ترموکیمیکل پروسو ته نظر چاپېریال ته ډېر ښه فعالیت لري. د بیو هایدروجن تولید مظاهره تراوسه محدوده ده او هغه دا چې وده ورکول او اقتصادي کول یې اوس هم یوه ننګونه ده.

**ماخذونه**

1. Amao, Y., Sakai, Y. and Takahara, S. (2016). "Solar hydrogen production from cellulose biomass with enzymatic and artificial photosynthesis system." Research on Chemical Intermediates 42(11): 7753–7759.
2. Balat, H. and Kirtay, E. (2010). "Hydrogen from biomass - Present scenario and future prospects." International Journal of Hydrogen Energy 35(14): 7416–7426.
1. Bhatia S. C. and Gupta R. K. (2018). "Textbook of Renewable Energy". Woodhead Publishing India Pvt. Ltd. 196-175.
2. Duman, G. and Yanik, J. (2017). "Two-step steam pyrolysis of biomass for hydrogen production." *International Journal of Hydrogen Energy* 42(27): 17000–17008.
3. Gnanapragasam, N. V. and Rosen, M. A. (2017). "A review of hydrogen production using coal, biomass and other solid fuels." *Biofuels-UK* 8(6): 725–745.
4. Hydrogen Tools. (2018). "Lower and higher heating values of fuels." Retrieved 17 April 2018, from https:// www.h2tools.org/hyarc/calculator-tools/lower-and-higher-heating-

values-fuels.
5. Kalinci, Y., Hepbasli, A. and Dincer, I. (2009). “Biomass-based hydrogen production: A review and analysis.” International Journal of Hydrogen Energy 34(21): 8799–8817.
6. Kan, T. and Li, Q. (2015). “Influence of temperature on properties of products from steam pyrolysis of rice husk in a fluidized bed.” Energy Sources Part a-Recovery Utilization and Environmental Effects 37(17): 1883–1889.
7. Parthasarathy, P. and Narayanan, K. S. (2014). “Hydrogen production from steam gasification of biomass: Influence of process parameters on hydrogen yield - A review.” Renewable Energy 66: 570–579.
8. Puig-Arnavat, M., Bruno, J. C. and Coronas, A. (2010). “Review and analysis of biomass gasification models.” Renewable & Sustainable Energy Reviews 14(9): 2841–2851.
9. Valle, B., Aramburu, B., Benito, P. L., Bilbao, J. and Gayubo, A. G. (2018). “Biomass to hydrogen-rich gas via steam reforming of raw bio-oil over Ni/La2O3-alpha Al2O3 catalyst: Effect of space-time and steam-tocarbon ratio.” Fuel 216: 445–455.
10. Vladimir S. and Hossain M. A. (2019). Renewable Energy Systems from Biomass: Efficiency, Innovation, and Sustainability: 221-207.

# د قیمتونو لوړوالي علتونه او حل لارې

لیکونکی: پوهنیار رحمت الله منګل
شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، مالي اوبانکي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال ډاکټر رحیم جان دردمل، شیخ زاید پوهنتون اقتصاد پوهنځی استاد

**لنډیز**

قیمت په اقتصاد کې یوه ډېره مهمه موضوع ده هم پلورونکي ته او هم پېرودونکي لپاره، پېرودونکی غواړي د اړتیا وړ توکي په ټیټ قیمت تر لاسه کړي او پلورونکی کوشش کوي تر څو یو توکی په داسې بیه و پلوري، چې پېرودونکي رضایت حاصل کړي او خپله ګټه اعظمي کړي. داچې افغانستان او نړۍ کې نن سبا د قیمتونو لوړوالی د پام وړ موضوع ده او زموږ ټولنې د سواد کچه ټیټه ده، او د قیمتونو موضوع بل ډول توجیه کوي،نو زموږ د دې موضوع په اړه د څېړنې بنسټیزه موخه هم همدا وه، چې قیمتونه ولې لوړیږ؟ عواخل یې څه دي؟ او حلا لاره یې څه ده. موږ دلته په دې څېړنه کې همدغه پوښتنو ته ځواب ویلی او همدې موخې ته د رسېدو لپاره موږ کیفي څېړنه تر سره کړه. دغه څېړنه یوه کیفي څېړنه ده. کیفي څېړنه د څېړنې ستونزه د مختلفو اقتصاد پوهانو له نظره ژوره او په کم وخت کې ښه څېړي او دغه کیفي څېړنه د (document analysis) باندې بنا ده په کوم کې، چې مختلفې منابع کارول کیږي لکه، چاپي اثار، وېبسایټونه، انلاین ډېټابیسونه، د ادارو پالیسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تیار کړي. دغه میتود( Document analysis) ځکه کارول کیږي، چې په دې میتود کې دغه مختلف منابع و څېړل شي تر څو زموږ د اړتیا وړ مواد تر لاسه کړ. څېړونکو د دې ډول څېړنو لپاره (content analysis) میتود استعمال کړی تر څو له نورو مخکینیو څېړنو څخه مالومات راټول کړي. د دې څېړنې په پایله کې موږ د موخې مطابق هغه ټول علتونه روښانه کړي، چې له امله یې قیمتونه لوړیږي او هغه ټولې لارې مو پیدا کړې، چې مختلفو اقتصاد پوهانو د قیمتونو د لوړوالي لپاره معرفي کړې وې. دغه څېړنه کولی شي، د عامو خلکو، سوداګرو او دولتي پالیسي جوړوونکو سره مرسته وکړي، تر څو د قیمتونو د لوړوالي علتونو باندې پوه شي، تر څو عام خلک پوه شي، چې قیمتونه ولې لوړیږي او څنګه ورځنۍ ژوند کنټرول کړي، سوداګرو او دولتي مربوطه سکتورونو سره مرسته کوي تر څو له کومو هېوادونو سره سوداګري تر سره کړي تر څو سوداګر او ملت زیانمن نه شي.

**کلیدي ټکي:** انفلاسیون، انفلاسیون ډولونه، پیسو سیاست، د قیمتونو لوړوالي علتونه، ، قیمتونو کنټرول

**سریزه**

قیمت په اړه خلک فکر کوي، چې قیمت یوازې د پېرودونکي لپاره مهم دی خو داسې نه ده، قیمت د حکومت، خلکو او تولیدوونکو ټولو اړخونو لپاره یوه ډېره اړینه موضوع ده، چې کله، په قیمت کې بدلون راځي د تصدیو، خلکو او حکومتونو په تصامیمو کې د تغیر سبب ګرځي نو له دې څخه مالومیږي، چې قیمت یوه عادي او ساده موضوع نه ده بلکې ډېره پېچلې او حیاتي موضوع ده. نن سبا په افغانستان کې قیمتونه ورځ تر بلې لوړیږي؛ خلک له دولت غوښتنه کوي، چې قیمتونو لوړوالی راکم کړي، خو د خلکو غوښتنه غیرې مسلکي ده، خلک فکر کوي، چې دولت کولی شي مستقیما په پلورونکو او تولیدوونکو فشار راولي تر څو قیمتونه د خلکو په خوښه ټیټ کړي ولې دا سمه نه ده، ځکه خلک، چې څه ډول د قیمتونه په اړه انګیري هغسې نه ده، ځنې بیا په هغو ولایاتو کې، چې په کلدارو باندې راکړه ورکړه کېده او د هغې پر ځای اوس افغانۍ مارکېټ کې رایجه شوه دوی د افغانیو رامنځ ته کېدل د قیمتونو د لوړوالي لامل ګڼي خو؛ داسې نه ده. دغه حالت خلک او حکومت له سختو ستونزو سره مخ کړي دي لکه، غربت، د خلکو کم عاید، د حکومت کسري بدجه، بېکاري، اقتصادي ځوړ او نور هغه څه دي، چې حکومت ورسره مخ دی او بل خوا قیمتونه دومره لوړ شول، که چېرې دولت غواړي، چې مصارف زیات کړي؛ نو بدیجه نوره هم د کسر سره مخ کیږي او که غواړي، چې عواید زیات راټول کړي او لوړ مالیات وټاکي نو غربت، د خلکو عوایدو کموالی او بېکاري به نوره هم زیاته شي. بل پلو خلک نه غواړي د قیمتونو د لوړوالي له امله زیات څه واخلي، چې دا د حکومت لپاره او هم د تصدیو لپاره ستر زیان دی، د حکومت لپاره ځکه زیان دی، چې د خلکو کمه پېرنه د دولت عواید د غیرې مستقیمو مالیاتو په شکل کموي او بل پلو ته د تصدیو او تولیدوونکو تولیدات او خدمات کم خرڅیږي، چې دې سره بې کاري نوره هم زیاتیږي. په دې څېړنه کې به موږ د قیمتونو د لوړوالي(انفلاسیون) په مختلفو لاملونو باندې خبرې کوو لکه د تقاضا له امله انفلاسیون، د مصارفو له امله انفلاسیون، د ګټې زیاتوالي له امله، وارداتي انفلاسیون او د دې تر څنګ د دغو حالاتونو د کنټرول او حل لپاره د دولت د پالیسیو له لارې د حل لارې چارې لکه د پیسو او مالي سیاستونو په وسیله د قیمتونو کنټرول. دلته ستونزه دا ده، چې خلک، سوداګر حتی ځینې مربوطه سکتورونو حکومتي چارواکي د قیمتونو د لوړوالي په علتونو نه پوهیږي، چې له دې امله نور هم زیانمن کیږي دا ستونزه باید حل شي او په دې اړه څېړنې باید تر سره شي، چې لاملونه او حل لاره څه ده، نو موږ دلته همدې ته ځواب وایو.

**د څېړنې موخې**

- عامو خلکو ته، چې د قیمت د کموالي غوښتنه کوي د هغوی لپاره د مسلکي او قانع کوونکو حل لارو ور پېژندل.

- د قیمتونو د لوړوالي علتونه پېژندنه او د غوره حل لارو وړاندې کول.
- د یوه حکومت لپاره د قیمتونو د کنټرول غوره پالیسیو وړاندې کول.

په دې باندې پوهېدنه، چې په افغانستان کې د قیمتونو د لوړوالي علتونه کوم دي.

**مېتودولوژي**

په دې مقاله کې د کیفي څېړنې مېتود څخه ګټه اخستل شوې او ډېټا د مختلفو انګلیسي، دري او پښتو کتابونو او همدا شان له نړیوالو معتبرو انګلیسي مقالو څخه په کې استفاده شوې او د ټاکل شوو اهدافو مطابق، چې پورته ذکر شوي ځای پرځای شوې. دغه څېړنه یوه کیفي څېړنه ده. کیفي څېړنه د څېړنې ستونزه د مختلفو اقتصاد پوهانو له نظره ژوره او په کم وخت کې ښه څېړي او دغه کیفي څېړنه د (document analysis) باندې بنا ده په کوم کې، چې مختلفې منابع کارول کېږي لکه، چاپي اثار، وېبسایټونه، انلاین ډېټابیسونه، د ادارو پالیسۍ، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تیار کړي. دغه میتود(Document analysis) ځکه کارول کېږي، چې په دې میتود کې دغه مختلف منابع و څېړل شي تر څو زموږ د اړتیا وړ مواد تر لاسه کړ.(250-271 :9)

همدارنګه Abdul-Baki and Uthman (2017) and Sutrisno and Haron (2020) په نومونو څېړونکو د دې ډول څېړنو لپاره (content analysis) میتود استعمال کړی تر څو له نورو مخکینیو څېړنو څخه مالومات راټول کړي. لکه څرنګه، چې په دې څېړنه کې موږ هم له مخکینیو څېړنو او کتابونو څخه استفاده کوو او د دې تر څنګ موږ دلته په دې څېړنه کې (document analysis) په اساس کیفي میتود څخه ګټه پورته کوو تر څو د خپلو موخو مطابق ډېټا را ټوله او په سیستماتیک ډول ځای پر ځای کړ.(1243-1250 :15)

**څېړنو ته کتنه** (Literature review)

**انفلاسیون(قیمتونو لوړوالی)** Inflation

انفلاسیون هغه پروسه ده، چې په هغې کې د قیمتونو عمومي سطحه په جاري ډول لوړیږي او په هغې سره په جاري ډول پیسې خپل ارزښت د لاسه ورکوي.(510 :13)

او یا د (ګارډنېر اکلي ) په وینا : انفلاسیون په عمومي سطحه د قیمتونو د اصرار کېدونکي لوړوالي څخه عبارت دی . دلته د یادولو وړ خبره دا ده، چې د عمومي سطحې نه مراد د ټولو اشیاو او خدماتو په قیمتونو کې زیاتوالی نه دی کېدای شي د انفلاسیون په دوران کې هم د ځینو اجناسو په قیمتونو کې نسبي ثبات موجود وي او د څو نورو قیمتونه ښکته روان وي او انفلاسیون دا مانا هم نه لري، چې د اجناسو قیمتونه دې په منظم ډول برابر پرمخ روان وي انفلاسیون په عمومي سطحه د قیمتونو

دمسلسل پورته تګ څخه عبارت دی.(32-1 :10)

**انفلاسیون مانا**

د فریډمن په وینا، چې انفلاسیون هغه وخت رامنځ ته کیږي، چې کله د پیسو عرضه په دوامداره توګه زیاته شي. ښايي تاسې لیدلي وي، چې دپیسو د ودې او انفلاسیون ترمنځ د اړیکې تړل شواهد، چې تر اوسه پرې بحث وشو یوازې هغو حالاتو ته ګوري، چې په هغو کې د بیو کچه په دوامداره توګه په شدید رقم دزیاتوالي په حال کې ده،او دا هماغه د انفلاسیون تعریف دی، چې فریدمن او نور اقتصادپوهان یې په کار وړي،یعنې دهغو په عقیده انفلاسیون تل او په هر ځای کې یوه پولي پدیده ده.(152 :4)

کله، چې تاسې د انفلاسیون نرخ په هکله له خپلو راډیوګانو څخه اورئ، دمثال په توګه د میاشتنې انفلاسیون یو سلنه ده (په کال کې 12%) دا یوازې د دې مانا ورکوي، چې دبیو کچه په هغه میاشت کې یوې سلنې ته زیاتوالی موندلی دی.او دا کېدای شي موقتي وي یا دایمي خو که چېرې د انفلاسیون نرخ دیوې دوامداره مودې لپاره لوړ پاتې شي په همدې توګه فریدمن وایي، چې دبیو په کچه کې صعودي نوسانات یوه پولي پدیده ده،یوازې په هغه صورت کې، چې دا پروسه دوامداره وي.کله، چې انفلاسیون د ګړندي او دوامداره زیاتوالي په توګه د بیو په کچه تعریف شي پدې صورت کې زیاتره پول پلوه یا کینزي پلوه اقتصادپوهان، فریډمن له دې نظریې سره به موافق وي، چې کولی شو پیسې دانفلاسیون عامل وګڼو.(152 :4)

***ډیفلاسیون (Deflation)***

ډیفلاسیون په ملي اقتصاد کې یو له هغو ستونزو څخه دی، چې امتعوي تولید او په بازار کې د محصولاتو او اقتصادي اموالو او پیسو د انډول سره نبغ په نبغه اړیکي لري. څومره، چې په ټولنه کې اقتصادي مناسبات ، د پیسو دوران او د امتعې د تولید پروسه پیچلې کیږي یا د هغو پر اړوند بېلا بېلې پالیسی غوره کیږي، د ډیفلاسیون ستونزه منځته راځي.(74 :5)

ډیفلاسیون د قیمت په عمومي سطحه کې یو ټیټوالی دی. باید یو لوستونکی په سطحي توګه فکر وکړي، چې ډیفلاسیون یوازې د انفلاسیون برعکس دی؛ داسې به ښکاري، خو په حقیقت کې انفلاسیون یو کاملاً بیل اقتصادي حالت او ډیفلاسیون ځانګړی حالت دی؛نو ښه به وي، چې، د ډیفلاسیون په تعریف کې یوازې، داسې ونه وایو ، چې ډیفلاسیون د انفلاسیون بر عکس حالت دی بلکې پوره تعریف یې داسې دی: ډیفلاسیون د قیمتونو په عمومې سطحه کې د ټیټوالي څخه عبارت دی ، چې د پولي انقباض په نوم هم یادیږي او دا هغه وخت پیښیږي ، چې د عرضه شوو اجناسو او خداماتو دوران لاندې پیسو د حجم په پرتله زیات وي یا دا ، چې کله د راتلونکې وېرې څخه او یا د هغې په هکله د بې

باورۍ له امله مستهلکین خپل ارزښت کم کړي او د دوران چټکوالی کم شي. لنډه دا، چې ډيفلاسيون د مستهلکينو د کم مصرف په پايله کې د دوران د سرعت د کموالي څخه عبارت دی. د دې سره جوخت په ملي اقتصاد کې د ډيفلاسيون تفاوت يا پولي انقباض او تشوالی رامنځته کيږي، چې په ترتيب سره د هغو د موجوده قيمتونو سره د خدماتو او اموالو د جذب او د کامل استخدام د تامين لپاره په پام کې دي او د هغو پيسو تر منځ ، چې په رښتيني توګه د دولت او خصوصي موسسو او د ټولنې د افرادو په واسطه لګول کيږي ، تفاوت رامنځته کيږي د هغې مقدار څخه کمې دي ، چې د کامل استخدام د تامين لپاره لازمې وي؛ نو ځکه د موجوده لګښت او د هغې لګښت تر منځ، چې د کامل استخدام لپاره بايد شوی وای ،تفاوت موجود دی. دغه تفاوت ته د ډيفلاسيون تفاوت ويل کيږي .

لکه چې ، پورته وويل شول په ډيفلاسيون کې د پيسو زيات حجم له چلند څخه باسي او دومره اندازه په چلند کې پرېږدي، چې پخوا د انفلاسيون څخه د امتعې دوران لپاره د نوي زيات توليد شوي او يا کم شوي جنس لپاره ورته ضرورت وي.(11: 413)

**د ډيفلاسيون نور لاملونه**

1.ماليه لوړول او هغه اندازه پيسې له دوران څخه باسي ، چې د مالیې له لارې د دولت بوديجې ته ليږدول کيږي.

2.توليد او خدماتي پروسس لوړوي او په هغه اندازه پيسې چلند کې پريږدي، چې د نوموړو توليدي او خدماتي چارو لپاره لازمې ګڼل کيږي.

3.خپل صادرات زياتوي او واردات کموي. بېلانس يې اکتيف کيږي او د اکتيف د بدلون لپاره خپلو ملي پيسو ته اړتيا پيدا کوي او د هغه تغير لپاره په هغه اندازه پيسې د انفلاسيون په وخت کې پريږدي او په غيرې انفلاسيوني وخت کې نوې پيسې دهغې لپاره په کار اچوي.(11: 413)

***نيوليفيکېشن***

کله، چې پيسې خپل ارزښت په يو نظام کې له لاسه ورکړي او خپل نقش په مستحکم او نيمه مستحکم ډول سرته ونه رسوي دولت د پيسو د استحکام له پاره مجبور دی ، چې په نيوليفيکېشن عمل لاس پورې کړي. چې په دې حالت کې دولت نوې پيسې نشروي او پخوانۍ پيسې ناچله او بې اعتباره اعلانوي.

په سرمايداري نظام کې د نيوليفيکېشن موضوع ډېره ليدل کيږي. نيوليفيکېشن د دولت په تصميم سره منځته راځي او زړې پيسې د نويو پيسو سره تر يوې ټاکلې مودې پورې بدليدای شي او له هغه وروسته زړې پيسې له چلنده وځي او ټول کارګران نوې پيسې د خپل کار په مقابل کې لاسته راوړي لکه افغانستان کې، چې په 2002 کال کې زړې افغانۍ له منځه لاړې او نوې افغانۍ رامنځ ته شوې او نوې

ارزښت ورته و ټاکل شو.

**د قیمتونو د لوړوالي علتونه**

**د علتونو په اساس انفلاسیون ډولونه**

**1- تقاضا کش کوونکی انفلاسیون (Demand Pull Inflation)**

که چېرې دعرضې لوړېدل دتقاضا سره مساوي نه وي نو دغه په عموم کې دقیمتونو د لوړېدو سبب ګرځي، چې دغه حالت ته تقاضا کش کوونکی انفلاسیون وایي. یا په ساده ډول دغه انفلاسیون هغه وخت رامنځته کېږي کله چې تقاضا دشیانو او خدماتو دعرضې څخه لوړه شي. او دا ډول انفلاسیون ته دمجموعي تقاضا انفلاسیون هم وایي. موثره تقاضا شیانو ته دلاندې فکتورونو په اساس رامینځ ته کېږي.دپیسو په عرضه کې زیاتوالی،دحکومت لخوا شیانو ته دتقاضا زیاتېدل، دتولید د مختلفو فکتورونو عوایدو زیاتیدل،یا په لنډ ډول بې حده زیاته دپیسو عرضه دانفلاسیون حالت منځ ته راوړي.تقاضا کش کوونکی انفلاسیون د وسایلو کمښت او کارګرانو په کمښت سره هم مشخص کیدای شي.(6: 60-61)

دمجموعي تقاضا دپورته کېدو وسایل: دپولي علم پوهان لکه فریډمن او د هغې پیروان پدې عقیده دي چې انفلاسیون همیشه او په هر ځای کې یوه پولي پېښه ده، د دوی په عقیده کله چې مرکزي بانک په یوه اقتصاد کې د تقاضا څخه زیاتې پیسې چاپ او نشر کړی نوځینې شیانو ته تقاضا لکه سون توکو ته زیاتیږي.دپولي اقتصاد کورنی عقیده لري کله چې د پیسو عرضه د هغو پیسو څخه علاوه، چې خلک اوتصدی یې دځان سره ساتي زیاتې شي نو ورسره په مجموعي تقاضا کې هم زیاتوالی رامنځ ته کوي او دغه اجناسو او خدماتو ته دافراطي تقاضا د مصارفو دزیاتوالي سبب ګرځي او دغه د مصارفو زیاتوالی قیمتونه پورته خوا ته کشوي.

J.M.Keynes او د هغه همکاران تقاضا کش کوونکی انفلاسیون یا دتقاضا په واسطه رامنځ ته شوی انفلاسیون یو پولي واقعه نه بولي د دوی په وینا کیدای شي یو یا د یوه څخه ډېر فکتورونه دمجموعي تقاضا زیاتوالي ته لار هواره کړي دمثال په ډول داخلي مستهلکین کېدای شي زیات اجناس او خدمات خریداري کړي سبب یې په شتمنی کې ډیروالی همدارنګه کاروبارونه دزیاتې ګټې او سود د نرخ دکموالي په توقع زیاته پانګه اچونه کوي،دخارجي تقاضا زیاتوالی د داخلي اجناسو ته مجموعي تقاضا په واسطه رامنځ ته شوی. (125-123 :8)

**2-دمصارفو څخه راټوکیدونکی انفلاسیون (Cost Push Inflation)**

دغه انفلاسیون هغه وخت رامنځته کېږي،کله، چې زیاتېدونکي مصارف دتولیداتو عمومي قیمتونو څخه لوړ وي دمصارفو څخه راټوکېدونکی انفلاسیون همدارنګه هغه وخت منځته راځي کله چې دیو

هیواد اقتصاد استخدام اخري حالت ته رسیدلی وي، پدې حالت کې بیا هم قیمتونه پورته کیږي. سره د دې، چې دشیانو عرضه ډېره هم وي. همدارنګه د دغه انفلاسیون په نتیجه کې دمزد مصارف لوړیږي اودهغې سره موازې تولیدات زیاتوالی نه مومي. او د ورداتي اجناسو قیمتونه هم لوړیږي، په خارج کې دپیسو بې اعتباره کېدل د دې انفلاسیون دلاملونو څخه ګڼل کېږي. دغه ډول انفلاسیون له لاندې لاملونو څخه رامنځ ته کیږي: په مزد کې زیاتوالی، د ګټې زیاتوالی، د خامو موادو قیمتونو کې زیاتوالی، مالیاتو لوړ والی او د وارداتي اجناسو قیمتونو لوړوالی.(3: 35)

**3-د ګټې څخه را پیداشوی انفلاسیون** (Profit Induced Inflation)

دغه انفلاسیون په حقیقت کې(cost push inflation) په کټګورۍ کې راتلی شي کله، چې تولید کوونکي او خرڅوونکي د انحصار په وجه ګټه لوړوي.کیدای شي(profit induced inflation) سبب وګرځي.

**4- بودجوي انفلاسیون** (Budgetary Inflation): اکثره وختونه کله چې د حکومت په بودجه کې کسر رامنځته شي.پدې معنی چې عواید یې نظر مصارفو ته کم شي نو پدې صورت کې حکومت د بودجې د کسر پوره کولو لپاره نوي بانک نوټونه چاپوي،چې پدې سره تقاضا زیاتیږي، او د انفلاسیون د رامنځته کېدو سبب ګرځي. په دې ځای کې بدون لدې چې تولید د شیانو زیات شي،بلکې په عمومي ډول قیمتونه پورته کیږي

**5- پولي انفلاسیون** (Monetary Inflation): Milton Friedman په دې عقیده دی، چې دا ډول انفلاسیون یوازې د پیسو د تېزې عرضې په وجه راپیدا کېږي، بل هیڅ علت نه لري.

**6- څو اړخیز انفلاسیون** (Multi Casual Inflation): دغه انفلاسیون یو تعداد علتونه لري.چې مهم یې دادي.دپیسو په عرضه کې زیاتوالی، بې حده زیاته د مزد تقاضا، بې حده زیاته د شیانو تقاضا،د شیانو کمښت او داسې نور. یو علت د انفلاسیون نه شي کیدای چې په بل کال به هم د دې علت په وجه انفلاسیون منځ ته راغلی وي. څرنګه، چې انفلاسیون مختلف علتونه لري نو ددې لپاره مختلف النوع پالیسیو ته ضرورت دی، چې دانفلاسیون سره ورباندې مبارزه وکړی شي.(65 :13)

**د شدت له مخې انفلاسیون**

**1- خفیف انفلاسیون** (Mild Inflation): که په یوه هېواد کې په قیمتونو کې په ورو ډول زیاتوالی راشي،نو دیته حفیف انفلاسیون وایې.

**2-شدید انفلاسیون:** کله چې په یو هیواد کې په ډیر سرعت سره په قیمتونو کې اضافه والی راشي نودیته شدید انفلاسیون ویل کېږي.چې دغه انفلاسیون دجنګ اونورو غیرې مترقبه پیښو څخه وروسته رامنځته کېږي.چې ددغه انفلاسیون په نتیجه کې عاید او پانګه اچونه کمېږي،چې پدې صورت کې

خلک دخپل ملک په پولي واحد اعتبار نه کوي. احتکار او تور بازار وده کوي د ټاکلي عايد خاوندان سخت متاثره کېږي،د دولت په وېش کې بې عدالتي خپلې لوړې کچې ته رسېږي.همدارنګه د مزدورانو او ملکانو ترمنځ هم جنجالونه زیاتیږي.

**استخدام په وجه انفلاسیون** (On the Basis of Employment)

**1-نیمګړی انفلاسیون (**Partial Inflation**)**:J.M.Keynes دوینا مطابق دغه ډول انفلاسیون هغه وخت منځ ته راځي،چې د شیانو تولید مصارف زیاتېږي. او د هغې په نتیجه کې عمومي قیمتونه يو څه لوړېږي. داستخدام ته دنه رسیدلي حالت په نتیجه کې د پیسو عرضه هم د نیمګړي انفلاسیون سبب کېږي.

**2-بشپړ انفلاسیون (**Full Inflation**):** کله چې دیو هېواد اقتصاد کامل استخدام حالت ته رسیږي پدې وخت کې بشپړ انفلاسیون منځ ته راځي. د پیسو په عرضه کې زیاتوالی، چې داستخدام کچې څخه زيات وي او د بل طرفه تولید مقدار د هماغه په تناسب نه زیاتیږي. پدې حالت کې هم full inflation منځ ته راځي. او همدارنګه دغه انفلاسیون ته حقیقي انفلاسیون هم وايي. دانفلاسیون د علتونو په برخه کې اقتصادپوهان سره موافق نه دي، خو بیا هم دوه عمومي توضیحات ورکړل شوي دي.(13: 66)

**د ګړندیتوب په اساس انفلاسیون**

1-ښویدونکی (Creeping Inflation)

دا هغه انفلاسیون دی، چې په هغه کې د نرخونو عمومي کچه په یوه موده کې په ډېر ورو ډول پورته ځي،په دا ډول حالت کې د نرخونو سطحه (2٪) په کال کې پورته ځي.

2-مزل کوونکی انفلاسیون (Walking Inflation)

دا ډول انفلاسیون یو ډول معلوم زیاتوالی دی په انفلاسیون کې او د خپوړې وهوونکي انفلاسیون سره پرتله کېدای شي پدې حالت کې قیمتونه په کال کې(۵٪) لوړېږي.

3- **منډه وهوونکی انفلاسیون** (Running Inflation)

په دغه ډول انفلاسیون کې د قیمتونو کچه په کلني ډول له 8 تر 10 فیصدو پورې رسیږي.

4- **ټوپ وهونکی انفلاسیون** Galloping Inflation or Hyper Inflation

دغه انفلاسیون کې قیمتونه د انفلاسیون لوړ حالت دی(Keynes) دغه انفلاسیون د inflation اخري مرحله بللې ده.دغه مرحله د انفلاسیون هغه وخت شروع کېږي، چې د استخدام کچه اخري حالت ته ورسېږي په دې انفلاسیون کې قیمتونه په لنډه موده کې لوړېږي. ډېر تېز(ټوپ وهوونکی انفلاسیون کله، چې پورته کېدل دنرخ دمزد اوقیمتونو دلوړېدو سبب شي دا بیا هم نرخونه پورته کیدل بلل کېږي.

دنرخونو تېز پورته کېدل هیڅکله ښه نه دي داسې حالت (1923-1920)م پورې په جرمني کې پېښ شوی او پدې وروستیو کې بیا په چین او هنګري کې هم پېښ شو. پدې سره تولید او حتی تولنيز نظام ګډوډېږي،کله، چې پیسې ارزښت دلاسه ورکوي پدې حالت کې دټولنې دلویو ګروپونو شتمنی له منځه ځي.پوروړی پخپلو پور ورکوونکو پسې لګیا کېږي تر څو په ټیټو پیسو د دوی قرضونه ور پرې کړي . هغه چا، چې په ګټه پیسې اخیستې وي په پیسو کې ګټه کوي لیکن پدې سره دوی نرخونه نور هم پورته بیايي، دجنوب یو کس هم confederate inflation په وخت کې ویلې وو، چې موږ به مغازوته پیسې په جیبونو کې وړلې او غذايي مواد به مو په ټوکرنو کې راوړل خو اوس موږ پیسې په ټوکرنو کې وړو او غذايي مواد په جیبونو کې راوړو.هر شی ګران دی خو پیسې ارزانې دي نرخونه نامعلوم او تولیدات غیرمنظم دي یو خوراک، چې دموسیقی د کنسرټ سره برابر وو.اوس هغه شل چنده قیمت شویدی بیزنس اکثره وخت په ټپه ولاړ حالت کې دی ځکه، چې هیڅوک نه پوهیږي، چې څومره پیسې واخلي موږ به د جنګ نه وروسته قرار شو ځینې دا وايي. په نتیجه کې هر سړی ښه بولي، چې خپل شیان وساتي(احتکار) وکړي او کوشش کوي، چې د بدو(ټیټو) پیسو نه ځان خلاص کړي چې داحالت به پیسې دجریان څخه اوباسي.او حالت به دې ته وروګرځي، چې خلک شیان په شیانو واخلي نه په پیسو، چې ورسره نور نا راحتي هم رامنځته کېږي.خوشبختانه،د لوړ انفلاسیون حالتونه ډېر کم دي او یوازې څو حالتونه دي خو د جنګ نه وروسته حالت او دانقلابونو په وخت جلا خبره ده.په اوس وخت کې د نرخونو دوامداره مخ پورته خوځېدنه وېره رامنځته کوي.سوالونه راپورته کېږي چې آیا دا دوامداره مخ پورته خوځېدنه دنرخونو، به تېز انفلاسیون رامنځته کړي؟ د دې لپاره هیڅ معلوم ځواب نشته. دنن ورځې اکثره اقتصادپوهان اندېښمن وي کله، چې د نرخونو دوامداره مخ پورته کېدنه رامنځ ته کېږي د جنګ نه وروسته لومړیو کالونو کې د نرخو تېز پورته کېدو یو شمېر اقتصادپوهان ناهیلې تیاره او نامعلوم حالت ته کش کړل. دکار یا مزدورۍ او نرخو جګېدو څخه پرته موږ هیڅکله بشپړ روزګار ته نه شو رسېدی.د نرخونو سمولو بورډ کولی شي، چې بشپړ روزګار رامنځته کړي او نرخونه آرام وساتي او دا دواړه سره سم کړي.(112-111 :7)

**د انفلاسیون نور ډولونه**

**وارداتي انفلا سیون**

دغه انفلاسیون هغه انفلاسیون دی، چې د وارداتو تابع وي کله، چې هم د وارداتو په قیمتونو کې زیاتوالی راځي نو په واردوونکي هېواد کې د انفلاسیون د راتلو او یا زیاتېدو لامل ګرځي دغه انفلا سیون هغه وخت په یوه هېواد کې وجود ښیي چې کله یو هېواد تر زیاتې اندازې په بل هېواد تکیه ولري، چې کله په صادروونکي هېواد کې انفلاسیون رامنځ ته کېږي نو په واردوونکي هېاد کې هم انفلاسیون رامنځ

ته کیږي، چې دغه انفلاسیون په اصل کې د یوه هېواد څخه بل هېواد ته لېږدول کیږي او یو ښه مثال یې افغانستان دی، چې د وارداتو زیاته تکیه یې په پاکستان، چین، ایران، منځنی اسیا ده، نو کله چې په پورته هېوادونو کې انفلاسیون راځي، مالیات لوړیږي او یا بل ډول تغیر راځي نو په افغانستان مستقیم اغېز کوي.

**بنستیزو پروژو له امله انفلاسیون**

په لنډ ډول داسې ویلی شو، چې دغه انفلاسیون هغه مهال رامنځ ته کیږي، چې کله هم یو هیواد په پراخ ډول د بنستیزې پروژې په کار واچوي، چې په پایله کې د خلکو عواید ډېر په سرعت سره لوړیږي او هم مهاله د دې سره بیې هم لوړ والی پیدا کوي.

**د تولیداتو له امله انفلاسیون**

پدې معنی، چې کله د تولید د عواملو قیمتونه لوړ شي نو د اجناسو قیمتو نه هم ورسره لوړیږي دلته درې لاملونه په نښه کوو 1 : مزد او معاش 2: د سرمایې ګټه 3: پیش بیني. دغه درې واړه عوامل د شرایطو مطابق کولی شي، چې د انفلا سیون د رامنځ ته کېدو لامل شي(2:58-59).

د ورکړو له امله انفلاسیون

د پرداخت (ورکړو ) له لارې انفلاسیون، چې کله خلک زیات تادایات وکړي دلته د خلکو مصارف زیاتیږي همدارنګه دلته زیاتې پیسې د خلکو او دولت له خوا بازار ته عرضه کیږي، د پیسو ارزښت کمیږي او د انفلاسیون د رامنځ ته کیدو لامل کرځي .

د کنټرول د درجې په اساس انفلاسیون

**دا ډول انفلاسیون په دوه ډوله دی.**

1- **خلاص انفلاسیون** (open inflation)

پدې انفلاسیون کې د قیمتونو دلوړېدو سطحه دکنټرول څخه ووځي.Milton Friedman دغه انفلاسیون پدې ډول تشریح کوي،دا انفلاسیون هغه پروسه ده، چې په هغې کې قیمتونه پرېښودل کېږي، چې لوړشي دحکومتي ارګانونو او دې ته ورته ادارو له خوا نه کنټرول کېږي.

2- **بند انفلاسیون** (suppressed inflation)

پدې ډول انفلاسیون کې حکومت هڅه کوي، چې قیمتونه کنټرول کړي. حکومت نه پرېږدي، چې قیمتونه لوړ شي. (13: 64-65)

**د قیمتونو د کنټرول حل لارې**

پولي سیاست تعریف: پیسو پالیسي هغه پالیسي ده، چې د یوه هېواد مرکزي بانک په وسیله مخکې ورل کیږي تر څو د پیسو عرضه او کرېډیټ وربانډې کنټرول کړي.(14: 263)

لکه مخکې هم موږ ذکر کړه، چې خلک څه ډول د قیمتونو د کنټرول په اړه فکر کوي او له حکومته غوښتنه کوي هغه غوښتنې غیرې مسلکي دي او هغه غوره لارې نه دي او امکان هم نه لري، چې قیمتونه دې هغسې کنټرول کړي نو اقتصاد پوهان لاندې مختلفې لارې، چې د مرکزي بانک له خوا په لاره اچول کیږي اسلامي او دودیزې لارې دي.

**1-مالي اقدام** (Fiscal Measure)

مالي اقدام د کینزي انقلاب څخه وروسته اهمیت پیدا کړ،موږ باید په دې پوه شو، چې مالي پالیسي د حکومت د لګښتونو او مالیاتو سره سروکار لري.د دې لپاره، چې انفلاسیون کنټرول کړی شي،نو حکومت باید غیرې انکشافي لګښتونه کم کړي. لکه دانتقالاتو مصارف،او په ضمن کې خېر ښیګڼې تادیات باید کم کړی شي، چې دا په خپله د لګښتونو کمښت او د تقاضا کموالې سبب ګرځي، په خاصو مالیاتو کې زیاتوالی د عمومي مالیاتو دبهتروالي باعث ګرځي، چې د هغې په نتیجه کې یو شمیر شیان له خلکو حکومت ته انتقال مومي او په دې سره استهلاکي مصارف کموالی کوي، خو ډېر سخت پابند مالي اقدامات به د قیمتونو د ډېر تېزوالې مخنیوی وکړي،په هغه صورت کې، چې حکومت غیرې تولیدي مخارج کم کړي.

**2- پیسو اقدام** (Monetary Measures)

اکثره وخت د پیسو پالیسي مرکزي بانک سره تړلې وي، نو ټول هغه اقدامات، چې د مرکزي بانک لخوا پورته کېږي د پیسو د عرضې لپاره پولي پالیسي بلل کېږي. هر کله چې مرکزي بانک د سود نرخ زیات کړي، چې په دې صورت کې قرض ورکول ګرانیږي، چې دغه عمل دقرض ورکړې دکمښت سبب ګرځي او ملي عواید تر تاثیرلاندې راولي او دقیمتونو د کچې دټیټوالې باعث کېږي.که چېرې مرکزي بانک ارزښتمنې پاڼې خرڅوي،او دتجارتي بانکونو د زېرمو کچه زیاتوي،او یا تجارتي بانکونو ته کریډیټ ورکوي په دې صورت کې دپیسو عرضه په یو هېواد کې کموالی پیدا کوي. سره له دې بیا هم باید د قیمتونو په کچه او عمومي تقاضا باندې کنټرول صورت ونیسي.

3-**ساختماني اقدام** (Structural Measure)

دغه ټول اقدامات به یا خو مجموعي عرضه زیاته کړي یا به عمومي تقاضا کمه کړي،او په لاندې ډول ښودل کېږي.

**1-په زراعتي او صنعتي لګښتونو کې زیاتوالی**

کوم بدلون، چې د یوه هیواد په زراعتي سکتور کې راځي دهغې په وجه به د نوموړي هیواد تولیدات د غنمو، وریجو او پنبې د زیاتوالې لامل وګرځي. هر کله، چې د یوه هیواد زراعت د مېکانیزه کولو په مورد

- دقرض داوراقو خريد چې د سرمايې دجلب کوونکي هيواد لخوا نشر او د نورو هيوادونود اشخاصو پواسطه ترسره کيږي.

**د رسمي پانګونې ډولونه**

د هيوادونو دوجانبه قراردادونه چې په اعتباري شکل د قرض په شکل اويا د بهرنيو مرستو په اساس چې د دوی د مرکزي بانکونو ترمنځ صورت نيسي او يا دبين المللي سازمانونو پواسطه لکه د بانک جهانی يا IMF اويا نور سازمانونه چې نورو هيوادونو ته پيسي انتقال کوي دعمومی پانګونې په نوم يادېږی. ددې قرضونو ځينې برخې په مستقيم ډول دهغه هيواد په اختيارکې وي کوم هيواد چې پشنهاد کړي وي او اختيارلری چې کوم ځای کې وغواړي ورڅخه استفاده وکړي؛ خوځينې ددې قرضونو څخه نورو هيوادونو یاسازمانونو ته په ځينې شرطونوسره ورکول کيږی يعنې هغه سازمانونه چې قرضونه ورکوي بايد دمصرف اندازې ګزارش دمربوطه هيواد څخه ترلاسه کړی.(1:56)

**د حقوقي مسايلو له نظره پانګونه**

مستقله بهرنۍ پانګونه له حقوقي نظره هغه پانګونه ده چې ٪۱۰۰ د بهرنیو شرکتونو په ملکیت پورې تړاو ولری، چې پدې ډول پانګونه کې د داخلی پانګونې لپاره کوم ځای وجود نه لري او بهرنۍ مستقله پانګونه د بشپړ استقلالیت درلودونکې ده.

په اکثره مخ پرودې هیوادونو کې بهرنۍ پانګونه د مشترکې پانګونې په توګه صورت نیسي؛ پدې ډول پانګونه کې دپانګونې مصارف او ترلاسه شوی ګټه دهغوی په تناسب د بهرنۍ او داخلي سرمایګذارانو ترمنځ تقسیم کیږي؛ چې نوموړی پانګونه په دووبرخو تقسیم کیږي.(1:59)

قراردادی مشترکه پانګونه مشترک مشابې قراردادونه دي، چې دهغې په اساس هغه لازم او قانونی روابط د دواړو هیوادونو ترمنځ قرارداد کیږي، اوددې پانګونې مهم خصوصیت د وخت محدودیت دی، چې د نوموړی وخت په پای ته رسیدو سره پانګونه هم پای ته رسیږي.

سهامي مستقېمه مشترکه پانګونه یوه رواج شوې بهرنۍ پانګونه ده؛ چې دملکیتونو دتقسیم، اسهام او سرمایه د بهرنۍ او داخلي سهمدرانو له طریقه صورت نیسي؛ چې معمولاً شریکان د خپل سهم په نسبت د یو تولیدی واحد په مدیریت کې رول لری، چې د نوموړی پانګونې لپاره سرمایدران په معمولی ډول قراردادونه په خپل منځ کې د قوانینو په چوکاټ کې تنظیم کوي.(8:75)

**موندنې**

دا چې د دې څېړنې اساسي موخه دغیږې مستقېمې بهرنۍ پانګونې د عدم اطمنان اقتصادي اغېز تحلیل دی او د دغې اغېز مالومول یوه مهمه چاره ده او همدارنګه دافغانستان په اقتصادي وده او پرمختیا کې دپانګونې اغیزه خواره ډېره ده؛ ځکه چې سرمایه دهیواد د اقتصادي فعالیتونو دپراختیا لپاره د تولید دعواملو څخه یو مهم عامل ګڼل کیږی، چې په هیواد کې پانګونه د سولې اوثبات په راوستو، اقتصادي او صنعتی پرمختیا او د سیمې دهیوادونو ترمنځ غېرمسیقېمه پانګونې د اقتصادي، سیاسي او صلح خوښوونکو آغېزو ارزونه ددې اثرموخه او مبریت ګڼل کیږی. دلته موږ د څېړنې په پای کې دا تر لاسه کړه، چې د داخلی هیواد په نسبت په بهر کې د ګټې دزیاتوالی موجودیت؛ یا په مستقیم ډول د خپلې سرمایې کنترول کول او همدا ډول دتعرفې مخنیوی او نورګمرکي تجارتي موانع، صادراتی قرضونه چې کوربه هیواد یې نورو هیوادونوته د تولیداتو د صدور لپاره ورکوي؛ یو له هغه دلایلو څخه دی چې مخ پرودې هیوادونه پدې باندې توانیږي، چې بهرنۍ پانګونه د تولیداتو د زیاتوالی په خاطرجذب کړي؛ همدارنګه د تولید دعواملو دقیمت کموالی یو بل علت دی، چې بهرنۍ مستقېمه پانګونه د تولید دعواملو قیمت کموي چې دا د تولید دمصارفو دکموالی باعث ګرځي او په نتیجه کې د متصدی ګټه زیاتیږی همدغه دلایل دي، چې مخ پرودې هیوادونه خصوصاً افغانستان داقتصادي رشد لپاره د بهرنۍ مستقېمې پانګونې سره موافق دی. خو اکثره مخ پرودې هیوادونه نه توانیږی چې د پیشرفته تکنالوژی سره خپل ځانونه اعیار کړي؛ ځکه چې نوموړی هیوادونه د حامو موادو تهیه کوونکې هیوادونه دي او نشی کولای، چې صنعتي هیوادونو ته حام مواد ورکړي چې ارزانه حام مواد او ارزانه دکار قوه یو بل دلیل دی، چې دبهرنۍ مستقېمې پانګونې د جذب باعث ګرځي.(4:65)

همدا شان موږ پوه شو، چې دغېرې مستقبمې بهرنی پانګونې عمده علت دهیواد څخه بهر د ګټې لاس ته راوړل دي یعنې د اقتصادي مقاصدو په نظرکې نیولوسره زیاته ګټه دغېرمستقبمې بهرنی پانګونې عامل دی؛ چې دهیواد اتباع په بهرنیو هیوادونو کې د بیه لرونکي پانې رانیسي، ځکه چې دهغه ګټه نظر د هیواد داخل ته ډیره ده؛ نو ځکه متصدیان کوښښ کوي، چې د پانګونې خطر حد اقل ته ورسوي، نوپدې اساس دهغه شرکتونو اسهام خریداری کوي چې دهغوی ګټه حد اکثر یا زیاته او خطر یې حداقل یاکم وي.(4:69)

دغېرمستقبمې بهرنی پانګونې عدم داقتصادي اغېز تحیل :لکه څرنګه مو چې یادونه وکړه، دغېرمستقبمې بهرنی پانګونې عمده علت دسرمایې څخه د زیاتې ګټې لاس ته راوړل دي؛ همدارنګه بهرني پانګه اچوونکي د قرض پاڼو او دشرکتونو د اسهاموپه اخیستلوسره د اسهامو په بازارکې او خصتاً په بهرنیو بانکونوکې د خپلو سرمایې د خطراتو کموالی په خاطر اقدام کوي.( 5:112)

نو ددې هدف لپاره هدف دغه ډول پانګونه دمستقبمې بهرنی پانګونې برعکس ده یعنې دزیاتې ګټې لاس ته راوړل دي، چې پدې سبب نوموړی پانګونه د اقتصادي ودې سره قوي رابطه نلري، نو داقتصادي ودې سره دغه ډول پانګونه په عمومي ډول سره لنډمهاله ده؛ او د مستقبمې بهرنی پانګونې په ډول اوږد وخت په برکې نه نیسی، چې د بشري قوې په زده کړه مثبت تاثیرات نشي درلودلی؛ همدارنګه د مستقبمې بهرنی پانګونې څخه دمقایسې په اساس یوهیواد نه شی کولای، چې ددې پانګونې په اساس اقتصادي ودې ته ورسیږی؛ ځکه چې غېرمستقبمه بهرنی پانګونه یوازې او یوازې دمالي منابعو انتقال دیوهیواد څخه بل هیواد ته په برکې نیسي او د یوې موثرې تکنالوژی انتقال چې د یوه هیواد داقتصادي ودې لپاره له مهمو عواملو څخه شمېرل کیږي په برکې نه لري.(3:55)

له بله طرفه غېرمستقبمه بهرنی پانګونه دیو نقدي قدرت درلودونکی ده، نسبت نورو پانګه اچونو ته، نو کیداشی ددې سبب شی، چې په هیواد کې مالي بحرانونه رامنځ ته کړي او د اقتصادي ودې په مقابل کې خنډ واقع شي او دنوموړی ودې څخه مخنیوی وکړی؛ همدارنګه غېرمستقبمه بهرنی پانګونه د مالي بحرانونو په درشل کې دخپل ځان څخه مطابقت او انعطاف پذېری نده ښودلې او د خپلو نوساناتو په اساس یې د بحراني پیښو راتګ ته لمن وهلې ده. په اکثره هیوادونو لکه افغانستان په شان په یوه پرمختیایې هیواد کې د اقتصادي ودې په مقابل کې یو لوی خنډ واقع شوېده، چې په اکثره پرمختیایې هیوادونو او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د مستقبمې پانګونې په نسبت دغېرمستقبمې بهرنی پانګونې ونډه زیاته ده، چې تاثیرات یې دهیواد په اقتصادي وده باندې منفي دي، ځکه چې اکثره غېرمستقبمه بهرنی پانګونه د قرض پاڼو په ډول صورت نیسي، چې دهغې تاثیرات د یوه هیواد په اقتصادي وده باندې پدې پورې تړاو لری، چې ایا دغه قرضونه فقط یو تولیدي امورات دي او یا داچې دغه یوازې استهلاکي قرضونه دي، ځکه چې د نوموړیو قرضونو څخه اکثره په غېرتولیدي برخو کې استفاده کیږي او یوازې استهلاکي مصارف پېژندل کیږي.(UNWI, n.d.)

همدارنګه مستقبمه بهرنی پانګونه د پرمختللی تکنالوژی او متحصصې کاری قوې او نورو عواملو سره ارتباط لری، چې نوموړي عوامل په افغانستان کې کم دي او یوازې غېرمستقبمه پانګونه نشی کولای، چې دهیواد په اقتصادي وده باندې مثبت تاثیرات وارد کړي. (UNWI,n.d.)

داچې افغانستان یو پرمختیایي هیواد دی او اقتصادي وده یې د نورو پرمختللو هیوادونوپه نسبت په ډیره ټیټه درجه کې ځای لري اود تولید د اکثره عواملو د کمبود سره مخامخ دی، چې دامنیت له لحاظه یې اقتصادي قلمرو د داخلی اوبهرنی پانګونې لپاره مساعد نه دی، نو ځکه د افغانستان مارکیټونه د بهرنیو سوداګرو لپاره داجناسواو توکو د خرڅلاوو لپاره بهترین مارکیټونه دي، دوی نه غواړی ترڅو په افغانستان کې د دوی پانګونې په مقابل کې بهرنی غېرمستقیمه پانګونه صورت ونیسی، ترڅو د دوی ګټې له ستونزوسره مخامخ کړي؛ دوی هڅه کوي، چې غېرمستقیمه پانګونه دغېرمستقیمې لارې تحریب کړی.(8:67)

دنورو هیوادونو پواسطه په یوه هیواد کې په مستقیم ډول پانګونه چې دهغې پواسطه په نوموړی هیواد کې استخدام او تولیدات زیاتوالی کوي، چې نوموړی زیاتوالی ددې باعث ګرځي؛ ترڅو په نوموړي هیواد کې اقتصادي رشد رامنځ ته کړي، پداسې حال کې چې غېرمستقیمه پانګونه ددې برعکس ده، چې دیوه هیواد په اقتصادي رشد باندې منفي تاثېرات لري.(10:89)

**پایله اخیستنه**

دغېرمستقیمې بهرنی پانګونې تاثیرات دیوه هیواد په اقتصادي رشد باندې منفي دي، خو دمستقیمې بهرنی پانګونې تاثیرات د یوه هیواد په اقتصادي رشد باندې په اکثره وختونو کې مثبت دي ؛ پداسې حال کې چې دغېرمستقیمې بهرنی پانګونې تاثیرات په اقتصادي رشد باندې منفي دي اما په هغه هیوادونوکې چې دمستقیمې پانګونې ونډه غېرمستقیمې پانګونې ته زیاته وي؛ نو پدې حالت کې بیا مثبت تاثیرات هم لري. اکثره قرضونه چې دمطالعې لاندې نیول شوي، اکثره یې استهلاکي جنبه لري او په تولیدي برخه کې ترې استفاده نه کیږي نوپدې دلیل د نوموړي پانګونې تاثېرات د افغانستان په اقتصادي رشد باندې منفي دي؛ په همدې ډول دغېرمستقیمې بهرنی پانګونې له طریقه د اقتصادي رشد د غښتلی کولو په خاطر اقتصادي پلانګذاری امکان منونکی نده، ځکه چې د غېرمستقیمې بهرنی پانګونې دنوساناتو انتقال زیات دی. داچې غېرمستقیمه بهرنی پانګونه دپرمختللي تکنالوژۍ متحصصې کاري قوې اونورو عواملوسره ارتباط نه لري، نو په یوازې توګه د اقتصادي رشد لپاره بسنه نه کوي؛ په همدې ډول داقتصاد دعلماوو په نظریاتو سره غېرمستقیمه بهرنی پانګونه دیوه هیواد په اقتصادي کړنوکې دسرمایې د تامین لپاره بهترین ډول نه شي کیدای او ددې برعکس یې مستقیمه بهرنی پانګونه په اقتصادي کړنو کې دسرمایې دتامین لپاره بهترین ډول یاد کړی دی.

**وړاندیزونه**

۱ : که چېرې په افغانستان کې د غېرمستقیمې پانګونې پرځای مستقیمه پانګونه صورت ونیسی غوره ده؛ ځکه چې دمستقیمې پانګونې په اساس په هیواد کې استخدام او تولیدات زیاتوالی کوي، چې پدې سره دهیواد په اقتصادي وده باندې مثبت تاثیرات درلودلی شي.

۲ : د افغانستان دولت باید دبهرنی غېرمستقیمې پانګونې په نسبت مستقیمې پانګونې ته ترجیح ورکړي.

۳: د افغانستان موجوده نظام باید د بهرنی مستقیمې پانګونې لپاره شرایط برابر کړي، ترڅو د مستقیمې بهرنی پانګونې په اساس په هیواد کې ناخالص داخلی تولیدات زیاتوالی وکړي.

۴: داچې غېرمستقیمه بهرنۍ پانګونه یوازې او یوازې د مفادو د لاسته راوړلو لپاره تر سره کیږي؛ نو ددې پرځای باید د مستقیمې پانګونې لپاره پلانګذاری ترسره شي.

۵ : داچې غېرمستقیمه پانګونه په عمومي ډول استهلاکي مصارف دي اود هیواد په اقتصادي وده منفي تاثیرات لري، نو دولت یې باید دمحدودوالی لپاره هڅې ترسره کړي.

**ماخدونه**


1. تودارو، مایکل؛ ژباړن: غلام علی فرجادی.(۱۳۹۲). توسعه اقتصادی درجهان سوم، انتشارات کوهسار تهران.
2. جونز، ایوانز .(۱۳۹۴). داد وستد بین المللي، انتشارات تهران.
3. رحیمی، بروجردی.(۱۳۹۲). سیاستهای اقتصادکلان واصلاحات ساختاری، موسسه مطالعات وپژوهشهای بازرگانی.
4. شهیدی،نذیراحمد. ( ۱۳۸۱). تیوری سرمایه گذاری.
5. شبان، احمدی. (۱۳۹۲).تیوري ها، عوامل و سیاست هایي انکشافی.
6. شهیدي، نذیراحمد.(۱۳۸۴). دمخ په ودې هیوادنو اقتصادي ستونزې، کابل پوهنتون.
7. فرجادي،غلام علي.(۱۳۹۱). توسعه، اقتصادي تر جهان سوم. نویسنده مایکل تودال.
8. مایکل، توردارد.(۱۳۹۲). توسعه، اقتصادي در جهان سوم. ترجمه: فرجاد، دکتر غلام علي. نشرتهران کوهسار.
9. مهدی، ابوالقاسم.(۱۳۹۲).سرمایه گذاری بهرنۍ و رشد اقتصادي،انتشارات جنگل.
10. مهدی، ابوالقاسم.(۱۳۹۴). رشد اقتصادي و سرمایه گذاری.
11. Source: United Nations, world Investment
12. World investment report

# په اسلامي او دوديزه بانکدارۍ کې د سياليتي خطر د مديريت مقايسه

ليکونکی: پوهنيار ګل ولي محمدزی

د شيخ زايد پوهنتون، اقتصاد پوهنځي، د مالي او بانکي څانګې استاد

تقريظ ورکوونکی : پوهنوال محمدالله مندوزی، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاد

**لنډيز**

بانکونه د مالي واسطې ترټولو لوی واحدونه شمېرل کیږي؛ د مالي سرچينو لاسته راوړل او د هغوی تخصيص يا ويش د بانکونو اصلي دنده تشکيلوي. د د غې دندې په سرته رسولو سره بانکونه د بيلابيلو خطرونو سره مخ کیږي؛ نو له همدې امله دوی د دې په هڅه کې دي چې دا خطرونه انتقال او يا يې مخنيوی وکړي .په اسلامي هېوادونو کې اسلامي بانکونه د دوديزو بانکونو په نسبت د ګڼ شمېر خطرونو سره مخ کیږي. د بانکوالۍ په صنعت کې بدلونونو ته په کتو او د دوديزې بانکوالۍ پرځای اسلامي بانکوالۍ ته ليوالتيا د دې فرضيې پر بنسټ چې اسلامي بانکوالي د دوديزې بانکوالۍ په پرتله ډېر توپيرونه لري او دا چې دا توپيرونه له حقوقي اړخه د اسلامي عقايدو په اساس ترسره کیږي ،نو اړينه ده چې د هغې په اړه زياته پاملرنه وشي. بنآ د هغو خطرونو محاسبه هم بايد اسلامي عقايدو ته په پاملرنې ترسره شي.

په دې ليکنه کې په اسلامي او عنعنوي بانکوالۍ کې د سياليتي خطر په پېژندنه او په دواړو بانکواليو کې د سياليتي خطر د مديريت په اړه معلومات ځای شويدي او دا واضحه شوي ده، چې اسلامي بانکونه څنګه نوموړی خطر مديريت کوي او عنعنوي بانکونه همدغه خطر څنګه مديريت کوي.

**کليدي ټکي** : اسلامي بانکداري، خطر، د خطر مديريت، دوديزه بانکداري، سياليتي خطر.

**د څېړنې موخه**

د دې څېړنې مهمه او اساسي موخه په دوديزه او اسلامي بانکدارۍ کې د سياليتي خطر څېړل او د هغوی د مديريت مقايسه تشکيلوي.

**سريزه**

د بانکي سکتور په فعاليتونو کې د خطر منل، د خطر مديريت او د خطر ليږدول اساسي دندې دي.

بانک د خپلو اهدافو د تحقق او عملي کولو له پاره بايد هغه خطرونه رعايت او په پام کې ونيسي، کوم چې د بانکي فعاليتونو په ترڅ کې پيښېږي. د دې موخې لپاره اساسي شرط د يوه فعاله مديريت شتون دی دغه ډول مديريت، خطر محدودوي او بالقوه خطرونه رهبري او بې اغيزې کوي. زموږ بحث د خطر مديريت دی مالي خطرونه ځانګړی بحث دی، چې د اقتصاد په تېره بيا د مالي علم له اصولو څخه اغېزمن دی. مالي خطرونه د پانګې اچونې او مالي چارو څخه د توقع کيدونکي پايلې نه موندل او د پام

ور امکان ته نه رسېدل دي. مالي نظام کې د خطر د بېلابېلو ډولونو مدیریت کولو ته اړتیا ده. په اوسني وخت کې چې اقتصادي پولې له منځه تللي او په اقتصادي ډګر کې نړیوالتوب د تمویل، ونډو، دولتي بیه لرونکو پاڼو، د برېښنايي لیږد او نورو په وسیله عام شوی دی. په بازار کې نوسانات، د اجناسو د بیو ناڅاپي بدلون، د پانګې د حجم زیاتیدل او کمیدل هغه عوامل دي، چې مالي مؤسسات او له هغې جملې بانکونه او شرکتونه له زیان او خطر سره مخامخ کولی شي که د مخه عوامل اټکل نه شي او تدابیر ورته ونه نیول شي نو د پانګې د ګټو په ځای به یې له زیان سره مخامخ شو. د بانکونو لپاره د خطر مدیریت یو اساسي او مبرم ګام دی، څو بانکونه د بې ارزښته کیدو او له منځه تګ څخه وژغورل شي؛ ځکه د بانکونو سیستماتیک سرکوب کیدل په لویه کې د هېواد په مجموعي اقتصاد باندې بدې اغیزې کوي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. مالي خطرونه په ځانګړي توګه سیالیتي خطر کوم خطر دی؟

۲. په اسلامي او دودیزه بانکدارۍ کې د سیالیتي خطر مدیریت څه دی؟

**Article II.د کار میتود**

په نوموړې څېړنه کې د کیفي او توصیفي میتود څخه استفاده شوې ده او همدارنګه دغه څېړنه تر ډېره حده په کتابخانه ایي میتود باندې ولاړه ده او د بیلابیلو معتبرو کورنیو او بهرنیو سرچینو ، د انټرنیټي سایټونو او علمي مقالو څخه ګټه اخیستل شوې ده او همدارنګه د افغانستان د بانکدارۍ قانون او د افغانستان د قوانینو څخه هم استفاده شوې ده.

**مالي خطرونه**

مالي خطرونه له هغه خطرونو څخه عبارت دي چې مالي پروسه له خنډونو سره مخامخ کوي او په پایله کې عاید، د حسابونو تسویه او د پورونو راټولول ترخپل اغیز لاندې راولي چې په مستقیم ډول د بانکونو ګټې متاثره کوي او کچیرې په دوامدار او مؤثر ډول کنترول نشي نو د نوموړو نهادونو د له منځه تللو سبب ګرځي. د خطر مدیریت په مالي برخه کې په هغه خطرونو باندې څارنه کوي چې په لومړیو کې د کنترول په حدودو کې وي او ثانیاً نقدي اغیزې ولري (۳: ۲۱).

مالي خطرونه د شرکتونو په منفعت باندې په مستقیم ډول اثر غورځوي، حتی چې یو شرکت له منځه وړي. په مالي قیمتونو کې تغیرات د مالي خطرونو باعث کیږي، مالي خطرونه هغه وخت رامنځ ته کیږي چې کله هم په بازار کې بدلون رامنځ ته شي، چې کله هم د یو سازمان په مالي بخش کې تغیرات رامنځ ته شول نو د مالي خطرونو سره مخ کیږي، مالي خطرونه د یوې ادارې کارونه په ټپه ودروي او د رکود پر لور بې سوق کوي او په زیات وخت کې ورسره بانکونه مخ کیږي او بانکونو ته هم پکار ده، چې په خپل وخت مالي خطرونه کنټرول او له منځه یوسي. د یوې اقتصادي تصدۍ په سطح خطرونه په اعتباري، بازاري او عملیاتي برخو ویشل کیدای شي. مالي خطرونه عموماً د اعتباري، بازاري او نقدینګۍ په برخو ویشلی شو. تجارتي خطرونه د مدیریت خطر او د ستراتیژۍ خطر د ترکیب او مجموع څخه رامنځته شویدي. عملیاتي خطر په داخلي سیستم پورې تړلیو ناکامیو څخه را منځته شوی زیان څخه عبارت دی. یا په بل عبارت د پروسو، اشخاصو او سیستمونو پورې تړلیو ناکامیو له امله را منځته شوي زیان ته عملیاتي خطر وایي. په مالي صنعت پورې د تړلیو نورو خطرونو له جملې څخه کولی شو د توکیو

خطر چې د کالا او امتعې د قیمت د نوسان او بدلون له امله منځته راځي. مملکتي خطر په اعتباري رتبه بندۍ پورې تړلی دی؛ یعنی په یوه بهرني هیواد کې په پانګونې پورې تړلی خطر، د اسهامو د بازار خطر چې د اسهامو د بیې د بدلون له امله را منځته کیږي. د شهرت خطر د بدو حوادثو د پیښیدو له امله چې د سازمان او مالي نهاد حیثیت ته صدمه رسوي منځته راځي. قانوني خطر چې د وضع شویو مقرراتو د نه تطابق له امله منځته راغلی وي یا په بل عبارت د قانوني چوکاټ عدم کفایت، د اسلامي او متعارفو قوانینو تضاد او همدارنګه په اسلامي بانکدارۍ کې د شرعي قوانینو او قانوني تصمیمونو تر منځ تضاد د قانوني خطر د رامنځ ته کیدو لامل بلل کیږي. سیاسي خطر په یوه هېواد کې د نامطلوبو سیاسي پیښو د رامنځ ته کیدو له امله منځته راځي. د تمرکز خطر په یوه خاص صنعت یا برخه کې د زیاتو پیسو پانګونې له امله منځته راځي (۱: ۷۰).

د خطرونو مدیریت هغه پروسه ده، چې د هغه موخه په یو فعالیت کې د رامنځته کیدونکي زیان کموالی وي، چې د ناټاکلو پیښو د وړاندوینې لپاره اګاهانه اقدامات او د هغوی دمخنیوي لپاره پلانګزاري کوي. د خطرونو مدیریت د مدیریت د ځانګړو میتودونو څخه ګټه اخیستنه او د نویو مالي وسایلو او اړوندو پروسو او د ګواښونو لپاره منطقي حل لارو او مالي مسایلو څخه عبارت ده؛ خو باید دا په یاد وساتو چې د خطرونو د مدیریت بیلابیل میتودونه نشي کولی چې د پانګونې پروړاندې خطرونه په پوره ډول له منځه یوسي؛ بلکې د خطرونو مدیریت غوره میتودونه یوازې دا کولی شي چې خطر حد اقل ته ښکته کړي. مالي بنسټ د مالي پلانګذارۍ په واسطه د مشتقه داراییو مغلق وسایل طراحي کوي ترڅو د هغې پواسطه خپل خطر حداقل کړي او خپل عاید حد اکثر ته ورسوي. د یو بل تعریف په اساس د خطر مدیریت عبارت له هغه پروسې څخه دی چې د هغې په واسطه یو سازمان یا پانګه اچوونکی د غوره میتود په واسطه د بیلابیلو خطرونو په وړاندې عکس العمل ښکاره کوي. ټول سازمانونه له تولیدي او خدماتي ارګانونو څخه سرچینې راټولوي او په یوه ځانګړې پروژه کې یې سرمایګزاري کوي او بریالي سازمانونه به هغه سازمانونه وي چې په ناسمو شرایطو باندې برلاسی وي او دا شرایط د دوی د ناکامۍ لامل ونه ګرځي.

هغه ستراتیژیکاني چې د خطراتو د اداره کولو لپاره په کار وړل شوي دي عبارت دي له:

1 -نورو بخشونو ته د خطر انتقالول.

2 -د خطر څخه ډډه کول.

3 -د خطر د منفي اغېزو کمول.

4 -د خطر اینده پیښې په جزوي یا کلي ډول منل.

په لاندې ډول کولی شو چې د خطر ځینو مدیریتونو ته اشاره وکړو:

۱. عنعنوي خطراتو مدیریت: ډېر تمرکز یې د هغه خطراتو په مخنیوي باندي وي چې د قانوني او فزیکي علت په اساس رامنځته کیږي لکه: طبیعي پیښې یا اورلګیدنه، ټکرونه، مړینه او داسې نور...

۲. د مالي خطراتو مدیریت: ټول تمرکز یې هغه خطراتو باندي وي چې کولی شي د یوې مالي مؤسسې مالي نتایج په مستقیم او غیر مستقیم ډول منفي طرف ته بیایي.

۳. د مطلوبه خطراتو مدیریت: د مطلوبه خطراتو په مدیریتي پروسه کې اولیت په نظر کې نیول کیږي اول هغه خطرات چې ډېر زیات ویجاړونکي او د پیښدو احتمال یې ډېر وي او دوهم هغه خطرات چې ډېر ویجاړونکې نه وي او د پیښدو احتمال یې هم کم وي په نظر کې نیول کیږي او د مخنیوي لپاره یې لارې چارې لټول کیږي. په عملي ډول د دې پروسې مخته وړل ډېر ستونزمن وي او د هغه خطراتو ترمنځ توازن راوستل چې د پیښیدو احتمال یې زیات او ویجاړې یې کم وي او بل هغه خطرات چې د پیښیدو احتمال یې کم او ویجاړې یې زیات وي مشکل دي او کیدای شي مناسبه رسیده ګي هم ورته ونشي(۷: ۷۷).

**په دودیزه بانکدارۍ کې سیالیتي خطر او د هغه مدیریت**

دا خطر په اصل کې خطر نه دی، بلکې د بانک لخوا د نقدو په تادیه کې د هغوی د ژمنو پر وړاندې ناکامي ده. په عمومي ډول کله چې بانکونه د بیلابیلو عواملو له امله ونشي کولی چې ورکړل شوي پورونه په خپل ټاکلي وخت کې ترلاسه کړي اویا دا چې د هغوی ځینې پورونه مشکوک او د ترلاسه کولو وړ نه وي او بالاخره د ورځنیو نقدو تادیاتو لپاره د نقدو د کمښت سره مخ شي نو د سیالیت د ستونزو سره مخ کیږي. د دې ستونزې په رامنځته کیدو سره د بانکونو په مالي جوړښت کې ستونزې راپاریږي او له هغې سره د ورځنیو تادیاتو د ستونزو سره مخ کیږي. د دې خطرونو عمده او اصلي لامل د وخت له مخې د شتمنیو او پورونو ناسم مدیریت دی چې همدا ډول په دوامدار ډول د پور اخیستونکو نه څارل هم پکې شامل دي چې هغوی د خپل پور سود او قسطونه په خپل وخت بانک ته نه تادیه کوي. په لنډ ډول دا خطر هغه مهال رامنځته کیږي چې د پیسو د تللو او راتللو ترمنځ نسبت یا په بله وینا د پیسو تګ او راتګ په ځانګړي توګه په منفي ډول میلان ولري چې پدې صورت کې د پیسو د اخیستلو مقدار یا نسبت د پیسو د بیرته تادیې یا دیپازیت په نسبت ډېر شي (مجتهد, ۱۳۹۳ هـ ش, پاڼه ۴۹۲).

یا د سیالیت خطر عبارت د هغه خطر څخه دی، چې کله هم یو سازمان نقدې پیسې د دوباره ورکړې د پاره و نلري، او همدارنګه د سیالیت خطر عبارت له هغې خطر څخه دی چې یو شخص یا یو سازمان د خپل کار او فعالیت پرمخ بیولو لپاره په کافي ډول نقدي پیسې و نلري، په عمومي ډول بانکونه او مالي ادارې د نقدو پیسو د نشتوالي په صورت کې بیا ددې قدرت نلري چې مشتریانو او قرض ورکونکو ته قرضونه او خپل حقوق تادیه کړي. عموماً شرکتونه بعضې وخت د بیلابیلو علتونو پواسطه ددې توان نلري چې خپل تولیدي محصولات په خرڅلاؤ ورسوي یا ددې توان نلري چې نقدې پیسې د خرڅلاؤ څخه په لاس راوړي او یا خو یې مصرف زیات تر سره کړی وي چې په نتیجه کې یې مجموعي کارونه کمیږي او د سیالیت خطر سره مواجه کیږي . د نقدو پیسو په نه شتون کې ټول شرکت د مالي خطر سره مخ کیږي او د اولیه موادو د خرید او د دوباره ورکړې او نورو ډیرو مشکلاتو سره مخ کیږي، پس له دې وچې شرکت مجبوریږي چې د ارزانه او بې کیفیته مصرفي موادو څخه استفاده وکړي او د مطلوبه انساني نیرو څخه هم استفاده نشي کولی. البته دغه مرحله د یو وخت په تیریدو سره تر یوه کال پورې اتفاقا پیښیږي خو په نهایت کې عملیاتي جوړښت متاثره کوي. په عملیاتي جوړښت کې نقصان د فعالیتونو کیمي او کیفي سطح او د شرکت عملکرد کې کموالی راولي نو بیا د شرکت په ټول مالي سیستم تاثیر اچوي. سیالیت د مجموعي او کُلی تقاضا په تأمین د مالي نهاد توانایې ته ویل کیږي، او مالي

نهاد د فعالیتونو د دوام او تداوم لپار لازم او حتمي دی. په اسلامي بانکداری کې د سیالیت خطر، د مهمو او همدارنګه د ستونزو رامنځته کوونکو خطرونو له جملې څخه دی. په بیلابیلو قراردادونو کې د کافي نغدي سرچینې نه شتون، اسلامي مالي نهادونه د سیالیت د خطر سره مخ کوي. داسې شرایط د واسطه ای مالي نهادونو(بانکونو او اعتباري مؤسساتو) لپاره هغه وخت رامنځته کیږي چې امانت ایښودونکي په دې ډول له خپلو حسابونو څخه د پیسو په ایستلو اقدام وکړي چې بانک د خپلو تعهداتو په پوره کولو کې ناتوانه راشي. د سیالیت خطر د بیمې په شرکتونو کې د غیر مترقبه پیښو(زلزله، طوفان، سیل او یا په پانګه اچونه کې لوېې ماتې ...) د واقع کیدو له امله منځته راځي، چې ممکن په لاس کې موجودې سرچینې یې د خسارې د جبران یا د تعهداتو د پوره کیدو لپاره کفایت و نه کړي. د سیالیت خطر د پانګې د بازار په برخه کې، هغه وخت را منځته کیږي چې د خپلو ژمنو د پوره کولو توانایي د اعتبار ورکوونکو او یا طلبکارانو په وړاندې و نه لري او یا یې له لاسه ورکړي.

هغه کمي او مقداري عوامل چې باید د نقدینګی خطر مدیریت په سیاست کې په نظر کې ونیول شي عبارت دي له، د پیسو د تامین ډول ډول سرچینې ، د پیسو تراکم او تمرکز، په بازاري شتمنیو پورې وابستګي او خارجي تعویضی سرچینېو ته د لاسرسي اندازې څخه. د نقدینګی په مدیریت کې بعضې مطرح کیفي عوامل  د پیسو د مدیریت خاص مهارت، د اطلاعاتي مدیریت د سیستم کیفیت او په بازار کې د مالي نهاد له شهرت څخه عبارت دي. د نقدینګي دري ډوله جریانونه باید په دې برخه کې وپیژندل شي چې عبارت دي له، د متداولې نقدینګی جریان (لکه د اجارې، مرابحې او نزولي مشارکې)، د نقدینګی مشروط او د وړاندوینې وړ جریان (لکه سلف او استصناع) او د نقدینګی مشروط او هغه جریان چې د وړاندوینې وړ نه دي(لکه دایمي مشارکت). (۱:۱۵۸).

**د سیالیت د خطر لاملونه**

لکه څنګه چې سیالیت د بانکونو لنډمهاله مالي ژمنو او اړتیاوو د تادیې لپاره ډېر اړین دي نو له همدې امله د هغې خطرونه هم ډېر جدي او ګواښوونکي پایلې او یا شاید ان د دیوالي کیدو سبب وګرځي .د سیالیت خطر ډېر عوامل لري خو د سیالیت اساسي لاملونو په لاندې ډول پیژندل کیږي :

- نزولي یا رکودي متنونو یا موضوعاتو ته د زیرک ځار نشتون .
- د غیر مالي شتمنیو پروړاندې د پورونو ورکړه .
- په دقیق ډول د مشتري (پیرودونکي ) ارزونه .
- د تادیې لپاره څواک او علاقه .

**د سیالیت اجزاوې**

سیالیت بیلابیلې اجزاوې لري چې په لاندې ډول ترې یدونه وو :

- د لاسرسی وړ نقدې پیسې .
- د سوداګری په لیږد او رالیږد کې نقدې پیسې .
- په مرکزي بانک کې نقدې پیسې .

- په بانکونو کې نقدې پیسې .
- د خرڅلاؤ او سوداګرۍ لپاره ارزښت لرونکي پاڼې (نالأیی, ۱۳۸۵ هـ ش, پاڼه ۴۹۲).

**د سیالیت مدیریت**

- په بانکونو کې د سیالیت د خطر مدیریت د تګلارو شتون.
- د بانک د مدیره هیت لخوا په لنډ مهاله ورځنیو نقدي تادیاتو باندې څارنه .
- د بانکونو او هیوادونو لپاره د بانک د مشرتابه هئیت لخوا د حدودو ټاکل .
- د هرې پانګې یا مجموعي اسعارو لپاره د حد اقل نقدي ذخایرو ټاکل .
- د ځانګړو حالاتو لپاره د نقدو د فشار ازمایښت په غاړه اخیستل .
- د سیالیت د مدیریت لپاره د داخلي کنترولي سیستم رامنځته کول .

**د سیالیتي خطر ډولونه**

**۱: د بازار سیالیتي خطر:** د سود د نرخ لوړوالي، د اداري شهرت

**۲: د دارایې سیالیتي خطر:** د درایې د خرڅولو په صورت کې مشکلات .(Rasa, 2014, p. 10)

***د سیالیتي خطر مدیریت کول***

مالي مؤسسه باید دا خبره ډاډمنه کړي چې په وروستیو شیبو کې بالاخره په خپلو تادیاتي مکلفیتونو کې بریالی ده. ددې موخې لپاره باید مؤسسه بیلابیل کافي امکانات ولري، په تیره بیا باید پیاوړې پانګه او شتمني ولري او سیالیت د جاري ورځې په ترڅ کې ډاډمن کړای شي. بانکي مؤسسه باید د سیالیت خطرونو ته د یوه خطر د زغملو توان(Tolerance) او اندازه وټاکي او د لازمه اقداماتو په پام کې نیولو سره باید هغه تضمین کړي.

مؤسسه باید دا خبره ډاډمنه کړي چې د سیالیت په ترڅ کې رامنځته کیدونکي فاصله او واټن او د ارزښت توپیر د پیژندلو وړ دی، همدارنګه د یو شمیر نورو خطرونو تاثیرات(لکه د مؤسسې د اعتبار زیانمن کیدل، د مؤسسې نیک شهرت، د هغې صلاحیت او نوم) چې د مؤسسې په سیالیت تاثیر کوي، باید په طرزالعمل کې رعایت شي.

مؤسسه باید د یوه مناسب وخت په ترڅ کې د سیالیت د راتلونکي لپاره یو outline ترتیب کړي، چې د هغې په ترڅ کې د مالي وسایلو بهیر مؤسسې ته او له مؤسسې څخه بهر ته معلوم شي او د وسایلو مازاد معلوم شي.

باید په دوامداره توګه وڅیړل شي چې آیا د کړکیچ او د بحران حالت کې مؤسسه د سیالیت اړتیاوې جبران کولی شي که نه؟ د داسې حالاتو د معلوموملو لپاره د سیالیت درجه د دارایي ګانو له ارزښت سره عیاره شي. د افغانستان بانک قانون ۷۵.۷۲ مادو په همدې موخه پیش بیني کړې دي. په دغو مادو کې د اسعارو، د اسعارو د زیرمو، د اسعارو د صرافانو او خپلو اسعاري زیرمو په هکله مسایل راغلي دي.

سیاله شتمني Liquid Asset, Floating Asset او یا هم ګړندی شتمني Quick Asset هغه شتمني ده چې ډېر ژر په نغدو پیسو بدلیدای شي، لکه: سره زر چې په هر زمان کې پرته له زیان څخه په مارکیټ کې په نغدو پیسو بدلیږي، په خپله بانکنوټ په سلو کې سل. د سیالیت شرط ډېر لږ تاوان کول یا هیڅ تاوان نه کول او ډېر ژر وخت دی. کوم اجناس چې غواړو معلوم یې کړو چې آیا په څومره کم وخت کې او پرته له تاوان څخه په نغدو پیسو بدلیدای شي دیته د سیالیت درجه Degree of liquidity ویل کیږي.
د خطر په مدیریت کې موږ ته د سیالیت لوړه درجه مهمه ده، ځکه چې په کاروبار کې د هغو کارول د پانګې په توګه موږ ته له پانګونې څخه متوقعه ګټه ښه په لاس راکوي او معمولاً یې په واقعي ډول وړاندوینه او اټکل کولی شو او د واقع کیدو احتمال او درجه یې اسانه سنجولی شو.
د سیالیت په رابطه خطر باید جلا او تفکیک شي کوم چې علت یې په خپله مؤسسه کې وي هغه باید جلا شي او هغه چې علتونه یې په بازار پورې اړه لري هغه جلا شي. د رهبري مقام ته باید په دوامداره توګه د سیالیت د حالت منظم راپور چمتو شي. د دغو موضوعاتو د څارنې لپاره د افغانستان بانک د قانون ۵۵ مه ماده څرګند احکام لري، دغې مادې څارونکي پلاوي ته واک ورکړی دی چې د خطرونو احتمال په احساس کیدو سره ځانګړې کمیټې جوړې کړي او ۵۶ ماده دریېم بند کې د خطرونو منظمې ارزونې او تشخیص حکم کړی دی. د افغانستان بانک د قانون په( ۸۶) مه ماده کې د خالص زیان او د عملیاتي عوایدو له امله د پیښ شویو زیانونو د انتقال موضوع پیشبیني کړې ده (۲: ۶۳).

**په اسلامي بانکدارۍ کې د سیالیتي خطر د مدیریت ابزار**

په اسلامي بانکدارۍ کې د نقدینګۍ د اهمیت او ضرورت په نظر کې نیولو او همدارنګه په اسلامي اقتصادي نظام کې د ربا ممنوعیت او د هغې د کارکرد لغوه کیدل. د سیالیت اړتیاوې په ښه ډول د وړاندوینې وړ دي او کولی شو د تیرو سوابقو او د سیالیت د ورودي او خروجي پروسو د بررسي او ارزونې څخه په ګټه اخیستنې په بیلابیلو زمانو فاصلو او دورو کې د هغو ښه اټکلي تقریب ته ورسیږو. له هغه ځایه چې نغدي جریانونه د مشتریانو په اعتباري او پرداختي(ورکړې) معاملاتو پورې تړلي دي، مالي نهادونه نه شي کولی د هغو د ورودی او خروجی وخت مستقیم کنترول په خپل اختیار کې واخلي.
په اسلامي مالي نهادونو کې د نقدینګۍ د مدیریت د اهمیت په نظر کې نیولو سره، ددغې حوزې پوهان خاصه توجه د نقدینګۍ د مدیریت وسایلو ته کوي، چې بعضې پیشنهادي او کاربردي ابزار د اسلامي مالي نهاد لپاره په لاندې ډول درپیژنو.

**په اسلامي مالي قراردادونو کې د سیالیتي خطر مدیریت**

په دې اساس، د بانکونو د اساسي دندو څخه یوه یې داده چې د مالي ژمنو او اوږد مهاله پانګه اچونو تر منځ توازن او تعادل بر قرار کړي. د نقدینګۍ ناکافي مقدار ساتنه، بانک د ناتواني او د تعهداتو د ایفا او پوره کولو له ورشکستګي سره مخامخ کوي او د نقدینګۍ زیات مقدار ساتنه د سرچینې د غیر مؤثر تخصیص، په اماناتو باندې د ګټې د نرخ کمیدل او په پایله کې د بازاري سهم د منځه تلو لامل کیږي.
هغه مقداري او کمي عوامل چې د نقدینګۍ خطر د مدیریت په سیاست کې باید په نظر کې ونیول شي عبارت دي له ، د وجوه (پیسو) د تامین ډول ډول سرچینې ، د پیسو تراکم او تمرکز، په بازاري شتمنیو پورې تړلتوب او بهرنیو عوضي سرچینبو ته لاسرسی دي. د نقدینګۍ په خطر کې بعضې مطرح کیفي

عوامل عبارت دی له، د پیسو د مدیریت خاص مهارت، د اطلاعاتي سیستم د مدیریت کیفیت او په بازار کې د مالي نهاد شهرت . د اسلامي مالي نهادونو او بانکونو د نقدینګۍ د اندازه کولو او ارزونې لپاره باید پلکاني(ساختاري) سررسیدونه د مشخصو او مناسبو زماني مرزونو سره تعیین کړای شي. چې په دې حوزه کې دري ډوله د نقدینګۍ جریانونه معرفي کولی شو، د نقدینګۍ متداول جریان(لکه اجاره، مرابحه او نزولي مشارکه)، د نقدینګۍ د وړاندوینې وړ او مشروط جریان(لکه سلف او استصناع) او غیر قابل پیشبیني او مشروط جریانونه (لکه دایمي مشارکت).

**د مشارکت (دایمي او نزولي) قراردادونو کې د سیالیتي خطر مدیریت**

د مشارکت په قراردادونو کې د نقدینګۍ خطر د نورو خطرونو له امله رامنځته کیږي. چې په دې برخه کې ټول هغه موارد چې باید په نظر کې ونیول شي عبارت دی له، د مناسب مدیریتي او شراکتي موقعیت انتخاب، په پیشنهادي شراکتي پانګه اچونو کې د حساسیت تحلیل، د کافي سرمایه وي ذخیرې اخیستل، د مخاطره آمیزو شراکتونو حرفه اي او مسلکي بررسي او ارزونه او مجموعي پرتفوي څخه د مشخصو حدودو تعیینول. د پانګه اچونې د پانو او شراکتي صکوکو څخه ګټه اخېستنه د اسلامي مالي نهاد په شراکتي قراردادونو کې د نقدینګۍ د خطر د کمیدو لامل کیږي.

**د مضاربې په قراردادونو کې د سیالیتي خطر مدیریت**

د مشارکې او مضاربې ابزار د مشابه او ورته مشخصاتو درلودونکي دي چې په دې اساس د مشترکو خطرونو لرونکي دي. کله چې دغه ابزار د صادراتي او وارداتي مبادلاتو د تأمین په منظور په کار واچول شي، د اسعارو د نرخ خطر له هغه سره اضافه کیږي. که شریک ګټه په صحیح او منصفانه ډول ارایه نه کړي،بانک په عمل کې د هغې د کنترول لپاره وسیله یا لار نه لري (خاندلوال, ۱۳۹۴ هـ ش, پاڼه ۹۸).

**د اجارې په قراردادونو کې د سیالیتي خطر مدیریت**

د اجارې په قرارداد کې د هر ډول اعتباري، عملیاتي او بازاري خطرونو سره مخامخ کیدل مالي نهاد په بیلابیلو اندازو د نقدینګۍ د خطر سره مخ کولی شي. د نقدینګۍ خطر د مدیریت لپاره بهترین او معقولترین اقدام د نورو خطرونو څخه رامنځته کیدونکي خطر ارزیابي او بررسي تشکیلوي. یا په بل عبارت د اعتباري خطر په شکل د اجاره بها په ورکړه کې د مستأجر ناتوانایي او نکول ، د بازاري خطر له اړخه، د اجارې په صکوکو کې د مال اجاره د نرخ زیاتوالي او د بازار د نرخ د زیاتوالی په اساس لاسته راتلونکې اجاره بها او د عملیاتی خطر له وجې شتمنیو ته هر ډول زیان او لطمه اسلامي مالي بنسټ د اجارې په قراردادونو کې د نقدینګۍ د خطر سره مخ کوي (محسینی, ۱۳۹۵ هـ ش, پاڼه ۲۰۶).

**د جعالې په قراردادونو کې د سیالیتي خطر مدیریت**

د جعالې په قرارداد کې د نقدینګۍ خطر د پروژې د نا پلان شویو ورودي او خروجي جریاناتو په نتیجه کې، لکه د کارفرما له خوا د نقدینګۍ نه حصول، د تعیین شوې اندازې څخه د مصارفو زیاتیدل او د بعضو بهرنیو پیښو د واقع کیدو له امله منځته راځي. د جعالې په قراردادونو کې بانک د قراردادیانو د مخینې د ارزونې په څنګ کې، د معیاري قراردادونو یعنې د مناسبو بیمو پوښښ څخه ګټه اخلي. همدارنګه د مشتریانو لخوا د قسطونو نه ورکړه کولی شو چې د وثیقو او ضمانت لیکونو څخه په ګټه اخیستنې سره یې مصؤن کړو. په اسلامي عقودو باندې مبتنی د نقدینګۍ د مدیریت راهکار(د کار طرز او

ډول) لکه د مشتري سره د جعالې ثانوي قرارداد عقد کول یې د ستونزې د حل لار ده.

**د سلف په قراردادونو کې د سیالیتي خطر مدیریت**

د موازي سلف استفاده کوونکي مالي نهادونه توقع لري چې په اولې قرارداد کې، توکي په توافق شوي قیمت سره تحویل کړي. همدارنګه مالي نهاد په دوهم قرارداد کې متقاضی شخص ته په راتلونکی مشخص شوې نیټه باندې د توکیو په تحویل باندې معتهد کیږي، په دې اساس د موازي مرابحې او مناسبو پوښښې بیمو څخه ګټه اخیستنه د هغو اقداماتو له جملې څخه بلل کیږي، چې مالي نهاد یې باید د سلف په قراردادونو کې د نقدینګۍ د خطر د مدیریت په برخه کې ترسره کړي.

**د استصناع په قراردادونو کې د سیالیتي خطر مدیریت**

د استصناع د تړونونو ځانګړتیاوې څخه یو یې داده، چې ممکن د تولیدي توکیو او یا شتمنیو د تحویل او خرڅلاؤ نیټه تفاوت ولري. هغه مهم او اساسي اقدامات چې عملیاتي پروسې ته د داخلیدو مخکې مالي نهاد او بانک د نقدینګۍ د خطر څخه مصؤن ساتلي شي عبارت دی له، د قراردادی د مالي تامین په منظور د مشخص او معین مرز او حد تعیین، په اقساطو باندې د پولي لاسته راوړنو تعیین، د ریسک په حالت کې واقع ارزښت او د مخاطراتو د حدودو تعیین څخه. د متقابلې قرض حسنه او د اسلامي مالي تامین له صندوق څخه مالي تامین د هغو لارو او طریقو څخه عبارت دي چې د مشکل د رامنځته کیدو په وخت کې د بعضو اسلامي بانکونو په واسطه استفاده کیږي.

**د مرابحې یا اقساطي خرڅلاؤ په قراردادونو کې د سیالیتي خطر مدیریت**

د مرابحې په تړونونو کې د نقدینګۍ خطر د زیان په زیاتوالي باندې معنادار اغیز لرلي شي. د مرابحې په قراردادونو کې د موازي مرابحې او د بین البانکي پانګه اچونې پانو څخه ګټه اخیستنه د هغو اقداماتو له جملې څخه دي چې اسلامي بانکونه یې د نقدینګۍ د خطر د مدیریت او کنترول په منظور استفاده کوي. په دې اساس باید د مالي نهاد د خطر مدیران باید د نورو خطرونو د مدیریت په منظور کوشش وکړي تر څو د نقدینګۍ خطر کم او یا له منځه ولاړ شي (۱: ۱۰۴).

**پایله**

مالي خطرونه له هغه خطرونو څخه عبارت دي، چې مالي پروسه له خنډونو سره مخامخ کوي او په پایله کې عاید، د حسابونو تسویه او د پورونو راټولول ترخپل اغیز لاندې راولي؛ چې په مستقیم ډول د بانکونو ګټې متاثره کوي او کچیرې په دوامدار او مؤثر ډول کنترول نشي، نو د نوموړو نهادونو د له منځه تللو سبب هم کرځي.

مالي خطرونه د شرکتونو په منفعت باندې په مستقیم ډول اثر غورځوي ، په مالي قیمتونو کې تغیرات د مالي خطرونو باعث کیږي، مالي خطرونه هغه وخت رامنځ ته کیږي، چې په بازار کې نوسانات رامنځ ته شي، مالي خطرونه د یوې اداري کارونه په ټپه  ودروي او د مالي نهادونو او بانکونو د سقوط باعث کیږي، نو بانکونو ته پکار ده چې مالي خطرونه کنټرول او له منځه یې یوسي.

د خطر مدیریت به په یوه سازمان کې هغه وخت موفق وي، چې ټولې برنامې او ستراتیژۍ پخپلو کې  سره همغږې وي؛  بناً د خطر مدیریت باید هغه څوک پرمخ بوځي چې د سازمان په ټولو مسائلو پوه او ورسره اشنا وي او د سازمان په ستراتیژیکو اهدافو پوه وي او همدارنګه د خطر په مدیریت کې چې کوم

وسایل او ابزار دي، باید چې په هغه کې کافي تجربه ولري. ځکه چې د کافي استفادې څخه بغیر همدغه وسایل ستونزې زیږوڵی شي او د خطر په مدیریت کې د وسایلو څخه درسته او سالمه استفاده مثبتې نتیجې لري او د منیجر په نادرسته استفادې سره ډیرې بدې پیښې رامنځته کوي د نن ورځ په مالي بازارونو کې خلک د خطر مدیریت په وسایلو کې یو له بل سره رقابت کوي او همدارنګه د شرکتونو او بانک مدیران د خطر په مدیریت کې د اصلي وسایلو څخه ګټه اخلي. سیالیتي خطر هغه وخت رامنځ ته کیږي، کله چې یو شخص یا مالي اداره د خپلو عملیاتو د اجرأ کولو لپاره کافي نقدې پیسې ونلري.

د دې لپاره چې د سیالیتي خطر مخنیوی وشي، نو بانکونو ته ښايي چې د لنډ مهاله قرضونو په عوض اوږد مهاله قرضونه ترلاسه کړي. په بانکونو کې باید د هر نوع مدیریتي خلأ مخنیوی وشي او په راتلونکې کې د اړتیا وړ فنډ د اټکل په برخه کې قوي مدیریت شتون ولري. همدا ډول باید نقدي جریان په سمه توګه اټکل شي او د خالصې کاري پانګې څخه مسلکي نظارت په برخه کې ګوټلي ګامونه واخیستل شي.

دودیزه بانکداري د سیالیتي حمایت په موخه د مرکزي بانک څخه د سود په مقابل کې د قرض همکاري جلبوڵی شي، خو اسلامي بانکونو ته دا چاره مساعده نه ده، ځکه چې اسلامي بانک په سودي معاملو کې نه ښکیل کیږي.

نو په لنډ ډول ویلی شو، چې په دودیزه او اسلامي بانکدارۍ کې د سیالیتي خطر مدیریت د مالي پیاوړتیا او ثبات لپاره اساسي کړنه ده، چې باید په مناسب وخت سره ترسره شي.

**وړاندیزونه**

1. بانکونه باید د اسلامي بانکدارۍ د اصولو څخه استفاده وکړي؛ دا ځکه چې اسلامي بانکداري د عنعنوي بانکدارۍ په نسبت کمه د خطرونو سره مخامخ کیږي او د خطر مدیریت پکې زیات ستونزمن ندی.
2. دا چې بانکونه د خطرونو څخه خوندي ندي او همدغه خطرونه بانکونه د ورشکستګۍ او لا زیاتو ستونزو سره مخ کوي، نو بناً هر انفرادي بانک باید ټول خطرونه په سمه توګه مدیریت کړي.
3. بانکونه باید د مرکزي بانک له لوري په بې پارې او مسلکي توګه ارزیابي او کنټرول شي او باید دا ولیدل شي چې آیا بانکونه د خپلو تعهداتو د پوره کولو توانایي لري.
4. بانکونه باید د هر ډول سیاسي تعاملاتو څخه خالي وي.
5. مرکزي بانک باید د بانکونو د خطرونو د مدیریت لپاره د اسلامي اړخه د مدیریت قوانین، لوایح او طرزالعملونه رامنځته کړي.
6. د بانکونو او د هغوی د مشتریانو ترمنځ باید د صداقت او امانتدارۍ اصل وده وکړي؛ تر څو د یو او بل څخه سؤ استفاده ونکړي.
7. بانکونه باید د خطر د مدیریت لپاره مشتریان ډلبندي کړي او همدارنګه تضمینونه باید

وجود ولري، چې د قراداد له مواردو سرغړونه ونشي.

8. مرکزي بانک باید د خطر د مدیریت لپاره بانکي مقررات وضع کړي؛ تر څو د بانکونو د سیستماتیک سقوط یا Systematic Escalation څخه مخنیوی وشي؛ ځکه دا بیا په لویه کې د هېواد په ټول اقتصاد منفي اغېز کوي.

**اخځلیکونه**


۱. خاندلوال کومار سونیل او اکېزیدیس، یونیس .(۱۳۹۴). مدیریت ریسک مالی در بانکداری و مالی اسلامی. ژباړن: مهدی صادق او سونیل کومارخاندلوال، تهران: دانشگاه امام صادق.

۲. دودیال، محمدبشیر .(۱۳۹۵). د مالي خطراتو مدیریت، لومړی چاپ . ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

۳. شګرف، ادریس .(۱۳۹۲). ارزیابی ریسک. تهران: انتشارات سمت.

٤. مجتهد، علی او حسن زاده، احمد .(۱۳۹۳). پول و بانکداري .تهران: تهران جنګل جاودانه.

٥. محسنی، حسن او صادق شاهدانی، مهدی .(۱۳۹۵). مدیریت ریسک در رویکرد مالی اسلامی . تهران: دانشګاه امام صادق.

٦. نالایی، مهدی .(۱۳۸۵). تجارت بین المللی و سیستم مالی . تهران: موسسه چاپ فردوسی.

۷. نیک پی .(۱۳۸۸). مدیریت ریسک. تهران: انتشارات سمت.

8. Rasa, R. (2014). Measuring and Managing Risk in Financial institution – the case of Afghanistan, LAMBERT . Academic publishing Germany.

# د $^{1}$ ( FT – IR ) سپکتروسکوپي میتود په واسطه په عضوي مرکباتو کې د وظیفوي ګروپونو د تشخیص څېړل

لیکونکی: پوهنیار محمد ثناءالله روښان
شیخ زایدپوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، کیمیا څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال امرالله آصفي د ښوونې او روزنې پوهنځي متقاعد استاد

**لنډیز:**

څرنګه چې د عضوي کیمیا علم د یو مرکب د سنتیز او د هغه له تشخیص سره نه شلیدونکې اړیکې لري نو د عضوي مرکباتو له سنتیز وروسته د هغو تشخیص یوه خورا مهمه مسئله ده. دغه تشخیص په پرمختللو لابراتوارونو کې د زیات شمیر فزیکي میتودونو په واسطه صورت نسي چې مونږ په دغې څېړنیزې مقاله کې په عضوي مرکباتو کې د وظیفوي ګروپونو تشخیص د FT-IR سپکتروسکوپي په واسطه څېړلې ده. د دغه میتود په واسطه د کاربونیل ګروپ لرونکي مختلف مرکبات لکه الدیهادونه، کیتونونه، عضوي تیزابونه، استرونه او اسید انهایدرایدونه څېړل نیولې دي په دغه تحلیلي میتود کې چې اساس یې په یو عضوي مرکب کې د وظیفوي ګروپ پېژندنه ده، له داسې وړانګو څخه استفاده شوې ده چې د موج طول یې 35-25 مایکرومتره پورې ده (1) یعنې د طول موج یې زیات او انرژي یې کمه ده، کله چې دا وړانګې د یوې دستګاه په واسطه یوې عضوي نمونې ته رهنمایي کیږي دلته په دغه مرکب کې صرف د کیمیاوي اړیکو د زاوېې د تغیر او اهتزاز د رامنځ ته کیدو باعث کیږي، کله چې دغه امواج داسې یومیدان ته چې د پوتانشیل تفاوت شتون ونه لري راهنمایي شي د انرژي انتقال صورت نه نیسي، په نتیجه کې کوم پیک منځ ته نه راځي، یعنې د دې میتود میخانیکت د دوه اتومونو د شاوخوا کیمیا وي محیط پورې اړه لري.

**کلیدي ټکي**: سپکتروسکوپي، سپکتر، طیف، وظیفوي ګروپ.

**سریزه**

د FT-IR په سپکتروسکوپي کې مونږ په زیاته اندازه د کششي پیکونو په لټه کې یو او یاد کششونه هم په دوه ډوله دي متانظر او غیر متناظر، غیر متناظر کششونه زیاتې انرژي ته اړتیا لري، متناظر کشش کمې انرژي ته اړتیالري البته په غیر متناظر کشش کې په مالیکول کې له دوه اتومونو څخه زیات اتومونه شتون لري او دوه اتومونه یې باید یو ډول وي نو بیا غیر متناظر کشش زیاته انرژي غواړي[۳]. داسې عوامل شتون لري چې د IR د جذب په مقدار باندې مستقیم تاثیر لري لکه د ډایپول مومنټ، هایبریدایزیشن، ریزونانس او هندسي ایزومیرونه کولای شي د جذب دغه مقدار ته تغیر ورکړي[۴]. مثلآ د IR وړانګو جذب په C=C اړیکه کې د $1600\text{-}1650Cm^{-1}$ ده په داسې حال کې چې بیا د همدغو وړانګو جذب په C=O اړیکه کې $1700Cm^{-1}$ په اندازه ده چې دلته یواځې علت د ډایپول مومنټ تغیر

ده يعني هغه ماليکولونه چې لوړ ډايپول مومنټ لري د لوړې فريکونسۍ لرونکې وړانګې جذبوي او هغه ماليکولونه چې ضعيف ډايپول مومنټ لري د کمې فريکونسۍ لرونکې وړانګې جذبوي، په لاندې جدول کې د ځينو اړيکو د IR وړانګود جذب مقدار ښودل شوی ده[۵].

| د وړانګو د جذب مقدار | وظيفوي ګروپ |
|---|---|
| $3000Cm^{-1}$ | C-H |
| $1250\ Cm^{-1}$ | $-CH_2$ |
| $1350\ Cm^{-1}$ | $-CH_3$ |
| $1600\ Cm^{-1}$ | -C=C- |
| $1750\ Cm^{-1}$ | -C=O |
| $3400\text{-}3600\ Cm^{-1}$ | -O-H |
| $3500\ Cm^{-1}$ | -N-H |
| $2250\ Cm^{-1}$ | $C\equiv N$ |
| $1100\ Cm^{-1}$ | -C-O- |
| $2150\ Cm^{-1}$ | $C\equiv C$ |

(۱) جدول: د ځينی کيمياوي اړيکود IR وړانګود جذب مقدار

**موخې**

د دغې نيول شوې څېړه نيزې مقالې لنډې موخې په لاندې ډول دي

۱ – په يو عضوي مرکب کې د وظيفوي ګروپ تشخيص.

۲ – په عضوي مرکباتو کې د سيس اوترانس ايزوميرونو تشخيص.

۳ – د کاربونيل ګروپ لرونکو مرکباتو د کيمياوي فعاليت د کچې معلومول.

۴ – د FT-IR سپکتروسکوپي ميتود د پيکنو په شدت باندې د تاثيرکوونکو عواملو پيژندل.

**مواد او کړنلاره**

دغه څېړنه چې کتابتوني بڼه لري په ۱۴۰۱ کال کې ترسره شوي ده تقريباً له ۱۷ هغو مقالو څخه په کې استفاده شوي ده چې په معتبرو نړيوالو ژورنالونو کې خپرې شوي دي. په دې ليکنه کې چې له کومو څېړنو څخه استفاده شوې توليې يې د ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۲۱ ميلادي کلونو منځ کې خپرې شوي دي او د نړۍ په زياتو پرمختللوهيوادونو کې سرته رسيدلي دي پورته څېړنې په مختلفو انترنيټي سايټونو لکه Scopus, Web of Science, Science Direct, Google Scholar او داسې نورو کې د کليدي کليمو Doi نمبر عنوانونو او نورو مشخصاتو پراساس پلټل شوي دي په دې مقاله کې په يوعضوي مرکب کې د FT-IR سپکتروسکوپي ميتود په واسطه د وظيفوي ګروپونو د تشخيص په اړه معلومات راټول شوي دي.

**FT-IR سپکتروسکوپي**

FT-IR سپکتروسکوپي په حقيقت کې يو تحليلي انالیز دی چې په عضوي مرکباتو کې د وظيفوي ګروپونو د تشخص لپاره ورڅخه استفاده کيږي [۷]. ياد انالیز د يوې پرمختللې دستګاه په واسطه سرته رسيږي له داسې وړانګو څخه په کې استفاده شوي ده چې د سور رنګ څخه په لاندې ساحه کې ليدل

کېږي يعني د موج طول يې د 25 - 2,5 مايکرو متروپورې ده چې انرژي يې کمه ده يوائې د ماليکول سره د مقابل عمل په نتيجه کې د هغه ماليکول د اړيکو د اهتزاز او د زوايې د تغير سبب گرځي چې په نتيجه کې د يادو اهتزا زونو څخه يو ډول پيکونه خپرېږي د دغو پيکونو له تفسير او تحليل څخه کولای شو چې په مرکب کې يو وظيفوي گروپ تشخيص کړو ياد پيکونه په يو محور باندې چې له $400cm^{-1}$ څخه تر $4000cm^{-1}$ فريکونسي په ناحيه کې واقع کېږي[۷،۸]. د هر گروپ او اړيکې لپاره يو خاص انتروال شتون لري همدا راز د پيک شدت او موقعيت په ځينو اساسي عواملو لکه الکترونيگاتيف خواص، هايبريډ، دوه قطبي مومنټ او هايدروجني اړيکې پورې تړاو لري[۳].

**د کاربونيل گروپ لرونکو مرکباتو پېژندنه د FT-IR سپکتروسکوپي ميتود په واسطه**

د کاربونيل وظيفوي گروپ چې په زيات شمير عضوي مرکباتو کې شتون لري د قوي ډايپول مومنټ په درلودلو سره دغه گروپ د $1650\text{-}1850Cm^{-1}$ په ناحيه کې ليدل کېږي، اما د مختلفو اتومونو سره له وصل کيدو وروسته مختلف امواج د FT-IR سپکتروسکوپي جذبوي او مختلف پيکونه ورڅخه په لاس راځي په لاندې جدول کې د ځينو مهمو کيمياوي مرکباتو چې په خپل ترکيب کې د کاربونيل گروپ لري د FT-IR ورانگو د جذب ناحيې ښودل شوي دي[۹].

| 8 | 7 | 6 | 5 | 4 | 3 | 2 | 1 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **هلو اسيدونه** | **غير متناظر اسيد انهايدرايدونه** | **اسيد انهايدرايد** | **استرونه** | **الديهايدونه** | **کېتونونه** | **کاربو کسليک اسيدونه** | **امايدونه** |
| **$1800\ Cm^{-1}$** | **$1810\ Cm^{-1}$** | **$1760\ Cm^{-1}$** | **$1735\ Cm^{-1}$** | **$1725\ Cm^{-1}$** | **$1715\ Cm^{-1}$** | **$1710\ Cm^{-1}$** | **$1690Cm^{-1}$** |

(۲) جدول د کاربونيل گروپ مختلفو مرکباتو د جذب اندازه

په پورته جدول کې د کاربونيل گروپونو مختلف پيکونه او ساحې کولای شو چې د ځينو اساسي عواملو په درک کولو سره پيداکړو مثلاً: الکترونيگاتيويتي، ريزونانس او هايدروجني اړيکې د دې باعث کېږي چې د يو کاربونيل گروپ پيک په مختلفو ساحو کې ښکاره شي لومړني دوه اثرونه يعني الکتونيگاتيويتي او ريزونانس يو د بل برعکس عمل کوي او د C=O گروپ پيک ته مختلف موقعيتونه ورکوي لکه الکترونيگاتيوتي عنصر په يو کاربونيل گروپ کې کوشش کوي الکترونونه د کاربن او اکسجن څخه د خپل ځان په طرف کش کړي پس په دی صورت کې د C=O اړيکه ځان ته محکموالی پيداکوي او دلته بيا د زيات جذب باعث کېږي دوهم ازاد الکترونونه د يو هترو اتوم کولای شي د کاربونيل له گروپ سره مزدوج شي او دوه گونې اړيکه بيا د يوه گونې اړيکې شکل ځانته غوره کوي، دلته ياده پديده د کم جذب باعث کېږي، په دې دليل د يو استر د ورانگو جذب نسبت يو کيتون ته زيات ده [۱۱].




Electro Nigativ




Resonans

همدا راز په هلو اسیدونو کې، څرنګه چې د هلوجن اتوم قوی الکترونیګاتیف ده، د کاربونیل ګروپ الکترونونه د خپل ځان طرف ته کشوي او د C=O اړیکې د محکم والي باعث ګرځي ځکه دغه مرکبات تر ټولو د لوړې فریکونسی لرونکې وړانګې جذبوي او په لوړه ناحیه کې یې پیکونه لیدل کیږي [۸].

**هغه عوامل چې د C=O اړیکې د کشش باعث ګرځي:**

۱- د کانجوګیټ کیدو تاثیر: که چیرې د کاربونیل ګروپ سره په څنګ کې د -C=C- اړیکه شتون ولري دغه حالت ته د کاربونیل ګروپ کانجوګیټ کیدل وایي، دلته بیا د C=O اړیکې د پای الکترونونه د دې په خاطر چې موقعیت یې غیر متمرکز کیږي، د ریزونانس په شکل د همسایه کاربن د دوه ګونې اړیکې او د کاربونیل کاربن د دوه ګونې اړیکې الکترونونه همیشه د حرکت او تبادلې په حا ل کې وي دلته د کاربونیل ګروپ دوه ګونې اړیکې نسبتآ د یو ګونې اړیکې شکل ځانته غوره کوي او په نتیجه کې په ټیټه ناحیه کې د دی ګروپ پیک واقع کیږي یاد تغیر تقریبآ په اندازه د $30Cm^{-1}$ ده [۱۲].




همدا راز د الفا، بتا مزدوج کیدل په ټولو کاربونیلي ګروپونو کې د پورته ریزونانسي حالت په څیر دغه تغیرات لیدل کیږي لکه په لاندې وظیفوي ګروپونوکې.




$1715 \longrightarrow 1690Cm^{-1}$    $1725 \longrightarrow 1700Cm^{-1}$    $1710 \longrightarrow 1680Cm^{-1}$




| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3086 | 72 | 1981 | 84 | 1697 | 20 | 1204 | 8 | 828 | 16 |
| 3065 | 66 | 1916 | 84 | 1584 | 20 | 1168 | 31 | 746 | 13 |
| 3031 | 72 | 1909 | 84 | 1456 | 25 | 1073 | 62 | 688 | 15 |
| 2860 | 66 | 1901 | 84 | 1391 | 47 | 1023 | 64 | 667 | 74 |
| 2820 | 50 | 1828 | 81 | 1339 | 79 | 1008 | 74 | 650 | 20 |
| 2738 | 50 | 1703 | 4 | 1311 | 23 | 1001 | 66 | 615 | 61 |
| 2696 | 72 | 1664 | 48 | 1288 | 68 | 924 | 78 | 467 | 72 |



۲- د حلقې د اندازې تاثير د کاربونيل گروپ په کشش باندې: هرڅومره چې حلقه په کيتونونو، استرونو




| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3604 | 64 | 2967 | 77 | 1646 | 81 | 1267 | 6 | 956 | 37 |
| 3352 | 81 | 2925 | 79 | 1492 | 81 | 1181 | 58 | 928 | 72 |
| 3087 | 72 | 2867 | 84 | 1450 | 26 | 1160 | 74 | 761 | 15 |
| 3063 | 64 | 1686 | 4 | 1430 | 62 | 1103 | 78 | 731 | 79 |
| 3040 | 72 | 1648 | 66 | 1360 | 13 | 1079 | 62 | 691 | 14 |
| 3029 | 72 | 1589 | 21 | 1315 | 82 | 1025 | 50 | 616 | 61 |
| 3006 | 68 | 1583 | 41 | 1303 | 63 | 1001 | 74 | 588 | 17 |



او امايدونوکې کوچنی کيږي د IR وړانگو جذب زياتيږي او پيکونه يې په لوړه ناحيه کې واقع کيږي ځکه هرڅومره چې حلقه کوچنی کيږي د فضايي کيميا له مخې د S اربيتال سهم د حلقې په اړيکو کې زياتيږي، دلته د الکترونيکاتيويتي د زياتيدو باعث کيږي او د C=O اړيکې د کلکوالي باعث کرځي او بلآخره پيک لوړې ناحيې ته انتقالوي لکه



1715 ⟶ 1745Cm-1 1715 ⟶ 1780Cm-1 1735 ⟶ 1770Cm-1 1690 ⟶ 1705Cm-1

۳- د الفا موقعيت د معويض تاثير: کله چې د کاربونيل گروپ له خپل همسايه کاربن سره يو هلوجن يا الکترو نيگاتيف اتوم ولري نو د لته د C=O اړيکې د محکموالي باعث کيږي او بيا د دغه کاربونيل گروپ پيک په لوړه ناحيه کې واقع کيږي[۱۰]. لکه



1725Cm-1 1750Cm-1

۴- د هایدروجني اړیکې تاثیر: هایدروجني اړیکه د کاربونیل له یوه ګروپ سره د IR وړانګو د کم جذبیدو باعث کیږي ځکه دلته د هایدروجني اړیکې په واسطه د C=O اړیکه سستیږي او تقریباً خصوصیت یې د یوګونې اړیکې په طرف میلان پیداکوي بیا د کاربونیل ګروپ پیک ټیټې ساحې ته انتقالیږي لکه



